۷- حقوقي، مادي، طبي، رواني او اړينو ټولنيزو مرستو ته لاس رسي.

(۲) پوليس، څارنوالي او محکمه هر يو په خپله اړونده ساحه کې ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو حقوقو څخه د ګټې اخيستنې لپاره د مجني عليه د لاس رسي په منظور، لازم تدبيرونه نيسي او عملـــي کوي يې.

انسانی وحفظ حرمت شخصی.

۲- تأمين مصئونيت.

۳- حضور در جريان تعقيب عـــدلی و توجيه سوالات خاص به متهم در جرايم قتل و جرح.

۴- مطالبه ودريافت اصل مال يا قيمت آن و جبران خســـاره مطـــابق احکـــام قانون.

۵- دسترسی به اطلاعات ومعلومات در مورد اجراآت و نتايج پيگيری قضـــيه درمراحل مختلف تعقيب عدلی.

٦- اعتراض بر اجراآت مامور ضـــبط قضائی، اهل خبره، څارنوال و قاضـــی مطابق احکام قانون.

۷- دسترسی به مساعدت های حقوقی، مادی، طبی، روانی و اجتماعی ضروری.

(۲) پـــوليس، څـــارنوالی و محکمـــه هريک در ساحۀ مربـــوط بـــه منظـــور دسترسی مجنی عليه بـــرای اســـتفاده از حقوق مندرج فقرۀ (۱) اين مـــاده، تـــدابير لازم را اتخـــاذ وعملـــی می نمايند.

ketabton.com - The Digital Library



## د عدلي تعقيب په مختلفو پړاوونـــو کې د مظنون، تورن او حق العبـــد د مسئول حقوق

**اوومه ماده:**

مظنون، تورن او د حق العبد مسئول، د عدلي تعقيب په پړاوونو کـــې د لانـــدو حقوقو لرونکي دي:

۱- په نسبت ورکول شوي جرم پوهېدل او د وارد شوي تور او د قضيې د اجراآتو په هکله د څرګندونو ترلاسه کول.

۲- ددې قانون د حکمونو مطابق له پـــه خپل سر نيولو يا توقيف څخه خونديتوب او د زيان د جبران د لاس ته راوړلو حق.

۳- له توهين، تحقير، جسمي، روانـــي ځورونې او هر ډول غير انساني چلنـــد څخه خونديتوب.

۴- د نيوونکې مرجع لخوا د نيولو پـــه وخت کې د هغهٔ کورنۍ يا خپلوانو تـــه خبر ورکول.

۵- په آزادانه ډول د مطالبو بيانول او د دلايلو وړاندې کول.

۶-دسندونو، مدارکو او شاهدانو وړاندې

## حقوق مظنون، متهم ومسئول حـــق العبد درمراحل مختلـــف تعقيـــب عدلی

**مادهٔ هفتم:**

مظنون، متهم ومسئول حـــق العبـــد در مراحل تعقيب عدلی، دارای حقوق ذيل می باشند:

۱- دانستن جرم نسبت داده شـــده و کسب توضيحات درمورد اتهام وارده و اجراآت قضيه .

۲- مصئونيت از گرفتاری يا توقيـــف خودسرانه و حق دريافت جبران خسارهٔ وارده مطابق احکام اين قانون.

۳- مصئونيت از توهين،تحقير، تعذيب جسمی، روانی و هر گونه برخورد غير انسانی .

۴- دادن اطلاع به فاميل يا اقارب وی حين گرفتاری ازطرف مرجع گرفتـــار کننده.

۵- اظهارمطالب وارايه دلايل بصورت آزادانه.

۶- ارايه اســـناد، مـــدارک و شـــهود،

ketabton.com - The Digital Library



کول، له هغو شاهدانو څخه استجواب چې دهغهٔ پرخلاف يې شهادت ورکړی او د هغو شاهدانو حضور او اورېدل چې دهغهٔ په ګټه شاهدي ورکوي.

۷- د سکوت له حق څخه ګټه اخيستل او له هر ډول بيانونو (ويناوو) څخه ډډه کول.

۸- د قانون د حکمونو مطابق د مدافع وکيل ټاکل يا د حقوقي مساعد لرل.

۹- د ضبط شوو شيانو او مدارکو په هکله اظهار نظر.

۱۰- د ترجمان (ژباړونکي) لرل.

۱۱- په ابتدائيه يا استيناف محکمه کې په دوسيه‌کې ددرج شوو پاڼو نقل، دشاهدانو او جرمي شريکانو د څرګندونو، قضيې پورې اړوندو فزيکي او مستندو مدارکو، د عدلي طبي رپوټونو، د مخفي څارنې د تر سره کولو وړانديز او حکم دتلاشی اذن (اجازه) او د دفاعيې د ترتيبولو لپاره د پوره وخت او امکاناتو لرل مګر په هغو حالاتوکې چې مؤظف څارنوال دځينو ملحوظاتو پر بناء، لکه احتياط، د تحقيق په بهير کې اخلال، دعدالت په تأمين کې

استجواب از شهودی که علیه وی شهادت داده اند و حضور و استماع شهودی که به نفع وی شهادت می دهند.

۷- استفاده از حق سکوت و امتناع از هر گونه اظهارات.

۸- تعیین وکیل مدافع یا داشتن مساعد حقوقی مطابق احکام قانون.

۹-اظهار نظر پیرامون اشیاء و مدارک ضبط شده.

۱۰- داشتن ترجمان.

۱۱- دسترسی به نقل اوراق مندرج دوسیه در محکمهٔ ابتدائیه یا استیناف، اظهارات شهود و شرکای جرمی، مدارک فزیکی و مستند مربوط به قضیه، گزارشات طبی عدلی، پیشنهاد و حکم انجام مراقبت مخفی، اذن تلاشی و داشتن وقت کافی و امکانات جهت ترتیب دفاعیه مگر در حالاتی که څارنوال مؤظف بنابر ملحوظات چون احتیاط، اخلال در پروسهٔ تحقیق، اخلال در تأمین عدالت یا

ketabton.com - The Digital Library



اخلال يا پر ملي ګټو باندې د منفي اغېز له مخې، د محکمې په وړاندېز ددغه لاس رسی څخه وګرځي.

۱۲- د قضايي ضبط د مامور، اهل خبره، څارنوالۍ او محکمې پر اجراآتو اعتراض.

۱۳- له واکمنې محکمې څخه د هغهٔ د توقيف د قانونيت په هکله د قرار د صادرېدو په اړه د استماعيه (اورېدني) غونډې غوښتنه.

۱۴- د قانون د حکمونو مطابق له خپل قانوني استازي سره په آزاده او محرمه توګه ليکلې يا شفاهي اړيکه (ارتباط).

۱۵- ددې قانون د حکمونو مطابق، بې له ځنډه عدلي تعقيب.

۱۶- ددې قانون د حکمونو مطابق، په څرګنده (علني) توګه محاکمه.

۱۷- دمحاکمې په بهير کې دحضور حق.

۱۸- په محکمه کې د وروستۍ خبرې (کلام) ويل.

۱۹- د شاهدانو د جرح حق.

۲۰- د قاضي، څارنوال، مدافع وکيل او اهل خبره د رد حق.

تأثير منفی بـالای منـافع ملـی، بـا پيشنهاد از محکمه مانع اين دسترسـی گردد.

۱۲- اعتراض بر اجراآت مامور ضبط قضائی، اهل خبره، څارنوالی ومحکمه.

۱۳- تقاضـای جلسـهٔ اسـتماعيه مبنـی بـر اصـدار قـرار در مـورد قانونيـت توقيـف وی از محکمـهٔ ذيصلاح.

۱۴- ارتباط کتبی يا شفاهی به صورت آزاد و محرم با نمايندهٔ قانونی خويش، طبق احکام قانون.

۱۵- تعقيب عدلی بدون تأخير، مطابق احکام اين قانون.

۱۶- محاکمه به صورت علنی، مطابق احکام اين قانون.

۱۷- حق حضور در جريان محاکمه.

۱۸- اظهـار کـلام اخيـر در محکمه.

۱۹- حق جرح شهود.

۲۰- حق رد قاضی، څارنوال، وکيـل مدافع و اهل خبره.

ketabton.com - The Digital Library



## د مظنون او تورن د حقوقو څرګندول

**اتمه ماده:**

پوليس د نيولو پر وخت، څارنــوال لــه تحقيق د مخه او قاضي له محاکمې د مخه مکلف دي، ددې قانون په اوومه ماده کې درج شوي حقوق مظنون او تورن يــا د هغوی قانوني اســتازي تــه څرګنــد او موضوع په محضر کې درج، د هغــوی لاسليک او د ګوتې نبنه واخلي.

## د دفاع حق

**نهمه ماده:**

(۱) مظنون او تورن کولای شي شخصاً يا د قانوني استازي په واســطه، د عــدلي تعقيب په هر پړاوکې له ځان څخه دفاع وکړي.

(۲) مظنون او تورن کولای شي په عين وخت کې تر دريو تنو پــورې د دفــاع وکيلان ولري.

(۳) مدافع وکيل په عين قضيه کې کولای شي له يوه يا څو مظنونو يا تورنو څخــه دفاع وکړي، پدې شرط چې د مظنونانو يا تورنانو ترمنځ د ګټو تضاد موجود نه وي.

## توضيح حقوق مظنون و متهم

**مادۀ هشتم:**

پوليس حين گرفتاری، څارنوال قبل از آغاز تحقيق و قاضی قبل از محاکمــه مکلف اند، حقوق مندرج مادۀ هفتم اين قانون را به مظنون و متهم يا نماينـــدۀ قانونی آنها توضــيح و موضــوع را در محضر درج، امضاء و نشان انگشت او را اخذ نمايند.

## حق دفاع

**مادۀ نهم:**

(۱) مظنون و متهم می توانند شخصـــاً يا توسط نمايندۀ قانونی، در هر مرحلــه از تعقيــب عــدلی از خــود دفــاع نمايند.

(۲) مظنون و متهم می توانند درعــين زمان الی سه نفر وکيل مــدافع داشــته باشند.

(۳) وکيل مدافع در عين قضيه می تواند از يک يا چند مظنون يا مــتهم دفــاع نمايد، مشروط بر اينکه ميان مظنونين يا متهمين تضاد منافع موجود نباشد.

ketabton.com - The Digital Library



(۴) که چېرې یو شخص په داسې جرم مظنون یا تورن شي چې قانون یې جزاء اوږد حبس یا له هغهٔ څخه زیات اټکل کړی وي، د عدلي تعقیب په اجراآتو کې د مدافع وکیل ټاکل اړین ګڼل کېږي.

## د حقوقي مساعد ټاکل

**لسمه ماده:**

که چېرې بېوزله، مظنون یا تورن نه اورېدونکي یا ګونګ او یا نه اورېدونکي او ګونګ یا ړوندوي یا ذهنې نارسایي ولري، د هغهٔ په موافقه ورته حقوقي مساعد ټاکل کېږي.

## د ترجمان ټاکل

**یوولسمه ماده:**

(۱) پولیس، څارنوالي او محکمه مکلف دي، هغهٔ مجني علیه، مظنون یا تورن ته چې د عدلي تعقیب په اجراآتو کې د ګټې اخیستنې په وړ ژبه نه پوهېږي یا کوڼ یا ګونګ او یا کوڼ او ګونګ وي، د ترجمان د حضور زمینه برابره کړي. ددې قانون په لسمه ماده کې په درج شوو احوالو کې د بېوزله اشخاصو لپاره، د

(۴) هرگاه شخص به جرمی مظنون یا متهم گردد که قانون، جزای آنرا حبس طویل یا بیشتر از آن پیش بینی نموده باشد، داشتن وکیل مدافع در اجراآت تعقیب عدلی ضروری پنداشته می شود.

## تعیین مساعد حقوقی

**مادهٔ دهم:**

هرگاه مظنون یا متهم بی بضاعت، ناشنوا یا گنگ ویا ناشنوا وگنگ یا نابینا بوده یا نارسایی ذهنی داشته باشد، به موافقهٔ وی برای او مساعد حقوقی تعیین می گردد.

## تعیین ترجمان

**مادهٔ یازدهم:**

(۱) پولیس، څارنوالی ومحکمه مکلف اند برای مجنی علیه، مظنون یا متهمی که زبان مورد استفاده دراجراآت تعقیب عدلی را نداند یا کر یا گنگ ویا کر و کنگ باشد، زمینهٔ حضور ترجمان را میسر سازند. برای اشخاص بی بضاعت در احوال مندرج مادهٔ دهم این قانون به مصرف دولت ترجمان استخدام

ketabton.com - The Digital Library



**دولت په لګښت ترجمان استخدامېږي.**

**(۲) ترجمان مکلف دی، سپارل شوې (محول شوې) موضوع په دقيقه او بشپړه توګه ترجمه کړي، د غلطې ترجمې په صورت کې، له منځته را وړو پايلو سره متناسب، د قانون د حکمونو مطابق تر عدلي تعقيب لاندې نيول کېږي.**

**می گردد.**

**(۲) ترجمان مکلف است، موضوع محوله را طور دقيق و کامل ترجمه نمايد، درصورت ترجمهٔ غلط ، متناسب با نتايج ببار آورده، طبق احکام قانون مورد تعقيب عدلی قرار می گيرد.**

ketabton.com - The Digital Library



## درېيم فصل

## د عدلي تعقيب په پړاوونو کې د ګډون خنډونه (موانع)

**د نظر له څرګندولو څخه د اهل خبره منع**

**دوولسمه ماده:**

(۱) اهل خبره په لاندې حالاتو کې د نظر د څرګندولو واک نلري:

۱- په هغه صورت کې چې له مظنون، تورن، مجني عليه يا د هغوی له قانوني استازو سره خپلوي ولري او يا يو د بل وکيل او مؤکل او يا حقوقي مشاور وي، که څه هم چې د وکالت او مشاورت يا خپلوۍ رابطه پرې شوې وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د مخه په عين قضيه کې ئې د قضايي ضبط مامور، څارنوال، مدافع وکيل، شاهد او يا قاضي په توګه ګډون کړی وي يا د مجني عليه معالج ډاکتر وي.

۳- په هغه صورت کې چې د اهل خبره وو تخصص او ناپلوي تر شک لاندې

## فصل سوم

## موانع اشتراک در مراحل تعقيب عدلی

**منع اهل خبره از ابراز نظر**

**مادهٔ دوازدهم:**

(۱) اهل خبره در حالات آتی،فاقد صلاحيت ابراز نظر می باشد:

۱- درصورتی که با مظنون، متهم، مجنی عليه يا نمايندگان قانونی آنها قرابت داشته ويا وکيل ومؤکل و يا مشاور حقوقی يکديگر باشند، گرچه رابطهٔ وکالت ومشاورت يا قرابت قطع شده باشد.

۲- در صورتی که قبلاً در عين قضيه به حيث مامور ضبط قضائی، څارنوال، وکيل مدافع، شاهد ويا قاضی شرکت نموده يا داکتر معالج مجنی عليه بوده باشد.

۳- درصورتی که تخصص و بی طرفی اهل خبره مورد شک قرار

ketabton.com - The Digital Library



راشي.

(۲) په هغهٔ صورت کې چې د واک د نه لرلو په اړه دلایل، ددې مادې د (۱) فقرې د حکم مطابق د اهل خبره د نظریې له صادرېدو وروسته څرګند شي، دغه ډول نظریې د اعتبار وړ نه دي، د هغه په عوض بل اهل خبره ټاکل کېږي.

## د اهل خبره د واک د ردېدو غوښتنلیک

دیارلسمه ماده:

مظنون، تورن، مجني علیه یا د هغوی قانوني استازي کولای شي، ددې قانون په دوولسمه ماده کې له درج شوو حالاتو څخه په هر یوهٔ کې، اړوندې څارنوالۍ یا محکمې ته د اهل خبره د ردېدو غوښتنلیک وړاندې کړي. څارنوالۍ یا محکمه مکلفه ده موضوع په لنډ وخت کې وڅېړي او د غوښتنلیک د سموالي (صحت) په اړه د مؤجهو دلایلو د شتون په صورت کې، بل اهل خبره وټاکي.

گیرد.

(۲) درصورتی که دلایل مبنی برفقدان صلاحیت، مطابق حکم فقرهٔ (۱) این ماده بعد ازصدور نظریهٔ اهل خبره آشکارگردد، اینگونه نظریات قابل اعتبار نبوده ، اهل خبرهٔ دیگری عوض وی تعیین می گردد.

## درخواست رد صلاحیت اهل خبره

مادهٔ سیزدهم:

مظنون، متهم، مجنی علیه یا نمایندگان قانونی آنها می توانند، در هر یک از حالات مندرج مادهٔ دوازدهم این قانون، درخواست رد اهل خبره را به څارنوالی یا محکمهٔ مربوط ارایه نمایند. څارنوالی یا محکمه مکلف است موضوع را به اسرع وقت بررسی و در صورت موجودیت دلایل مؤجه مبنی بر صحت درخواست، اهل خبرهٔ دیگر را تعیین نما ید.

ketabton.com - The Digital Library



## د عدلي تعقيب په پړاوونو کې د څارنوال د ګډون منع

**څوارلسمه ماده:**

څارنوال په لاندېنيو حالاتو کې نشي کولای د عدلي تعقيب په پړاوونوکې ګډون وکړي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې جرم د هغه يا د هغهٔ له خپلوانو څخه د يوهٔ پر خلاف ارتکاب شوی وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې تورن د هغه د خپلوانو له جملې څخه وي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې په عين قضيه کې د مخه له اړخونو څخه د يوهٔ د مدافع وکيل، قاضي، حقوقي مشاور، اهل خبره يا شاهد په توګه ګډون کړی وي.

## د څارنوال د واک د ردېدو غوښتنليک

**پنځلسمه ماده:**

مظنون، تورن، مجني عليه، د حق العبد مدعي، د حق العبد مسئول يا د هغو قانوني استازي کولای شي ددې قانون د څوارلسمې مادې کې په درج شوو حالاتو

## منع اشتراک څارنوال در مراحل تعقيب عدلی

**مادهٔ چهاردهم:**

څارنوال در حالات ذيل نمی تواند در مراحل تعقيب عدلی اشتراک نمايد:

۱- در صورتی که جرم عليه وی يا يکی از اقارب وی ارتکاب گرديده باشد.

۲- در صورتی که متهم از جملهٔ اقارب وی باشد.

۳- در صورتی که در عين قضيه قبلاً به حيث وکيل مدافع، قاضی، مشاور حقوقی يکی از طرفين، اهل خبره يا شاهد اشتراک نموده باشد.

## درخواست رد صلاحيت څارنوال

**مادهٔ پانزدهم:**

مظنون، متهم، مجنی عليه، مدعی حق العبد، مسئول حق العبد يا نمايندگان قانونی آنها می توانند در حالات مندرج مادهٔ چهاردهم اين قانون درخواست رد

ketabton.com - The Digital Library



کې، د عدلي تعقيب له پړاوونو څخه په هر يوه کې د څارنوال د رد غوښتنليک مافوق څارنوال ته وړاندې کړي.

مافوق څارنوال خپل تصميم د (۴۸) ساعتونو مودې په ترڅ کې اعلاموي. د غوښتنليک د رد په صورت کې، معترض کولای شي د مافوق څارنوال د تصميم پر خلاف واکمنې محکمې ته شکايت وکړي. د محکمې تصميم پدې برخه کې قطعي دی. د رد په صورت کې د تر اعتراض لاندې څارنوال لخوا ترسره شوي اجرآآت له قانوني اعتبار څخه برخمن ندي.

## د جزايي دعوي په څېړنه کې د قاضي منع

شپاړسمه ماده:

(۱) قاضي په لاندېنيو حالاتو کې د جزايي دعويٰ په څېړنه کې د ګډون حق نلري:

۱- په هغهٔ صورت کې چې جرم د هغهٔ يا د هغهٔ له خپلوانو څخه د يوهٔ پرخلاف ارتکاب شوی وي.

صلاحيت څارنوال را در هر مرحله از تعقيب عدلی به څارنوال مافوق تقديم نمايند.

څارنوال مافوق تصميم خود را در خلال مدت (۴۸) ساعت اعلام ميدارد.

در صورت رد درخواست، معترض می تواند عليه تصميم څارنوال مافوق به محکمهٔ ذيصلاح شکايت نمايد. تصميم محکمه در زمينه قطعی می باشد. در صورت رد اجرآآت انجام شده توسط څارنوال مورد اعتراض ،فاقد اعتبار قانونی می باشد.

## منع قاضی در رسيدگی دعوای جزائی

مادهٔ شانزدهم:

(۱) قاضی در حالات ذيل صلاحيت اشتراک در رسيدگی دعوای جزائی را ندارد:

۱- درصورتی که جرم عليه وی و يا يکی از اقارب وی ارتکاب گرديده باشد.

ketabton.com - The Digital Library



۲- په هغهٔ صورت کې چې تورن د هغهٔ د خپلوانو له جملې څخه وي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې دمخه په عین قضیه کې له اړخونو څخه د یوهٔ د قضایي ضبط د مامور، څارنوال، حقوقي مشاور، اهل خبره یا شاهد په توګه ګډون کړی وي او یا یې په قضیه کې حکم صادر کړی وي.

۴- په نورو حالاتو کې چې قانون حکم کړی وي.

(۲) که چېرې قاضي ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو حالاتو څخه په یوهٔ کې د قضیې په څېړنه او د حکم په صادرېدو کې ګډون کړی وي، صادر شوی حکم له ابطال سره مخامخ کېږي.

## د قاضي د واک د ردېدو غوښتنلیک

اوولسمه ماده:

(۱) هر یو له تورن، مجني علیه، د حق العبد مدعي، د حق العبد مسئول یا د هغوی د قانوني استازي څخه کولای شي، ددې قانون د شپاړسمې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو حالاتو کې د قاضي د

۲- در صورتی که متهم از جملهٔ اقارب وی باشد.

۳- در صورتی که قبلاً درعین قضیه به حیث مامور ضبط قضائی، څارنوال، مشاور حقوقی یکی از طرفین، اهل خبره یا شاهد اشتراک نموده ویا در قضیه حکم صادر نموده باشد.

۴- در سایر حالاتی که قانون حکم نموده باشد.

(۲) هرگاه قاضی دریکی از حالات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در رسیدگی قضیه و صدور حکم اشتراک نموده باشد، حکم صادره به ابطال مواجه می گردد.

## درخواست رد صلاحیت قاضی

مادهٔ هفدهم:

(۱) هریک از متهم، مجنی علیه، مدعی حق العبد، مسئول حق العبد یا نمایندهٔ قانونی آنها می توانند، در احوال مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ شانزدهم این قانون،رد صلاحیت قاضی را مطالبه

ketabton.com - The Digital Library



واک ردېدل وغواړي.

(۲) د قاضي د واک د ردېدو غوښتنليک د هغې محکمې رئيس ته چې د نظر وړ قاضي دهغې غړی دی او په هغهٔ صورت کې چې د محکمې رئيس د رد په غوښتنليک کې شامل وي لوړې (فوقاني) محکمې ته وړاندې کېږي.

(۳) د قاضي د واک د رد غوښتنليک د محکمې په لومړنۍ قضايي غونډه کې وړاندې کېږي او د محکمې د قضايي هيئت لخوا د هغهٔ قاضي په استثنیٰ چې د واک رد يې غوښتل شوی دی، څېړل کېږي او پدې برخه کې د محکمې تصميم قطعي دی.

## د اهل خبره، څارنوال يا قاضي اجتناب

اتلسمه ماده:

(۱) اهل خبره، څارنوال او قاضي پداسې احوالو کې چې ددې قانون د حکمونو مطابق د هغوی د واک ردېدل مطرح وي، په قضيه کې له ګډون څخه ډډه کوي.

(۲) له ګډون څخه د ډډې کولو

نمايند.

(۲) درخواست رد صلاحيت قاضی به رئيس محکمهٔ که قاضی مورد نظر، عضو آن می باشد و در صورتی که رئيس محکمه شامل درخواست رد باشد، به محکمهٔ فوقانی تقديم می گردد.

(۳) درخواست رد صلاحيت قاضی در اولين جلسهٔ قضائی محکمه ارايه و از طرف هيئت قضائی محکمه به استثنای قاضی ايکه رد صلاحيت آن مطالبه گرديده، مورد رسيدگی قرار گرفته و تصميم محکمه در زمينه قطعی می باشد.

## اجتناب اهل خبره، څارنوال يا قاضی

مادهٔ هجدهم:

(۱)اهل خبره، څارنوال وقاضی در احوالی که مطابق احکام اين قانون، رد صلاحيت آنها مطرح باشد،از اشتراک در قضيه امتناع می ورزند.

(۲) درخواست اجتناب از

ketabton.com - The Digital Library



غوښتنليک او پدې برخه کې د تصميم نيول له احوالو سره سم ددې قانون د (۱۳، ۱۵ او ۱۷) مادو د حکمونو مطابق صورت مومي.

## څلورم فصل

## د اثبات دلايل

**د جرم د اثبات دلايل**

**نولسمه ماده:**

(۱) د جرم د اثبات دلايل عبارت دي له:

۱- د تورن اقرار.

۲- د شاهدانو شهادت.

۳- سندونه.

۴- په صف کې په بالمواجهه توګه د مظنون پېژندل.

۵- قراين: لاندې مدارک په تخصصي کتنو کې د اهميت د درجې له په پام کې نيولو سره، د مادي ادلې په توګه کېږي:

-غږيز او انځوريز نوارونه، انځوريزه څارنه يا نورټول مدرکونه او اطلاعات چې د مخفي کشفي ګامونو له لارې لاسته راغلي وي.

اشتراک و اتخاذ تصميم در زمينه حسب احوال مطابق احكام مواد (۱۳، ۱۵ و۱۷) اين قانون صورت مى گيرد.

## فصل چهارم

## دلايل اثبات

**دلايل اثبات جرم**

**مادۀ نزدهم:**

(۱) دلايل اثبات جرم عبارت اند از:

۱- اقرار متهم.

۲- شهادت شهود.

۳- اسناد.

۴- شناسائى مظنون طور بالمواجهه درصف.

۵- قراين: مدارک آتى بارعايت درجۀ اهميت درمعاينات تخصصى به حيث ادلۀ مادى محسوب مى گردد:

- نوارهاى صوتى و تصويرى، مراقبت تصويرى يا ساير مدارک يا اطلاعات كه از طرق اقدامات مخفى كشفى بدست آمده باشد.

ketabton.com - The Digital Library



- د لاسونو د ګوتو، د لاسونو او پښو دورغوي د کرښو (ردوګانو) آثار.
- د مرميو او خول (کارتوس) د پاسه بالستيکي آثار.
- د فلزي افزارو او نورو سختو (کلکو) موادو آثار او علامې.
- د ښيښې ټوټې.
- د وينو آثار.
- د بوټانو (پاپوش) آثار.
- د ليکنو آثار.
- د غاښ آثار.
- د ويښته آثار.
- الکتريکي، بيولوژيکي او کيمياوي آثار.
- د ناريه او جارحه وسلو او منفلقه او منفجره موادو آثار.
- د نقليه وسايطو آثار.
- د مايعاتو، منسوجاتو، لکو، تېزابونو او املاحو آثار.
- نور هغه مواد او آثار چې داهل خبره په نظر علماً ثابت شي او دجرم په تثبيت او د هغهٔ دمرتکب په تشخيص کې اغېزمن وي.

- آثار رده های انگشتان دست، کف دست و پا.
- آثار بالستيکی بالای مرمی و خول (کارتوس).
- آثار و علايم و افزار فلزی و ساير مواد سخت.
- پارچه های شيشه.
- آثار خون.
- آثار پا پوش.
- آثار نوشته ها.
- آثار دندان.
- آثار موی.
- آثار الکتريکی، بيولوژيکی و کيمياوی.
- آثار اسلحهٔ ناريه و جارحه و مواد منفلقه و منفجره.
- آثار وسايط نقليه.
- آثار مايعات، منسوجات، لکه ها، تيزاب ها و املاح.
- ساير مواد و آثار يکه به نظر اهل خبره علماً ثابت شده و در تثبيت جرم و تشخيص مرتکب آن مؤثر باشد.

ketabton.com - The Digital Library



(۲) د جزايي د عويٰ د څېړنې په ټولو پړاوونو کې پدې فصل کې د اثبات په درج شوو دلايلو پورې اړوند حکمونه، د تطبيق وړ دي.

(۳) قرائن يوازې په هغهٔ صورت کې د الزاميت بنسټ جوړوي چې د اړوندو حقايقو يوهٔ دقيقه او سازګاره ځنځيره جوړه او په کل کې جرمي عناصر ثابت کړي.

(۴) محکمه نشي کولای په خپل ظن (ګمان) او په دلايلو کې د شبهې د شتون په صورت کې، د تورن په الزام حکم وکړي.

## د دلايلو او مدارکو راټولول، ثبت، ارزونه او ساتل

**شلمه ماده:**

د قضايي ضبط مامور او څارنوال مکلف دي، په قضيې پورې اړوند د ټولو حالاتو د روښانولو لپاره، ددې قانون د حکمونو مطابق د مظنون او تورن د ګټې او تاوان له په پام کې نيولو پرته، د دلايلو او مدارکو په راټولولو، ثبت، ارزونې او

(۲) احکام مربوط به دلایل اثبات مندرج این فصل در تمام مراحل رسیدگی دعوای جزائی ، قابل تطبیق می باشد.

(۳) قرائن تنها در صورتی اساس الزامیت را تشکیل می دهد که یک زنجیرهٔ دقیق و سازگار حقایق مربوطه را تشکیل داده و درکل عناصر جرمی را ثابت نماید.

(۴) محکمه نمی تواند به ظن خود و در صورت موجودیت شبهه در دلایل، به الزام متهم حکم نماید.

## جمع آوری، ثبت، ارزیابی و نگهداری دلایل و مدارک

**مادهٔ بیستم:**

مامور ضبط قضائی و څارنوال مکلف اند، جهت روشن شدن تمامی حالات مربوط به قضیه، مطابق احکام این قانون بدون درنظر داشت منفعت وضرر مظنون ومتهم به جمع آوری، ثبت، ارزیابی و نگهداری دلایل ومدارک اقدام

ketabton.com - The Digital Library



ساتنې لاس پورې کړي.

**د دلايلو او مدارکو نه منل**

**یوویشتمه ماده:**

(۱) داثبات لاس ته راغلـــي دلایـــل او مدارک ددې قانون او نورو نافذه قوانينو د حکمونو د نقض له امله د استناد وړ نه ګرځي، له دوسيې څخه ويستل کېږي او مهر کېږي. دغه دلايل له نورو دلايلــو څخه جلا ساتل کېږي.

(۲) د قضيې د څېړنې په ټولو پړاوونوکې، څارنوالي او محکمه مکلـــف دي، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو دلايلو او مدارکو له شتون يا نه شتون څخه ډاډ ترلاسه کړي.

**د اکراه يا تطميع له لارې د بيانونو د اخيستلو ممنوعيت**

**دوه ويشتمه ماده:**

(۱) د قضايي ضبط مامور، څارنوالي او محکمه په هېڅ حالت کې اجازه نلري، په خپله يا د بل شخص له لارې، په نـــاوړه چلند، د مخدرو موادو پــه اســتعمال، اکراه، شکنجې (ځورونې)، په مقناطيسي

نمايند.

**عدم قبول دلايل و مدارک**

**مادۀ بيست ويکم:**

(۱) دلايل و مدارک اثبات بدست آمده به اثر نقض احکام اين قانون و ســاير قوانين نافذه مورد استناد قرار نگرفته، از دوسيه خـــارج و مهـــر مـــی گـــردد. اين دلايل جدا از دلايل ديگر نگهداری می شود.

(۲) در تمامی مراحل رسيدگی قضـــيه، څارنوالی و محکمه مکلـــف انـــد، از وجود يا عدم وجود دلايل و مـــدارک مندرج فقرۀ (۱) اين ماده اطمينان حاصل نمايند.

**ممنوعيت اخذ اظهارات به وســـيلۀ اکراه يا تطميع**

**مادۀ بيست ودوم:**

(۱) مامور ضبط قضائی، څـــارنوالی و محکمـــه در هـــيچ حالـــت اجـــازه ندارند، خود يـــا از طريـــق شـــخص ديگر با رفتار سؤ، استعمال مواد مخدر، اکراه، شکنجه، خواب مقناطيسی، تهديد

ketabton.com - The Digital Library



**خوب، تهدید او ویرولو یا د څه ګټې (منفعت) په وعدې سره مظنون یا تورن اظهار یا اقرار ته مجبور کړي.**

**(۲) هغه بیان یا اقرار چې له مظنون یا تورن څخه، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو وسایلو په استعمال سره اخیستل شوی وي، د استناد وړ ندی.**

## د دلایلو اولویت

**درویشتمه ماده:**

**محکمه د اثبات او نفې دلایل ارزوي، د هغو د پیاوړتیا او ضعف د مراتبو له په پام کې نیولو سره، خپل حکم د قانوني اعتبار وړ مرجح دلایلو په استناد صادروي.**

## د دلایلو تعدد

**څلېریشتمه ماده:**

**(۱) د یوې قرینې شتون په یوازیتوب سره د پیښې د اثبات سبب نه کېږي، خو دا چې قرینه قاطع وي او یا نور دلایل هغه تأیید او پیاوړې کړي.**

**(۲) د قضایي ضبط مامور او څارنوال مکلف دي، د جرم د پیښېدو او د مظنون**

**وتخویف یا وعده دادن به منفعتی، مظنون یا متهم را به اظهار یا اقرار وادار نمایند.**

**(۲) اظهار یا اقراری که از مظنون یا متهم با استعمال وسایل مندرج فقره (۱) این ماده اخذ شده باشد، قابل استناد نمی باشد.**

## اولویت دلایل

**مادهٔ بیست وسوم:**

**محکمه دلایل اثبات و نفی را ارزیابی نموده، با درنظرداشت مراتب قوت و ضعف آن، حکم خود را مستند به دلایل مرجح قابل اعتبار قانونی صادر می نماید.**

## تعدد دلایل

**مادهٔ بیست وچهارم:**

**(۱) موجودیت یک قرینه به تنهائی سبب اثبات واقعه نمی گردد،مگر اینکه قرینه قاطع بوده و یا دلایل دیگر آنرا تائید و تقویت نماید.**

**(۲) مامور ضبط قضائی وڅارنوال مکلف اند دلایل متعددی را تا حد امکان مبنی**

ketabton.com - The Digital Library



يا تورن د الزام د اثبات پــه اړه متعــدد دلايل راټول کړي.

## پنځم فصل

## شهادت

### د شاهدانو حضور، د شهادت اورېدل او ثبت

**پنځه ويشتمه ماده:**

(۱) هغه شخص چې په جرم پورې لــه اړوندو حقايقو، د مظنون يا تــورن لــه مشخصاتو يا په جرمي قضيې پورې لــه نورو اړوندو حالاتو څخه معلومات ولري، د شاهد يا مطلع په توګه احضارېداى شي.

(۲) د قضايي ضبط مامور، څارنــوال او محکمه د هغهٔ شخص بيانونه او شهادت چې په خپلــه رضــا او رغبــت ســره حاضرېږي، اوري او په محضر کې يــې ثبتوي، پدې شرط چې نوموړي بيانونه او شهادت په اثبات يا د هغو چارو په نفــې پورې اړوند وي چې له بحث وړ قضــيې سره تړاو (تعلق) ولري.

بر اثبات وقوع جرم والزام مظنون يــا متهم آن جمع آورى نمايند.

## فصل پنجم

## شهادت

### احضــار شــهود، استماع و ثبت شهادت

**مادهٔ بيست وپنجم:**

(۱) شخصى که از حقايق مربــوط بــه جرم، مشخصات مظنون يا متهم و يــا ساير حالات مربوط به قضــيه جرمــى معلومات داشته باشد، منحيث شاهد يا مطلع احضار شده مى تواند.

(۲) مامور ضبط قضائى، څارنــوال و محکمه، اظهارات و شهادت شخصى را که به رضا و رغبت خود حاضــر مــى گردد، استماع و در محضر ثبت مــى نمايند، مشروط بر اينکه اظهــارات و شهادت مذکور، مربوط به اثبات يا نفى امورى باشد که به قضيهٔ مورد بحث تعلق داشته باشد.

ketabton.com - The Digital Library



## د شاهد د استجواب منع

**شپږویشتمه ماده:***

لاندې اشخاص د شاهد په توګه تر استجواب لاندې نشي نيول کېدای:

۱- هغه شخص چې د شهادت په اداء کولو سره يې په نافذه قوانينو کې درج د ادارې د اسرارو د نه فاش کېدو په اړه قانوني مسئوليت نقض شي، خو دا چې اړوند مقام اجازه ورکړې وي.

۲- مدافع وکيل.

۳- د جرم شريک، په هغهٔ صورت کې چې د هغوی د تور وړ قضيې څېړنه، په مشترکه توګه روانه وي.

۴- د تورن خپلوان.

۵- حقوقي مشاور، معالج ډاکتر، اهل خبره، د رواني صحت ډاکتر او يا هغه خبريال چې د هغو معلوماتو د محرميت په ساتلو مکلف وي کوم چې د دندې د ترسره کولو او له مؤکل او يابې له رپوټ ورکوونکي سره د تماس پر وخت لاس ته راوړي، خو دا چې محکمه د هغوی مسئوليت لرې کړي.

* (۲۶) ماده تعديل شوې، د جريدې په آخره کې دې مراجعه وشي.

## منع استجواب شاهد

**مادهٔ بيست وششم: ***

(۱) اشخاص ذيل را نميتوان منحيث شاهد مورد استجواب قرار داد:

۱- شخصی که با ادای شهادت مسئوليت قانونی وی مبنی برعدم فاش ساختن اسرار اداره، مندرج قوانين نافذه نقض گردد، مگر اينکه مقام مربوط اجازه داده باشد.

۲- وکيل مدافع.

۳- شريک جرم در صورتی که رسيدگی قضيه مورد اتهام آن ها بصورت مشترک جريان داشته باشد.

۴- اقارب متهم.

۵- مشاور حقوقی، داکتر معالج، اهل خبره، داکتر صحت روانی ويا خبرنگاری که مکلف به حفظ محرميت معلوماتی باشند که حين انجام وظيفه و تماس با مؤکل ويا گزارشگر شان بدست می آورند، مگر اينکه محکمه مسئوليت آنها را مرفوع سازد.

* مادهٔ (۲۶) تعديل گرديده، در اخير جريده مراجعه شود.

ketabton.com - The Digital Library



۶- غير مميز طفل چې سن او د ذهنـــي پرمختيا پړاو ته په پام سره له شـــهادت څخه د انکار د حق د معنيٰ په درک کولو قادر نه وي.

۷- هغه شخص چې د شهادت د اهليت نه لرونکی وي.

(۲) د قضايي ضبط مامور، څارنوالي او محکمه مکلف دي، ددې مادې پـــه (۱) فقره کې درج شوي اشخاص، د ځواب د نه ورکولو له حق څخه خبر کړي.

(۳) محکمه کولای شي، له اړخونو څخه د يوۀ د وړانديز له امله پـــدې اړه چـــې شهادت د مظنون يا تورن شخص د جرم يا بې ګناهۍ په تثبيت کې اهميت لري او يا يې ټولنيزه ګټه د محرميت د ساتنې په نسبت زياته وي، د مؤجهو دلايلو د شتون په صورت کې، ددې مادې د (۱) فقرې په (۵) جزء کې د درج شوي شخص د مسلکي اسرارو د ساتنې مسئوليت لرې کړي، پدې صورت کې محکمه کولای شي د شاهد شـــهادت، پـــه ځـــانګړې (مخصوصه) خونه کې او د اړتيـــا پـــه صورت کې، د اړخونو له حضور څخـــه

۶- طفل غيرمميزکه نظر به سن و مرحلۀ انکشـــاف ذهنـــی، قـــادر بـــه درک معنی حـــق انکـــار از شـــهادت نباشد.

۷- شخصی که فاقد اهليت شـــهادت باشد.

(۲) مامور ضبط قضائی، څـــارنوالی و محکمه مکلف اند اشخاص مندرج فقرۀ (۱) اين ماده را از حق عدم ارايۀ جواب مطلع نمايند.

(۳) محکمه می تواند به اثر پيشـــنهاد يکـــی از طـــرفين، در صـــورت موجوديت دلايل مؤجه، مبنی بر اينکـــه شهادت در تثبيت جرم يا بـــی گنـــاهی شخص مظنون يا متهم اهميت داشـــته ويـــا منفعـــت اجتمـــاعی آن نســـبت بـــه حفـــظ محرميـــت بيشـــتر باشد، مسئوليت حفظ اسرار مســـلکی شخص مندرج جزء (۵) فقرۀ (۱) اين مـــاده را مرفـــوع نمايـــد، در ايـــن صورت محکمه می تواند شهادت شاهد را در اتاق مخصـــوص و در صـــورت ضرورت، بدون حضور طرفين استماع

* د (۲۶) مادې د تعديل (۲) فقرې ته دې د جريدې په آخره کې مراجعه وشي.

ketabton.com - The Digital Library



پرته واوري.

## پوښتنوته د ځواب له ورکولو څخه د ډډې کولو حق

**اووه ويشتمه ماده:**

(۱) شاهد هغو پوښتنو ته د ځواب په ورکولو مکلف ندی چې ځان يا يو له خپلوانو څخه له عدلي تعقيب سره مخامخ کړي. د قضايي ضبط مامور، څارنوال او يا محکمه، شاهد لدې حق څخه خبروي.

(۲) که چېرې د شهادت اداء کول د شاهد د اهانت موجب شي يا هغهٔ او يا يې خپلوانو ته څه زيان متوجه کړي، کولای شي د شهادت ادا کول په سري توګه له محکمې څخه وغواړي.

## د شاهدانو جلب او احضار

**اته ويشتمه ماده:**

(۱) څارنوالي او محکمه کولای شي هغه شاهدان چې د هغوی د بيانونو يا شهادت اورېدل د تحقيق او محاکمې په بهيرکې اړين وي، ددې قانون (د دوه يم باب په څلورم فصل) کې د درج شوو حکمونو له

نمايد.

## حق امتناع از ارايهٔ جواب به سوالات

**مادهٔ بيست وهفتم:**

(۱) شاهد مکلف به ارايه جواب به سوالاتی نمی باشد که خود يا يکی از اقارب خود را به تعقيب عدلی مواجه سازد. مامور ضبط قضائی، څارنوال ويا محکمه شاهد را از اين حق مطلع می نمايد.

(۲) هرگاه ادای شهادت موجب اهانت شاهد گرديده يا ضرری را به او و يا اقارب وی متوجه سازد، می تواند ادای شهادت را به صورت سری از محکمه مطالبه نمايد.

## جلب و احضار شهود

**مادهٔ بيست وهشتم:**

(۱) څارنوالی و محکمه می توانند شهودی را که استماع اظهارات يا شهادت آنها درجريان تحقيق و محاکمه ضروری باشد، با رعايت احکام مندرج (فصل چهارم باب دوم)

ketabton.com - The Digital Library



په پام کې نيولو سره جلب او احضار کړي.

(۲) که چېرې شاهد قضايي غونډې ته حاضر نشي او خپل نه حضور توجيه نکړي شي او يا هغه ځای چې هلته تر استجواب لاندې نيول کېږي، له اجازې او مؤجه دليل پرته ترک کړي، له احوالو سره سم په نغدي جريمه چې مبلغ يې د قباحت په مورد کې له (۲۰۰۰) زرو افغانيو، د جنحې په مورد کې له (۵۰۰۰) زرو افغانيو او د جنايت په مورد کې له (۱۰۰۰۰) زرو افغانيو څخه زياتې نه وي، د محکمې لخوا محکومېدای شي.

(۳) که چېرې شاهد د محکمې په وړاندې حاضر شي او د مخه خپل نه حضور يا د استجواب د ځای له اجازې پرته پرېښودل توجيه کړي، د جريمې له ورکړې څخه معافېږي.

### د احضاريې محتوي

**نهه ويشتمه ماده:**

(۱) د شاهد احضاريه د لاندې مطالبو لرونکې وي:

اين قانون جلب و احضار نمايند.

(۲) هرگاه شاهد در جلسۀ قضائی حاضر نگردد و عدم حضور خود را توجيه کرده نتواند و يا محلی را که در آنجا مورد استجواب قرار می گيرد، بدون اجازه يا دليل مؤجه ترک کند، حسب احوال به جريمۀ نقدی که مبلغ آن در مورد قباحت از (۲۰۰۰) هزار افغانی، در مورد جنحه از(۵۰۰۰) هزار افغانی و در مورد جنايت از(۱۰۰۰۰) هزار افغانی بيشتر نباشد، از طرف محکمه محکوم شده می تواند.

(۳) هرگاه شاهد در پيشگاه محکمه حاضر گردد و عدم حضور قبلی خود يا ترک بدون اجازۀ محل استجواب را توجيه کند،از پرداخت جريمه معاف می گردد.

### محتوای احضاريه

**مادۀ بيست ونهم:**

(۱) احضاريۀ شاهد، حاوی مطالب ذيل می باشد:

ketabton.com - The Digital Library



۱- د نوم، تخلص، د پلار نوم، د اوسېدو ځای، د دندې ځای او د هغهٔ د ظاهري مشخصاتو په شمول د شاهد بشپړ شهرت.

۲- د حضور ځای، نېټه، ورځ او ساعت او اړونده مرجع.

۳- هغه جرمي قضيه چې شاهد يې په اړه احضارېږي.

۴- ددې يادونه چې هغه د شاهد په توګه احضارېږي.

۵- له حضور څخه د ډډې کولو د عواقبو څرګندول.

(۲) له (۱۸) کلونو څخه د لږ عمر اشخاص د بيانونو او د شهادت د اداء کولو په غرض د هغوی د والدينو يا قانوني ممثلينو په واسطه احضارېږي. فوري او غير ممکن حالات لدې حکم څخه مستثنيٰ دي.

## د شاهد د حضور لګښتونه

**دېرشمه ماده:**

د شاهد د حضور لګښتونه د هغې مرجع لخوا چې شاهد احضار وي، ټاکل کېږي

۱- شهرت مکمل شاهد بشمول نام، تخلص، نام پدر، محل سکونت، محل وظيفه و مشخصات ظاهری وی.

۲- محل، تاريخ، روز و ساعت حضور و مرجع مربوط.

۳- قضيهٔ جرمی که به ارتباط آن شاهد احضار می گردد .

۴- ذکر اينکه وی منحيث شاهد احضار می شود.

۵- توضيح عواقب امتناع از حضور.

(۲) اشخاص کمتر از سن(۱۸) سال، غرض اظهارات و ادای شهادت توسط والدين يا ممثلين قانونی شان احضار می گردند.حالات فوری و غيرممکن ازاين حکم مستثنی است.

## مصارف حضور شاهد

**مادهٔ سی ام:**

مصارف حضور شاهد از طرف مرجعی که شاهد را احضار می نمايد، تعيين و

ketabton.com - The Digital Library



او ورکول کېږي.

## د شاهد مکلفیتونه

**یو دېرشمه ماده:**

(۱) شاهد باید د اسلامي شریعت د حکمونو مطابق د شهادت د صفتونو لرونکی وي.

(۲) شاهد مکلف دی حقیقت بیان کړي. په هغهٔ صورت کې چې حقیقت په کلي یا جزئي توګه پټ یا دروغ شهادت اداء کړي، د قانون د حکمونو مطابق، تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي.

## د شهادت د محضر ترتیبول

**دوه دېرشمه ماده:**

څارنوالۍ او محکمه د برحق بیانونو او شهادت په اړه د شاهد مسئولیت څرګندوي او له هغهٔ څخه غواړي څو حقیقت بیان کړي.

وروسته له شاهد څخه غوښتل کېږي څو خپل نوم، تخلص، د پلار نوم، د خپلوانو نومونه، د زیږېدو او اوسېدو ځای او اوسنۍ دنده، سن او له مجني علیه او تورن سره خپله رابطه بیان کړي.

پرداخته می شود.

## مکلفیت های شاهد

**مادهٔ سی ویکم:**

(۱) شاهد باید دارای اوصاف شهادت در مطابقت با احکام شریعت اسلامی باشد.

(۲) شاهد مکلف است حقیقت را بیان نماید. در صورتی که حقیقت را بصورت کلی یا جزئی کتمان و یا ادای شهادت دروغ نماید، مطابق احکام قانون مورد تعقیب عدلی قرار می گیرد.

## ترتیب محضر شهادت

**مادهٔ سی ودوم:**

څارنوالی ومحکمه مسئولیت شاهد را مبنی بر اظهارات یا شهادت برحق توضیح واز وی مطالبه می نماید تاحقیقت را بیان کند.

متعاقباً از شاهد خواسته می شود تا نام ، تخلص، نام پدر، نام اقارب، محل تولد و اقامت و وظیفهٔ فعلی، سن و رابطه خود را با مجنی علیه و متهم بیان نماید.

ketabton.com - The Digital Library



## د شهادت د اورېدو ځای

**دري دېرشمه ماده:**

(۱) شاهد هغه څه چې د پېښې په اړه يې درک کړي اويايې په هکله معلومات لري، دڅارنوال يا محکمې په وړاندې بيانوي.

(۲) که چېرې شاهد د ناروغۍ، د سن د کبر يا د بل مؤجه عذر په سبب حاضر نه شي، څارنوال يا واکمنه محکمه د شاهد بيانونه او شهادت د هغهٔ د اوسېدو په ځای يا په بل مناسب ځای کې، اوري او ثبتوي.

## د شهادت جلا اورېدل

**څلور دېرشمه ماده:**

که چېرې په قضيه کې له يوهٔ شاهد څخه زيات موجود وي، د هر يوهٔ بيانونه او شاهدي په جلا او انفرادي توګه او د بل شاهد له حضور پرته اورېدل کېږي او ثبتېږي.

## شاهدانو ته د تلقين منع

**پنځه دېرشمه ماده:**

(۱) شاهد ټول هغه معلومات چې د قضيې په هکله يې لري، په خپلو الفاظو او تعبير

## محل سمع شهادت

**مادهٔ سی وسوم:**

(۱) شاهد آنچه را به ارتباط واقعه درک نموده ويا درمورد آن معلومات دارد ، نزد څارنـوال يا محکمه بيان می کند.

(۲) هرگاه شاهد به سبب مريضی، کبر سن، يا عذر مؤجه ديگر حاضر شـده نتواند، څارنوال يا محکمـهٔ ذيصـلاح اظهارات و شهادت شاهد را در محـل سکونت وی ويا محل مناسب ديگـر، استماع وثبت می نمايد.

## استماع جداگانهٔ شهادت

**مادهٔ سی وچهارم:**

هرگاه در قضيه بيشـترازيک شـاهد موجود باشـد، اظهـارات وشـهادت هريک به صورت جداگانه وانفـرادی بدون حضور شاهد ديگراستماع و ثبت می گردد.

## منع تلقين شهود

**مادهٔ سی وپنجم:**

(۱) شاهد تمام معلوماتی را که راجع به قضيه می داند، به الفاظ وتعبير خود بيان

ketabton.com - The Digital Library



بيانوي.

د معلوماتو له وړاندې کولو وروسته مجنې عليه، تورن يا د هغوی قانوني استازي، څارنوال او د قضايي هيئت غړي کولای شي له شاهد څخه پوښتنه وکړي.

(۲) څارنوال او قضايي هيئت او ددعوی اړخونه نشي کولای له شاهد څخه د استجواب په وخت کې لوری ورکوونکې او تلقين آميزه پوښتنې مطرح کړي.

(۳) ددعوی اړخونه يا د هغوی قانوني استازي د بيانونو او شاهدۍ له اورېدو وروسته کولای شي په هکله يې خپلې ملاحظې بيان کړي.

## د شاهد د استجواب ډول

**شپږ دېرشمه ماده:**

(۱) له شاهد څخه استجواب د هغهٔ حيثيت ته د درهٔ ناوي، د سن د کبر، صغارت، جنسيت او رواني حالاتو ته په پام سره صورت مومي.

(۲) څارنوال، مدافع وکيل او محکمه نشي کولای د استجواب په بهير کې، د شاهد په شخصي اسرارو کې مداخله

می نماید.

بعد از ارايه معلومات مجنی عليه، متهم يا نمايندگان قانونی آنها، څارنوال وعضو هيئت قضائی می توانند از شاهد سوال نمايند.

(۲) څارنوال و هيئت قضائی و طرفين دعوی نمی توانند حين استجواب از شاهد، سوالات جهت دهنده و تلقين آميز را مطرح نمايند.

(۳) طرفين دعوی يا نمايندگان قانونی آنها بعد از استماع اظهارات و شهادت می توانند ملاحظات خود را در مورد بيان نمايند.

## طرز استجواب شاهد

**مادهٔ سی وششم:**

(۱) استجواب از شاهد با رعايت احترام به حيثيت، کبرسن، صغارت، جنسيت و حالات روانی وی صورت می گيرد.

(۲) څارنوال، وکيل مدافع و محکمه نمی توانند در جريان استجواب در اسرار شخصی شاهد مداخله نمايند، مگر

ketabton.com - The Digital Library



(لاسوهنه) وکړي، خو دا چې د دلایلو د راټولولو لپاره اړینه وي.

(۳) له شاهد څخه استجواب نه ښايي د هغهٔ د رواني زيان سبب شي.

## د بيانونو او شهادت د محضر ترتيبول

**اووه دېرشمه ماده:**

(۱) د شاهد بيانونه او شهادت، له بدلون زياتوالی، تحريف، قلم خوردګی، پاکولو، توږلو او لاک وهلو پرته په محضر کـې درجېږي او تر هغهٔ وخته پورې چـې د شاهد، ليکونکي او څارنوالی يا محکمې لخوا د هر يوهٔ د واک په ساحه کـې لاسليک نشي، د اعتبار وړ ندی.

(۲) شاهد هغه وخت د بيانونو او شهادت محضر لاسليک يا د ګوتې نښـه پـرې ايږدي چې په محضر کـې درج شـوي بيانونه او شهادت، ورته قرائت او د هغهٔ د تأييد وړ وګرځي.

که چېرې شاهد له لاسليک او د ګوتې د نښې له ايښودو څخه ډډه وکړي او يا د هغو د اخيستلو امکان موجود نـه وي، علت يې په محضر کې درجېږي.

اینکه جهت جمع آوری دلایل، ضروری باشد.

(۳) استجواب ازشاهد نباید سبب آسیب روانی وی گردد.

## ترتیب محضر اظهارات و شهادت

**مادهٔ سی وهفتم:**

(۱) اظهارات و شهادت شاهد، بـدون تغییر، تزئید، تحریف، قلم خـوردگی، پاک کردن، تراشـیدن و لاک زدن در محضر درج می گردد و تا وقتی که از طرف شاهد، نویسنده و څارنوالی یـا محکمه هر یک در ساحه صـلاحیت امضاء نشود، قابل اعتبار نمی باشد.

(۲) شاهد زمانی محضر اظهـارات و شهادت را امضاء یا نشان انگشت می گذارد که اظهارات و شهادت مندرج در محضر، برایش قرائت و مورد تائید وی قرار گیرد.

هرگاه شاهد از امضاء یا گذاشتن نشان انگشت امتناع ورزد و یا امکان اخذ آن موجود نباشد، علت آن در محضر درج می گردد.

ketabton.com - The Digital Library



(۳) د شاهد بیانونه او شهادت پخپله دده په واسطه لیکل کېدای شي. په هغهٔ صورت کې چې شاهد په لیکلو قادر نه وي یا ونه غواړي پخپله یې ولیکي، د هغهٔ بیانونه او شهادت د مؤظف شخص لخوا لیکل کېږي او موضوع په محضر کې درجېږي.

(۴) هغه محضر چې ددې فصل د حکمونو مطابق ترتیبېږي، د اړوند مؤظف لخوا، لاسلیک او مهر کېږي.

## د شهادت د محضر ثبتول

اته دېرشمه ماده:

لاندې موضوعګانې د شاهد د بیانونو یا شهادت په محضر کې درجېږي:

۱- ددې قانون د نهه ویشتمې مادې د (۱) فقرې په (۱ ، ۲ او ۳) اجزاوو کې درج شوي مطالب.

۲- د دې قانون په منظور د شاهد او تورن ترمنځ رابطه (اړیکې) یا نه رابطه.

۳- ددې قانون د شپږ ویشتمې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو حالاتو کې د نه استجواب له حق څخه خبرتیا.*

(۳) اظهارات و شهادت شاهد توسط خود وی تحریر شده می تواند. در صورتی که شاهد قادر به نوشتن نباشد یا نخواهد خود بنویسد، اظهارات و شهادت وی از طرف شخص مؤظف تحریر وموضوع در محضر درج می گردد.

(۴) محضری که طبق احکام این فصل ترتیب می شود، از طرف مؤظف مربوط، امضاء و مهر می گردد.

## ثبت محضر شهادت

مادهٔ سی وهشتم:

موضوعات ذیل در محضر اظهارات یا شهادت شاهد درج می گردد:

۱- مطالب مندرج اجزای (۱، ۲ و۳) فقرهٔ (۱) مادهٔ بیست ونهم این قانون.

۲- رابطه یا عدم رابطه بین شاهد و متهم به منظور این قانون.

۳- آگاهی از حق عدم استجواب در حالات مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ بیست وششم این قانون. *

ketabton.com - The Digital Library



**۴- هغۀ پوښتنې او ځوابونه چې مطـــرح شوي دي.**

**۵- د قضيې د مشمولينو ملاحظې.**

**د طفل شهادت**

**نهه دېرشمه ماده:**

**(۱) هغه طفل چې د څوارلس کلنی سن يې بشپړ کړی نه وي، خو د پېښـــو او د وقايعو د رامنځته کېدو د کيفيت د درک توانايي ولري، د هغۀ بيانونه د سوګند له توجيه پرته، يوازې د معلوماتو د زياتوالي لپاره اورېدل کېږي.**

**(۲) ددې مادې په (۱) فقره کــې درج شوی طفل يوازې د هغۀ د ولي يا قانوني ممثل په حضور کې د څارنوال او قاضي د پوښتنې او استجواب وړ ګرځېدای شي.**

**(۳) ددعوي اړخونــه کــولای شــي د څارنوال يا د قضايي غونډې د رئيس پــه اجازه له هغۀ څخه د قضيې په اړه پوښتنه وکړي. پدې شرط چې له رواني نظره هغۀ ته زيان ونه رسېږي.**

**۴- سوالات و جواباتی که مطرح شده است.**

**۵- ملاحظات مشمولين قضيه.**

**شهادت طفل**

**مادۀ سی ونهم:**

**(۱)طفلی که سن چهـــارده ســـالگی را تکميل نکرده، ولی توانايی درک وقايع و کيفيت وقوع حوادث را داشته باشـــد، اظهارات وی بدون توجيــه ســوګند، صرف به منظور معلومات مزيد استماع می گردد.**

**(۲) طفل مندرج فقرۀ (۱) اين ماده تنها در حضور ولی يا ممثل قانونی وی مورد پرسش و استجواب څارنوال وقاضی قرار گرفته می تواند.**

**(۳) طرفين دعوی می توانند با اجــازۀ څارنوال يا رئيس جلسۀ قضائی از او به ارتباط قضيه سوال نماينـــد. مشـــروط براينکه از نظر روانـــی بـــه او آســـيب نرسد.**

* به فقرۀ (۲) تعديل مادۀ (۳٦) در اخير جريده مراجعه شود.

ketabton.com - The Digital Library



## د رواني اختلالاتو لرونکی شـــخص شهادت

**څلوېښتمه ماده:**

که چېرې شاهد معتوه (په لنډ مهاله رواني اختلال اخته) یا سفیه (کم عقـــل) وي، څارنوال او محکمه کولای شي د هغـــهٔ شهادت د معالج ډاکتر یا روان پوه (روان شناس) په حضور کې واوري.

## له محکمې څخه بهـــر د شـــهادت اورېدل

**یوڅلوېښتمه ماده:**

(۱) که چېرې شاهد د مؤجه عذر له مخې مطلوب ځای (محل) ته حاضـــر نشـــي، څارنوال او محکمه موضوع اړخونو تـــه خبر ورکوي او دهغهٔ شهادت د اړونـــد قضایي هیئت له غړو څخه د یوهٔ تن پـــه واسطه دهغهٔ د اوسېدو په ځـــای کـــې اوري.

ددعوي اړخونه کولای شي د نومـــوړي شاهد د شهادت د اورېدو په وخت کې حضور ولري. پدې صورت کـــې ثبـــت شوی شهادت، په قضایي غونـــډه کـــې

## شهادت شخص دارای اخـــتلالات روانی

**مادهٔ چهلم:**

هرگاه شاهد معتوه (مبتلا به اخـــــتلال روانی مؤقت) یا سفیه (کم عقل ) باشد، څارنوالی و محکمه می تواند شهادت او را در حضور داشت داکتر معالج یا روان شناس سمع نماید.

## اســـتماع شـــهادت در خـــارج از محکمه

**مادهٔ چهل ویکم:**

(۱)هرگاه شاهد بنا بر عذر مؤجه بـــه محل مطلوب حاضـــر شـــده نتوانـــد، څارنوال و محکمه موضوع را به طرفین دعـــوی اطـــلاع و شـــهادت وی را توسط یکتن از اعضای هیئت قضـــائی مربوط در محل اقامت وی استماع می نمایند.

طرفین دعوی می توانند هنگام استماع شهادت شاهد مذکور حضور بـــه هـــم رسانند. در این صورت شهادت ثبـــت شـــده در جلســـهٔ قضـــائی قرائـــت

ketabton.com - The Digital Library



قرائت کېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شاهد د هغې واکمنې محکمې چې قضیه يې ترڅېړنې لاندې ده له قضايي حوزې څخه په بهرکې واوسېږي، واکمنه محکمه له ځايي (محلي) محکمې څخه چې شاهد د هغې په قضايي حوزه کې اوسېږي رسماً غوښتنه کوي څو دهغهٔ شهادت واوري، ترتيب شوی محضر واکمنې محکمې تهواستوي.

## د دروغو شهادت

### دوه څلوېښتمه ماده:

که چېرې ددې قانون په يوڅلوېښتمه ماده کې په درج شوو حالاتو کې، د شاهد کذب ثابت شي، محکمه کولای شي هغه د لګښتونو په جبران مکلف او د عدلي تعقيب لپاره څارنوالۍ ته وروپېژني.

## د شاهد سوګند يا ژمنه (تعهد)

### دري څلوېښتمه ماده:

شاهد مکلف دی د شهادت له اداء کولو دمخه په الله جل جلاله سوګند ياد کړي چې شهادت يې په حق اداء کړي او له

می شود.

(۲) هرگاه شاهد مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در خارج حوزهٔ قضائی محکمهٔ ذیصلاح که قضیه تحت رسیدگی آن قرار دارد، اقامت داشته باشد، محکمهٔ ذیصلاح از محکمهٔ محلی که شاهد در حوزهٔ قضائی آن اقامت دارد، رسماً تقاضا می نماید تا شهادت وی را استماع نموده، محضر مرتبه را به محکمهٔ ذیصلاح ارسال نماید.

## شهادت کذب

### مادهٔ چهل ودوم:

هرگاه در احوال مندرج مادهٔ چهل ویکم این قانون، کذب شاهد ثابت گردد، محکمه می تواند وی را به جبران مصارف مکلف وغرض تعقیب عدلی به څارنوالی معرفی نماید.

## سوگند یا تعهد شاهد

### مادهٔ چهل وسوم:

شاهد مکلف است قبل از ادای شهادت به الله جل جلالهُ سوگند نماید که شهادت را به حق اداء نموده و جز

ketabton.com - The Digital Library



حقيقت پرته بل څه ونه وايي. غير مسلمان شخص د خپلې عقيدې مطابق ســوگند يادوي.

## شپږم فصل

## اهل خبره

**د اهل خبره ټاكل**

**څلور څلوېښتمه ماده:**

(۱) كه چېرې وړاندې شوي سندونه او مادي ادله (قرائن) د قضيې د اثبات او د هغې د مرتكب د پېژندلو لپاره مسلكي، تخصصي او فني ارزونه ايجاب كړي، د قضايي ضبط مامور، څارنوالۍ او محكمه كولاى شي په خپل تجويز د اړخونـــو د غوښتنليک له مخې، د احوالو تثبيـــت او حقيقت ته د رسېدو په منظور يې په هكله د اهل خبره نظر وغواړي.

(۲) د قضايي ضبط مامور، څارنوالۍ او محكمه مكلف دي له اهل خبره څخه په خپله غوښتنه كې، د تحقيقاتو ډولونه او نور مطالب او لازم معلومات په وضاحت سره بيان كړي.

(۳) څارنوالي او محكمه كـــولاى شـــي

حقيقت چيز ديگرى نگويد. شخص غير مسلمان مطابق عقيدهٔ خود سوگند يـــاد مى كند.

## فصل ششم

## اهل خبره

**تعيين اهل خبره**

**مادهٔ چهل وچهارم:**

(۱) هرگاه اسناد وادلهٔ مادى ارايه شده (قرائن) براى اثبات قضـــيه وشـــناخت مرتكب آن ايجاب ارزيـــابى مســـلكى، تخصصى و فنى را نمايد، مامور ضـــبط قضائى، څارنوالى و محكمه مى توانند به تجويز خود يا به اثر درخواست طرفين قضيه به منظور تثبيت احوال ورسيدن به حقيقت، نظر اهل خبـــره را در زمينـــه مطالبه نمايند.

(۲) مامورضبط قضـــائى، څـــارنوالى و محكمه مكلف اند در تقاضاى خود از اهل خبره، انواع تحقيقـــات و ســـاير مطالب و معلومات لازم را به وضاحت بيان كنند.

(۳) څارنوالى و محكمه مى توانندعلاوه

ketabton.com - The Digital Library



پر اهل خبره برسېره چې نومونـــه يـــې په محکمه کې ثبت دي، د نورو اشخاصو نظر چې د هغوی تخصص، پوهه او تجربه د دوی د باور وړ وي، وغواړي.

**د اهل خبره پـــر وړانـــدې شـــوو معلوماتو نوې کتنه**

**پنځه څلوېښتمه ماده:**

که چېرې د اهل خبره معلومات نامکمل يا مبهم ثابت شي او يا د څارنوال يا قاضي د قناعت وړ ونه ګرځي، د بل اهل خبره نظر غوښتل کېږي.

**د اهل خبره له نظر څخه څارنه**

**شپږ څلوېښتمه ماده:**

(۱) څارنوال او قاضي کولای شي د اهل خبره د آزمېښت پر وخت، شخصاً حاضر شي او لــه هغــوی څخــه د اړونــدو موضوعګانو د جزئياتو په هکله پوښـــتنه وکړي. ددعوي اړخونه کولای شـــي، د اهل خبره د نظر په اړه خپلې ملاحظـــې څرګندې يا پرهغوی اعتراض وکړي.

(۲) که چېرې اهل خبره د فني يا حرفه يي اجراآتو د يوې برخې د آزمېښت لپاره

بر اهل خبره که نام آنها در محکمه ثبت است، نظراشخاص ديگر را که تخصص، دانش و تجربهٔ شان مورد اعتماد آنهـــا قرار داشته باشد، مطالبه نمايند.

**تجديد نظر برمعلومات ارايه شـــدهٔ اهل خبره**

**مادهٔ چهل وپنجم:**

هرگاه معلومات ارايه شدهٔ اهل خبره نا مکمل يا مبهم ثابت گردد ويا طـــرف قناعت څارنوال يا قاضی قرار نگيـــرد، نظر اهل خبرهٔ ديگر مطالبه می گردد.

**مراقبت از نظر اهل خبره**

**مادهٔ چهل وششم:**

(۱) څارنوال و قاضی می توانند حـــين اجرای آزمايش اهل خبره، شخصاً حاضر شده و از آنها راجـــع بـــه جزئيـــات موضوعات مربوط سوال نمايند. طرفين دعوی می توانند، ملاحظات خويش را پيرامون نظر اهل خبره ابراز يا بـــر آن اعتراض به عمل آرند.

(۲) هرگاه اهل خبره بـــرای آزمـــايش قسمتی از اجراآت فنی يا حرفه ای بـــه

ketabton.com - The Digital Library



د نورو اهل خبره همکارۍ ته اړتيا ولري، کولای شي له هغوی څخه د همکارۍ غوښتنه وکړي.

## د اهل خبره د نومونو فهرست

اووه څلويښتمه ماده:

(۱) څارنوالي هر کال د اهل خبره نومونه د اړوندو ادارو په همکارۍ، په مربوطو څانګو (رشتو) کې د وړ افرادو له منځه څخه د خورالوړو معيارونو له په پام کې نيولو سره ترتيب او ذيعلاقه مراجعو ته يې استوي.

(۲) هغه اشخاص چې د اهل خبره په توګه ټاکل کېږي، مکلف دي د محکمې په مخکې (په حضور کې) په لاندې عبارت سوګند ياد کړي:

((د خدای جلال جلاله په نامه سوګند يادوم چې سپارل شوې دنده د فني لازمو معيارونو او خپلې تخصصي پوهې په ناپلوۍ سره او صادقانه سرته ورسوم او حقيقت پټ نکړم)).

(۳) هغه اشخاص چې دخبره ګانو له فهرست څخه بهر داهل خبره په توګه

همکاری اهل خبرۀ ديگر ضرورت داشته باشد، می تواند ازآنها مطالبۀ همکاری نمايد.

## فهرست اسمای اهل خبره

مادۀ چهل وهفتم:

(۱) څارنوالی فهرست اسمای اهل خبره را به همکاری ادارات مربوط با رعايت بلندترين معيارها ازميان افراد شايسته در رشته های مربوط هرسال ترتيب وبه مراجع ذيعلاقه ارسال می نمايد.

(۲) اشخاصی که بحيث اهل خبره تعيين می گردند، مکلف اند به حضور محکمه به عبارات ذيل سوگند ياد نمايند:

((بنام خداوند جل جلالهُ سوگند ياد می کنم که وظيفۀ محوله را مطابق معيار های لازم فنی و دانش تخصصی خويش طور بيطرفانه وصادقانه انجام داده و حقيقت را پنهان نکنم)).

(۳) اشخاصی که خارج ازفهرست خبره گان بحيث اهل خبره

ketabton.com - The Digital Library



ټاکل کېږي، مکلف دي ددندې له سرته رسولو څخه دمخه، ددې مادې پــه (۲) فقره کې درج شوي سوګند د اړونــدې واکمنې محکمې په وړاندې ياد کړي.

**د اهل خبره د نظريـاتو محتويـات (منځ پانګه)**

**اته څلوېښتمه ماده:**

(۱) اهل خبره مکلف دي د ټاکلې مودې په د ننه کې چې د واکمنو مراجعو له خوا تعينېږي خپل نظر څرګند کړي. اهل خبره کولای شي د مؤجهو دلايلو پر بنـاء د ټاکلې مودې تمديد له واکمنې مرجع څخه وغواړي.

(۲) اهل خبره خپل نظر چې لاندې موارد پکې شامل دي، په ليکلې توګه وړانــدې کوي:

۱- د اهل خبره نوم او تخلص، علمــي درجه (کچه)، تخصص او هغه موقف چې په اړونده حرفه کې يې په غاړه لري.

۲- د هغو اشخاصو چــې د نظــر پــه څرګندولو کې يې برخه اخيستې، نــوم، تخلص او د هويت په هکله نور معلومات.

تعيين می شوند، مکلف انــد قبــل از انجام وظيفه، سوگند مندرج فقرۀ (۲) اين ماده را نزد محکمۀ ذيصلاح مربوط ياد نمايند.

**محتويــــات نظــــر اهــــل خبره**

**مادۀ چهل وهشتم:**

(۱) اهل خبره مکلف است بداخل ميعاد معينۀ که از طرف مراجع ذيصلاح تعيين می گردد نظر خود را ابراز نمايد. اهل خبره می تواند بر اساس دلايل مؤجــه تمديد ميعاد معينه را از مرجع ذيصلاح تقاضا نمايد.

(۲) اهل خبره نظر خويش را که شامل موارد ذيل می باشد به صورت کتبــی ارايه می نمايد:

۱- نام و تخلص اهل خبــره، درجــۀ علمی، تخصص و موقفی که در حرفــۀ مربوط به عهده دارند.

۲- نام، تخلص و ساير معلومــات در مورد هويت اشخاصی که در ابراز نظر سهم گرفته اند.

ketabton.com - The Digital Library



۳- د نظر د غوښتنې نېټه، د کتنو (معاینو) سرته رسول او د نظر څرګندول.

۴- د سرته رسول شوو فعالیتونو او له هغو څخه دلاسته راغلو پایلو رپوټ.

۵- د اهل خبره د هیئت لاسلیک چې د نظر په برابرولو کې یې ګډون کړی دی.

(۳) هغه اشخاص چې د اهل خبره په توګه یې د لیکلي نظر په برابرولو کې ګډون کړی او هغه اشخاص چې یوازې په کتنو کې یې د شاهدانو په توګه حضور درلودلی دی، د اړتیا په صورت کې محکمې ته حاضرولی شي.

## د کتنو لپاره د مظنون، تورن یا مجني علیه معرفي

نهه څلوېښتمه ماده:

(۱) د قضایي ضبط مامور، څارنوالی او محکمه کولای شي، د جنایت یا جنحې د ارتکاب په صورت کې مظنون، تورن یا مجنې علیه د عدلي طبي کتنو د سرته رسېدو لپاره واکمنې مرجع ته معرفي او د ګوتې نښه، وینه، وېښتان، اکسریز او نور مدارک چې د پېښې له ځای څخه

۳- تاریخ مطالبهٔ نظر، انجام معاینات و ابراز نظر.

۴- گزارش فعالیت های انجام شده و نتایج به دست آمده از آنها.

۵- امضای هیئت اهل خبره که در تهیهٔ نظر شرکت نموده اند.

(۳) اشخاصی که منحیث اهل خبره در تهیهٔ نظریات کتبی اشتراک نموده اند و اشخاصی که صرف در معاینات منحیث شهود حضور داشته اند، در صورت ضرورت به محکمه احضار می گردند.

## معرفی مظنون، متهم یا مجنی علیه جهت معاینات

مادهٔ چهل ونهم:

(۱) مامور ضبط قضائی، څارنوالی ومحکمه می توانند، در صورت ارتکاب جنایت یا جنحه، مظنون، متهم یا مجنی علیه را جهت انجام معاینات عدلی طبی به مرجع ذیصلاح معرفی ونشان انگشت، خون، موی، اکسریز و سایر مدارک را که از محل واقعه اخذ

ketabton.com - The Digital Library



اخيستل شويدي، اړونـدې ادارې تـه وړاندې کړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کـې ددرج شوو اشخاصو کتنې د هم جنس اهل خبره په واسطه صورت مومي.

د جسد کتنې

پنځوسمه ماده:

(۱) پوليس، څارنوالي او محکمه کولای شي، د مقتول جسد يا د هغـهٔ شـخص جسد چې د هغهٔ د قتل، ځان وژنې يـا مسموميت احتمال موجود وي او د هغهٔ شخص جسد چې ترلاسه شوی د کتنو د سرته رسولو لپاره د عدلي طب ادارې ته ولېږي.

(۲) د جسد کتنه د پوليس يا څارنوال په حضور کې صورت مومي.

(۳) د عدلي طب اداره کولای شـي د اړتيا په صورت کې، د جسد د کتنې پر وخت د پتالوجۍ پر متخصص برسـېره، هغه طبيب چې د وروستي ځل لپاره يـې متوفي شخص تداوي کړی، احضار کړي.

(۴) ښخ (دفن) شوي جسدونه، د اړتيا په

گرديــده، بــه ادارهٔ مربــوط ارايــه نمايند.

(۲) معاينات اشخاص مــندرج فقرهٔ (۱) اين ماده توسط اهل خبره هــم جــنس صورت می گيرد.

معاينات جسد

مادهٔ پنجاهم:

(۱) پــوليس، څارنــوالی و محکمــه می توانند جســد مقتــول يــا جســد شخصی را که احتمال قتل يا انتحار يا مسموميت وی متصور باشــد وجســد شخصی که دريافت گرديــده جهــت انجام معاينات به ادارهٔ طــب عــدلی بفرستند.

(۲) معاينهٔ جسد در حضور پوليس يــا څارنوال صورت می گيرد.

(۳) ادارهٔ طب عدلی مــی توانــد در صورت ضرورت هنگام معاينهٔ جســد برعلاوه متخصص پتالوجی، طبيبی را که بار اخير شخص متوفی را تداوی نموده، احضار نمايد.

(۴) اجساد مدفون شــده در صــورت

ketabton.com - The Digital Library



صورت کې، له واکمنې محکمې څخه د نبش د اجازې له اخيستلو وروسته، عدلي طب ته استول کېږي.

محکمه د جسد دنبش د جواز د صادرېدو لپاره، د اهل خبره له نظره، د پوليسو او د دعوې د اړخونو له بيانونو څخه ګټه اخلي.

(۵) په هغو ولايتونو کې چې د عدلي طب اداره موجوده نه وي، عدلي طبي کتنې د هغهٔ اړوند متخصص په واسطه چې د اړوند ولايت د عامې روغتيا د ادارې لخوا توظيفېږي، صورت مومي.

د کتنو پايله

يوپنځوسمه ماده:

د اهل خبره د کتنو د رپوټ نسخې د دعوې د اړخونو لاسرسي ته ورکول کېږي. ددعوې اړخونه د قضيې په هکله د نظر د څرګندولو، له اهل خبره څخه د معلوماتو لپاره د اضافي پوښتنو د غوښتنې او د کتنې د بشپړولو او بيا سرته رسولو د غوښتنې حق لري. دغه مطالب او اعتراضونه په کتاب کې ثبتېږي.

ضرورت بعد از اخذ اجازهٔ نبش از محکمهٔ ذيصلاح به طب عدلی فرستاده می شود.

محکمه جهت صدور جواز نبش جسد، از نظر اهل خبره، اظهارات پوليس و طرفين دعوی استفاده می نمايد.

(۵) در ولاياتی که ادارهٔ طب عدلی موجود نباشد، معاينات طبی عدلی توسط متخصص ذيربط که از طرف ادارهٔ صحت عامهٔ ولايت مربوط توظيف می شود، صورت می گيرد.

نتيجهٔ معاينه

مادهٔ پنجاه ويکم:

نسخه های گزارش معاينات اهل خبره در دسترس طرفين دعوی قرار داده می شود. طرفين دعوی حق ابراز نظر در مورد قضيه، مطالبه سوالات اضافی جهت معلومات از اهل خبره و تقاضای تکميل و انجام دوبارهٔ معاينه را دارند. اين مطالب واعتراضات در کتاب ثبت می گردد.

ketabton.com - The Digital Library



## د اهل خبره عدلي تعقيب

**دوه پنځوسمه ماده:**

که چېرې اهل خبره پرته له مؤجه دليله د نظر له څرګندولو څخه ډډه وکړي يا د تخصصي معيارونو له په پام کې نيولو پرته اويا دهغه څه پرخلاف چې داړوندو څېړنو له پايلو څخه استنباطېږي، نظر څرګند کړي، تر ۱۰۰۰۰ افغانيو پورې نقدي جريمې محکومېږي، که چېرې اهل خبره عمداً اوله پوهې سره ددرواغو څرګندونې وړاندې کړي، دقانون د حکمونو مطابق ترعدلي تعقيب لاندې نيول کېږي.

## تعقيب عدلی اهل خبره

**مادۀ پنجاه ودوم:**

هرگاه اهل خبره بدون دليل مؤجه از ابراز نظر خود داری ورزند يا بدون رعايت معيار های تخصصی و يا بخلاف آنچه از نتايج بررسی های مربوط استنباط می شود، اظهار نظر نمايد، محکوم به پرداخت الی ۱۰۰۰۰ افغانی جريمۀ نقدی می گردند هر گاه اهل خبره عمداً و آگاهانه اظهارات کاذب ارايه کند، مطابق احکام قانون مورد تعقيب عدلی قرار می گيرد.

ketabton.com - The Digital Library



## اووم فصل

## د شاهدانو ساتنه

### د شاهدانو ساتندویه اقدامات

**درې پنځوسمه ماده:**

(۱) څارنوالی او محکمه کولای شي له احوالو سره سم دشاهد دساتنې لپاره، د قرار په صادرولو سره یو یا څو مورده لاندې ساتندویه (محافظتي) اقدامات وکړي:

۱-دنوم، آدرس، ددندې، شغل د ځای یا دهر ډول معلوماتو، رسمي سندونو، دثبت ددفتر او دوسیې اخفا چې دشاهد د هویت (پېژندنې) د تشخیص زمینه برابره کړي.

۲- د شاهد د هویت یا هغو موادو او معلوماتو له افشاء څخه چې ممکن د شاهد هویت تشخیص کړي، د مظنون یا تورن د مدافع وکیل، اوحقوقي مساعد منع کول.

۳- د هر ډول هغو سوابقو او سندونو، نه افشاء کول چې د شاهد د هویت د تشخیص باعث شي، خو دا چې واکمن قاضي بل ډول تصمیم ونیسي.

## فصل هفتم

## محافظت شهود

### اقدامات محافظتی شهود

**مادهٔ پنجاه وسوم:**

(۱) څارنوالی و محکمه می توانند حسب احوال جهت محافظت شاهد با صدور قرار، یک یا چند مورد از اقدامات محافظتی ذیل را اتخاذ نمایند:

۱- اخفای نام، آدرس، محل وظیفه، شغل یا هرگونه معلومات، اسناد رسمی، دفتر ثبت و دوسیه که زمینه تشخیص هویت شاهد را فراهم نماید.

۲- ممنوع قراردادن وکیل مدافع و مساعد حقوقی مظنون یا متهم از افشای هویت شاهد یا مواد و معلوماتی که ممکن هویت شاهد را تشخیص نماید.

۳- عدم افشای هر گونه سوابق و اسنادی که منجر به تشخیص هویت شاهد گردد، مگر اینکه قاضی ذیصلاح طور دیگری تصمیم اتخاذ کند.

ketabton.com - The Digital Library



(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو حالاتو کې د شاهد لپاره مستعار نوم ټاکل کېږي.

(۳) د شاهد د ظاهري او فیزیکي ځانګړتیاوو (خصوصیاتو) اخفا په لاندې شیوو صورت مومي:

۱- د غیر شفافې پردې له شا څخه د شاهدۍ ادا کول.

۲- د تصویر او غږ بدلوونکي تخنیکي دستګاه له لارې د شاهدۍ ادا کول.

۳- په یوه وخت د محاکمې خونې ته د تړلي مدار تلویزیون له لارې چې په ژوندۍ توګه اتصال شوی دی، له بل ځای څخه د استجواب خپرول.

۴- دمحاکمې له بهیر دمخه له انځوریزې (تصویري) فیتې (نوار) څخه په ګټې اخیستنې سره د شاهد دبیانونو او شاهدۍ او استجواب اورېدل، په هغهٔ صورت کې چې یوازې د تورن مدافع وکیل د تصویري فیتې د ثبت په بهیر کې، دشاهد د شاهدۍ په خاطر حضور ولري.

۵- د محکمې له سالون څخه په مؤقته توګه د تورن ایستل، په هغهٔ صورت کې

(۲) در حالات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده برای شاهد نام مستعار تعیین می گردد.

(۳) اخفای خصوصیات ظاهری و فیزیکی شاهد به شیوه های ذیل صورت می گیرد:

۱- ادای شهادت از عقب پرده غیر شفاف.

۲- ادای شهادت از طریق دستگاه تخنیکی تغییر دهندهٔ تصویر و صدا.

۳- پخش استجواب از مکان دیگر از طریق تلویزیون مداربسته که به شکل زنده اتصال گردیده است، به طور همزمان به اتاق محاکمه.

۴- استماع اظهارات و شهادت و استجواب شاهد با استفاده از نوار تصویری قبل از جریان محاکمه، در صورتی که صرف وکیل مدافع متهم در جریان ثبت نوار تصویری، بخاطر شهادت شاهد حضور داشته باشد.

۵- کنار بردن متهم به شکل مؤقت از سالون محکمه، در صورتی که شاهد از

ketabton.com - The Digital Library



چې شاهد د تورن په حضور کې د شاهدۍ له ورکولو څخه ډډه وکړي يا دا چې شاهد د تورن په حضور کې حقيقت نه بيانوي. پدې صورت کې مدافع وکيل او حقوقي مساعد کولای شي د محکمې په سالون کې حضور ولري او له شاهد څخه استجواب وکړي. د محکمې سالون ته د تورن د بېرته راتلو په وخت کې، د شاهد شاهدي هغهٔ ته قرائت کېږي.

## د ساتنې وړ شاهدان

### څلور پنځوسمه ماده:

څارنوالي او محکمه د لاندې شاهدانو ساتنه تجويزوي:

۱- هغه شاهد چې خپله ددهٔ ياېې خپلوانو امنيت د شاهدۍ له امله له وېرې، رعب يا ورته اقداماتو سره د خطر په وړاندې قرار ولري.

۲- هغه شاهد چې د جرمي عمل د ارتکاب له امله يې له جسمي او رواني لحاظه، سخت زيان ليدلی وي.

۳- هغه شاهد چې له سخت رواني وضعيت څخه ځورېږي.

ادای شهادت در حضور متهم امتناع ورزد يا اينکه شاهد در حضور متهم حقيقت را بيان نمی نمايد. در اين صورت وکيل مدافع ومساعد حقوقی می تواند در سالون محکمه حضور داشته و از شاهد استجواب نمايد. حين برگشت دوباره متهم به سالون محکمه، شهادت شاهد برای وی قرائت می گردد.

## شهود قابل محافظت

### مادهٔ پنجاه وچهارم:

څارنوالی و محکمه حفاظت شهود ذيل را تجويزمی نمايند:

۱- شاهدی که امنيت خود وی يا اقاربش به اثر شهادت به تهديد، ارعاب يا اقدامات مشابه، در معرض خطر قرار داشته باشد.

۲- شاهدی که در اثر ارتکاب عمل جرمی از لحاظ جسمی يا روانی آسيب شديد ديده باشد.

۳- شاهدی که ازوضعيت روانی وخيم رنج می برد.

ketabton.com - The Digital Library



۴- هغه شاهد چې طفل دی.

۵- امنيتي ارګانونه مکلف دي دڅارنوالۍ او محکمې د تجويز له په پام کې نيولو سره د پورته مندرجو اجزاوو له شهود څخه د خطر تر رفع کېدو پورې ساتنه وکړي.

## د شاهدانو د ساتندويه اقداماتو غوښتنليک

**پنځه پنځوسمه ماده:**

(۱)ددې قانون په څلورپنځوسمه ماده کې درج شوي شاهدان او دارتيا په صورت کې د هغوی قانوني استازي کولای شي، دتحقيق په پړاوکې له څارنوالۍ او دمحاکمې په پړاوکې له محکمې څخه د ساتندويه اقداماتو غوښتنه وکړي.

(۲) د ساتندويه اقداماتو غوښتنليک په سر ترلي ډول څارنوالۍ او محکمې ته وړاندې کېږي، څارنوالي او محکمه هريو په خپله اړونده ساحه کې غوښتنليک څېړي او تصميم نيسي. پدې صورت کې نورو ته د مطالبو افشاء کول مجازندي.

۴- شاهدی که طفل است.

۵- ارگان های امنيتی مکلف اند با در نظرداشت تجويز څارنوالی و محکمه الی رفع حالت خطر از شهود مندرج اجزای فوق محافظت نمايند.

## درخواست اقدامات محافظتی شهود

**مادۀ پنجاه وپنجم:**

(۱) شهود مندرج مادۀ پنجاه و چهارم اين قانون ودر صورت ضرورت نمايندۀ قانونی آنها می توانند، اتخاذ اقدامات محافظتی را در مرحلۀ تحقيق از څارنوالی و در مرحلۀ محاکمه از محکمه درخواست نمايند.

(۲) درخواست اقدامات محافظتی به صورت سربسته به څارنوالی ومحکمه ارايه می گردد، څارنوالی ومحکمه هريک در ساحۀ مربوط درخواست را بررسی نموده وتصميم اتخاذ می نمايند. افشای مطالب در اين صورت به ديگران مجاز نمی باشد.

ketabton.com - The Digital Library



## دوه يم باب

## جزايي دعويٰ

## لومړی فصل

## د جزايي دعويٰ تحريک

### د تحريک اسباب

**شپږ پنځوسمه ماده:**

د جزايي دعويٰ تحريکول، له لانـدې اسبابو څخه ديوۀ پر بنا صورت مومي:

۱- د ارتکاب پروخت د جرم ليدل او د مشهود جرم نور احوال.

۲-استغاثه او دخلاصون (نجات)غوښتنه.

۳- کشفي او د تحقيق له مراجعو څخه يوې ته د اشخاصو په واسطه د جرم لـه پيښېدو يا د هغۀ د آثارو او علايمو لـه ليدلو څخه خبر ورکول يا د حق العبـد مدعي لخوا له جرم څخه د راپيدا شوي زيان (خسارې) د جبران غوښتنليک.

۴- د اشخاصو يا مراجعو شکايت په هغو مواردوکې چې د قانون د حکمونو مطابق، د جزايي دعويٰ تحريکول شـکايت تـه موکول وي.

## باب دوم

## دعوای جزائی

## فصل اول

## تحریک دعوای جزائی

### اسباب تحریک

**مادۀ پنجاه وششم:**

تحریک دعوای جزائی بنابریکی ازاسباب ذیل صورت می گیرد:

۱- مشاهدۀ جرم در هنگام ارتکـاب وسایر احوال جرم مشهود.

۲- استغاثه وطلب نجات.

۳- اطلاع از وقوع جرم یا مشـاهدۀ آثـار وعلایـم آن توسـط اشـخاص بـه یکـی از مراجـع کشـفی و تحقیق یا درخواست جبـران خسـاره ناشـی از جـرم از طـرف مـدعی حق العبد.

۴- شکایت مراجع یـا اشـخاص در مواردی که مطابق احکام قانون تحریک دعوای جزائی موکـول بـه شـکایت باشد.

ketabton.com - The Digital Library



۵- د رسمي مراجعو غوښتنليک په هغو مواردو کې چې د جزايي دعوې تحريکول رسمي غوښتنليک ته موکول وي.

۶- په اړونده ساحه کې د جرم د ارتکاب په اړه، د ادارو، مؤسسو او نورو حکمي اشخاصو خبر ورکول.

۷- د څارنوالۍ په واسطه د جرم د علايمو او آثارو ليدل.

۸- د ټوليزو رسنيو له لارې د جرم د ارتکاب په اړه د موضوعګانو نشر او خپرول.

۹- د ځان پرخلاف د شخص بيانونه.

**د جرم له پېښېدو څخه د خبرتيا د ترلاسه کولو په وخت کې د اتباعو او مسئولينو دندې**

**اووه پنځوسمه ماده:**

(۱) د هېواد اتباع ددې قانون دنورو حکمونو له په پام کې نيولو سره، د جرم له پېښېدو څخه له خبرېدو يا د هغهٔ د ليدلو په صورت کې مکلف دي موضوع په ليکلې يا شفاهي توګه او يا له الکترونيکي وسايلو څخه په ګټې اخيستنې

۵- درخواست مراجع رسمی در مواردیکه تحریک دعوای جزائی موکول به درخواست رسمی باشد.

۶-اطلاع ادارات، مؤسسات وسایر اشخاص حکمی مبنی بر ارتکاب جرم در ساحهٔ مربوط.

۷- مشاهدهٔ علایم وآثار جرم توسط څارنوالی.

۸- نشر وپخش موضوعات مبنی بر ارتکاب جرم ازطریق رسانه های همگانی.

۹-اظهارات شخص علیه خودش.

**وظایف اتباع و مسئولین حین حصول اطلاع از وقوع جرم**

**مادهٔ پنجاه وهفتم:**

(۱) اتباع کشوربا رعایت سایر احکام این قانون درصورت آگاه شدن از وقوع جرم یا مشاهدهٔ آن مکلف اند موضوع را طور کتبی یا شفاهی و یا با استفاده از وسایل الکترونیکی به پولیس یا سایر مامورین

ketabton.com - The Digital Library



سره پوليسو يا د قضايي ضبط نورو مامورينو او يا څارنوال ته خبر ورکړي.

(۲) ليکلي خبرتيا د خبر ورکوونکي د هويت، لاسليک نېټې او يا د ګوتې د نبنې لرونکې وي.

شفاهي خبرتيا په محضر کې درجېږي، خبر ورکوونکی د حضور په صورت کې او هغه مؤظف چې خبرتيا يې ترلاسه کړې، په هغۀ کې لاسليک کوي.

(۳) د دروغې خبرتيا عواقب (پايلې) خبر ورکوونکي ته پوهول کېږي او په محضر کې درجېږي.

(۴) له لاسليک او د خبر ورکوونکي له شهرت پرته خبرتيا ته، د اړوندې مرجع لخوا له دقيقې علم آورۍ وروسته ترتيب اثر ورکول کېږي.

## د جرم د پېښېدو د خبر اخيستونکو مراجعو مکلفيت

اته پنځوسمه ماده:

د کشف او تحقيق مراجع مکلف دي، د جرم په ارتکاب پورې اړوند معلومات ومني، په لنډ وخت کې يې په هکله اقدام

ضبط قضائی و یا څارنوال اطلاع دهند.

(۲) اطلاع کتبی حاوی هویت ، امضاء تاریخ و یا نشان انگشت اطلاع دهنده می باشد .

اطلاع شفاهی درج محضر گردیده، اطلاع دهنده درصورت حضور و مؤظفی که اطلاع را دریافت نموده، در آن امضاء می نماید.

(۳) عواقب جزائی اطلاع دروغ به اطلاع دهنده تفهیم و در محضر درج می گردد.

(۴) به اطلاع بدون امضاءوشهرت اطلاع دهنده بعد از علم آوری دقیق از طرف مرجع مربوط ترتیب اثر داده می شود.

## مکلفیت مراجع اطلاع گیرندۀ وقوع جرم

مادۀ پنجاه وهشتم:

مراجع کشف وتحقیق مکلف اند، معلومات مربوط به ارتکاب جرم را پذیرفته، به اسرع وقت درمورد

ketabton.com - The Digital Library



يا يې اړوندې مرجع ته د اجراآتو لپاره واستوي او د نېټې او ساعت په قيدولو سره د خبرتيا له اخيستلو څخه خبر وركوونكي ته رسيد وركړي او خپل شهرت او دنده معرفي كړي.

## د جزايي دعوىٰ تحريک

**نهه پنځوسمه ماده:**

څارنوالي كولاى شي د مشهود جرم يا د جنايت د جرم په حالاتو كې د خبرتيا له ترلاسه كولو وروسته، پخپله د جرم د پېښېدو پر ځاى كې حضور ومومي او يا اړوندې مرجع ته د اجراآتو د ډول په هكله لازمې لارښوونې صادرې كړي.

## د دولتونو د مشرانو يا د هغوى د استازو لخوا د جرم ارتكاب

**شپېتمه ماده:**

(۱) كه چېرې د بهرنيو هېوادونو او بين المللى مؤسسو رئيسان يا د هغوى استازي او د ديپلوماتيک هيئت غړي په افغانستان كې د جرم مرتكب شي، د هغوى پرخلاف د جزايي دعواىٰ تحريک د عمومي بين الدول حقوقو له په پام كې نيولو سره، د

اقدام يا به مرجع مربوط جهت اجراآت ارسال و از اخذ اطلاع بقيد تاريخ و ساعت به اطلاع دهنده رسيد ارايه و شهرت و وظيفهٔ خود را معرفى نمايند.

## تحريک دعواى جزائى

**مادهٔ پنجاه ونهم:**

څارنوالى مى تواند درحالات جرم مشهود يا جرم جنايت بعد ازكسب اطلاع، خود به محل وقوع جرم حضور يافته ويا به مرجع مربوط راجع به طرز اجراآت هدايات لازم صادر نمايد.

## ارتكاب جرم ازجانب سران دول يا نمايندگان آنها

**مادهٔ شصتم:**

(۱) هرگاه رؤساى دول خارجى و مؤسسات بين المللى يا نمايندگان واعضاى هيئت ديپلوماتيک آنها درافغانستان مرتكب جرم شوند، تحريک دعواى جزائى عليه آنها بارعايت حقوق بين الدول عمومى به

بهرنيو چارو وزارت په موافقه او د لوی څارنوال په ليکلې لارښوونې صورت مومي.

(۲) په هغهٔ صورت کې چې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اشخاص يا مقامات د تېري مورد وګرځي، د مرتکب پرخلاف ددعویٰ تحريک د نوموړي مقام غوښتنليک ته موکول دی.

**د دولتي ادارو د توهين د جرمونو تعقيب**

**يوشپېتمه ماده:**

د جمهوري رياست، ملي شوري، قضائيه قوې، لويې څارنوالی، وزارتونو او نورو دولتي ادارو د توهين د جرمونو په هکله د جزايي دعویٰ تحريک او د هر ډول تصميم نيول، د اړوندو مراجعو د واکمن مقام له ليکلې غوښتنې پرته جواز نلري.

**له عدلي تعقيب څخه انصراف**

**دوه شپېتمه ماده:**

ددې قانون په يو شپېتمه ماده کې درج شوي مراجع کولای شي، د عدلي تعقيب له پړاوونو څخه په هر پړاوکې د قطعي

موافقهٔ وزارت امور خارجه و هدايت تحريری لوی څارنوال صورت می گيرد.

(۲) درصورتی که اشخاص يا مقامات مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده موردتعرض قرارگيرند، تحريک دعوی عليه مرتکب موکول به درخواست مقام موصوف می باشد.

**تعقيب جرايم توهين ادارات دولتی**

**مادهٔ شصت ويکم:**

تحريک دعوای جزائی واتخاذ هرگونه تصميم در مورد جرايم توهين رياست جمهوری، شورای ملی، قوهٔ قضائيه ،لوی څارنوالی، وزارت ها و ساير ادارات دولتی بدون تقاضای کتبی مقام ذيصلاح مراجع مربوط جواز ندارد.

**انصراف از تعقيب عدلی**

**مادهٔ شصت ودوم:**

مراجع مندرج مادهٔ شصت و يکم اين قانون می توانند، قبل از صدور حکم قطعی درهرمرحلهٔ از مراحل

ketabton.com - The Digital Library



حکم له صادرېدو دمخه، له خپلې غوښتنې ځخه منصرف (تېر) شي او د هغــو پــه انصراف سره د عدلي تعقيب اجــراآت درېږي او تورن په هغهٔ صورت کې چې تر توقيف لاندې وي خوشې کېږي.

## د جرمي قضيې د تحريک منع

**دري شپېتمه ماده:**

د جزاء قانون د دوه يم باب دوه يم کتاب په (پنځم، اووم، لسم، يوولسم، دوولسم، ديارلسم، څوارلسم، شپاړسم، اووه لسم، اتلسم، نولسم، يوويشتم، دوه ويشــتم، درويشتم، څلېريشتم او پنځه ويشــتم) فصلونو کې د درج شوو جرمونو په هکله د جزائي دعويٰ تحريک او د هــر ډول تصميم نيول چې د خپلوانو لخوا يوبل ته زيان ورسېږي، د مجنې عليه له ليکلـــي شکايت پرته جواز نلري.

## د تورنو يا مجني عليهم تعدد

**څلورشپېتمه ماده:**

(۱) که چېرې تورنان له يوهٔ تن څخــه زيات وي، د يوهٔ پرخلاف شکايت، د هغو ټولو پرخلاف شکايت او دې يوهٔ په هکله

تعقيب عدلی ، از تقاضای خود منصرف گردند و با انصــراف آنهــا اجــراآت تعقيب عدلی متوقف ومتهم در صورتی کــه تحــت توقيــف باشــد، رهــا می گردد.

## منع تحريک قضيهٔ جرمی

**مادهٔ شصت وسوم:**

تحريــک دعــوای جزائــی واتخــاذ هرگونه تصميم در مورد جرايم مندرج فصــول (پنجم، هفتم، دهم، يــازدهم، دوازدهم، سيزدهم، چهاردهم، شانزدهم، هفدهم ، هجدهم، نزدهم، بيست ويکم، بيست ودوم، بيست و سوم، بيســت و چهارم و بيست وپنجم) باب دوم کتاب دوم قانون جزاء که از طرف اقارب به يکديگر ضرر برسد، بــدون شــکايت تحريری مجنی عليه جواز ندارد.

## تعدد متهمين يامجنی عليهم

**مادهٔ شصت وچهارم:**

(۱) هرگاه متهمــين بــيش ازيکنفــر باشند، شکايت عليــه يکــی از آنهــا، شکايت عليه همه آنهــا وانصــراف در

ketabton.com - The Digital Library



انصراف د هغو ټولو په هکله انصــراف دی.

(۲) که چېرې مجني عليه له يوهٔ تن څخه زيات وي، ددعویٰ تحريک له هغو څخه د يوهٔ د شکايت په اثر د هغو د ټولو لخوا تحريک دی.

## ناقص الاهليت مجني عليه

**پنځه شپېتمه ماده:**

که چېرې مجني عليه طفل وي يا په رواني ناروغۍ اخته وي، شکايت له احوالو سره سم دهغهٔ د قانوني استازي لخوا صورت موندلی شي.

## د مجني عليه د استازي ټاکل

**شپږشپېتمه ماده:**

کــه چېــرې مجنـــي عليـــه قـــانوني استازی ونه لري، د قانون د حکمونـــو مطابق، هغهٔ ته قانوني استازی ټاکل کېږي.

## له شکايت وروسته دمجني عليه مړينه

**اووه شپېتمه ماده:**

که چېرې د جزايي دعــویٰ تحريــک د مجني عليه يا د هغهٔ د قانوني اســتازي شکايت ته موقوف وي او مجني عليه، د

مورد يکی از آنها انصراف در مورد همهٔ آنها می باشد.

(۲) هرگاه مجنی عليه بيش از يکنفــر باشد، تحريک دعوی به اثر شکايت يکی از آنها، تحريک از طرف همــه آنهــا می باشد.

## مجنی عليه ناقص الاهليت

**مادهٔ شصت وپنجم:**

هرگاه مجنی عليه طفل بوده يا به مرض روانی مصاب باشد، شــکايت حســب احوال ازطرف نماينــدهٔ قــانونی وی صورت گرفته می تواند.

## تعيين نمايندهٔ مجنی عليه

**مادهٔ شصت وششم:**

هرگاه مجنی عليه نمايندهٔ قانونی نداشته باشد، طبق احکام قــانون بــرای وی نمايندهٔ قانونی تعيين می گردد.

## وفات مجنی عليه بعد از شکايت

**مادهٔ شصت وهفتم:**

هرگاه تحريک دعوای جزائی موقوف به شکايت مجنی عليه يانماينــدهٔ قــانونی وی باشد ومجنی عليه، بعــد از ارايــه

ketabton.com - The Digital Library



شکایت له وړاندې کولو وروسته مړ شي، د هغهٔ مړینه د جزایي دعویٰ د تحریک خنډونه کېږي، خو دا چې د هغهٔ شرعي ورثه د جزایي دعویٰ له تحریک څخه منصرفه شي.

## له شکایت څخه د مجني علیه یا دهغهٔ د استازي انصراف

### اته شپېتمه ماده:

(۱) ددې قانون په دري شپېتمه ماده کې په درج شوو احوالو کې د جزایي دعویٰ له تحریک څخه د مجني علیه انصراف، د محکمې د قطعي حکم له صادرېدو دمخه، له شکایت څخه د هغهٔ د لیکلي انصراف له امله صورت مومي.

(۲) که چېرې مجني علیه له یوهٔ تن څخه زیات وي، له جزایي دعـویٰ څخه د انصراف په منظور، د ټولو هغو اشخاصو چې شکایت یې کړی دی، انصراف حتمي دی.

شکایت فوت نماید، وفات وی مانع تحریک دعوای جزائی نمی گردد، مگراینکه ورثهٔ شرعی وی از تحریک دعوای جزائی منصرف شود.

## انصراف مجنی علیه یا نمایندهٔ وی از شکایت

### مادهٔ شصت وهشتم:

(۱) انصراف مجنی علیه از تحریک دعوای جزائی در احوال مندرج مادهٔ شصت و سوم این قانون قبل از صدور حکم قطعی محکمه به اثر انصراف تحریری وی ازشکایت صورت می گیرد.

(۲) هرگاه مجنی علیه بیش از یکنفر باشد، به منظور انصراف از دعوای جزائی، انصراف تمام اشخاصی که شکایت نموده اند، حتمی می باشد.

ketabton.com - The Digital Library



**له عدلي تعقیب څخه د پاتې تـــورن پرخلاف ددعوىٰ تحریک**

**نهه شپېتمه ماده:**

که چېرې محکمه د دعوىٰ د څېړنې پـــه وخت کې تشخیص کړي چې د یو شمېر اشخاصو پرخلاف دعوىٰ دایره شوې نده یا داسې پېښې په دعوىٰ کې شتون لري چې تورنو ته منسوبې شوې ندي یا داسې جنایت یا جنحه ارتکاب شوې چې تورنو ته په منسوب تور پورې ارتباط (تـــړاو) لري، کولای شي د هغوی پـــرخلاف د جزايي دعوىٰ د تحریک قرار، صادرکړي.

محکمه مکلفه ده د جزایـــي دعـــوىٰ د تحریک دلایل په قرار کې ذکر کړي.

**په محکمه کې د جرم پېښېدل**

**اویایمه ماده:**

که چېرې په محکمه کـــې د قضـــیې د څېړنې پر وخت داسې جرم واقع شي چې ددعوىٰ بهیر، د حکم صـــادرېدو یـــا د محکمې حیثیت ته خلل ورسېږي او یا د محکمې پر قضـــاوت، د شـــاهدانو پـــر شاهدۍ یا د اهل خبره پر نظر ناوړه اغېزه

**تحریک دعوی علیه متهم بازمانده از تعقیب عدلی**

**مادهٔ شصت ونهم:**

هرگاه محکمه حین رسید گی دعـــوی تشخیص نماید که علیه یکعده اشخاص دعوی دایر نشده یا وقایعی در دعـــوی وجود دارد که به متهمـــین منســـوب نگردیده یا جنایت یا جنحه ای ارتکاب گردیده که به اتهام منسوب به متهمین ارتباط دارد، می تواند قـــرار تحریـــک دعوای جزائی را علیـــه آنهـــا صـــادر نماید.

محکمه مکلف است دلایـــل تحریـــک دعوای جزائی را در قرار ذکر نماید.

**وقوع جرم در محکمه**

**مادهٔ هفتادم:**

هرگاه حـــین رســـید گـــی قضـــیه در محکمه جرمی واقع گردد که به جریان دعوی، صـــدور حکـــم یـــا حیثیـــت محکمه خلـــل وارد شـــود و یـــا بـــر قضاوت محکمه، شهادت شهود یـــانظر اهل خبره تاثیر سوء وارد کند، محکمه

ketabton.com - The Digital Library



وکړي، محکمه کولای شي ددې قانون د دوه سوه شپږویشتمې مادې د حکمونــو مطابق، اجراآت وکړي.

## دوه يم فصل

## د جزايي دعوئ او مجازاتو سقوط

### د سقوط حالات

**يو اویایمه ماده:**

جزايي دعوئ او مجازات پــه لانــدې حالاتو کې ساقط يا درول کېږي:

۱- د وخت د تېرېدو (د مرور زمان) په حالت کې.

۲- د تورن د مړينې په صورت کې.

۳- د عمومي عفوې په صورت کې.

۴- د هغهٔ قانون دحکم د الغاء په صورت کې چې مرتکبه عمل يې جرم ګڼلی دی.

۵- ددې قانون په دري شپېتمه ماده کې د درج شوو جرمونو په هکله، له شکایت څخه د مجني عليه د انصراف په صورت کې.

۶- په هغهٔ صورت کې چې شخص دمخه په عين جرم تر محاکمې لانــدې نيــول

می تواند طبق احکام مــادهٔ دو صــدو بیست وششم ایــن قــانون اجــراآت نماید.

## فصل دوم

## سقوط دعوای جزائی و مجازات

### حالات سقوط

**مادهٔ هفتادویکم:**

دعوای جزائی ومجازات درحالات آتی ساقط یا متوقف می گردد:

۱- در حالــــــت مــــــرور زمان.

۲- درصورت وفات متهم.

۳- درصورت عفو عمومی.

۴- در صورت الغای حکم قانونی کــه عمل مرتکبه را جرم شمرده است.

۵- درصورت انصراف مجنی علیه از شــکایت در مــورد جــرایم منــدرج مــــادهٔ شصـــت وســـوم ایـــن قانون.

۶- در صورتی که شخص قبلاً به اتهام عین جرم مورد محاکمه قــرار گرفتــه

ketabton.com - The Digital Library



شوی او په هکله يې قطعي حکم صادر شوی وي.

۷- مرورزمان د اړوندو مقامونو له ارادې څخه بهر د سببونو او علتونو په وجه درول کېږي، د مرورزمان بيا پيلېدل د درول شوي وخت پای ته رسول دي.

**د جزايي دعوې وخت تېرېدل (مرور زمان)**

**دوه اويايمه ماده:**

(۱) جزايي دعوي د لاندې مواعيدو (مودو) له تېرېدو وروسته ساقطېږي:

۱- د جنايت د جرم د ارتکاب په صورت کې (۱۰) کاله.

۲- د جنحې د جرم د ارتکاب په صورت کې (۳) کاله.

۳- د قباحت د جرم د ارتکاب په صورت کې (۱) کال.

(۲) د بين المللي جزايي محکمې په اساسنامه او دروم د ډيپلوماتيک کنفرانس په وروستني سند کې درج شوي جرايم، ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم څخه مستثني دي.

و حکم قطعی در مورد صادر شده باشد.

۷- مرور زمان بنا بر علل و اسباب خارج از ارادهٔ مقامات مربوط متوقف می گردد، آغاز مجدد مرور زمان موقوف به پایان زمان توقف می باشد.

**مرور زمان دعوای جزائی**

**مادهٔ هفتاد ودوم:**

(۱) دعوای جزائی بعد از گذشت مواعید ذیل ساقط می گردد:

۱- در صورت ارتکاب جرم جنایت (۱۰) سال.

۲- در صورت ارتکاب جرم جنحه (۳) سال.

۳- در صورت ارتکاب جرم قباحت (۱) سال.

(۲) جرایم مندرج اساسنامهٔ محکمهٔ جزائی بین المللی و سند نهائی کنفرانس دپیلو ماتیک روم از حکم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مستثنی می باشد.

ketabton.com - The Digital Library



(۳) هېڅ سبب نشي کولای هغه موده چې د جزايي دعوێ د سقوط لپـــاره ټاکــل شوېده، اخلال (ګډه وډه) کړي، خو دا چې قانون صراحتاً په هغې حکم کـــړی وي.

**دوخت دتېرېــدو (مـــرور زمـــان) محاسبه**

**درېِ اويايمه ماده:**

د جرم د مادي عنصر (نيمګړي جرم) د سرته رسولو پيل د ارتکاب له پيل څخه، په اعتيادي جرم کې چې رورډېدل منځته راوړي د سرته رسولو نېټه، په متوالي او استمراري جرمونو کې د وروستني جرمي عمل د پېښېدو له نېټې څخه، د اختلاس او تزوير د جرمونو په هکله د جرمي پېښې د کشف له نېټې څخه او د نورو جرمونو په هکله د جرم د ارتکاب له شېبې څخه د وخت تېرېدل ( مرور زمـــان) محاســـبه کېږي.

(۳) هیچ سبب نمی تواند مدتی را کـــه برای سقوط دعوای جزائی تعیین گردیده است، اخـــلال نمایـــد، مگـــر اینکـــه قانون صراحتاً بـــه آن حکـــم نمـــوده باشد.

**محاســــــبهٔ مــــــــرور زمان**

**مادۀ هفتادوسوم:**

مـــرور زمـــان درمـــورد شـــروع بـــه انجام عنصر مادی جرم (جرم نـــاقص) از آغاز ارتکاب، درجرم اعتیـــادی از تاریخ انجام جرمـــی کـــه اعتیـــاد را ببار مـــی آورد ، در جـــرایم متـــوالی واســـــتمراری از تـــــاریخ وقـــــوع آخرین عمل جرمی، درمـــورد جـــرایم اختلاس وتزویر از تاریخ کشف واقعـــهٔ جرمی ودر مـــورد ســـایر جـــرایم از لحظـــهٔ ارتکـــــاب جـــرم محاســـــبه می گردد.

ketabton.com - The Digital Library



**د جزايي دعويٰ د سقوط د مــودې قطع (پرېکون)**

**څلور اويايمه ماده:**

د جزايي دعويٰ د سقوط موده، د تحقيق، محاکمې او همدارنگه د دلايلو د راټولولو په اجراء سره قطع کېږي، پدې شرط چې نوموړو اجراآتو د تورن په حضور کــې صورت موندلی وي يا په رسمي توگه هغهٔ ته ابلاغ شوي وي. نوموړې موده د نوې انقطاع د ورځې له سر څخه پيل کېږي.

که چېرې ددعويٰ د سقوط د مودې بهير څو ځلې قطع شــوی وي، د انقطــاع د وروستۍ ورځې له نېټې څخه بيــا پيــل کېږي.

**د نورو تورنو په هکله د دعــويٰ د سقوط د مودې محاسبه**

**پنځه اويايمه ماده:**

د تورنو د تعدد په صورت کې، له هغــو څخه د يوهٔ په هکله، ددعويٰ د سقوط د مودې انقطاع د نورو په هکله هم انقطاع گڼل کېږي.

**قطــع مــدت ســقوط دعــوای جزائی**

**مادهٔ هفتادوچهارم:**

مدت ســقوط دعــوای جزائــی بــه اجرای تحقيق، محاکمه وهمچنين بــه جمع آوری دلايل قطع می شود، مشروط براينکه اجراآت مذکور درحضور متهم صورت گرفته يا رسماً بــه او ابــلاغ گرديده باشد. مدت مذکور سراز روز انقطاع جديد آغاز می يابد.

هرگاه جريان مدت سقوط دعوی چنــد بارقطع گرديــده باشد،ســراز تــاريخ آخرين روز انقطاع بــار ديگــر آغــاز می يابد.

**محاسبهٔ مدت ســقوط دعــوی در مورد ساير متهمين**

**مادهٔ هفتادوپنجم:**

درصورت تعدد متهمين، انقطاع مــدت سقوط دعوی در مورد يکــی ازآنهــا، انقطاع درمورد ديگران نيز محسوب می گردد.

ketabton.com - The Digital Library



**د مجازاتو وخت تېرېدل (مرور زمان)**

**شپږ اویایمه ماده:**

محکوم بها مجازات د حکم د صادرېدو له نېټې څخه د لاندې مواعیدو له تېرېدو وروسته ساقطېږي:

۱- د اعدام مجازات د (۲۵) کلونو مودې له تېرېدو وروسته.

۲- د دوام حبس مجازات د (۲۰) کلونو مودې له تېرېدو وروسته.

۳- د اوږده حبس مجازات د (۱۰) کلونو مودې له تېرېدو وروسته.

۴- د متوسط حبس مجازات د (۳) کلونو مودې له تېرېدو وروسته.

۵- د لنډ حبس مجازات د (۱) کال مودې له تېرېدو وروسته.

**مرور زمان مجازات**

**مادۀ هفتادوششم:**

مجازات محکوم بها بعد از گذشت مواعید ذیل از تاریخ صدور حکم ساقط می گردد:

۱- مجازات اعدام بعد از مرورمدت (۲۵) سال.

۲- مجازات حبس دوام بعد از مرور مدت (۲۰) سال.

۳- مجازات حبس طویل بعد از مرور مدت (۱۰) سال .

۴- مجازات حبس متوسط بعد از مرور مدت (۳) سال.

۵- مجازات حبس قصیر بعد ازمرور مدت (۱) سال.

**د تورن د مړینې له امله د اجراآتو توقف**

**اووه اویایمه ماده:**

د عدلي تعقیب اجراآت په هر پړاو کې چې وي، د تورن په مړینې سره متوقف کېږي.

هغه شخص چې د جرم د ارتکاب له امله

**توقف اجراآت به اثر وفات متهم**

**مادۀ هفتادوهفتم:**

اجراآت تعقیب عدلی در هر مرحله ای که باشد، با وفات متهم متوقف می گردد.

شخصی که به اثر ارتکاب جرم متضرر

ketabton.com - The Digital Library



زيانمن شوی، کولای شي، د خپل زيان د جبران دعويٰ په مدني محکمه کې تعقيب کړي.

د عدلي تعقيب د اجراآتو توقف په جرم کې د مستعمله شيانو يا له هغو څخه د ترلاسه شوو د مصادرې او د هغو شيانو د مصادرې چې توليد، استعمال، ساتل، پلورل، او وړاندې کول يې په خپل ذات کې جرم ګڼل کېږي، د حکم د صادرېدو خنډ نه کېږي.

## پر مالي محکوميت باندې د مجازاتو د سقوط اغېزه

**اته اويايمه ماده:**

د غير مالي مجازاتو سقوط د شخص د مالي محکوميت د سقوط باعث نه کېږي.

د مال پر اعادې ، د زيان پر جبران او په جرم کې د مستعمله وسايلو او له جرم څخه د راپيدا شوو عوايدو پر مصادرې په مالي مجازاتو حکم، د جزاء د سقوط باوجود، د محکوم عليه پر شتمنۍ تنفيذېږي.

گرديده، می تواند دعوای جبران خسارهٔ خود را در محکمهٔ مدنی تعقيب نمايد.

توقف اجراآت تعقيب عدلی مانع صدور حکم به مصادرهٔ اشياء مستعمله در جرم يا حاصله از آن و مصادرهٔ اشيائی که توليد، استعمال، نگهداری، فروش و عرضهٔ آن به ذات خود جرم شمرده شود، نمی گردد.

## اثرسقوط مجازات بر محکوميت مالی

**مادهٔ هفتاد وهشتم:**

سقوط مجازات غير مالی باعث سقوط محکوميت مالی شخص نمی گردد.

حکم بر مجازات مالی اعادهٔ مال، جبران خساره و مصادرهٔ وسايل مستعمله در جرم و عوايد ناشی از جرم با وجود سقوط جزاء بر دارائی محکوم عليه تنفيذ می گردد.

ketabton.com - The Digital Library



**عمومي عفو او اغېزې يې**

**نهه اويايمه ماده:**

**(۱) عمومي عفو د قانون پــه واســطه صورت مومي او د هغې له امله جزايــي دعويٰ منقضي کېږي.**

**(۲) عمومي عفو ټولې اصــلي، تبعــي، تکميلي جزاګانې او امنيتــي تدبيرونــه ساقطوي.**

**(۳) کــه چېــرې د عمــومي عفــوې قانون د محکوم بها له جزاګانو څخــه د يوې جزاء پــه هکلــه صــادر شــوی وي، د خصوصي عفوې په حکــم کــې شمېرل کېــږي، د خصوصــي عفــوې حکمونه پرې تطبيقېږي.**

**(۴) عمومي عفو د غير دحقوقو د اخلال موجب نه کېږي.**

**عفو عمومی و اثرات آن**

**مادۀ هفتاد ونهم:**

**(۱) عفو عمومی توسط قانون صــورت می گیرد و به اثرآن دعــوای جزائــی منقضی می گردد .**

**(۲) عفو عمومی تمام جزا های اصلی، تبعی، تکمیلی و تدابیر امنیتی را ساقط می نماید.**

**(۳) هرگــــاه قــــانون عفوعمــــومی درمــورد یــک جــزاء ازجزاهــای محکوم بهــا صادرشــده باشــد، در حکم عفوخصوصــی شــمرده شــده، احکام عفوخصوصــی بــرآن تطبیــق می گردد.**

**(۴) عفوعمومی موجب اخلال حقــوق غیرنمی گردد.**

ketabton.com - The Digital Library



## دریم فصل

## د جرمونو کشف، د تورن نیول او د دلایلو راټولول

### د جرم د کشف د مؤظف مکلفیت

**اتیایمه ماده:**

(۱) د جرم کشف له احوالو سره سم د پولیسو او د ملي امنیت د مؤظف په واسطه صورت مومي.

(۲) پولیس او د ملي امنیت مؤظف پدې قانون کې د درج شوو نورو احوالو له په پام کې نیولو سره د جرم له پیښېدو څخه د خبرتیا له ترلاسه کولو یا د جرم د علایمو او آثار و له لیدلو وروسته د پیښې ځای ته د رومي (ځي) او لاندې فعالیتونه سرته رسوي:

۱- د پیښې د ځای لیدل او د اوضاع او هغو احوالو چې د پیښې د پیښېدو بیان کوونکي وي، تثبیتول او تصویر.

۲- د جرم د ډول، مرتکب او زیانمن شوي پیژندنه.

۳- د لزوم په صورت کې د مظنون نیول او تلاشي.

## فصل سوم

## کشف جرایم، گرفتاری متهم و جمع آوری دلایل

### مکلفیت مؤظف کشف جرم

**مادهٔ هشتادم:**

(۱)کشف جرم حسب احوال توسط پولیس ومؤظف امنیت ملی صورت می گیرد.

(۲) پولیس و مؤظف امنیت ملی با رعایت سایر احوال مندرج این قانون بعد از دریافت اطلاع از وقوع جرم یا مشاهدهٔ علایم و آثار جرم به محل واقعه رفته و به فعالیت های ذیل اقدام می نماید:

۱- مشاهدهٔ محل واقعه و تثبیت و تصویر اوضاع و احوالیکه بیانگر حدوث واقعه باشد.

۲- شناسائی نوع جرم، مرتکب و متضرر.

۳- گرفتاری وتلاشی مظنون در صورت لزوم.

ketabton.com - The Digital Library



۴- په جرم، مرتکب او پر هغو باندې په مرتبو شوو پایلو پورې د اړوندو سندونو او مدارکو تشخیصول.

۵- د پېښېدو پر وخت د پېښې په ځای کې د حاضرو اشخاصو پېژندنه او د مظنون، زیانمن شوي، مجني علیه او د پېښې د ځای د شا هدانو د بیانونو ثبتول.

۶- په جرم پورې د اړوندو آثارو د ساتنې او شیانو د ضبطولو په منظور، د لازمو تدبیرونو نیول.

۷- د ځای د کتنو (معایناتو) او نورو اړوندو اجراآتو د محضر ترتیبول.

(۳) پولیس او د ملي امنیت مؤظف مکلف دي، د جرم له کشف وروسته د (۲۴) ساعتونو په ترڅ کې موضوع اړوند څارنوالۍ ته خبر ورکړي.

## دکشفي ارګانونوپه واسطه ګرفتاري

**یو اتیایمه ماده:**

پولیس او د ملي امنیت مؤظف کولای شي، په خپل واک په لاندې حالاتو کې شخص ګرفتار کړي:

۱- د جنایت او جنحې د هغهٔ مشهود

۴- تشخیص اسناد و مدارک مربوط به جرم، مرتکب و نتایج مرتب برآن.

۵- شناسائی اشخاص حاضر در محل واقعه حین وقوع و ثبت اظهارات مظنون، متضرر، مجنی علیه و شهود محل واقعه.

۶- اتخاذ تدابیر لازم به منظور حفظ آثار و ضبط اشیای متعلق به جرم.

۷-ترتیب محضر معاینات محل و سایر اجراآت مربوط.

(۳)پولیس و مؤظف امنیت ملی مکلف اند، بعد ازکشف جرم درخلال مدت (۲۴)ساعت، موضوع را به څارنوالی مربوط اطلاع دهد.

## گرفتاری توسط ارگان های کشفی

**مادهٔ هشتاد ویکم:**

پولیس و مؤظف امنیت ملی می توانند به صلاحیت خود در حالات ذیل شخص را گرفتار نمایند:

۱- درصورت ارتکاب جرم مشهود

ketabton.com - The Digital Library



جرم د ارتکاب په صورت کې چې جزاء يې په قانون کې متوسط حبس اټکل شوی وي.

۲- هغه شخص چې د جنايت د جرم د مرتکب په توګه پېژندل شوی يا معرفي شوی دی، د تېښتې او غايبېدو احتمال يې متصور وي.

مشهود جرم

دوه اتيايمه ماده:

جرم له لاندې حالاتو څخه په يوه کې مشهود ګڼل کېږي:

۱- مرتکب د جرم د ارتکاب په مهال يا له ارتکاب لږ وروسته وليدل شي يا بې له ځنډه د خلکو لخوا ونيول شي.

۲- مرتکب د جرم له ارتکاب وروسته وتښتي او بې له ځنډه د مجني عليه، پوليسو يا خلکو لخوا وپېژندل شي يا بالفعل تعقيب شي.

۳- په هغه صورت کې چې شخص د پېښې په ځای کې له وسلې يا داسې شيانو سره ونيول شي چې موجوده وضع د شخص پر فاعل والي او په ارتکاب شوي

جنايت يا جنحهٔ که جزای آن حبس متوسط در قانون پیش بینی شده باشد.

۲- شخصی که به حیث مرتکب جرم جنایت شناسائی یا معرفی شده است، احتمال فرار و غایب شدن او متصور باشد.

جرم مشهود

مادهٔ هشتادودوم:

جرم در یکی از احوال آتی مشهود شمرده می شود:

۱- مرتکب حین ارتکاب جرم یا اندکی بعد از ارتکاب ،مشاهده یا بلافاصله از طرف مردم گرفتار شود.

۲- مرتکب بعد از ارتکاب جرم، فرار و بلافاصله از طرف مجنی علیه، پولیس یا مردم شناسائی یا بالفعل تعقیب شود.

۳- در صورتی که شخص در محل واقعه با سلاح یا اشیائی گرفتار شود که وضع موجود بر فاعل بودن شخص و استعمال اشیای

ketabton.com - The Digital Library



جرم کې د نوموړو شيانو پر استعمال دلالت وکړي.

**د مشهود جرم د مرتکب د تسليمولو په هکله د اشخاصو مکلفيت**

**درې اتيايمه ماده:**

هر شخص دې دمشهود جرم د ارتکاب د ليدلو په صورت کې حتي المقدور له ټولو منع کوونکو (مخه نيوونکو) وسايلو او امکاناتو څخه ګټه واخلي، دمرتکب د تېښتې مانع دې شي، هغه دې د پوليسو يا اړوندې څارنوالۍ ډېرې نېږدې مرجع ته ور تسليم کړي او د نه توان په صورت کې دې هغه په لازمو مشخصاتو وپېژني او په ليکلې توګه يا شفاهاً دې نوموړو مراجعو ته ور وپيژني او له پيښې څخه دې خبر ورکړي.

**د پيښې د ځای د تشولو (تخليې) منع او د اشخاصو احضار**

**څلور اتيايمه ماده:**

(۱) پوليس په مشهود جرم کې د پيښې ځای ته په مجرد د رسېدو سره کولای شي حاضر اشخاص د محضر تر ترتيبولو

مذکور در جرم ارتکاب شده دلالت نمايد.

**مکلفيت اشخاص در مورد تسليم نمودن مرتکب جرم مشهود**

**مادهٔ هشتادوسوم:**

هرشخص درصورت مشاهدهٔ ارتکاب جرم مشهود حتی المقدور از تمام وسايل و امکانات باز دارنده استفاده نموده، مانع فرار مرتکب شده، وی را به نزديکترين مرجع پوليس يا څارنوالی مربوط تسليم دهد و در صورت عدم توان او را با مشخصات لازم شناسائی و کتباً يا شفاهاً به مراجع مذکور معرفی و از واقعه اطلاع دهد.

**منع تخليهٔ محل واقعه و احضار اشخاص**

**مادهٔ هشتاد وچهارم:**

(۱) پوليس درجرم مشهود به مجرد رسيدن به محل واقعه، می تواند اشخاص حاضر را الی ترتيب

ketabton.com - The Digital Library



پورې د هغهٔ ځای له پرېښودو (تخليې) څخه منع کړي.

(۲) پوليس کولای شي هغه اشخاص چې له هغو څخه د جرمي پېښې په هکله د څرګندونو ترلاسه کول، ممکن وي، احضار کړي.

## د اجراآتو ثبتول

**پنځه اتيايمه ماده:**

(۱) هغه اجراآت چې د پېښې په ځای کې يا له هغې وروسته د جرم د کشف په منظور تر سره کېږي، له اړوندو مسئولينو څخه د يوهٔ په واسطه په ليکلې ډول په لاندې توګه ثبتېږي:

۱- ددې قانون د اتيايمې مادې په (۲) فقره کې درج شوي فعاليتونه.

۲- د مظنون، تورن، زيانمن شوي، شاهدانو د بيانونو او د اهل خبره د نظر بشپړ يا لنډ (خلص) متن چې د اجراآتو په بهير کې لاس ته راغلی دی.

(۲) د مظنون، تورن، زيانمن شوي، مجني عليه، د حق العبد د مدعي، شاهدانو او حاضرينو او د پېښې د ځای د معلومات

محضر از تخليه آن محل منع نمايد.

(۲)پوليس می تواند اشخاصی را که حصول توضيحات راجع به واقعهٔ جرمی از نزد آنها ممکن باشد، احضار نمايد.

## ثبت اجراآت

**مادهٔ هشتاد وپنجم:**

(۱) اجراآتی که در محل واقعه يا بعد از آن به منظور کشف جرم به عمل می آيد، توسط يکی از مسئولين مربوطه به صورت کتبی ذيلاً ثبت می گردد:

۱- فعاليت های مندرج فقرهٔ (۲) مادهٔ هشتادم اين قانون.

۲- متن کامل يا خلص اظهارات مظنون، متهم، متضرر، شهود و نظر اهل خبره که در جريان اجراآت حاصل گرديده است.

(۲) اظهارات مظنون، متهم، متضرر، مجنی عليه، مدعی حق العبد، شهود و حاضرين و معلومات دهندگان

ketabton.com - The Digital Library



ورکوونکو بیانونه باید د هغوی د لاسلیک لرونکي وي.

که شخص د لاسلیک توانمني نه لـري، کولای شي گوته کېنږدي.

(۳) په هغهٔ صورت کې چې ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوي اشخاص لـه لاسلیک څخه ډډه وکړي یا د هغـوی د لاسلیک یا د گوتې د نښې امکانات میسر نه وي، مؤظف مامور مکلف دی موضوع یاد داشت، ثبت او لاسلیک کړي.

(۴) که چېرې پدې ماده کې درج شوي اجراآت د مؤظف مامور لخوا هغسې چې ذکر شوي دي، یاد داشت او ثبت شوي وي، رسمي سندونه گڼل کېږي.

## د مظنون د نیولو محضر

**شپږ اتیایمه ماده:**

(۱) پولیس او د ملي امنیـت مؤظـف مکلف دي د مظنون د نیولو لــه بهیــر څخه محضر ترتیب کړي. نوموړی محضر د لاندې مطلبونو لرونکی وي:

۱- د نیولو علت.

۲- د ساعت، ورځې، میاشتې او کال په

محل واقعه باید حاوی امضـاء آنهـا باشد.

اگر شخص توانائی امضاء را نداشـته باشد، می تواند انگشت بگذارد.

(۳) در صورتی که اشخاص مندرج فقرهٔ ( ۲) این ماده از امضاء کردن امتنـاع ورزند یا امکانات اخذ امضاء یا نشـان انگشت آنها میسر نباشد، مامور مؤظف مکلف است موضوع را یادداشت، ثبت و امضاء نماید.

(۴) هرگاه اجراآت مندرج این ماده از طرف مامور مؤظف بنحوی که ذکر شده است، یادداشت و ثبت گردیده باشـد، اسناد رسمی شمرده می شود.

## محضر گرفتاری مظنون

**مادهٔ هشتادوششم:**

(۱) پولیس و مؤظف امنیت ملی مکلف اند از جریان گرفتاری مظنون، محضـر ترتیب نمایند. محضـر مـذکورحاوی مطالب ذیل می باشد:

۱- علت گرفتاری.

۲- تاریخ گرفتاری باذکر ساعت، روز،

ketabton.com - The Digital Library



يادولو سره د نيونې نېټه.

۳- د نيونې ځای.

۴- د نيول شوي شخص لومړني بيانونه.

۵- د واقعې د شرحې څرنګوالی.

(۲) د نيونې محضر د ترتيبوونکي او نورو هغو اشخاصو لخوا چې په نيونه کې يې حضور درلودلی دی، لاسليک او د مظنون د ګوتې نښه هم پکې اخيستل کېږي.

**خارنوال ته د قضيې تسليمي**

**اووه اتيايمه ماده:**

(۱) پوليس مکلف دی زيات نه زيات د مظنون له نيونې وروسته تر (۷۲) ساعتونو پورې د اجراآتو محضر له پاڼو، سندونو او راټولو شوو دلايلو سره رسماً خارنوالۍ ته وړاندې کړي او مظنون هم د تحقيق په غرض اړوندې خارنوالۍ ته وسپاري.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی محضر د لاندې مطلبونو لرونکی وي:

۱- د جرمي پېښې ډول.

ماه وسال.

۳- محل گرفتاری.

۴- اظهارات ابتدائی شخص گرفتار شده.

۵- چگونگی شرح واقعه.

(۲) محضرگرفتاری از طرف ترتيب دهنده و ساير اشخاصی که درگرفتاری حضور داشته اند، امضاء و نشان انگشت مظنون نيز در آن اخذ می گردد.

**تسليمی قضيه به خارنوال**

**مادۀ هشتادوهفتم:**

(۱) پوليس مکلف است حد اکثر الی (۷۲) ساعت بعد از گرفتاری مظنون ، محضر اجراآت را با اوراق، اسناد و دلايل جمع آوری شده رسماً به خارنوالی ارايه نموده و مظنون را نيز غرض تحقيق به خارنوالی مربوط بسپارد.

(۲) محضر مندرج فقرۀ (۱) اين ماده، حاوی مطالب ذيل می باشد:

۱- نوع واقعۀ جرمی.

ketabton.com - The Digital Library



۲- د جرم د پیښېدو ځای او نېټــه او د مظنون د نیونې بهیر.

۳- د کشف پیل او تمامېدل يې.

۴- د مظنون شهرت، د ګــوتې نښــه، عکس او نور مشخصات.

۵- په قضیه کې د عیني شاهدانو او نورو هغو اشخاصو شهرت چې بیانونــه يــې اخیستل شوي او له هغو څخه پدې هکله معلومات ترلاسه شوي دي.

٦- د قضیې او د مجني علیه، مظنـــون، شاهد د بیانونو او د اهل خبره د رپوټ د څرنګوالي شرح.

۷- د لاسته راغلو پــاڼو او مــدارکو د شمېر یادول.

۸- د کشف د مؤظفینــو هویــت او د هغوی لاسلیک.

۹- نور هغه موارد چې یادول يې د جرمي پېښې په هکله اړین تشخیص شي.

(۳) که چېرې په جرمي قضیه کې، مظنون تشخیص او نیول شوی نه وي، پــولیس مکلف دي، د هغه د تشخیص او نیولــو لپاره لازم تدبیرونه ونیسي، د مظنــون د نیولو حکم، د دلایلو د موجودیــت پــه

۲- محل وتاريخ وقوع جرم وجريــان گرفتارى مظنون .

۳- آغاز کشف و اتمام آن .

۴- شهرت، نشان انگشت، عکــس و ساير مشخصات مظنون.

۵- شهرت شاهدان عينى در قضــيه و ساير اشخاصى که اظهارات شان اخذ و از آنهادر زمينه معلومات حاصل گرديده است.

٦- شرح چگونگى قضيه و اظهــارات مجنى عليه، مظنون، شاهد و گزارش اهل خبره.

۷- ذکر تعداداوراق ومدارک بدســت آمده.

۸- هويت مؤظفين کشف و امضــاى آنها.

۹- ساير مواردى که ذکر آن درمورد واقعه جرمى ضرورى تشخيص گردد.

(۳) هرگاه در قضيۀ جرمــى، مظنــون تشخيص و گرفتار نشده باشد، پــوليس مکلف است، تــدابير لازم را جهــت تشخيص و گرفتارى وى اتخاذ نموده، حکم گرفتارى مظنون را در صــورت

ketabton.com - The Digital Library



صورت کې له واکمنې مرجع څخه واخلي او پايله اړوند څارنوالي تــه رپــوټ ورکړي.

**د مظنون په خوشې کېدو يا توقيــف کې د څارنوال واک**

**اته اتيايمه ماده:**

څارنوال ددې قانون په اووه اتيايمه ماده کې د درج شوي محضر له ترلاسه کولو وروسته په لاندې توګه اجراآت کوي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې پدې قانون د درج شوو حکمونو مطابق د مظنون توقيف اړين نه وي، فوراً له احوالو سره سـم د هغهٔ د خوشې کېدو امر د بالــمال کفالت په قيــد يــا پرتــه لــه هغــهٔ څخــه صادروي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې څارنوال، د مظنون توقيف د تحقيق د بشپړولو لپاره لازم وبولي، له احوالو سره سم د هغهٔ د توقيف امر ددې قانون د حکمونــو پــه حدودو کې صادروي.

۳- په هغهٔ صورت کــې چــې اړونــد اجراآت، د تورن متناوب حضور ايجاب

موجوديت دلايل ازمرجع ذيصلاح اخذ و نتيجه را به څارنوالی مربوط گــزارش دهد.

**صلاحيت څارنوال در مورد رهائی يا توقيف مظنون**

**مادۀ هشتاد وهشتم:**

څارنوال بعد از دريافت محضــرمندرج مادۀ هشتاد وهفتم اين قانون قرار ذيــل اجراآت می نمايد:

۱-در صورتی کــه مطــابق احکــام مندرج اين قــانون توقيــف مظنــون ضروری نباشــد، فــوراً امــر رهــائی وی را حسب احوال، بقيــد کفالــت بالــــمال يـــا بـــدون آن صـــادر می نمايد.

۲- درصورتی که څارنــوال، توقيــف مظنون را غرض اکــمال تحقيــق لازم داند،حسب احــوال امرتوقيــف اورا درحدود احکام ايــن قــانون صــادر می کند.

۳- در صــــورتی کـــه اجـــراآت مربوط، حضور متناوب متهم را ايجاب

ketabton.com - The Digital Library



کړي او تـورن د توقیـف وړ نـه وي، څارنوال کولای شـي، پـه احتیـاطي تدبیرونو، د پولیسو دفتر ته حاضری، له ښار یا اړوندې ناحیې څخه لـه وتلـو (خارجېدو) څخه په منع او یا د احضار په ضمانت هغه مکلف کړي.

## د اجراآتو د اصطلاح غوښتنه

**نهه اتیایمه ماده:**

که چېرې څارنوال د قضیې د پـاڼو لـه تسلیمۍ وروسته تشخیص کړي چـې د محضرونو په ترتیب، د کشف په اجراآتو او د اثبات د دلایلو په راټولولو کـې، د قانون حکمونه په پام کې نیول شوي ندي یا د وروستیو اجراآتو لپاره کافي دلایـل راټول شوي ندي، موضـوع د سـالمو (سمو) اجراآتو لپاره اړونـدو کشـفي مراجعو ته محولوي.

## د نویو دلایلو د راټولولو غوښتنه

**نوي یمه ماده:**

که چېرې څارنوال تشخیص کړي چـې قضیه د نورو جرمي اړخونو لرونکې ده یا نور اشخاص د جرم د شریکانو په توګـه

نماید و متهم قابل توقیف نباشد، څارنوال مـی توانـد بـه تـدابیری احتیاطی، حاضری به دفتـر پـولیس، منـع خـروج از شـهر یـا ناحیـهٔ مربوط ویـا ضـمانت احضـار او را مکلف سازد.

## مطالبهٔ اصلاح اجراآت

**مادهٔ هشتاد ونهم:**

هرگاه څارنوال بعد از تسـلیمی اوراق قضیه تشخیص نماید،کـه در ترتیـب محاضر، اجـراآت کشـف و جمـع آوری دلایل اثبـات، احکـام قـانون رعایت نگردیده یا دلایل کافی بـرای اجراآت بعدی جمع آوری نه شده است، موضوع را جهت اجراآت سـالم بـه مراجـع کشـفی مربـوط محـول می نماید.

## مطالبهٔ جمع آوری دلایل جدید

**مادهٔ نودم:**

هرگاه څارنوال تشخیص نمایـد کـه قضیه متضمن جنبه های دیگر جرمـی بوده یا اشخاص دیگر بحیث شریک جرم

ketabton.com - The Digital Library



وجود لري چې د هغوی پرخلاف دلايل راټول شوي ندي، کولای شي د موجودو دلايلو له مخې د قضيې پر تحقيق اجراآت وکړي او په عين حال کې پوليسو او د قضايي ضبط نورو مراجعو ته د لازمو اجراآتو د کولو او د دلايلو د راټولولو لارښوونه وکړي.

**د پوليسو او د ملي امنيت د مؤظف سرغړونې**

**يونوي يمه ماده:**

که چېرې څارنوال د تحقيق په بهيرکې تشخيص کړي چې پوليس او د ملي امنيت مؤظف په قضيې پورې په اړوندو اجراآتو کې د قانوني سرغړونو مرتکب ګرځېدلي دي، موضوع له احوالو سره سم، د قانوني تصميم د نيولو لپاره د اړوندې اداري واکمن مقام ته محولوي.

وجود دارد که دلايل عليه آنها جمع آوری نه شده است، می تواند به تحقيق قضيه روی دلايل موجود اجراآت و در عين حال پوليس وسايرمراجع ضبط قضائی را به اجراآت لازم و جمع آوری دلايل هدايت بدهد.

**تخلفات پوليس ومؤظف امنيت ملی**

**مادۀ نود ويکم:**

هرگاه څارنوال درجريان تحقيق تشخيص نمايد که پوليس و مؤظف امنيت ملی در اجراآت مربوط به قضيه مرتکب تخلفات قانونی گرديده است، موضوع را حسب احوال غرض اتخاذ تصميم قانونی به مقام ذيصلاح ادارۀ مربوط محول می نمايد.

## څلورم فصل

## جلب او احضار

### د اشخاصو جلب

**دوه نوي یمه ماده:**

څارنوال او محکمه کولای شي، هر شخص چې د قانون د حکمونو مطابق د هغهٔ بیان یا حضور د عدلي تعقیب په اجراآتو کې ګټور تشخیص کړي، په حضور مکلف کړي. په حضور باندې تکلیف د پولیسو له لارې او د جلب پاڼې په صادرېدو سره صورت مومي.

که چېرې مجلوب شخص، له مؤجه عذر پرته په ټاکلي وخت حاضر نشي او یا له حضور څخه ډډه وکړي، څارنوال او محکمه کولای شي د هغهٔ د احضار امر د پولیسو له لارې صادر کړي.

### د جلب او احضار امرونه

**درې نوي یمه ماده:**

(۱) د جلب او احضار امرونه په دریو نسخو کې لیکل کېږي چې یوه نسخه یې په اداره کې ساتل کېږي او دوه نورې نسخې پولیسو ته ورتسلمېږي څو یوه

## فصل چهارم

## جلب و احضار

### جلب اشخاص

**مادهٔ نودودوم:**

څارنوال و محکمه می توانند هر شخصی را که مطابق احکام قانون بیان یاحضور اورا در اجراآت تعقیب عدلی مفید و مؤثر تشخیص نمایند، به حضور مکلف سازند. تکلیف بحضور با صدور جلب نامه و از طریق پولیس صورت می گیرد.

هرگاه شخص مجلوب، بدون عذر مؤجه بوقت معین حاضر نگردد و یا ازحضور امتناع ورزد، څارنوال و محکمه می توانند امر احضار او را از طریق پولیس صادر نماید.

### اوامر جلب واحضار

**مادهٔ نود وسوم:**

(۱) اوامر جلب واحضار درسه نسخه تحریر می شود که یک نسخهٔ آن در اداره حفظ و دونسخهٔ دیگر به پولیس تسلیم می گردد تا یک نسخه را

ketabton.com - The Digital Library



نسخه په دفتر کې ثبت او وساتي، بلــه نسخه مطلوب شخص ته ورتسليم کړي.
صادر شوي امرونه د لانــدې مطــالبو لرونکي دي:
۱- د مطلوب شخص نوم، ولد، دنده او د اوسېدو ځای.
۲- د جلب يا احضار د صــادروونکې اداري نوم او ادرس.
۳- د جلب يا احضار د صادرېدو موجبه اسباب او د هغهٔ قانون د مادې يادول چې ددغهٔ شان امر د صادرېدو اجــازه يــې ورکړې.
۴- هغه ځای، ساعت او نېټــه چــې د شخص حضور پکې مطلوب دی.
۵- دجلب يا احضار د ابلاغ د ډول په اړه د پوليسو مکلفيت او هغه چلند چې پوليس يې بايد د امرونو له منلو څخــه د ډډې کولو په صورت کې وکړي.
(۲) د جلب او احضار امرونه د شمېرې (ګڼــې) او نېټــې لرونکــي وي، د صادروونکې مرجع لخوا ثبت، لاسليک او مهر کېږي.

در دفتر ثبت و حفظ نموده، نسخهٔ ديگر را به شخص مطلــوب تســليم دهــد.
اوامر صادره حاوی مطالب ذيــل مــی باشد:
۱-نام، ولد، وظيفه ومحــل ســکونت شخص مطلوب.
۲- نام وآدرس ادارهٔ صادر کنندهٔ جلب يا احضار.
۳- اسباب موجبهٔ صدور جلــب يــا احضار و ذکر مادهٔ قــانونی کــه بــه صــدور چنــين امــر اجــازه داده است.
۴- محل، ساعت وتاريخی که حضور شخص در آن مطلوب است.
۵-مکلفيت پوليس مبنی بر نحوهٔ ابلاغ جلب يا احضار و برخوردی که پوليس در صورت امتناع از قبول اوامر صادره بايد اتخاذ نمايد.
(۲) اوامــر جلــب واحضــار، دارای شماره و تاريخ بوده از طــرف مرجــع صادر کننــده ثبــت، امضــاء ومهــر می گردد.

ketabton.com - The Digital Library



## دجلب او احضار د اعتبار موده

**څلور نوي يمه ماده:**

(۱) اړوند پوليس مکلف دی، هغه امرونه چې د شخص د جلب يا احضار په هکله د واکمنو مراجعو لخوا صادرېږي، تنفيذ کړي.

(۲) د جلب او احضار امرونه د هغو د صادرېدو له نېټې څخه تر (۱۸۰) ورځو پورې اعتبار لري، خو دا چې د صادروونکي مرجع لخوا لغو يا تمديد شوي وي.

## مدت اعتبار جلب واحضار

**مادۀ نود وچهارم:**

(۱) پوليس مربوط مکلف است اوامری را که ازطرف مراجع ذيصلاح درمورد جلب يا احضار شخص صادر می شود، تنفيذ نمايد.

(۲) اوامر جلب واحضار ازتاريخ صدور آن الی (۱۸۰) روز اعتبار دارد، مگراينکه ازطرف مرجع صادرکننده لغو يا تمديد شده باشد.

## د جلب او احضار د امرونو ابلاغ

**پنځه نوي يمه ماده:**

(۱) جلب او احضار د پوليسو په واسطه د مطلوب شخص د دندې يا شغل په ځای او يا د اوسېدو په ځای کې ابلاغ او يو نقل يې هغهٔ ته ورتسليمېږي، لاسليک يا د ګوتې نښه يې په بل نقل کې اخيستل کېږي.

(۲) که چېرې مطلوب شخص د دندې، شغل د اجراء يا د اوسېدو په ځای کې پيدا نشي، د جلب او احضار پاڼه د هغهٔ د

## ابلاغ اوامر جلب واحضار

**مادۀ نود وپنجم:**

(۱) جلب واحضار توسط پوليس در محل وظيفه يا شغل و يا محل سکونت شخص مطلوب ابلاغ ويک نقل آن به او تسليم گرديده، امضاء يا نشان انگشت وی در نقل ديگر آن اخذ می گردد.

(۲) هرگاه شخص مطلوب در محل اجرای وظيفه، شغل ياسکونت دريافت شده نتواند، ورق جلب واحضار به يکی

ketabton.com - The Digital Library



کورنۍ یوهٔ غړي یا هغهٔ شخص ته چې له دهٔ سره یو ځای اوسېږي یا د هغهٔ خپلوانو ته ورتسلیم او لاسلیک او د ګوتې نښه یې اخیستل کېږي پرته لدې، موضوع په محضر کې درجېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې پــه (۱ او۲) فقرو کې درج شوي تدبیرونه میسر نــه وي، د جلب او احضار پاڼه د هغهٔ ددندې یا شغل یا د اوسېدو د ځای نېږدې اداري مرجع ته سپارل کېږي.

(۴) که چېرې د مطلوب شخص استوګنیز ادرس پیدا نشي، پولیس مکلــف دی د شخص د اوسېدو د ځای او یا د کــار د ځای د پیدا کولو په غرض لازم تدبیرونه ونیسي، ددغه شان تدبیرونو د نه اغېزمنتیا په صورت کې، پولیس مکلف دی د جلب او احضار لیک هغې اداري مرجع ته چې د مطلوب شخص د اوسېدو وروســتنی ځای تثبیتېږي، تسلیم کړي.

(۵) جلب او احضار د تېلفون یا نــورو الکترونیکي او مخابراتي وسایلو په وسیله هم معتبر پېژندل کېږي.

پدې شرط چې د نېټــې او زمــان او د

از اعضای فامیل یاشخصی که با اویکجا سکونت دارد یا اقارب وی تســلیم و امضــاء و نشان انگشت وی اخــــذ می گردد، در غیر آن موضوع در محضر درج می گردد.

(۳)هرگاه تدابیر مندرج فقــره هــای (۱و۲) این ماده میسر نباشد ، ورقــهٔ جلب و احضار به نزدیکتــرین مرجــع اداری محل وظیفه یا شغل یا ســکونت وی سپرده می شود.

(۴)هرگاه آدرس مســکونی شــخص مطلوب دریافت شده نتوانــد، پــولیس مکلف اســت تــدابیر لازم را غــرض دریافت محل سکونت ویا محل کــار شخص اتخاذ نماید، در صورت عــدم مؤثریت چنین تــدابیر،پولیس مکلــف است، جلب و احضار نامه را به مرجع اداری که آخرین محل سکونت شخص مطلوب تثبیت می گردد، تسلیم نماید.

(۵) جلب و احضار به وسیلهٔ تیلفون یا سایر وسایل الکترونیکی ومخابراتی نیز معتبر شناخته می شود.

مشروط بر اینکه به قید تاریخ و زمان و

ketabton.com - The Digital Library



مخاطب او د پيغام د اخيستونکي د هويت د يادونې په قيد او د مخابره کوونکي په لا سليک وي او په ثبت رسېدلې وي

## له مسکن څخه بهر د جلب او احضار د امرونو ابلاغ

**شپږنوي يمه ماده:**

(۱) که چېرې شخص په محبس يا توقيف خونه کې وي، جلب او احضار د اړوندې ادارې له لارې هغهٔ ته ابلاغېږي.

(۲) د کارکوونکو جلب او احضار د هغوی اړوندې ادارې ته استول کېږي.

(۳) د وسله والو ځواکونو، پوليسو، ملي امنيت او نورو نظامي منسوبينو جلب او احضار د هغوی اړوند وزارت يا قطعې ته استول کېږي.

(۴) د حکمي اشخاصو جلب او احضار د هغو مرکزي ادارې يا اړوندې نږدې نمايندگۍ ته سپارل کېږي.

(۵) د هغهٔ شخص جلب او احضار چې له هېواده بهر اوسېږي يا مېشت دی، د بهرنيو چارو وزارت له لارې د اړوندو

ذکر هويت طرف مخاطب و گيرندهٔ پيام و امضاء مخابره کننده بوده و به ثبت رسيده باشد.

## ابلاغ اوامر جلب واحضار به خارج از مسکن

**مادهٔ نود وششم:**

(۱) هرگاه شخص مطلوب در محبس ياتوقيف خانه قرار داشته باشد، جلب واحضار از طريق ادارهٔ مربوط به وی ابلاغ می گردد.

(۲) جلب و احضار کارکنان به ادارهٔ مربوط شان فرستاده می شود.

(۳) جلب و احضار منسوبين قوای مسلح، پوليس، امنيت ملی و ساير منسوبين نظامی به وزارت يا قطعهٔ مربوط شان فرستاده می شود.

(۴)جلب و احضار اشخاص حکمی به ادارهٔ مرکزی يا نزديکترين نمايندگی مربوط آن سپرده می شود.

(۵) جلب و احضار شخصی که درخارج کشور سکونت يا اقامت دارد، از طريق وزارت امور خارجه توسط نمايندگی

ketabton.com - The Digital Library



سياسي يا قونسلي نمايندګيو په واسطه ابلاغېږي.

## د نيونې (ګرفتارۍ) امر

**اووه نوي يمه ماده:**

كه چېرې مطلوب شخص د مؤجه عذر له لرلو پرته د احضار له امر څخه سرغړونه وكړي يا په روښانه قرائنو سره د هغهٔ د اخفاء (پټېدو) يا تېښتې وېره مدلله وي او ياد هغه آزادي د جرمي آثارو او علايمو د ضايع كېدو باعث شي او يا په پام وړ حوزه كې د اوسېدلو ټاكلی ځای ونلري، د څارنوال يا محكمې لخوا له احوالو سره سم، د هغهٔ د نيونې امر صادر او يا پوليس پدې قانون كې د درج شوو حكمونو پر بنسټ د هغهٔ په نيولو لاس پورې كوي.

## په شپه كې د ابلاغ منع

**اته نوي يمه ماده:**

په شپه كې د شخص د جلب، احضار او نيونې د امر ابلاغ جواز نلري.

های سياسی يا قونسلی مربوط ابلاغ می گردد.

## امر گرفتاری

**مادهٔ نود وهفتم:**

هرگاه شخص مطلوب بدون داشتن عذر مؤجه ازقبول امر احضار سر پيچی نمايد يا خوف اخفاء يا فرار وی با قرائن روشن مدلل باشد و يا آزادی وی باعث ضياع آثار وعلايم جرمی گردد ويا در حوزهٔ مورد نظر محل سكونت معين نداشته باشد، امر گرفتاری وی حسب احوال از طرف څارنوال يا محكمه صادرويا پوليس به اساس احكام مندرج اين قانون به گرفتاری او اقدام می نمايد.

## منع ابلاغ در شب

**مادهٔ نود وهشتم:**

ابلاغ امرجلب، احضار و گرفتاری شخص در شب جواز ندارد.

ketabton.com - The Digital Library



## پنځم فصل

## توقیف

### د توقیف مشروعیت

**نهه نوي یمه ماده:**

(۱) مظنون یا تورن ددې قانون د حکمونو مطابق توقیفېدی شي.

(۲) د توقیف خونو مسئولین نشي کولای، پدې قانون کې د درج شوو واکمنو مقاماتو له امرونو او قرارونو پرته مظنون یا تورن په توقیف خونه کې ومني یا هغه له هغې مودې څخه زیات چې د توقیف په امر کې یاده شوې ده په توقیف خونه کې وساتي.

(۳) څارنوالي او محکمه په یوۀ له لاندې حالاتو کې د جنحې یا جنایت د مظنون یا تورن د توقیف قرار صادرولای شي:

۱- د جنایت د جرم د ارتکاب په اړه د اثبات د دلایلو د شتون په صورت کې.

۲- د مشهود جرم د ارتکاب په صورت کې.

۳- په هغۀ صورت کې چې د مظنون یا تورن هویت معلوم نه وي.

## فصل پنجم

## توقیف

### مشروعیت توقیف

**مادۀ نودونهم:**

(۱) مظنون یا متهم مطابق به احکام این قانون توقیف شده می تواند.

(۲) مسئولین توقیف خانه ها نمی توانند بدون اوامر وقرار های مقامات ذیصلاح مندرج این قانون مظنون یا متهم را درتوقیف خانه قبول یا وی را بیشتر از میعاد معینه که در امر توقیف ذکر شده است در توقیف خانه نگهدارد.

(۳) څارنوالی ومحکمه دریکی از حالات ذیل قرار توقیف مظنون یا متهم جنحه یا جنایت را صادر نموده می توانند:

۱- در صورت موجودیت دلایل اثبات مبنی بر ارتکاب جرم جنایت.

۲- در صورت ارتکاب جرم مشهود.

۳- در صورتی که هویت مظنون یا متهم معلوم نباشد.

ketabton.com - The Digital Library



۴- په هغهٔ صورت کې چې په جرم کې د مظنون يا تورن د اخفا يا تېښتې وېره موجوده وي.

۵- په هغهٔ صورت کې چې د جرمي مدارکو او سندونو د ضايع کېدو وېره موجوده وي.

٦- په هغهٔ صورت کې چې مظنون يا تورن په اړونده حوزه کې، د دايمي مېشتې (اوسېدو) ځای ونلري.

## د تحقيق په بهير کې د توقيف موده

سلمه ماده:

(۱) څارنوال کولای شي د مظنون له تسليمي وروسته، ددې قانون د نهه نوي يمې مادې په (۳) فقره کې د درج شوو دلايلو د شتون په صورت کې د جنحې په جرم کې د هغهٔ د توقيف امر د (۷) ورځو مودې او د جنايت په جرم کې له احوالو سره سم د (۱۵) ورځو لپاره صادر کړي.

(۲) که چېرې ترتوقيف لاندې شخص يا د هغهٔ مدافع وکيل او يا حقوقي مساعد د توقيف د دوام پر خلاف اعتراض ولري اويا څارنوال د توقيف تمديد ددې مادې د

۴- در صورتی که خوف اخفا يا فرار مظنون يا متهم در جرم موجود باشد.

۵ – درصورتی که خوف ضياع يا تغيير مدارک و اسناد جرمی موجود باشد.

٦- در صورتی که مظنون يا متهم در حوزهٔ مربوطه، محل اقامت دايمی نداشته باشد.

## مدت توقيف در جريان تحقيق

مادهٔ صدم:

(۱) څارنوال می تواند بعد از تسليمی مظنون در صورت موجوديت دلايل مندرج فقرهٔ (۳) مادهٔ نود ونهم اين قانون امر توقيف او را در جرم جنحه برای مدت (۷) روز ودرجرم جنايت حسب احوال برای مدت (۱۵) روز صادر نمايد.

(۲) هرگاه شخص تحت توقيف يا وکيل مدافع ويا مساعد حقوقی وی عليه دوام توقيف اعتراض داشته ويا څارنوال

ketabton.com - The Digital Library



(۳) فقرې د حکم مطــابق وغــواړي، څارنوال بايد ترتوقيف لاندې شــخص د توقيف د تمديد د مودې له انتها (پايتــه رسېدو) څخه (۳) ورځې د مخه دتوقيف د تمديد د قرار د صادرېدو په غــرض د محکمې په وړاندې حاضر کړي.

تورن، د هغهٔ مدافع وکيل يــا حقــوقي مساعد د تصميم نيونې په وخت کــې د حضور او اعتراض حق لري.

(۳)که چېرې دجنحې په جرم کــې (۷) ورځې موده او دجنايت په جرم کې (۱۵) ورځې موده دتحقيــق دبشــپړولو او د صورت دعوىٰ د ترتيبولو لپاره کافي نــه وي، څارنوال کولای شي، ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو مراتبو له په پام کې نيولو سره دتورن دتوقيف د تمديــد وړانديز له احوالو سره سم، په لانــدې توګه اړوندې ابتدائيه محکمې ته وړاندې کړي:

۱- د جنحې په جرم کې تر (۱۰) ورځو مودې پورې.

۲- د جنايت په جرم کې تر (۳۰) ورځو مودې پورې.

تمديد توقيف را مطابق حکم فقرهٔ (۳) اين ماده تقاضا نمايد، څارنــوال بايــد شخص تحت توقيف را (۳) روز قبل از انتهای مدت تمديد توقيف به پيشــگاه محکمه غرض اصدار قرار تمديد توقيف حاضر نمايد.

متهم، وکيل مدافع يا مساعد حقوقی وی حين تصميم گيری حق حضور و اعتراض را دارند.

(۳) هرگـــاه در جــرم جنحـــه مـــدت (۷) روز ودر جـــرم جنايـــت مـــدت(۱۵) روز بـــرای اکـــمال تحقيـــق و ترتيـــب صـــورت دعـــوی کـــافی نباشـــد، څارنوال می تواند با رعايـت مراتـب مندرج فقرهٔ (۲) اين مـــاده پيشـــنهاد تمديد توقيف متهم را حسب احـــوال طورذيل به محکمهٔ ابتدائيهٔ مربوط تقديم نمايد:

۱- در جرم جنحه مــدت الــی (۱۰) روز.

۲- درجرم جنايت مــدت الــی (۳۰) روز.

ketabton.com - The Digital Library



(۴) که چېرې د تورن د توقيف اړتيـا د توقيف د مودې له پوره کېدو مخکې لرې شي، د توقيف امر له احوالو سره سـم د بالمال کفالت په قيد يا له هغۀ څخه پرته د ددۀ د خوشې کېدو خنډ نه کېږي.

(۵) که چېرې څارنوال ددې مادې په (۳) فقره کې په درج شوې موده کې ونکړای شي، تحقيق بشپړ او صـورت دعـوي وړاندې کړي او د تورن د توقيف د تمديد اړتيا ددې قانون د حکمونو مطابق لازمه وي، ابتدائيه محکمه د څـارنوالۍ پـه وړانديز د څارنوال د دلايلو او د تورن د بيانونو له ارزونې وروسته کولای شي د هغۀ توقيف د جنحې په جرم کې تر (۱۰) ورځو مودې او د جنايت په جرم کې تر (۳۰) ورځو مودې پورې تمديد کـړي. تورن او د هغۀ مدافع وکيل يا حقـوقي مساعد د تصميم نيونې په وخت کـې د حضور او اعتراض حق لري.

(۶) د تورن د توقيف د مودې تمديد په هېڅ وجه، د ابتدائيه محکمې لخوا ټولـه (مجموعاً) د جنحې په جرم کې له (۲۰) ورځو او د جنايت په جرم کې له (۶۰)

(۴) هرگاه ضرورت توقيف متهم قبل از تکميل مدت توقيف بر طرف گردد، امر توقيف حسب احوال مـانع رهـائی او به قيد کفالت بالمال يا بدون آن نمـی شود.

(۵) هرگاه څارنوال در ميعاد منـدرج فقـرۀ (۳) ايـن مـاده نـه توانـد، تحقيق را تکميل وصورت دعوی را ارايه نمايد وضرورت تمديد توقيـف مـتهم مطابق احکام اين قـانون لازم باشـد ، محکمۀ ابتدائيه به پيشنهاد څـارنوالی بعد از ارزيابی دلايـل څارنـوال و اظهارات متهم می تواند توقيف وی را در جرم جنحه الـی مـدت (۱۰) روز ودرجرم جنايت الی مـدت (۳۰) روز تمديد نمايد. مـتهم و وکيـل مـدافع يا مساعد حقـوقی او حـين تصـميم گيـری حـق حضـور واعتـراض را دارند.

(۶) تمديد مدت توقيف متهم به هـيچ وجه از طرف محکمۀ ابتدائيه مجموعـاً در جرم جنحه از (۲۰) روز ودر جـرم جنايت از(۶۰) روز بيشتر صادر شـده

ketabton.com - The Digital Library



ورځو څخه زيات نشي صادرېداى.

**محكمې ته د دوسيې لــه تســليمۍ وروسته د تورن توقيف**

**يوسلو يوه يمه ماده:**

(۱) د تر توقيف لاندې تورن د برخليک ټاكل، محكمې ته د قضيې لــه احــالې وروسته، د هغې په غاړه ده او كولاى شي د قضايي څېړنې په پړاوونوكې په لاندې ترتيب سره د تورن د توقيف قرار صادر كړي:

۱- په ابتدائيه محكمه كې د قضــيې د څېړنې په بهير كې تر (۳۰) ورځو پورې.

۲- د استيناف په محكمه كې د قضيې د څېړنې په بهير كې تر (۶۰) ورځو پورې.

۳- په ستره محكمه كــې د قضــيې د څېړنې په بهير كې تر (۶۰) ورځو پورې.

(۲) كه چېرې قضيه د محكمې لخوا په تحقيق كې د نيمګړتياوو له امله څارنوالۍ ته مسترده شي، محكمه مكلفه ده د تورن برخليک ددې مادې په (۱) فقره كــې د درج شوو واكونو مطابق وټاكي.

(۳) د محاكمې په ټولو پړاوونو (ابتدائيه،

نمی تواند.

**توقيف متهم بعد از تسليمی دوسيه به محكمه**

**مادهٔ يكصد ويكم:**

(۱) تعيين سرنوشــت مــتهم تحــت توقيــف بعــد از احالــهٔ قضــيه بــه محكمه، به عهده آن بوده و می تواند در مراحل رسيدگی قضــائی بــه ترتيــب ذيل قــرار توقيــف مــتهم را صــادر نمايد:

۱ -درجريان رسيد گی قضيه درمحكمه ابتدائيه الی (۳۰) روز .

۲- در جريان رسيدگی قضيه درمحكمه استيناف الی (۳۰) روز .

۳- در جريان رسيدگی قضيه درســتره محكمه الی (۶۰) روز .

(۲) هرگاه قضيه از طرف محكمه بنابر نواقص در تحقيق به څارنوالی مســترد گردد، محكمه مكلف است سرنوشــت متهم را طبق صلاحيت های مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده تعيين نمايد.

(۳) مجموع مدت توقيــف در تمــام

ketabton.com - The Digital Library



استيناف او سترې محکمې) کې د توقيف ټوله موده له (۱۲۰) ورځو څخه زياتېداي نشي.

## د برائت پرحکم د اعتراض د څېړنې په منظور توقيف

**يوسلو دوه يمه ماده:**

که چېرې څارنوال د تورن د برائت په اړه د جنايت په جرم کې د ابتدائيه محکمې پر صادره حکم اعتراض وکړي، پورتنۍ محکمه د تورن دتوقيف د ادامې موضوع، د اعتراض وړ اصل قضيې له څېړنې دمخه په مستعجله توګه څېړي او د هغې د توقيف يا خوشې کېدو په برخه کې لازم تصميم نيسي. که چېرې پورتنۍ محکمه زيات نه زيات د (۱۵) ورځو مودې په ترڅ کې د تورن د توقيف د تمديد امر صادر نکړي ، تورن فوراً خوشې کېږي.

## د توقيف خونې د مسئول مکلفيت

**يوسلو درېيمه ماده:**

(۱) د توقيف خونې مسئول مکلف دی د تورن د توقيف امر چې دواکمنې مرجع لخوا او ددې قانون د ټاکلې مودې په

مراحل محاکمه (ابتدائيه، استيناف وستره محکمه) از (۱۲۰) روز بيشتر بوده نمی تواند.

## توقيف به منظور رسيدگی اعتراض برحکم برائت

**مادۀ يکصد ودوم:**

هرگاه څارنوال به حکم صادرۀ محکمۀ ابتدائيه درجرم جنايت مبنی بر برائت متهم اعتراض نمايد، محکمۀ فوقانی موضوع ادامۀ توقيف متهم را قبل از رسيدگی به اصل قضيه مورد اعتراض طور مستعجل رسيدگی ودر زمينۀ توقيف يا رهائی وی تصميم لازم اتخاذ مـی نمايد. هرگاه محکمۀ فوقانی حد اکثر در خلال مدت( ۱۵) روز امر تمديد توقيف متهم را صادر نه نمايد، متهم فوراً رها می گردد.

## مکلفيت مسئول توقيف خانه

**مادۀ يکصد وسوم:**

(۱) مسئول توقيف خانه مکلف است امر توقيف متهم را که ازطرف مرجع ذيصلاح و در محدودۀ ميعاد معين اين

ketabton.com - The Digital Library



محدوده کې صادر شوی وي، تنفيذ کړي.

(۲) د توقيف خونې مسئول مکلف دی، تر توقيف لاندې شخص، د توقيف د مودې په مجرد د تېرېدو يا يې له واکمنو مراجعو څخه د امر په الغا يا د خوشې کېدو د امر په صادرېدو يا د برائت د حکم په صادرېدو، ددې قانون د حکمونو له په پام کې نيولو سره په فوري صورت خوشې او څارنوالۍ ته ورتسليم کړي، خو دا چې حکم په توقيف کې د هغهٔ له تېرې شوې مودې څخه زيات د تورن په الزاميت صادر يا له واکمنو مراجعو څخه د تورن د توقيف په تمديد امر شوی وي.

## د غير قانوني بندي کېدو په هکله د شخص خبرتيا

### يوسلو څلورمه ماده:

هغه شخص چې د بل شخص له غير قانوني بندي کېدو څخه خبرتيا ولري يا پوه شي چې مظنون له څارنتون (نظارت خونې) يا توقيف خونې پرته په بل ځای کې تر نظارت يا توقيف لاندې دی،

قانون صادر گرديده باشد، تنفيذ نمايد.

(۲) مسئول توقيف خانه مکلف است، شخص تحت توقيف را به مجرد انقضای مدت توقيف يا الغای امر آن يا صدور امر رهائی يا صدور حکم برائت از طرف مراجع ذيصلاح با رعايت احکام اين قانون به صورت فوری رها و به څارنوالی تسليم نمايد، مگر اينکه حکم به الزاميت متهم بيش از مدت سپری شدهٔ وی در توقيف، صادريا به تمديد توقيف متهم ازمراجع ذيصلاح امر شده باشد.

## اطلاع شخص در مورد بازداشت غير قانونی

### مادهٔ يکصد وچهارم:

شخصی که از بازداشت غيرقانونی شخص ديگری اطلاع داشته يا بداند که مظنون درمحل غير از نظارت خانه يا توقيف خانه، تحت نظارت يا توقيف قرار دارد، مکلف

ketabton.com - The Digital Library

مکلف دی اړوندې څارنوالۍ ته خبر ورکړي.

پدې صورت کې څارنوالۍ لازم تحقیقات سرته رسوي او مرتکب ترعدلي تعقیب لاندې نیسي.

## شپږم فصل

## لنډ مهاله (مؤقت) خوشې کېدل

**پـه بالمال کفالت خوشې کېدل**

**یوسلو پنځمه ماده:**

څارنوالۍ او محکمه د اثبات د دلایلو باوجود، ددې قانون د نهه نوي یمې مادې په (۳) فقره کې د درج شوو حالاتو له په پا م کې نیولو سره کولای شي، د خپل تصمیم یا تر توقیف لاندې شخص یا يې د قانوني استازي د غوښتنلیک پر بنسټ، په بالمال کفالت سره یا پرته له هغهٔ د تورن د مؤقت خوشې کېدو امر صادر کړي.

**د بالمال کفالت مبلغ اندازه**

**یوسلو شپږمه ماده:**

(۱) د بالمال کفالت مبلغ په ټولو احوالو کې د محکمې د رئیس لخوا ټاکل کېږي.

(۲) د محکمې رئیس د بالمال کفالت د

---

است به څارنوالی مربوط اطلاع دهد.

در این صورت څارنوالی تحقیقات لازم را انجام و مرتکب را تحت تعقیب عدلی قرار می دهد.

## فصل ششم

## رهائی مؤقت

**رهائی به کفالت بالمال**

**مادهٔ یکصد وپنجم:**

څارنوالی و محکمه با وجود دلایل اثبات با رعایت حالات مندرج فقرهٔ (۳) مادهٔ نودو نهم این قانون می توانند به اساس تصمیم خود یا درخواست شخص تحت توقیف یا نمایندهٔ قانونی وی، امر رهائی مؤقت متهم را به کفالت بالمال یا بدون آن صادر نمایند.

**اندازهٔ مبلغ کفالت بالمال**

**مادهٔ یکصد وششم:**

(۱) مبلغ کفالت بالمال در همه احوال از طرف رئیس محکمه تعیین می گردد.

(۲) رئیس محکمه در تعیین اندازهٔ

ketabton.com - The Digital Library



اندازې په ټاكلو كې د تور د حجم تناسب او وارد شوی (رسېدلی) زيان په پام كې نيسي.

(۳) بالمال كفالت په هېڅ صورت د وارد شوي زيان له حجم څخه كمېدای نشي.

## د بالمال كفالت د وجوهو تخصيص

**يوسلو اوومه ماده:**

د بالمال كفالت په امر كې تصريح كېږي چې د تحقيق، محاكمې يا د حكم د تنفيذ په وخت كې د شخص د نه حضور او يا د نورو سرغړونو په صورت كې د مبلغ ربع (څلورمه)، د دولت حساب ته لېږدول كېږي او پاتې برخه يې د زيان د جبران يا هغې نغدي جزاء د تنفيذ په منظور چې احياناً به تورن په هغې محكومېږي، تخصيصېږي.

## د كفالت د وجهې وركړه

**يوسلو اتمه ماده:**

(۱) د بالمال كفالت د وجهې وركړه له مظنون او تورن يا هر بل شخص څخه منل كېږي. د نغدي كفالت وجه د پيسو د

كفالت بالمال تناسب حجم اتهام وخسارهٔ وارده را درنظر می گیرد.

(۳)كفالت بالمال به هیچ صورت كمتر ازحجم خسارهٔ وارده تعیین شده نمی تواند.

## وجوه تخصیص كفالت بالمال

**مادهٔ یكصد وهفتم:**

در امركفالت بالمال تصریح می گردد كه ربع مبلغ در صورت عدم حضور شخص حین تحقیق، محاكمه یاتنفیذ حكم ویا سایر تخلفات به حساب دولت منتقل می گردد و قسمت باقیماندهٔ آن به منظور تنفیذ جبران خساره یا جزای نقدی كه احیاناً متهم به آن محكوم خواهد گردید، تخصیص داده می شود.

## تأدیه وجه كفالت

**مادهٔ یكصد وهشتم:**

(۱) تأدیه وجه كفالت بالمال از مظنون و متهم یا هرشخص دیگر پذیرفته می شود. وجه كفالت نقدی از

ketabton.com - The Digital Library



تحويلولو يا د بهادارو (د معاملې وړ سندونو) يا بانکي تضمين له لارې د څارنوالۍ يا محکمې له حساب څخه په بانک کې صورت مومي. د منقول مالي کفالت وجه د رسيد په وړاندې او د مشخصاتو په ټاکلو سره د محکمې يا څارنوالۍ د اماناتو په ګدام کې ساتل کېږي.

(۲) که چېرې د کفالت وجه، نقليه وسايط وي، د هغو تضمين د شرعي وثيقې پر بنسټ د محکمې يا د ترافيکو د اړوندې ادارې له لارې صورت مومي.

## د توقيف د غوښتنې نه اورېدل

يوسلو نهمه ماده:

د تورن پر توقيف يا پر خوشې کېدو د اعتراض يا د نومړو حکمونو د لغوې په اړه د مجني عليه يا د حق العبد د مدعي غوښتنه د اورېدو وړ نده.

خو دا چې د قصاص او ديت په جرمونو کې چې قضيه يوازې د مجني عليه يا حق العبد مدعي د مداخلې له امله اقامه شوې وي.

طريق تحويل پول يا تسليمی اسناد بهادار (اسناد قابل معامله) و يا تضمين بانکی از طريق حساب څارنوالی يا محکمه در بانک صورت می گيرد. وجه کفالت مالی منقول در برابر رسيد و تعيين مشخصات در گدام امانات محکمه يا څارنوالی حفظ و نگهداری می شود.

(۲) هرگاه وجه کفالت، وسايط نقليه باشد، تضمين آن به اساس وثيقهٔ شرعی ازطريق محکمه يا ادارهٔ ترافيک مربوط صورت می گيرد.

## عدم سمع تقاضای توقيف

مادهٔ يکصد ونهم:

تقاضای مجنی عليه يا مدعی حق العبد مبنی برتوقيف يا اعتراض بر رهائی متهم يا لغو احکام مذکور قابل سمع نمی باشد.

مگر اينکه در جرايم قصاص و ديت که قضيه صرفاً به اثر مداخلهٔ مجنی عليه يا مدعی حق العبد اقامه شده باشد.

ketabton.com - The Digital Library



**احتياطي تدبيرونه**

**يوسلو لسمه ماده:**

(۱) که چېرې د محکمې يا څارنوالۍ په وړاندې ثابته شي چې تورن د بالمال کفالت په ورکړه قادر ندی، له هغهٔ څخه د احضار ضمانت اخيستل کېږي. که چېرې ضامن د اعتبار او باور وړ شخص نه وي په هغهٔ شرط کولای شي د ضامن په توگه ومنل شي چې ژمنه وکړي تر کفالت لاندې شخص په احضار د نه توانېدو په صورت کې، ددې قانون په يوسلو شپږمه ماده کې درج شوې د مالي ضمانت مطلوبه وجه ورکوي.

څارنوال يا محکمه پدې صورت کې لاندې احتياطي تدبيرونه هم نيولای شي:

۱- په ټاکلي ځای کې مېشتېدل.

۲- د پوليسو دفتر، څارنوالۍ يا محکمې ته له احوالو سره سم په ټاکلو وختونو کې حاضرېدل.

۳- پوليسو ته د ټاکل شوي ځای د ترک (پرېښودلو) او مودې خبر ورکول.

**تدابير احتياطی**

**مادهٔ يکصد ودهم:**

(۱) هرگاه نزد محکمه يا څارنوالی ثابت شود که متهم قادر به تأديهٔ کفالت بالمال نمی باشد، از نزد وی ضمانت احضار اخذ می گردد. هرگاه ضامن، شخص مورد اعتبار و اعتماد نباشد به شرطی می تواند به حيث ضامن پذيرفته شود که تعهد نمايد در صورت عدم توانمندی احضار شخص تحت کفالت، وجه مطلوب ضمانت مالی مندرج مادهٔ يکصد وششم اين قانون را می پردازد.

څارنوال يا محکمه دراين صورت تدابير احتياطی ذيل را نيز اتخاذ کرده می تواند:

۱- اقامت درمحل معينه.

۲- حاضر شدن دراوقات معينه،حسب احوال به دفتر پوليس، څارنوالی يا محکمه.

۳- اطلاع به پوليس از ترک محل تعيين شده و مدت آن.

ketabton.com - The Digital Library



(۲) په هغهٔ صورت کې چې د مظنون یا تورن د تېښتې دوېرې په اړه مؤجه دلایل شتون ولري، محکمه کولای شي، له هېواد څخه د هغهٔ د ممنوع الخروج والي قرار صادر کړي.

## بیانیول او توقیف

**یوسلو یوولسمه ماده:**

که چېرې د تورن پر خلاف د توقیف د اړتیا په هکله دلایل څرګند شي یا هغهٔ ددې قانون په یوسلو لسمه ماده کې درج شوي شرایط اخلال (ګډوډ) کړي یا بل قانوني مؤجه، علت منځته راشي، د مؤقت خوشې کېدو امر، د قانون د حکمونو مطابق د تورن د بیا نیونې یا توقیف د امر د صادرېدو خنډنه کېږي.

(۲) درصورتی که دلایل مؤجه مبنی بر خوف فرار مظنون یا متهم موجود باشد، محکمه می تواند، قرار ممنوع الخروج بودن وی را از کشور صادر نماید.

## گرفتاری وتوقیف مجدد

**مادهٔ یکصدویازدهم:**

هرگاه دلایل مبنی بر ضرورت توقیف،علیه متهم ظاهرشود یا وی شرایط مندرج مادهٔ یکصد و دهم این قانون را اخلال نماید یا علت مؤجهٔ قانونی دیگری موجود شود، امر رهائی مؤقت، مانع صدور امرمجدد گرفتاری یا توقیف متهم، مطابق احکام قانون شده نمی تواند.

ketabton.com - The Digital Library



## اووم فصل

## كشفي پټ اقدامات

**د كشفي پټــو (مخفــي) اقــداماتو مشروعيت**

**يوسلو دوولسمه ماده:**

(۱) ددې قانون په يوسلو ديارلسمه ماده كې د درج شوو جرمونو د كشـــف او د اثبات د دلايلو د راټولولو لپاره كشفي پټ اقدامات صورت موندلاى شي.

(۲) كشفي پټ اقــدامات عبــارت دي له:

۱- د ټيلفون، كمپيوتر، انترنت يا نورو معلوماتي مخابراتي او تكنالوژي وسايلو له لارې د مظنونو او تورنـــو اشخاصـــو د مكالمو د محتوياتو او ارتباط اورېـــدل، څارل يا ثبتول او د مكالمو او د ارتباط د ډول، ځاى، سرچينې، واټن (مســـافې)، تګلورې (مسير)، زمان، نېټې، انـــدازې، مودې په هكله د اطلاعاتو راټولول.

۲- په خصوصي اماكنو، كورونو او عامه ځايونو كې د اشخاصو الكترونيكي پټــه څارنه يا د مكالمو، حركاتو او يا فعاليتونو

## فصل هفتم

## اقدامات مخفى كشفى

**مشـــــروعيت اقـــــدامات مخفــــى كشفى**

**مادۀ يكصدو دوازدهم:**

(۱)جهت كشف جرايم مندرج مـــادۀ يكصد وسيزدهم اين قانون و جمع آورى دلايل اثبات، اقدامات مخفى كشـــفى صورت گرفته مى تواند.

(۲)اقدامات مخفى كشفى عبارت انـــد از:

۱- سمع، نظارت يا ثبت محتويـــات، مكالمات و ارتباط اشخاص مظنـــون و متهم از طريق تيلفون، كمپيوتر، انترنت يا ساير وسايل مخابراتى و تكنـــالوجى معلوماتى و جمع آورى اطلاعات درمورد مكان، منبع، مسافه، مسير، زمان، تاريخ، انـــدازه، مـــدت مكالمـــات ونـــوع ارتباط.

۲- نظارت الكترونيكى مخفى يا ثبت مكالمات، حركات و يا فعاليت هـــاى اشخاص در اماكن، منازل خصوصى و

ketabton.com - The Digital Library



ثبتول.

۳- د هغو مالي معاملو څارنــه چــې د بانکونو يا نورو مــالي او ســوداګريزو مؤسسو له لارې صورت مومي.

۴- د مکتوب، بستې (غوټې)، کــانتينر، پارسل، مادي او تخنيکي وسايلو پلټنه.

۵- د افغانستنان له قلمرو څخه د يوه يا څو نورو هېوادونو قلمروته، د عــدلي او قضايي واکمنو مراجعو په خبرتيا او تــر څارنې لاندې د غير قانوني يا مشــکوکو محمولو لېږدېدو، عبور او مرور (ترڅارنې لاندې تسليم ورکولو) ته اجازه ورکول.

**د کشفي پټــو اقــداماتو مســتلزم جرمونه**

**يوسلو ديارلسمه ماده:**

د لاندې جرمونو د مظنونينو او تورنــو پرخلاف پټ کشفي اقدامات تــر کتــې اخيستنې لاندې نيول کېږي:

۱- تروريستي جرمونه، د پيسو تطهير او د تروريزم تمويل.

۲- د کورني او بهرني امنيت پرخلاف د جرمونو په قانون کې درج شوي جرمونه.

محلات عامه.

۳- نظارت معاملات مالی که از طريق بانک ها يا ساير مؤسســات مــالی و تجارتی صورت می گيرد.

۴- تفتيش مکتوب، بســته، کــانتينر، پارسل وسايل مادی و تخنيکی.

۵- اجازه دادن به انتــقال وعبــور و مرور (تسليم دهــی تحــت مراقبــت) محموله های غير قانونی يا مشکوک از قلمرو افغانستان به قلمرو يک يا چنــد کشور ديگر با آگاهی وتحت نظــارت مراجع ذيصلاح عدلی وقضائی.

**جرايم مستلزم اقــدامات مخفــی کشفی**

**مادۀ يکصدوسيزدهم:**

اقدامات مخفی کشفی عليه مظنونين و متهمين جرايم ذيل مورد استفاده قرار می گيرد:

۱- جرايم تروريستی، تطهيرپول وتمويل تروريزم.

۲- جرايم مندرج قانون جرايم عليــه امنيت داخلی وخارجی.

ketabton.com - The Digital Library



۳- د مخدرو موادو او مسکراتو جرمونه.

۴- د اداري فساد جرمونه.

۵- داختطاف او دانسان دقاچاق جرمونه.

۶- د قتل جرمونه.

۷- د عدالت له تطبيق څخه د مخنيوي په منظور، دشاهدانو، قاضيانو او څارنوالانو او د هغوی د هر يو د کورنيو د غړي د تهديد جرمونه، د هغوی تر څېړنې لاندې قضيې په ارتباط.

۸- د بين المللي جزايي محکمې په اساسنامه او دروم د ديپلوماتيک کنفرانس په وروستني سند کې درج شوي جرمونه.

## د پټو اقداماتو د کولو شرايط

### يوسلو څوارلسمه ماده:

کشفي پټ اقدامات يوازې د څارنوال په وړانديز او د محکمې په اجازه، په يوهٔ له لاندې حالاتو کې صادرېدای شي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې شخص ددې قانون په يوسلو ديارلسمه ماده کې له درج شوو جرمونو څخه د يوهٔ په ارتکاب مظنون يا تورن وي يا د هغهٔ په ارتکاب

۳- جرايم مواد مخدر و مسکرات.

۴-جرايم فساد اداری.

۵- جرايم اختطاف وقاچاق انسان.

۶- جرايم قتل.

۷- جرايم تهديد شهود، قضات و څارنوالان و اعضای فاميل هر يک آنها در ارتباط به قضيهٔ مورد رسيدگی آنها، به منظور جلوگيری از تطبيق عدالت.

۸- جرايم مندرج اساسنامهٔ محکمهٔ جزائی بين المللی و سند نهائی کنفرانس ديپلو ماتيک روم.

## شرايط اتخاذ اقدامات مخفی

### مادهٔ يکصدوچهاردهم:

اقدامات مخفی کشفی تنها به پيشنهاد څارنوال و اجازهٔ محکمه در يکی از حالات ذيل صادر شده می تواند:

۱- در صورتی که شخص، مظنون يا متهم به ارتکاب يکی از جرايم مندرج مادهٔ يکصدو سيزدهم اين قانون بوده يا در ارتکاب آن شريک

ketabton.com - The Digital Library



کې شريک وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چـې د پـام وړ سندونو او مدارکو د راټولولو امکان لـه بلې لارې څخه موجود نه وي او يا يې له بلې لارې څخه راټولول د ستونزو د پيدا کېدو باعث شي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې شخص ددې قانون په يوسلو ديارلسمه ماده کې په درج شوو جرمونو کې د معلوماتي يا مخابراتي تکنالوژۍ له وسايلو څخه د مظنون يـا تورن د ګټې اخيستنې په مورد د علم با وجود، د غه وسايل د مظنون يا تورن په واک کې ورکړي.

۴- په هغهٔ صورت کې چې شـخص مظنون يا تورن ته په جرم پورې د اړوندو معلوماتو د برابرولو يا ترلاسه کولو وسيله شي.

## د کشفي پټو اقداماتو د کولو (سرته رسولو) محتوي او د هغې نه افشاء

### يوسلو پنځلسمه ماده:

(۱) د قضايي ضبط مامور مکلف دی، د کشفي پټو اقداماتو د کولو اجازه د اړوند

باشد.

۲- در صورتی که امکان جمـع آوری اسناد ومدارک مورد نظـر از طريـق ديگری ممکن نباشد و يا جمـع آوری آنها از طريق ديگر باعث بروز مشکلات گردد.

۳- در صورتی که شخص بـا وجـود علم به مـورد اسـتفاده مظنـون يـا متهم از وسايل تکنالوجی معلوماتی يـا مخابراتی در جرايم مندرج مادهٔ يکصدو سيزدهم ايـن قانون،وسـايل مـذکور را در اختيار مظنون يـا مـتهم، قـرار دهد.

۴- در صورتی کـه شـخص وسـيلهٔ تهيه يا دريافـت معلومـات مربـوط به جرم برای مظنون يـا مـتهم قـرار گيرد.

## محتوای اتخاذ اقـدامات مخفـی کشفی وعدم افشای آن

### مادهٔ يکصدوپانزدهم:

(۱) مامور ضبط قضائی مکلف اسـت، اجازهٔ اتخاذ اقدامات مخفی کشفی را از

ketabton.com - The Digital Library



څارنوال له لارې له واکمنې محکمې څخه وغواړي. غوښتنه ليکلې او لاندې موارد پکې شامل وي:

۱- د هغهٔ شخص بشپړ شـــهرت چــې پرخلاف يې کشفي پټ اقدامات غوښتل شوي دي.

۲- د جرم ډول.

۳- د کشفي پټو اقداماتو ډول.

۴- د کشفي پټو اقداماتو د اجراء مؤجه دلايل.

۵- د پيل نېټه او هغهٔ موده چې د کشفي پټو اقداماتو لپاره غوښتل کېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو مواردو د تحقق په صـــورت کـــې، محکمه د کشفي پټو اقداماتو د کولو قرار صادروي او پرته لدې د دلايلو په يادولو سره، د غوښتنليک په توګه ردوي.

(۳) په هغهٔ صورت کې چې د کشفي پټو اقداماتو د کولو د اړتيا حـــالاتو بـــدلون موندلی وي يا له منځه تللي وي، محکمه کولای شي له احوالو سره سم خپل قرار اصلاح يا لغو کړي.

(۴) ددې مادې په (۳) فقره کې په درج

طريق څارنوال مربوط ازمحکمهٔ ذيصلاح درخواست نمايد. درخواست، تحريری و شامل موارد ذيل می باشد:

۱- شهرت مکمل شخصی که عليه او اقدامات مخفی کشفی درخواست شده است.

۲- نوع جرم .

۳- نوع اقدامات مخفی کشفی.

۴- دلايل موجهٔ اجرای اقدامات مخفی کشفی.

۵- تاريخ آغاز و مـــدتی کـــه بـــرای اقدامات مخفی کشفی تقاضا می گردد.

(۲) درصورت تحقق موارد مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده محکمه قرار اتخاذ اقدامات مخفی کشفی را صادر و در غير آن با ذکر دلايل، درخواســـت را کتبـــاً رد می نمايد.

(۳) در صورتی که حالات ضـــرورت اتخاذ اقدامات مخفی کشفی تغيير نموده يا ازبين رفته باشد، محکمه می توانـــد حسب احوال قرار خود را اصلاح يا لغو نمايد.

(۴) در حالت مندرج فقـــرهٔ (۳) ايـــن

ketabton.com - The Digital Library



شوي حالت کې د قضايي ضبط مامور مکلف دی په لنډ وخت کې اړونديې څارنوالۍ ته خبر ورکړي او څارنوالۍ محکمه د حالت د بدلون په اړه په ليکلي توګه خبره وي.

(۵) ټول اړوند حقيقي او حکمي اشخاص مکلف دي، په صادر شوي قرار کې د درج شوې لارښوونې مطابق، په قرار کې د شاملو اشخاصو د اړيکيو او فعاليتونو د څارنې او ثبت په منظور، کشفي پټې اقدامات وکړي يا د هغو د سرته رسولو اجازه ورکړي.

(٦) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اړوند حقيقي او حکمي اشخاص نشي کولای، د کشفي پټو اقداماتو د حکم او اجراء موجوديت (شتون) او د هغو پايلې د خپل قانوني همکار په استثنئ بل شخص ته د محکمې له اجازې پرته افشاء کړي.

## د کشفي پټو اقداماتو د کولو موده

### يوسلو شپاړسمه ماده:

(۱) د کشفي پټو اقداماتو د سرته رسولو

ماده مامور ضبط قضائی مکلف است به اسرع وقت به څارنوالی مربوط اطلاع داده و څارنوالی محکمه را در رابطه به تغيير حالت کتباً مطلع می سازد.

(۵) تمام اشخاص حقيقی و حکمی ذيربط مکلف اند، طبق هدايت مندرج قرار صادره به منظور نظارت وثبت ارتباطات وفعاليت های اشخاص شامل قرار، اقدامات مخفی کشفی را انجام يا به انجام آن اجازه بدهند.

(٦) اشخاص حقيقی وحکمی ذيربط مندرج فقرۀ (۱) اين ماده نمی توانند،موجوديت حکم واجرای اقدامات مخفی کشفی ونتايج آن رابه استثنای همکار قانونی خويش به شخص ديگر بدون اجازۀ محکمه افشاء نمايند.

## مدت اتخاذ اقدامات مخفی کشفی

### مادۀ يکصد وشانزدهم:

(۱) مدت اتخاذ اقدامات مخفی کشفی

ketabton.com - The Digital Library



موده تر (۹۰) ورځو پورې وي او د اړتيا په صورت کې تمديدېدای شي.

(۲) د کشفي پټو اقداماتو اجراء يوازې د کشف او تحقيق د اجراآتو په وخت کې عملي کېږي.

(۳) د قضايي ضبط مامور له هرو (۳۰) ورځو وروسته په ليکلې توګه د کشفي پټو اقداماتو د اجراء د پرمختګ او لاسته راغلو پايلو رپوټ څارنوالۍ ته ورکوي، څارنوالۍ هغه محکمې ته وړاندې کوي.

(۴) د کشفي پټو اقداماتو د کولو د حکم د تمديد د وړانديز د لزوم په صورت کې هغه پايلې چې د دمخه اقداماتو له اجراء څخه لاسته راغلي يا د اړوندو پايلو د نه ترلاسه کېدو دلايل، په وړانديز کې درجېږي.

## د مکالمو او ارتباطاتو (اړيکيو) اورېدل او څارنه

**يوسلو اوولسمه ماده:**

د قضايي ضبط مامور، يوازې جرمي مکالمو ته غوږ ږدي. کله چې اړخونه غير جرمي مکالمې کوي،

الی (۹۰) روز می باشد و در صورت ضرورت تمديد شده می تواند.

(۲) اجرای اقدامات مخفی کشفی صرف در زمان اجراآت کشف و تحقيق عملی می گردد.

(۳) مامور ضبط قضائی بعد از هر (۳۰) روز به صورت کتبی گزارش پيشرفت و نتايج حاصله ازاجرای اقدامات مخفی کشفی را به څارنوالی ارايه نموده، څارنوالی آنرا به محکمه تقديم می نمايد.

(۴) درصورت لزوم پيشنهاد تمديد حکم اتخاذ اقدامات مخفی کشفی و نتايجی که از اجرای اقدامات اتخاذ شدۀ قبلی بدست آمده يا دلايل عدم حصول نتايج مربوطه، درپيشنهاد درج می گردد.

## سمع ونظارت مکالمات و ارتباطات

**مادۀ يکصد وهفدهم:**

مامور ضبط قضائی صرف به مکالمات جرمی گوش می دهد. زمانی که طرفين به مکالمات غيرجرمی می پردازند، وی

ketabton.com - The Digital Library



هغه مکلف دی د مکالمو اورېدل بنـــد کړي.

**د مخابرې د سندونو ساتل**

**يوسلو اتلسمه ماده:**

د اورېدل شوو مکالمو ريکارد يا د ارتباط سندونه په مناسبه محفظه کې مهر او لاک کېږي او داورېدنې يا څارنې د تـاکلې دورې له پايته رسېدو څخه وروســته د (۳۰) ورځو په ترڅ کې، له لاس وهنې يا ويجاړولو او له غير قانوني افشاء څخه د ساتنې په منظور، داورېدنې يا څـارنې د حکـــم صـــادروونکې محکمـــې تـــه ورتسليمېږي.

مکلف است سمع مکالمــات را قطــع نمايد.

**نگهداری اسناد مخابره**

**مادهٔ يکصدوهجدهم:**

ريکارد مکالمــات ســمع شــده يــا اسناد ارتبــاط در محفظــۀ مناســب مهرو لاک گرديده ودرخـــــلال (۳۰) روزبعد ازختم دورۀ معينــۀ ســمع يــا نظــارت، بــه محکمــۀ صــادرکنندۀ حکم سمع يــا نظــارت بــه منظــور محافظت از دستبرد يا تخريب و عــدم افشــاء غيرقــانونی آن تســليم داده می شود.

ketabton.com - The Digital Library



## اتم فصل

## پلټنه او تلاشي

### د کور او د اوسېدنې د ودانۍ پلټنه

**يوسلو نولسمه ماده:**

(۱) پوليس، د ملي امنيت مؤظف او څارنوال نشي کولای د اوسېدونکي (ساکن) له استغاثې يا اجازې يا د واکمنې محکمې له د مخې قرار پرته، د شخص مسکن (کور) يا د اوسېدنې ودانۍ ته ورننوزي او هغه وپلټي.

(۲) که چېرې د کور يا د اوسېدنې د ودانۍ پلټنه اړينه تشخيص شي پوليس، د ملي امنيت مؤظف او څارنوال مکلف دي د هغې د پلټنې وړانديز واکمنې محکمې ته وړاندې کړي، د پلټنې د اجازې وړانديز د لاندې مطالبو لرونکي وي:

۱- د جرم ډول.

۲- د پلټنې موخه او موضوع.

۳- د پلټنې نېټه، ساعت او ځای.

۴- د پلټنې د اجراء موده.

## فصل هشتم

## تفتيش و تلاشی

### تفتيش مسکن و ساختمان مسکونی

**مادۀ يکصد ونزدهم:**

(۱)پوليس، مؤظف امنيت ملی و څارنوال نمی توانند بدون استغاثه يا اجازۀ ساکن ياقرار قبلی محکمۀ ذيصلاح به مسکن شخص يا ساختمان مسکونی داخل وآنرا تفتيش نمايند.

(۲) هرگاه تفتيش مسکن يا ساختمان مسکونی ضروری تشخيص گردد، پوليس، مؤظف امنيت ملی وڅارنوال مکلف اند پيشنهاد تفتيش آنرا به محکمۀ ذيصلاح ارايه نمايند، پيشنهاد اجازۀ تفتيش حاوی مطالب ذيل می باشد:

۱- نوعيت جرم.

۲- هدف و موضوع تفتيش.

۳- تاريخ، ساعت ومحل تفتيش.

۴- مدت اجرای تفتيش.

ketabton.com - The Digital Library



**د پلټنې اجازه**

**یوسلو شلمه ماده:**

واکمنه محکمه کور یا د اوسېدنې ودانۍ ته ننوتل او د هغو پلټل په لاندې حالاتو کې اجازه ورکوي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې شخص د احضار له امر یا د واجب التنفیذ حکمونو له اعمال څخه تمرد وکړي او د پام وړ کور یا د اوسېدنې په ودانۍ کې اوسېږي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د شخص د نیونې امر صادر او شخص د پام وړ کور یا د اوسېدنې په ودانۍ کې پټ وي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د جنایت یا جنحې جرم د ننه په کور یا د اوسېدنې په ودانۍ کې ارتکاب شوی وي او د جرم د ځای کتنې، هلته ورننوتل ایجاب کړي.

۴- په هغهٔ صورت کې چې په پام وړ کور یا د اوسېدنې په ودانۍ کې د مظنون یا تورن د پټېدو یا ممنوعه شیانو یا په جنایت یا جنحې پورې د اړوندو شیانو د پټېدو په اړه قاطعه (پرېکنده) قرائن موجود وي.

**اجازهٔ تفتیش**

**مادهٔ یکصد وبیستم:**

محکمهٔ ذیصلاح، داخل شدن به مسکن یا ساختمان مسکونی وتفتیش آنها را در حالات ذیل اجازه می دهد:

۱- در صورتی که شخص از امر احضار یا اعمال احکام واجب التنفیذ تمرد نموده و در مسکن یا ساختمان مسکونی مورد نظر ساکن باشد.

۲- درصورتی که امر گرفتاری شخص صادر و شخص در مسکن یا ساختمان مسکونی مورد نظر مخفی باشد.

۳- در صورتی که جرم جنایت یا جنحه در داخل مسکن یا ساختمان مسکونی ارتکاب گردیده و معاینات محل جرم، ایجاب داخل شدن به آن را نماید.

۴- درصورتی که قرائن قاطعه مبنی برمخفی شدن مظنون یا متهم یا اخفای اشیای ممنوعه یا اشیای مربوط به جنایت یا جنحه در مسکن یا ساختمان مسکونی مورد نظر موجود باشد.

ketabton.com - The Digital Library



## د پلټنې شکلیات

**یوسلو یوویشتمه ماده:**

(۱) د کور یا د اوسېدنې د ودانۍ د پلټنې په وخت کې، د ښځینه پولیسې حضور شرط ګڼل کېږي.

(۲) کور یا د اوسېدنې ودانۍ ته ننوتل د پولیسو او څارنوال د هویت د کارت او د واکمنې محکمې د اجازه لیک په وړاندې کولو سره د دروازې له لارې صورت مومي، د ممانعت په صورت کې پولیس د اقل حد ځواک په استعمالولو سره کور یا د اوسېدنې ودانۍ ته ورننوزي.

(۳) د کور یا د اوسېدنې د ودانۍ پلټنه یوازې په هغهٔ جرم پورې د مختصو شیانو د لټولو لپاره چې په هکله یې کشف او تحقیق روان وي، د دلایلو د راټولولو لپاره صورت موندلای شي.

(۴) که چېرې پولیس، د ملي امنیت مؤظف او څارنوال د پلټنې په وخت کې داسې شیان وویني (وګوري) چې ساتل یې د قانون په حکم جرم ګڼل شوی وي یا نوموړي شیان د بل ارتکاب شوي جرم په

## شکلیات تفتیش

**مادهٔ یکصد وبیست ویکم:**

(۱) حین تفتیش مسکن یا ساختمان مسکونی، حضور پولیس زن شرط دانسته می شود.

(۲) داخل شدن به مسکن یا ساختمان مسکونی با ارایه کارت هویت پولیس وڅارنوال واجازه نامهٔ محکمهٔ با صلاحیت از طریق دروازه صورت می گیرد، در صورت ممانعت، پولیس با استعمال حد اقل قوه به مسکن یا ساختمان مسکونی داخل می شود.

(۳) تفتیش مسکن یا ساختمان مسکونی صرف برای جستجوی اشیای مختص به جرمی که کشف وتحقیق در مورد آن جریان دارد، جهت جمع آوری دلایل صورت گرفته می تواند.

(۴) هرگاه پولیس، مؤظف امنیت ملی و څارنوال حین تفتیش، اشیائی رامشاهده نمایند که نگهداری آن به حکم قانون جرم شمرده شده باشد یا اشیای مذکور درکشف جرم ارتکاب یافتهٔ دیگری

ketabton.com - The Digital Library



کشف کې اغېزمن وي، کولای شي، هغه ضبط کړي.

## ځاني (بدني) تلاشي

### يوسلو دوه ويشتمه ماده:

(۱) پوليس، د ملي امنيت مؤظف او اړوند څارنوال کولای شي پداسې احوالو کې چې د شخص نيول د قانون د حکمونو مطابق مجازوي، د هغهٔ په بدني تلاشۍ لاس پورې کړي.

(۲) په بدني تلاشۍ کې د شخص د بدن د باندېنۍ برخې، جامو او نورو هغو لوازمو او شيانو پلټنه شامل دي چې هغه يې له ځانه سره لري.

(۳) د شخص تلاشي د هغهٔ شخصيت او انساني کرامت ته د درنهٔ ناوي له په پام کې نيولو سره صورت مومي.

(۴) د ښځې بدني تلاشي دښځينه پوليسې په واسطه او د نارينه بدني تلاشي د نارينه پوليس په واسطه صورت مومي. که چېرې همجنس پوليس د هغهٔ شخص لپاره چې تلاشي کېږي په محل کې موجود نه وي، پوليس کولای شي تلاشي د بل همجنس

مؤثرباشد، می توانند آنراضبط نمایند.

## تلاشی بدنی

### مادهٔ یکصد وبیست ودوم:

(۱) پولیس، مؤظف امنیت ملی و څارنوال ذیربط می تواند در احوالی که گرفتاری شخص مطابق احکام قانون مجاز باشد،به تلاشی بدنی وی اقدام نماید.

(۲) تلاشی بدنی شامل بازرسی قسمت بیرونی بدن شخص، لباس ها و سایر لوازم و اشیائی می باشد که وی با خود دارد.

(۳) تلاشی شخص با رعایت احترام به شخصیت و کرامت انسانی وی صورت می گیرد.

(۴) تلاشی بدنی زن توسط پولیس زن و تلاشی بدنی مرد توسط پولیس مرد صورت می گیرد. هرگاه پولیس همجنس برای شخصی که مورد تلاشی قرار می گیرد، درمحل تلاشی موجود نباشد، پولیس می تواند تلاشی را توسط شخص

ketabton.com - The Digital Library



مناسب شخص په واسطه سرته ورسوي او په اجراء کې يې هغهٔ ته لارښوونه وکړي.

(۵) بدني تلاشي دمخالف جنس اشخاصو په محضر کې صورت موندلای نشي.

## د شخص د تلاشۍ موارد

يوسلو درويشتمه ماده:

د شخص تلاشي ددې قانون د يوسلو دوه ويشتمې مادې په (۱) فقره کــې د درج شوي حکم له په پام کې نيولو پرته پــه لاندې مواردو کې صورت موندلای شي:

۱- په هغهٔ صورت کــې چــې امنيتــي تدبيرونه ايجاب کړي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې شخص بالفعل نيول شوی يا توقيف شوی وي.

۳- په هغهٔ صورت کې چــې شــخص ممنوعه شيان يا په جرم پورې اړوند او يا د جرم په ارتکاب کې د ګټې اخيستنې وړ لکه ناريه يا جارحه وسله له ځانه ســره ولري.

مناسب همجنس ديگر انجام و در اجرای آن اورا رهنمائی کند.

(۵) تلاشی بدنی به محضــر اشــخاص جنس مخالف صورت گرفته نمی تواند.

## موارد تلاشی شخص

مادهٔ يکصد وبيست وسوم:

تلاشی شخص بدون در نظر داشت حکم مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ يکصدو بيست و دوم اين قانون در موارد ذيل صــورت گرفته می تواند:

۱- درصورتی که تدابير امنيتی ايجاب نمايد .

۲- درصورتی که شخص بالفعل گرفتار يا توقيف شده باشد.

۳- درصورتی که شخص اشيای ممنوعه يا اشيای متعلق به جرم ويا قابل استفاده در ارتکــاب جــرم از قبيــل سلاح ناريه يا جارحــه را بــا خــود داشته باشد.

ketabton.com - The Digital Library



## په مشهود جرم کې کور یا د اوسېدنې ودانۍ ته د ورننوتلو جواز

یوسلو څلېریشتمه ماده:

(۱) پولیس، د ملي امنیت مؤظف او څارنوال کولای شي د جنایت یا جنحې د مشهود جرم د ارتکاب په حالت کې، ددې قانون په یوسلو یوویشتمه ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نیولو پرته د شخص کور یا د اوسېدنې ودانۍ ته ور دننه شي او د هغو په پلټنه لاس پورې کړي، هغه شیان او پاڼې چې دوی ته د جرم د کشف لپاره ګټور واقع شي، ضبط کړي. پدې صورت کې موضوع په محضر کې درجېږي، د مظنون یا تورن یا د کور یا ودانۍ د استوګن لاسلیک او د ګوتې نښنه په هغهٔ کې اخیستل کېږي. که چېرې هغوی له لاسلیک او د ګوتې د نښې له لګولو څخه ډډه وکړي، موضوع په محضر کې درجېږي او تر وسه وسه (حتي الامکان) له اوسېدونکو یا ګاونډیانو څخه د یوهٔ تصدیق پدې برخه کې اخیستل کېږي.

## جواز داخل شدن به مسکن یاساختمان مسکونی در جرم مشهود

مادهٔ یکصدو بیست وچهارم:

(۱) پولیس، مؤظف امنیت ملی و څارنوال می توانند درحالت ارتکاب جرم مشهود جنایت یا جنحه بدون رعایت حکم مندرج مادهٔ یکصدو بیست ویکم این قانون به مسکن شخص یا ساختمان مسکونی داخل وبه تفتیش آن اقدام نموده، اشیاء و اوراقی را که جهت کشف جرم نزد آنها مفید واقع شود،ضبط نمایند. در اینصورت موضوع در محضر درج گردیده، امضاء و نشان انگشت مظنون یا متهم یا ساکن مسکن یا ساختمان در آن اخذ می شود. هرگاه آنها از امضاء و گذاشتن نشان انگشت اباء ورزند، موضوع در محضر درج می گردد و حتی الامکان تصدیق یکی از ساکنین یا همسایه ها در زمینه گرفته می شود.

ketabton.com - The Digital Library



(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې پوليس، د ملي امنيت مؤظف او څارنوال مکلف دي زيات نه زيات تر (۵) رسمي ورځو مودې پورې د خپل د اقدام صحت (سموالی) د څارنوالۍ له لارې له واکمنې محکمې څخه واخلي.

## د پلټنې په وخت کې د مظنون يا تورن حضور

**يوسلو پنځه ويشتمه ماده:**

(۱) د کور يا د اوسېدنې د ودانۍ پلټنه د مظنون يا تورن او د کور يا د اوسېدنې د ودانۍ د يوه استوګن که چېرې موجود وي په حضور کې، صورت مومي.

(۲) که چېرې په کوريا د اوسېدنې په ودانۍ کې له مظنون يا تورن پرته بل استوګن وجود ونلري او يا مظنون يا تورن هم موجودنه وي، د کور يا د اوسېدنې د ودانۍ پلټنه د دوو تنو شاهدانو په حضور کې چې د هغوی د خپلو، خپلوانو يا ګاونډيانو له جملې څخه وي صورت مومي. پدې حالت کې د موضوع جريان په محضر کې درجېږي، د حاضرو

(۲) در حالت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده پولیس، مؤظف امنیت ملی و څارنوال مکلف اند درخلال حد اکثر الی مدت (۵)روز رسمی صحت اقدام خویش را از طریق څارنوالی از محکمهٔ ذیصلاح اخذ نمایند.

## حضور مظنون یا متهم حین تفتیش

**مادهٔ یکصد وبیست وپنجم:**

(۱) تفتیش مسکن یا ساختمان مسکونی در حضور مظنون یا متهم ویکی از ساکنین مسکن یا ساختمان مسکونی اگر موجود باشد، صورت می گیرد.

(۲) هرگاه در مسکن یا ساختمان مسکونی جز مظنون یا متهم ساکن دیگری موجود نباشد و یا مظنون یا متهم نیز وجود نداشته باشد، تفتیش مسکن یا ساختمان مسکونی در حضور دو نفر شاهد که از جملهٔ اقارب، خویشاوندان یا همسایه گان اوشان باشند، صورت می گیرد. در این حالت جریان موضوع در محضر درج، امضاء

ketabton.com - The Digital Library



اشخاصو لاسلیک یا د ګوتې نښه پکې اخیستل کېږي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوی محضر دلاندې مطالبو لرونکی وي:

۱- ددې څرګندونه چې استوګن شخص د هغهٔ له قانوني حقوقو څخه خبر کړای شوی دی.

۲- دحاضرو اشخاصو د څرګندونو درجول.

۳- ددې څرګندونه چې ضبط شوي شیان داوطلبانه تسلیم شویدي یا په اجباري ډول اخیستل شوي دي.

۴- دهغو پاڼو او شیانو د پټېدو ځای او کیفیت، چې ضبطېږي.

۵-په ضبط شوو پورې د منحصرو شیانو د دقیق مقدار، کیفیت او نورو مشخصاتو، او د امکان په صورت کې د هغو رېښتیاني ارزښت یا دول.

**د ځایونو مهر او لاک**

**یوسلو شپږویشتمه ماده:**

پولیس، د ملي امنیت مؤظف او څارنوال کولای شي هغه ځایونه چې سندونه،

یا نشان انگشت اشخاص حاضـردر آن اخذ می گردد.

(۳) محضر مندرج فقرهٔ (۲) این ماده حاوی مطالب ذیل می باشد:

۱- توضیح اینکه شخص ساکن از حقوق قانونی اش مطلع گردیده است.

۲- درج اظهارات اشخاص حاضر.

۳- توضیح اینکه اشیای ضبط شده داوطلبانه تسلیم داده شده یا بشکل اجباری اخذ گردیده است.

۴- محل و کیفیت اخفای اوراق و اشیائی که ضبط می گردد.

۵- ذکر دقیق مقدار، کیفیت وسایر مشخصات منحصر به اشیای ضبط شده و در صورت امکان، ارزش واقعی آن.

**مهرو لاک محلات**

**مادهٔ یکصد وبیست وششم:**

پولیس، مؤظف امنیت ملی و څارنوال می توانند محلاتی را که در آن

ketabton.com - The Digital Library



مدارک او جرمي آثار يا د جرم په کشف کې نور اغېزمن شيان هلته وجود ولري، مهر او لاک کړي او هغۀ ته ساتونکی وټاکي، پدې صورت کې له موضوع څخه بې له ځنډه اړوندې څارنوالۍ ته خبر ورکول کېږي.

**د اوسېدنې د ودانۍ د استوګن يا مالک شکايت**

**يوسلو اووه ويشتمه ماده:**

د کور يا د اوسېدنې د ودانۍ استوګن يا مالک کولای شي د پوليسو، د ملي امنيت د مؤظف او څارنوال د اجراآتو پرخلاف شکايت وکړي. پدې صورت کې له احوالو سره سم، شکايت مستقيماً څارنوال يا مافوق څارنوال يا محکمې ته سپارل کېږي او څارنوال يا واکمنه محکمه مکلف دي، په لنډ وخت کې موضوع وڅېړي.

**په محضر کې د جرم دکشف د ممدو شيانو درج**

**يوسلو اته ويشتمه ماده:**

(۱) پوليس، د ملي امنيت مؤظف او

اسناد، مدارک و آثار جرمی يا ساير اشيای مؤثر درکشف جرم وجود داشته باشد، مهرولاک و برآن نگهبان تعيين نمايند، در اين صورت از موضوع بلافاصله به څارنوالی مربوط اطلاع داده می شود.

**شکايت ساکن يا مالک ساختمان مسکونی**

**مادۀ يکصدوبيست وهفتم:**

ساکن يامالک مسکن يا ساختمان مسکونی می تواند عليه اجراآت پوليس، مؤظف امنيت ملی و څارنوال شکايت نمايد. در اين صورت حسب احوال، شکايت مستقيماً به څارنوال يا څارنوال مافوق يا محکمه سپرده شده وڅارنوال يا محکمۀ ذيصلاح مکلف است، به اسرع وقت موضوع را بررسی نمايد.

**درج اشيای ممد کشف جرم در محضر**

**مادۀ يکصدوبيست وهشتم:**

(۱)پوليس، مؤظف امنيت ملی و

څارنوال کولای شي د کوريا د اوسېدنې د ودانۍ د پلټنې يا د شخص د تلاشۍ په وخت کې هغه وسله، امتعه، پاڼې او نورشيان چې د جرم په ارتکاب کې استعمال يا د جرم د ارتکاب په پايله کې لاسته راغلي او يا د جرم د ارتکاب پر نيت برابر شوي وي، ضبط کړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي شيان د مظنون يا تورن په ملاحظه رسول کېږي او د هغو په هکله يې نظر غوښتل کېږي او موضوع په محضر کې درج او د مظنون يا تورن لاسليک يا د ګوتې نښه پکې اخيستل کېږي. که چېرې هغوی له لاسليک يا د ګوتې د نښې له اېښودو څخه ډډه وکړي، موضوع په محضر کې درج او له اوسېدونکو يا ګاونډيانو څخه د يوهٔ تصديق پدې برخه کې اخيستل کېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي شيان له بل شخص څخه اخيستل شوي وي، د مظنون يا تورن له ملاحظې او د هغه د نظر له غوښتنې وروسته، ددې قانون د حکمونو مطابق په

څارنوال می توانند حين تفتيش مسکن يا ساختمان مسکونی و يا تلاشی شخص، اسلحه، امتعه، اوراق و ساير اشياء را که در ارتکاب جرم استعمال يا در نتيجهٔ ارتکاب جرم به دست آمده ويا به قصد ارتکاب جرم تهيه شده باشد، ضبط نمايند.

(۲) اشيای مندرج فقرهٔ(۱) اين ماده به ملاحظهٔ مظنون يا متهم رسانيده شده و نظروی راجع به آن مطالبه و موضوع در محضردرج و امضاء و نشان انگشت مظنون يا متهم درآن گرفته می شود. هرگاه آنها از امضاء وگذاشتن نشان انگشت اباء ورزند، مراتب در محضر درج و تصديق يکی از ساکنين يا همسايه ها در زمينه اخذ می گردد.

(۳)هرگاه اشيای مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده ازشخص ديگر اخذ شده باشد، بعداز ملاحظهٔ مظنون يا متهم و مطالبهٔ نظر وی، طبق احکام اين قانون در محضر درج

ketabton.com - The Digital Library



محضر کې درجېږي.

**د ضبط شوو پاڼو تشريح او مهر او لاک کول**

**يوسلو نهه ويشتمه ماده:**

(۱)پوليس او د ملي امنيت مؤظف مکلف دي، ضبط شوې پاڼې او شيان تشريح او سرترلې (سربسته) جعبه کې يې کښېږدي او په تسمه يې وتړي او مهر او لاک يې کړي. پر تسمه باندې د شيانو د ضبط نېټه ليکل کېږي او موضوع په محضر کې درجېږي.

(۲) د ضبط شوو پاڼو او شيانو تشريح په دريو نسخو کې ليکل کېږي. لومړۍ نسخه په جعبه کې دننه، دوه يمه نسخه هغهٔ شخص ته چې نوموړي شيان ورڅخه اخيستل شوي تسليمېږي او دريېمه نسخه له اړوندو پاڼو سره ضم کېږي.

**د مهر اولاک ساتنه**

**يوسلو دېرشمه ماده:**

هغه مهر او لاک چې ددې قانون د يوسلو نهه ويشتمې مادې د حکم مطابق صورت موندلی وي، خلاصول يې جواز نلري، خو

می گردد.

**تشريح ومهر ولاک اوراق ضبط شده**

**مادهٔ يکصد وبيست ونهم:**

(۱) پوليس و مؤظف امنيت ملی مکلف اند، اوراق و اشيای ضبط شده را تشريح و درجعبه سربسته گذاشته و بالای آن نوار پيچانيده، مهرولاک نمايند. بالای نوار تاريخ ضبط اشياء تحرير و موضوع در محضر درج می گردد.

(۲) تشريح اوراق واشيای ضبط شده درسه نسخه تحرير می شود. نسخهٔ اول در داخل جعبه، نسخهٔ دوم به شخصی که اشيای مذکور از نزد او اخذ گرديده تسليم و نسخهٔ سوم ضم اوراق مربوط می گردد.

**حفظ مهرو لاک**

**مادهٔ يکصد وسی ام:**

مهر ولاک که برطبق حکم مادهٔ يکصدو بيست ونهم اين قانون صورت گرفته باشد، باز کردن آن جواز ندارد، مگر به

ketabton.com - The Digital Library



د څارنوال په استیذان او د مظنون یا تورن او هغهٔ شخص په حضور کې چې له هغهٔ څخه پاڼې او شیان ضبط شوي یا د هغوی د قانوني استازي.

## د پاڼو او مراسلاتو د ضبط منع

**یوسلو یودېرشمه ماده:**

څارنوال نشي کولای هغه پاڼې چې مظنون یا تورن یې د ګټې اخیستنې لپاره اهـــل خبره ته سپاري یا هغه مراســـلې چـــې د مظنون یا تورن او د هغهٔ مدافع وکیـــل ترمنځ رد اوبدلېږي، ضبط کړي، خو دا چې په قانون کې بل ډول تصریح شـــوي وي.

## د ضبط شوو شیانو په هکله د امـــر صادرول

**یوسلو دوه دېرشمه ماده:**

څارنوال ضبط شوې پـــاڼې او شـــیان د مظنون یا تورن او یا هغهٔ شخص په حضور کې چې ورڅخه ترلاسه شوي، ګـــوري (ملاحظه کوي) او په هغهٔ صورت کې چې د نوموړو شیانو وړاندې کول د محاکمې بهیرته اړین او اغېزمن او یا د مصادرې وړ

استیذان څارنوال و درحضور مظنون یا متهم و شخصی که اوراق و اشیاء از نزد وی ضبط شده یـــا نماینـــدهٔ قـــانونی آنها.

## منع ضبط اوراق و مراسلات

**مادهٔ یکصد وسی ویکم:**

څارنوال نمی توانـــد اوراقـــی را کـــه مظنون یا متهم جهت استفاده به اهـــل خبره می سپارد یا مراسلاتی را که میان مظنون یا متهم و وکیل مـــدافع او رد و بدل می شود، ضبط نماید، مگر اینکه در قانون طـــور دیگـــری تصـــریح شـــده باشد.

## صدور امردر مورد اشیای ضـــبط شده

**مادهٔ یکصد وسی ودوم:**

څارنوال، اوراق واشیای ضبط شده را در حضور مظنون یا متهم ویا شخصـــی که از نزد وی دستیاب شده، ملاحظـــه نموده و درصورتی که ارایـــه اشـــیای مذکور به جریان محاکمه ضـــروری و موثر و یا قابل مصـــادره باشـــد، بـــه

ketabton.com - The Digital Library



وي، په ساتنې او يا يې له دوسيې سره په انضمام او پرته لدې مالک يا مرسل ته د هغو په اعادې امر صادروي.

## شخص ته د پاڼو د نقل وړاندې کول

### يوسلو دري دېرشمه ماده:

که چېرې شخص هغو پاڼو ته چې ور څخه ضبط شوي دي، اړتيا ولـــري، د هغـــو تصديق شوی نقل يا فوتوکاپي د متقاضي په لګښت هغهٔ ته ورکول کېږي، پـــدې شرط چې د تحقيق بهير ته زيـــان ونـــه رسوي.

## د معلوماتو د افشاء منع

### يوسلو څلور دېرشمه ماده:

(۱) پوليس، د ملي امنيـــت مؤظـــف او څارنوال مکلـــف دي، د هغـــو پـــاڼو د محتوياتو او معلوماتو له افشاء څخه چې ددندې د اجراء پر وخت يا د اجراء له امله يې لاس ته راوړي، ډډه وکړي.

(۲) هغه شخص چې د پلټنې يا د عـــدلي تعقيب د نورو اجراآتو په وخت کې د پاڼو د محتوا، شيانو او اشخاصو پـــه هکلـــه اطلاعات ترلاسه کوي او هغه له عدلي او

نگهداری و يا انضمام آن به دوسيه و در غير آن به اعادهٔ آن به مالک يا مرسل امر صادر می نمايد.

## ارايهٔ نقل اوراق به شخص

### مادهٔ يکصدو سی وسوم:

هرگاه شخص به اوراقی که ازنـــزد وی ضبط شده، ضرورت داشته باشد، نقل تصديق شده يا فوتوکاپی آن به مصرف متقاضی به وی داده می شود، مشروط بر اينکه به جريان تحقيق خللـــی وارد ننمايد.

## منع افشای معلومات

### مادهٔ يکصد وسی وچهارم:

(۱)پوليس، مؤظـــف امنيـــت ملـــی و څارنوال مکلف اند، از افشای محتويات اوراق و معلومات که در اثنای اجرای وظيفه يا از اثر اجرای آن بدست آورده اند، خودداری نمايند.

(۲) شخصی که حين تفتيش يا ســـاير اجراآت تعقيب عدلی راجع به محتوای اوراق، اشياء و اشخاص اطلاعـــاتی را کسب می نمايد و آنرا به شخص ديگری

ketabton.com - The Digital Library



قضايي اړوندو مراجعو څخه پرته بل شخص ته افشاء كوي يا په يو ډول نه يو ډول له هغو څخه ناوړه ګټه اخلي، د قانون د حكمونو مطابق مجازاتېږي.

**د پاڼو او شيانو د ضبط منع**

**يوسلو پنځه دېرشمه ماده:**

(۱) پوليس، د ملي امنيت مؤظف او څارنوال نشي كولاى، د پلټنې په وخت كې هغه پاڼې او شيان چې په جرمي قضيې پورې اړه ونه لري، ضبط كړي.

(۲) پوليس، د ملي امنيت مؤظف او څارنوال د پلټنې په وخت كې په جرم پورې د اړوندو پاڼو او شيانو له ترلاسه كولو وروسته چې په لټه كې يې وو، مكلف دي، پلټنه پايته ورسوي.

(۳) ددې مادې په (۱ او ۲) فقرو كې له درج شوو حكمونو څخه سرغړونه، له وظيفوي واک څخه ناوړه ګټه اخيستنه ګڼل كېږي، مرتكب د قانون د حكمونو مطابق مجازاتېږي.

غير از مراجع مربوط عدلی و قضائی افشاء می کند یا به نحوی از انحا از آن استفاده سوء می نماید، طبق احکام قانون مجازات می گردد.

**منع ضبط اوراق و اشیاء**

**مادۀ یکصد وسی وپنجم:**

(۱) پولیس، مؤظف امنیت ملی و څارنوال نمی توانند حین تفتیش، اوراق و اشیائی را که به قضیۀ جرمی ارتباط نداشته، ضبط نمایند.

(۲)پولیس، مؤظف امنیت ملی و څارنوال حین تفتیش بعد از حصول اوراق و اشیای مربوط به جرم که به جستجوی آن بوده اند، مکلف اند به تفتیش خاتمه دهند.

(۳) تخلف ازاحکام مندرج فقره های (۱ و۲) این ماده سوء استفاده ازصلاحیت وظیفوی شمرده شده، مرتکب طبق احکام قانون مجازات می گردد.

ketabton.com - The Digital Library



## د حکمي اشخاصو د ودانۍ پلټنه

**يوسلو شپږ دېرشمه ماده:**

پوليس، د ملي امنيت مؤظف او څارنوال مکلف دي په حکمي شخص پورې د اړوندې ودانۍ پلټنه د هغهٔ د قانوني استازي په حضور کې ، ددې قانون د حکمونو مطابق سرته ورسوي.

## اشخاصو ته د محضر د نقل تسليمول

**يوسلو اووه دېرشمه ماده:**

پوليس، د ملي امنيت مؤظف او څارنوال مکلف دي د پلټنې له اجراء او د محضر له ترتيبولو وروسته يوه نسخه يې د هغهٔ شخص د غوښتنې له امله چې پلټنې د هغهٔ په حضور کې صورت موندلی هغهٔ ته ورکړي او لاسليک يا د ګوتې نښه يې واخلي.

## تفتيش ساختمان اشخاص حکمی

**مادۀ يکصد وسی وششم:**

پوليس، مؤظف امنيت ملی و څارنوال مکلف اند تفتيش ساختمان مربوط به شخص حکمی را درحضور نمايندۀ قانونی وی، مطابق احکام اين قانون انجام دهند.

## تسليمی نقل محضر به اشخاص

**مادۀ يکصد وسی وهفتم:**

پوليس، مؤظف امنيت ملی و څارنوال مکلف اند بعد از اجرای تفتيش وترتيب محضر، يک نسخۀ آن را در اثر تقاضای شخصی که تفتيش درحضور وی صورت گرفته است به او بدهند و امضاء يا نشان انگشت وی را اخذ نمايند.

ketabton.com - The Digital Library



## نهم فصل

## د ضبط شوو شيانو په هکله اقدامات

**دضبط شوو شيانو داعادې امر**

**يوسلو اته دېرشمه ماده:**

څارنوالی او محکمه کولای شي د هغو شيانو چې د کشف او تحقيق په بهير کې ضبط شويدي د مالک يا حايز په غوښتنه يا پرته له هغې که څه هم چې د حکم له صادرېدو دمخه وي، د اعادې امر وکړي، په دې شرط چې نوموړي شيان د دعوی له بهير سره اړه ونلري يا د قانون د حکمونو مطابق د مصادرې وړ نه وي.

**د مالکيت په هکله نزاع (شخړه)**

**يوسلو نهه دېرشمه ماده:**

که چېرې د ضبط شوو شيانو د مالکيت په هکله نزاع موجوده وي، څارنوال نشي کولای د هغو په اعادې امر وکړي. پدې صورت کې موضوع د حل اوفصل لپاره واکمنې محکمې ته احاله کېږي.

## فصل نهم

## اقدامات در مورد اشيای ضبط شده

**امر اعادۀ اشيای ضبط شده**

**مادۀ يکصد وسی وهشتم:**

څارنوالی و محکمه می توانند به اعادۀ اشيائی که در جريان کشف و تحقيق ضبط گرديده است به اثر درخواست مالک يا حايز يا بدون آن گرچه قبل از اصدار حکم باشد امر دهند، مشروط بر اينکه اشيای مذکور با جريان دعوی ربط نداشته يا مطابق احکام قانون قابل مصادره نباشد.

**نزاع درمورد مالکيت**

**مادۀ يکصد وسی ونهم:**

هرگاه در مورد مالکيت اشيای ضبط شده نزاع وجود داشته باشد، څارنوا ل نمی تواند به اعادۀ آن امر نمايد. در اين صورت موضوع غرض حل و فصل به محکمۀ ذيصلاح احاله می شود.

**دضبط شوو شيانو د تسليمۍ غوښتنه**

**يوسلو څلوېښتمه ماده:**

دحق العبد مدعي کولای شي د هغو شيانو تسليمي چې دهغهٔ ملکيت وي له څارنوالۍ څخه وغواړي. په هغهٔ صورت کې چې غوښتنه يې د څارنوالۍ لخوا رد شي، کولای شي واکمنې محکمې ته شکايت وکړي او خپل دلايل وړاندې کړي.

**د ضبط شوو شيانو اعاده**

**يوسلو يوڅلوېښتمه ماده:**

(۱) ضبط شوي شيان هغهٔ شخص ته اعاده کېږي چې ور څخه اخيستل شوي وي. په هغهٔ صورت کې چې ضبط شوي شيان د جرم موضوع يا يې د ارتکاب وسيله وي، هغهٔ شخص ته چې د جرم د پېښېدو له امله يې د هغو حيازت (مالکيت) له لاسه ورکړی دی، اعاده کېږي، پدې شرط چې د قانون د حکمونو مطابق د هغو د ساتنې حق ولري.

(۲) د ضبط شوو شيانو د اعادې امر په مدني محکمه کې د اړخونو دحقوقو د غوښتنې خنډ نه کېږي. که چېرې دغه

**مطالبهٔ تسليمی اشيای ضبط شده**

**مادهٔ يکصد وچهلم:**

مدعی حق العبد می تواند تسليمی اشيای ضبط شده را که ملکيت وی باشد،از څارنوالی مطالبه نمايد. در صورتی که مطالبهٔ وی ازطرف څارنوالی رد شود، می تواند به محکمهٔ ذيصلاح شکايت و دلايل خود را ارايه نمايد.

**اعادهٔ اشيای ضبط شده**

**مادهٔ يکصدوچهل ويکم:**

(۱) اشيای ضبط شده به شخصی اعاده می گردد که از نزد وی اخذ شده باشد. در صورتی که اشيای ضبط شده موضوع جرم يا وسيلهٔ ارتکاب آن باشد، به شخصی که در اثر وقوع جرم ، حيازت آنرا از دست داده است، اعاده می شود، مشروط بر اينکه طبق احکام قانون حق نگهداری آنرا داشته باشد.

(۲) امر اعادهٔ اشيای ضبط شده مانع مطالبهٔ حقوق طرفين در محکمهٔ مدنی نمی شود. هرگاه چنين

ketabton.com - The Digital Library



شان امر له اړخونو څخه د يوهٔ د غوښتنې پر بنسټ د مقابل اړخ په حضور کې له محکمې څخه صادر او شيان هغهٔ ته سپارل شوي وي، بل اړخ نشي کولای هغه وغواړي.

**ضبط شوي شيان او د دعوئ نه لزوم**

**يوسلو دوه څلوېښتمه ماده:**

که چېرې د دعوئ د اقامې په نه لزوم قرار صادرشي، واکمنه مرجع مکلفه ده، په ضبط شوو شيانو کې د تصرف موضوع هم حل او فصل کړي.

**د ضبط شوو شيانو د غوښتنې مرور زمان**

**يوسلو دري څلوېښتمه ماده:**

که چېرې د دعوئ اړخونه، ضبط شوي شيان د دعوئ د پايته رسېدو له نېټې څخه تر (۳) کلونو پورې ونه غواړي د حکم له صادرېدو پرته ددولت ملکيت ګڼل کېږي.

**له فساد سره مخامخ شيان**

**يوسلو څلور څلوېښتمه ماده:**

که چېرې ضبط شوی شی د هغو شيانو له

امر به اساس مطالبهٔ يکی از طرفين در حضور جانب مقابل از محکمه صادر و اشياء به وی سپرده شده باشد، طرف ديگر نمی تواند آن را مطالبه نمايد.

**اشيای ضبط شده و عدم لزوم دعوی**

**مادهٔ يکصد وچهل ودوم:**

هرگاه به عدم لزوم اقامهٔ دعوی قرار صادر شود، مرجع ذيصلاح مکلف است، موضوع تصرف در اشيای ضبط شده را نيز حل و فصل نمايد.

**مرورزمان مطالبهٔ اشيای ضبط شده**

**مادهٔ يکصدوچهل وسوم:**

هرگاه طرفين دعوی، اشيای ضبط شده را الی (۳) سال از تاريخ ختم دعوی مطالبه ننمايند، بدون صدور حکم، ملکيت دولت شمرده می شود.

**اشياء مواجه به فساد**

**مادهٔ يکصد وچهل وچهارم:**

هرگاه شی ضبط شده از جمله اشيائی

ketabton.com - The Digital Library



**جملې څخه وي چې د وخت په تېرېدو سره تلفېږي يا ساتنه يې د بيې معادل لګښت ايجاب کړي، خرڅلاوېې دمزايدې له لارې د واکمنې محکمې په اجازه جواز لري او ترلاسه شوي وجوه په بانک کې د امانت په توګه اېښودل کېږي. پدې صورت کې مالک کولای شي، د دعوىٰ د پايته رسېدو له نېټې څخه د (۳) کلونو مودې په ترځ کې، هغه وجه چې له خرڅلاو څخه يې ترلاسه شوي، وغواړي.**

**باشد که به مرور زمان تلف یا نگهداری آن معادل قیمت اش ایجاب مصرف را نماید، فروش آن از طریق مزایده به اجازۀ محکمۀ ذیصلاح جواز دارد و وجوه حاصله طور امانت در بانک گذاشته می شود. در این صورت مالک می تواند در خلال مدت (۳) سال از تاریخ ختم دعوی، وجهی را که از فروش آن حاصل گردیده، مطالبه نماید.**

ketabton.com - The Digital Library



## لسم فصل

## د جرمونو تحقیق

**د تحقیق اجراء**

**یوسلو پنځه څلوېښتمه ماده:**

(۱) تحقیق د جنایت او جنحې په ټولو جرمونو کې حتمي دی او ددې قانون د حکمونو مطابق، د څارنوال په واسطه د مظنون یا تورن د مدافع وکیل په حضور کې صورت مومي.

(۲) له تحقیق څخه موخه د قضیې د حقایقو موندل، د جرم پر پیښېدو باور او د هغهٔ د مرتکب پېژندل دي، څارنوال پدې منظور لاندې حالات په پام کې نیسي:

۱- د مظنون یا تورن د اهلیت او د ارتکاب شوي جرم د قانوني وصف، د جرم د ارتکاب د ډول او د جرم د پیښېدو د انګېزې د تثبیت په منظور، د قضیې هر اړخیزه ارزونه.

۲- د مرتکب پېژندنه، د سوابقو ارزونه او د پایلې په احداث (راوتلو) کې د هغهٔ د ونډې تشخیص، د عمل د سرته رسولو

## فصل دهم

## تحقیق جرایم

**اجرای تحقیق**

**مادهٔ یکصدوچهل وپنجم:**

(۱) تحقیق در تمام جرایم جنایت و جنحه حتمی بوده و مطابق احکام این قانون توسط ثارنوال در حضور وکیل مدافع مظنون یا متهم، صورت می گیرد.

(۲) هدف از تحقیق، دستیابی به حقایق قضیه، یقین بر وقوع جرم و شناسائی مرتکب آن می باشد، ثارنوال به این منظور حالات ذیل را در نظر می گیرد:

۱- ارزیابی همه جانبهٔ قضیه به منظور تثبیت اهلیت مظنون یا متهم و وصف قانونی جرم ارتکاب یافته، نحوهٔ ارتکاب و انگیزهٔ وقوع جرم.

۲-شناسائی مرتکب، ارزیابی سوابق و تشخیص سهم او در احداث نتیجه، نحوهٔ انجام عمل و اسباب

ketabton.com - The Digital Library



ډول او اسباب يې.

(۳) څارنوال مکلف دی له هغو امکاناتو څخه چې قانوناً د جرم او د هغهٔ د مرتکب پر پېژندنه او حقايقو ته پر رسېدو دلالت وکړي، ګټه واخلي. څارنوال د جـرم د اثبات دلايل او تبرئه کوونکي دلايل علی السويه راټولوي اوارزوي.

(۴) څارنوال په مشهود جرم کې چــې جنايت وي شخصاً د پېښې په ځای کې حضور مومي او د آثارو په ســاتنې او د جرم د اثبات د دلايلو د راټولولو په هکله لارښوونه کوي.

څارنوال د شاهدانو بيانونه، د مجني عليه او نورو هغو اشخاصو نظر يې او اقــوال چې د قضيې په هکله معلومـــات لـــري، اوري.

(۵) څارنوال د اهل خبره پر مطالعاتو او څېړنو څارنه کوي، مشخصې پوښـــتنې مطرح کــوي او لازمــې څرګنـــدونې غواړي.

(٦) څارنوال د جرمي قضيې اړوند له هر شخص څخه چې غوښتي يې وي، د جرم په اړه استجواب کوي او له تورن څخـــه

آن.

(۳) څارنوال مکلف است از امکاناتی که قانوناً بر شناخت جرم و مرتکب آن و رسيدن به حقايق دلالت نمايد، استفاده به عمل آورد. څارنوال دلايل اثبات جرم ودلايل تبرئه کننده را علی السويه جمع آوری وارزيابی می نمايد.

(۴)څارنوال در جرم مشهود که جنايت باشد شخصاً به محل واقعــه حضـــور می يابد وراجع به حفظ آثـــار و جمـــع آوری دلايـــل اثبـــات جـــرم هـــدايت می دهد.

څارنوال اظهارات شهود ، نظريـــات و اقوال مجنی عليه و ساير اشخاصی را که در مورد قضيه معلومات دارند، استماع می نمايد.

(۵) څارنوال بر مطالعات و بررسی های اهل خبره نظارت نمـــوده، ســـوالات مشخص را مطرح و توضيحات لازم را مطالبه می نمايد.

(٦) څارنوال از هرشخصی مرتبط بـــه قضيه جرمی که خواسته باشد به ارتباط جرم استجواب به عمل مـــی آورد و از

شخصاً استنطاق کوي.

(۷) څارنوال کولای شي، د تحقيق په وخت کې، د پوليسو او د ملي امنيت د مؤظف او نورو مراجعو همکاري وغواړي او د هغو له اجراآتو څارنه وکړي.

(۸) د پوليسو، د وسله والو ځواکونو د منسوبينو، د ملي امنيت د مؤظفينو او د نظامي تشکيلاتو لرونکو نورو ادارو د نظامي منسوبينو د غير وظيفوي جرمونو تحقيق، ددې قانون د حکمونو تابع دی.

## د راټولو شوو دلايلو څېړنه

### يوسلو شپږ څلوېښتمه ماده:

څارنوال د تحقيق په بهير کې د راټولو شوو اغېزمنو دلايلو د تثبيت په منظور، لاندې ارزونې ترسره کوي:

۱- له تورن څخه استنطاق.

۲- په جلا توګه له شاهدانو څخه استجواب.

۳- د شاهدانو مقابله او د شهادت او وړاندې شوو نظريو مقايسه.

۴- د جرم د پېښېدو له ځای څخه دلاس ته راغلو مدارکو او شيانو ارزونه.

متهم شخصاً استنطاق می کند.

(۷) څارنوال می تواند حين تحقيق، همکاری پوليس ومؤظف امنيت ملی و ساير مراجع را مطالبه نموده واز اجراآت آنها نظارت نمايد.

(۸) تحقيق جرايم غير وظيفوی پوليس، منسوبين قوای مسلح، مؤظفين امنيت ملی ومنسوبين عسکری ساير ادارات دارای تشکيلات عسکری، تابع احکام اين قانون می باشد.

## بررسی دلايل جمع آوری شده

### مادهٔ يکصدو چهل وششم:

څارنوال درجريان تحقيق به منظور تثبيت دلايل موثرجمع آوری شده، ارزيابی های ذيل را به عمل می آورد:

۱- استنطاق از متهم .

۲- استجواب از شهود به صورت جداگانه .

۳- مقابلهٔ شهود و مقايسهٔ شهادت و نظريات ارايه شده .

۴- ارزيابی مدارک و اشيای بدست آمده از محل وقوع جرم.

ketabton.com - The Digital Library



۵- دحسابي او مالي پاڼو پلټنه (بازرسي).

۶- د کورونو او نورو ودانيو پلټنه.

۷- د اهل خبره د نظر غوښتنه، د هغـــهٔ څېړنه او تأييد يا ردول او يا پدې برخـــه کې د زياتو څرگندونو غوښتل.

۸- د نورو هغو تگلارو د کارولو لپاره چې د کشف مرســـتندويه وي او د دې قانون له حکمونو سره مغايرت ونلري د لازمو لارښوونو صادرول.

## د تحقيق واکمن (واکوال) څارنوال

### يوسلو اووه څلوېښتمه ماده:

د جرم تحقيق، په عادي صورت په ترتيب سره د جرم د پېښېدو د ځای، د نيولو د ځای او د تورن د اوسېدنې د ځـــای د څارنوالۍ واک دی. دغه امـــر د نـــورو څارنوالانو د تحقيق د هر يوهٔ په اړونـــده حوزه کې او يا په مشخصو قضيو کې، د لوی څارنوال لخوا د څارنوال د ټاکنې، خنډ نه کېږي.

## تورن ته د جرم انتساب

### يوسلو اته څلوېښتمه ماده:

څارنوال مکلف دی له مظنون سره پـــه

۵- بازرسی اوراق حسابی و مالی.

۶- تفتيش منازل وساير ساختمان ها.

۷- مطالبهٔ نظر اهل خبره، بررســـی و تائيد يا رد آن ويا مطالبـــهٔ توضـــيحات بيشتر در زمينه.

۸- صدور هدايات لازم جهت به كـــار گيری ساير روش های که ممد کشـــف بوده و با احکام اين قـــانون مغـــايرت نداشته باشد.

## څارنوال ذيصلاح تحقيق

### مادهٔ يکصد وچهل وهفتم:

تحقيق جرم به صورت عادی بالترتيب از صـــلاحيت څـــارنوالی محـــل وقـــوع جرم، محل گرفتاری و محل ســـکونت متهم می باشد. اين امرمـــانع تحقيـــق څارنوالان ديگر هر يـــک در حـــوزهٔ مربوطه ويا تعيين څارنـــــوال توســـط لوی څارنوال در قضـــايای مشـــخص نمی گردد.

## انتساب جرم به متهم

### مادهٔ يکصد وچهل وهشتم:

څارنوال مکلف است دراولين برخورد با

ketabton.com - The Digital Library



لومړي برخورد کې، د هغهٔ هويت تثبيت او د هغهٔ د جرمي عمل ارتکاب چې ورته نسبت ورکول شوی ابلاغ او مدافع وکيل ته د هغه د لاس رسی له خبرېدو وروسته يې بيانونه وپوښتي.

د مظنون بيانونه په محضر کې درجېږي، عکس او هويت يې په خاص (ځانګړي) فورم کې درجېږي.

## د تحقيق د مودې بشپړېدل

### يوسلو نهه څلوېښتمه ماده:

(۱) څارنوالی مکلفه ده د جرمونو تحقيق او د جزايي د عوی اقامه په لاندې وختونو کې بشپړ کړي:

۱- په قباحت کې تر (۱۰) ورځو پورې.

۲- په جنحه کې تر (۲۷) ورځو پورې.

۳- په جنايت کې تر (۷۵) ورځو پورې.

(۲) پداسې حال کې چې د قباحت په جرم کې مصالحه شوې او يا تور د راټولو شوو دلايلو په کتنې سره تثبيت نه شي او يا په قانون کې د تورن مجازات يوازې نغدي جزاء اټکل شوې وي، څارنوال کولای شي، په کشفي پاڼو او رپوټ اکتفا

مظنون، هويت وی را تثبيت وارتکاب عمل جرمی را که به وی نسبت داده شده ابلاغ و بعد از آگاهی وی در رابطه به حق داشتن وکيل مدافع اظهارات او را در زمينه جويا شود.

اظهارات مظنون درج محضر شده، عکس و هويت او درج فورم خاص می گردد.

## ميعاد تکميل تحقيق

### مادهٔ يکصد وچهل ونهم:

(۱) څارنوالی مکلف است تحقيق جرايم واقامهٔ دعوای جزائی را در اوقات ذيل تکميل نمايد:

۱- در قباحت الی (۱۰) روز.

۲- در جنحه الی (۲۷) روز.

۳- در جنايت الی (۷۵) روز.

(۲) در حاليکه در جرم قباحت مصالحه بعمل آمده ويا اتهام به ملاحظهٔ دلايل جمع آوری شده تثبيت شده نه تواند ويا مجازات متهم در قانون صرف جزای نقدی پيش بينی گرديده باشد، څارنوال می تواند، به اوراق و گزارش کشفی

ketabton.com - The Digital Library



وکړي.

(۳) که چېرې تورن تر توقیف لاندې نه وي، لوی څارنوال کولای شي د تحقیق او دجزایي دعویٰ د اقامې موده په جنحه کې تر (۹۰) ورځو او په جنایت کې تر (۱۸۰) ورځو پورې تمدید کړي.

**د تورن د سکوت حق**

**یوسلو پنځو سمه ماده:**

(۱) تورن کولای شي دهغې پوښتنې پــه وړاندې چې له هغهٔ څخه کېږي، سکوت اختیار کړي. د سکوت او له ځواب څخه د ډډې کولو موضوع په محضــر کــې درجېږي.

(۲) د تورن سکوت د هغهٔ د بیان په حکم کې ندی.

(۳) هغه بیان، اقرار او شهادت چې لــه تورن یا شاهدانو څخه د تطمیع، تهدید، تخویف (وېرولو) یا اکراه په وسیله ترلاسه شوی وي، اعتبار نلري.

**په شپه کې د احضار او پلټنې منع**

**یوسلو یو پنځوسمه ماده:**

په شپه کې اســتجواب، اســتنطاق او د

اکتفا به عمل آورد .

(۳) هرگـــاه مـــتهم تحـــت توقیـــف قرار نداشته باشد، لوی څارنوال مـــی تواند میعاد تحقیـــق واقامـهٔ دعـــوای جزائی را در جنحه الـــی (۹۰) روز و درجنایت الی (۱۸۰) روز تمدید نماید.

**حق سکوت متهم**

**مادهٔ یکصد وپنجاهم:**

(۱) متهم می تواند در برابـــر ســـوالی که از وی صورت می گیرد، ســـکوت اختیار نمایـــد. موضـــوع ســـکوت و امتنـــاع از جـــواب در محضـــر درج می گردد.

(۲) سکوت متهم درحکم بیان وی نمی باشد.

(۳) اظهار، اقرار و شهادتی که از متهم یا شهود به وسیلهٔ تطمیع، تهدید، تخویف یا اکراه حاصل گردیده باشد، اعتبـــار ندارد.

**منع احضار و تفتیش در شب**

**مادهٔ یکصد وپنجاه ویکم:**

استجواب، استنطاق واخذ معلومات یا

ketabton.com - The Digital Library



معلوماتو يا بيانونو اخيستل جواز نلري، خو دا چې جرم مشهود وي اويا د جنحې يا جنايت د جرم د ارتکاب يا استمرار د دلايلو د ضايع کېدو وېره متصوره وي.

## د مدافع وکيل غوښتنه

### يوسلو دوه پنځوسمه ماده:

څارنوال د تحقيق له پيل څخه دمخه له تورن څخه غواړي مدافع وکيل له ځانه سره ولري. که چېرې تورن د مدافع وکيل له نيولو څخه ډډه وکړي، موضوع په محضر کې درج او د هغهٔ لاسليک اخيستل کېږي. په هغهٔ صورت کې چې تورن د مدافع وکيل د نيولو لپاره خپله مالي ناتواني بيان کړي، د قانون او اړوندې مقررې د حکمونو مطابق، د حقوقي مرستو ادارې ته ورپېژندل کېږي.

د جنحي په جرم کې د مدافع وکيل نه معرفي يا د هغهٔ له نيولو څخه ډډه کول، نه ښايي د تحقيق د اجراآتو خنډ او د دلايلو د ضايع کېدو سبب شي.

د جنايت په جرم کې څارنوال مکلف دی يو تن مدافع وکيل د تورن په لګښت د

اظهارات در شب جواز ندارد، مگر اينکه جرم مشهود بوده ويا خوف ضياع دلايل ارتکاب يا استمرار جرم جنحه يا جنايت متصور باشد.

## مطالبهٔ وکيل مدافع

### مادهٔ يکصد وپنجاه ودوم:

څارنوال قبل از آغاز تحقيق از متهم می خواهد وکيل مدافع با خود داشته باشد. هرگاه متهم از گرفتن وکيل مدافع امتناع ورزد، موضوع در محضر درج و امضای وی اخذ می گردد.

درصورتی که متهم عدم توانائی مالی خود را برای گرفتن وکيل مدافع اظهار نمايد، مطابق احکام قانون و مقررهٔ مربوط به ادارهٔ مساعدت های حقوقی معرفی می گردد.

عدم معرفی وکيل مدافع يا امتناع از گرفتن آن در جرم جنحه نبايد مانع اجراآت تحقيق و ضياع دلايل گردد.

در جرم جنايت څارنوال مکلف است يک نفر وکيل مدافع را به مصرف متهم

ketabton.com - The Digital Library



هغهٔ لپاره معرفي کړي او په هغهٔ صورت کې چې ببوزلي يې ثابته شي، د اړوندې مقررې د حکمونو مطابق د حقوقي مرستو ادارې لخوا هغهٔ ته وکيل يـا حقـوقي مساعد ټاکل کېږي.

**په واحده قضيه کې د تورنو تعدد**

**يوسلو دري پنځوسمه ماده:**

که چېرې په واحده قضيه کې، څو تنـه تورن وي، له هر يوهٔ څخه په جلا توګـه تحقيق صورت مـومي او د پېښـې پـه رامنځته کېدوکې د هغو دهر يوهٔ نقـش مشخصېږي او هر يوهٔ ته د هغهٔ د مرستې او ګډون په محدوده کې مسئوليت متوجه کېږي او تر هغهٔ وخته پورې چې له هغو څخه تحقيق بشپړ شوی نه دی، څارنوال يو له بل سره د هغوی له تمـاس څخـه مخنيوی کوي.

**واحد تورن ته منسوب په متعـددو جرمونو کې تحقيق**

**يوسلو څلور پنځوسمه ماده:**

که چېرې د متعددو جرمونو ارتکاب يوهٔ شخص ته نسبت ورکول شي، هغهٔ ته ټولې

برای وی معرفی نماید و در صورتی که بی بضاعتی وی ثابت گـردد، مطـابق احکام مقررهٔ مربـوط از طـرف ادارهٔ مساعدت های حقوقی برای وی وکیل یا مساعد حقوقی تعیین می گردد.

**تعدد متهمین در قضیهٔ واحد**

**مادهٔ یکصد وپنجاه وسوم:**

هرگاه در قضیهٔ واحـد، چنـد نفـر متهم باشند، ازهریک طـور جداگانـه تحقیق صورت مـی گیـرد و نقـش هریک در ایجـاد حادثـه، مشـخص گردیده وبـرای هریـک درمحـدودهٔ معاونت وشرکت وی مسئولیت متوجه می گردد و تا زمانی که تحقیق از آنها تکمیل نگردیده است، څارنوال از تماس آنها با همدیگر ممانعـت بـه عمـل می آورد.

**تحقیق در جرایم متعدد منسوب به متهم واحد**

**مادهٔ یکصد وپنجاه وچهارم:**

هرگـاه ارتکـاب جـرایم متعـدد به شخص واحد نسـبت داده شـود،

ketabton.com - The Digital Library



منسوبې قضیې پداسې حال کې چې پــه واحد منظور، ســرته رســېدلې وي، د ارتکاب له ځای څخه د سترګو په پټولو (په صرف نظر) سره د هغې څــارنوالۍ لخوا چې ډېر سخت جرم يې د واک په حوزه کې ارتکاب شوی، تر تحقیق لاندې نیول کېږي.

په هغهٔ صورت کې چې جرمي قضیې یوه له بلې سره مرتبطې نــه وي، د همــاغې حوزې څارنوالۍ مکلفه ده هره قضیه په جلا توګه تفکیک او تحقیق کړي.

<u>د قضیو تفریق اویو ځای کول</u>

**یوسلو پنځه پنځوسمه ماده:**

(۱) څارنوال کولای شي په لاندې حالاتو کې مختلفې قضیې سره یوځای کړي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې متعدد جرمونه د واحدې موخې د تأمین په منظور د یوهٔ یا څو تنو لخوا سرته رسېدلي وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د واحد جرم د مرتکبینو په اړه مختلف تحقیقات پــه مختلفو حوزو کې روان وي.

۳- په هغهٔ صورت کې چــې د اثبــات

تمام قضایای منسوب به وی در حالی که به منظور واحد انجــام شــده باشــد، صــرف نظــر از محــل ارتکــاب از طرف څارنوالی ای که شــدید تــرین جــرم در حــوزهٔ صــلاحیت وی ارتکاب گردیده، مورد تحقیــق قــرار می گیرد.

در صورتی که قضایای جرمی بــا هــم مرتبط نباشد، څارنوالی همــان حــوزه مکلف است هر قضیه را طور جداگانه تفکیک و تحقیق نماید.

<u>تفریق و یکجا سازی قضایا</u>

**مادهٔ یکصد وپنجاه وپنجم:**

(۱) څارنوال می تواند درحالات ذیــل قضایای مختلف رابا هم یکجا نماید:

۱- در صورتی که جرایم متعــدد بــه منظور تأمین هدف واحد ازطرف یک یا چند نفرانجام شده باشد.

۲- در صورتی که تحقیقات مختلف در رابطه به مرتکبین جرم واحد درحــوزه های مختلف جریان داشته باشد.

۳- در صورتی که دلایل اثبات به جرایم

ketabton.com - The Digital Library



دلايل په مختلفو جرمونو يــا متعـــددو اشخاصو پورې اړه ولري.

(۲) څارنوال کولای شي په لاندې حالاتو کې مختلفي قضيې يوه له بلې څخه تفريق او تفکيک کړي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې په واحـــده حوزه کې تحقيق، د تحقيق په اجراآتو کې د چټکتيا خنډ شي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې جرم د غټانو او اطفالو لخوا په ګډه سره ارتکاب شوی وي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د پوليسو، د وسله والو ځواکونو يا د ملي امنيــت د مؤظفينو او يا د نظامي تشکيلاتو لرونکو نورو وزارتونو او ادارو د نظامي منسوبينو په وظيفوي جرمونو کـــې لـــه نومـــوړو تشکيلاتو څخه بهر، بل شخص شـــامل وي.

## له تورن څخه استجواب او د هغـــهٔ شفاهي بيانونه

يوسلو شپږ پنځوسمه ماده:

څارنوال مکلف دی، د تحقيق په پيل کې،

مختلف ويا اشخاص متعدد ارتباط داشته باشد.

(۲) څارنوال می تواند در حالات ذيل قضايای مختلف را از هم تفريق وتفکيک نمايد :

۱- در صورتی که تحقيـــق درحـــوزهٔ واحد، مانع سرعت در اجراآت تحقيق گردد.

۲- در صورتی که جرم توسط بـــزرگ سالان و اطفال طور مشترک ارتکـــاب گرديده باشد.

۳- درصورتی که در ارتکاب جـــرايم وظيفوی پـــوليس، منســـوبين قـــوای مسلح يا مؤظفين امنيت ملی ويا منسوبين نظـــامی ســـاير وزارت هـــا و ادارات دارای تشـــکيلات نظـــامی، شـــخص ديگری خارج تشکيلات مذکور شامل باشد.

## استجـــواب از متـــهم و اظهارات شفاهي وی

مادهٔ يکصد وپنجاه وششم:

څارنوال مکلف است، در آغاز تحقيق از

ketabton.com - The Digital Library



له تورن څخه پوښتنه وکړي چې د جرمي عمل په ارتکاب کې خپل نقش بیان کړي.
د جرم د مادي رکن یا دهغهٔ د یوې برخې په ارتکاب د اعتراف یا پدې برخه کې د اسانتیاوو د برابرولو په صورت کې، لــه هغهٔ څخه غواړي چې د جرمي عمـل د پیښېدو د څرنګوالي په هکلـه زیــاتې څرګندونې وړاندې کړي.

د استجواب په بهیر کې تورن ته فرصت ورکول کېږي څو له ځان څخه د تور د دفع دلایل که یې غوښتي وي، هم بیان او هغه حقایق چې په ګټه یې دي، څرګنــد کړي.

<u>د تورن د بیانونو قرائت</u>

یوسلو اووه پنځوسمه ماده:

(۱) د تورن بیانونه کلمه په کلمه د تحقیق په پاڼو کې درجېږي.

(۲) ددې مادې پــه (۱) فقــره کــې درج شوي بیانونه تورن ته وړاندې او یا د مؤظف شخص لخوا ورته قرائت کېږي. تورن حق لري درج شوي بیانونه تأیید یا رد کړي او یا په هغو کې بدلون راولي.

متهم سوال کند، که نقــش خــود را در ارتکاب عمل جرمی بیــان نمایــد.
درصورت اعتراف به ارتکــاب رکــن مادی جرم یا بخشی ازآن یــا فــراهم آوری تسهیلات درزمینه از وی مطالبه می نماید که در مورد چگونگی وقــوع عمل جرمی توضیحات بیشــتر ارایــه کند.

در جریان اســتجواب بــرای مــتهم فرصت داده می شود تا دلایل دفع اتهام ازخودرا اگرخواسته باشد، نیــز بیــان وحقایقی را که به نفع وی است، ابراز نماید.

<u>قرائت اظهارات متهم</u>

مادهٔ یکصد وپنجاه وهفتم:

(۱) اظهارات متهم، کلمه به کلمــه در اوراق تحقیق درج می گردد.

(۲)اظهارات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به متهم ارایه و یا از طــرف شــخص مؤظف برایش قرائت می گردد. مــتهم حق دارد اظهارات درج شده را تائید یا رد ویا درآن تغییر وارد نماید. موضوع

ketabton.com - The Digital Library



موضوع د تحقيق په پاڼو كې درجېږي، د هغهٔ او يا يې د قانوني استازي لاسليک يا د ګوتې نبنه پکې اخيستل کېږي.

## د بيانونو ليكل

### يوسلو اته پنځوسمه ماده:

(۱) تورن كولاى شي خپل بيانونه د تحقيق په بهير كې په خپل خط او كتابت وليكي او يا يې د هغهٔ قانوني استازی وليكي.

(۲) که چېرې تورن په لوستلو او ليكلو قادر نه وي او يا پخپله يا يې قانوني استازي نه وي غوښتي اړوند بيانونه وليكي، مؤظف شخص موضوع په محضر كې درجوي.

## د پاڼو لاسليک

### يوسلو نهه پنځوسمه ماده:

(۱) د تحقيق پاڼې په دوو نسخو كې ترتيب او د څارنوال او تورن يا يې د قانوني استازي لخوا لاسليک يا د هغهٔ د ګوتې نبنه په هغو كې اخيستل کېږي، د تحقيق د پاڼو نقل د حكم تر قطعيت پورې ساتل کېږي.

درج اوراق تحقيق گرديده، امضاء يا نشان انگشت او يا نمايندهٔ قانونی وی درآن اخذ می شود.

## تحريراظهارات

### مادهٔ يكصد وپنجاه وهشتم:

(۱) متهم می تواند اظهارات خود را در جريان تحقيق به خط وكتابت خويش تحرير و يا نمايندهٔ قانونی وی آنرا بنويسد.

(۲) هرگاه متهم قادر به خواندن ونوشتن نباشد و يا خود يا نمايندهٔ قانونی وی نه خواسته باشند اظهارات مربوط را بنويسند، شخص مؤظف موضوع را درج محضر می نمايد.

## امضای اوراق

### مادهٔ يكصد وپنجاه ونهم:

(۱)اوراق تحقيق در دو نسخه ترتيب و ازطرف څارنوال ومتهم يا نمايندهٔ قانونی وی امضاء يا نشان انگشت او در آن گرفته می شود،نقل اوراق تحقيق الی قطعيت حكم حفظ می گردد.

ketabton.com - The Digital Library



(۲) که چېرې تورن د تحقیق د پاڼو لــه لاسلیک یا په هغو کې د ګوتې له اېښودو څخه ډډه وکړي او یا د ځواب له ورکولو څخه ډډه وکړي یا قانوني استازی ونلري، موضوع د تحقیق په پاڼو کې درجېږي.

**د بیانونو ژباړه (ترجمه)**

**یوسلو شپېتمه ماده:**

که چېرې تورن یا نور هغه اشخاص چې د تحقیق په پاڼو کې د هغوی بیانونه یـــا د معلوماتو وړاندې کول اغېزمن وي، په هغه ژبه چې تحقیق په هغـــې روان دی ونـــه پوهېږي، د هغوی بیانونه، د ژباړونکي په واسطه، ژباړل کېږي.

ژباړونکی باید په دواړو ژبو مسلط وي او ددندې له سرته رسولو څخه دمخه سوګند یاد کړي چې هغه څه چې له بیـــانوونکي څخه اوري، ټول په بشپړ ځیر او امانت دارۍ او له کم او کاست او د مفهوم له بدلولو پرته د تحقیق اړخونو ته ژبـــاړي. لیکل شوې ژباړه د بیانوونکي په ژبه هغهٔ ته قرائت کېږي، په هغهٔ صورت کې چې د بیانوونکي لخوا تأیید شي او یا په هغو

(۲) هرگاه متهم ازامضاء یا گذاشـــتن نشان انگشت دراوراق تحقیق ابا ورزد و یا از ارایه جواب امتناع نماید، یا نمایندهٔ قانونی نداشته باشد، موضوع دراوراق تحقیق درج می گردد.

**ترجمهٔ اظهارات**

**مادهٔ یکصد وشصتم:**

هرگاه متهم یا ســـایر اشخاصـــی کـــه اظهارات یا ارایه معلومـــات آنهـــا در تحقیق موثر می باشـــد، زبـــانی راکـــه تحقیق بـــه آن جریـــان دارد ندانـنـــد، اظهارات آنها توسط ترجمان، ترجمـــه می گردد.

ترجمان باید مسلط به هردو زبان بوده و قبل از انجام وظیفه سوگند یاد نماید که آنچه را از اظهارکننده می شنود، تماماً با دقت کامل و امانت داری بدون کـــم وکاست وتغییرمفهوم به طرفین تحقیـــق ترجمه می نماید. ترجمهٔ تحریر شده به زبان اظهارکننـــده بـــرای وی قرائـــت می شود، در صـــورتی کـــه از طـــرف اظهار کننـــده تائیـــد گـــردد ویـــا در

ketabton.com - The Digital Library



کې تعديلونه راولي، وروستۍ (نهــائی) ژباړه د بيانوونکي يا د هغـــه د قـــانوني استازي، ژباړونکي او څارنـــوال لخـــوا لاسليک کېږي.

د تحقيق محضر

يوسلو يوشپېتمه ماده:

(۱) څارنوال مکلــف دی د تحقيـــق د اجراء په وخت کې هغه محضر چــې د لاندې مطالبو لرونکی وي، ترتيب کړي:

۱- د تحقيق موضوع.

۲- د تورن، مجني عليه، شـــاهدانو، د حق العبد د مدعي او نورو هغو اشخاصو شهرت چې د هغوی بيانونه يا معلومات د تحقيق په پاڼو کې درج وي.

۳- د کشف محضر ته په اشارې سره د قضايي ضبط د مامورينو او اهل خبره که مؤظف شوي وي شـــهرت او د هغـــوی کړنه (عملکرد).

۴- د تحقيق د اجراء ځای.

۵- د تحقيق د پيل او پايته رسېدو نېټه.

٦- د څارنوال شهرت.

۷- د تورن د شخصيت او جرمي سابقې،

آن تعديلات بوجود آورد، ترجمهٔ نهائی از طرف اظهار کننـــده يـــا نماينـــدهٔ قانونی وی، ترجمان و څارنوال امضاء می شود.

محضر تحقيق

مادهٔ يکصد وشصت ويکم:

(۱) څارنوال مکلف است حين اجرای تحقيق محضری را که حاوی مطالب ذيل باشد، به قيد فهرست، ترتيب نمايد:

۱- موضوع تحقيق.

۲- شهرت متهم، مجنی عليه، شـــهود، مدعی حق العبد و سايراشخاصی کـــه اظهارات يا معلومات آنهـــا درج اوراق تحقيق می باشد.

۳-شهرت مامورين ضبط قضائی وعمل کرد آن ها واهل خبـــره اگرمؤظـــف گرديده باشد با اشـــاره بـــه محضـــر کشف.

۴- محل اجرای تحقيق.

۵- تاريخ آغاز وانجام تحقيق.

٦- شهرت څارنوال.

۷- معلومات راجع به شخصيت متهم و

ketabton.com - The Digital Library



ټولنيز موقف، رواني حالت، شغل او پيشې او د هغه د کورني سلوک په هکله معلومات او د جرمي پيښې، د جرم د ارتکاب د ترسره کولو د ډول، زمان او مکان په هکله نور معلومات.

۸- هغه پايلې چې د تحقيق له پايته رسېدو وروسته د تورن لخوا د سرته رسول شوو اعمالو د څرنګوالي ا و د جرم په ارتکاب کې د هغو د اغېزو په هکله لاسته راغلې دي.

۹- راټول شوي دلايل، شواهد او مدارک چې د جرم په ارتکاب کې د تورن د نقش او د هغهٔ د کړنې د اغېزو څرګندوونکي شي.

۱۰- د هغهٔ قانون د مادې يادول چې د مرتکب عمل يې جرم ګڼلی او پر هغهٔ يې جزاء مرتبه کړېده.

(۲) محضر د تحقيق د څارنوال لخوا لاسليک او د کشف محضر له هغهٔ سره ضميمه کېږي.

سابقهٔ جرمی، موقف اجتماعی، حالت روانی، شغل وپيشه وسلوک خانوادگی وی وساير معلومات در مورد واقعهٔ جرمی، نحوهٔ انجام، زمان و مکان ارتکاب جرم.

۸- نتايجی که بعد ازانجام تحقيق راجع به چگونگی اعمال انجام شده ازطرف متهم واثرات آن در ارتکاب جرم به دست آمده است.

۹- دلايل، شواهد ومدارک جمع آوری شده که گويای نقش متهم واثرات عملکرد او در ارتکاب جرم شده بتواند.

۱۰- ذکر مادهٔ قانونی که عمل مرتکب را جرم شناخته وبرآن جزاء مرتب نموده است.

(۲) محضر از طرف څارنوال تحقيق امضاء ومحضرکشف به آن ضم می شود.

ketabton.com - The Digital Library



## د تحقيق د ځنډولو (تعويق) قرار

**يوسلو دوه شپېتمه ماده:**

(۱) څارنوال کولای شي په لاندې حالاتو کې د تحقيق د تعويق قرار صادر کړي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې تورن پداسې ناروغۍ اخته وي چې د تحقيق د اجراء خنډ شي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې تورن نه وي پېژندل شوی او نيول شوی نـــه وي او اجراآت پدې برخه کې د کشفي مراجعو لخوا دوام ولري.

(۲) که چېرې د واحد جرم په اړه څوتنه تورن ترتحقيق لاندې وي او د هغـــو د ځينو په هکله د تحقيق د تعويق دلايـــل موجود وي، څارنوال، د هغو په هکلـــه تحقيق ځنډوي او د نورو تورنو په هکله دوام ورکوي.

په هغو احوالو کې چې څارنوال تحقيق په تعويق واچوي (وځنډوي)، موضوع مجني عليه يا د هغهٔ قانوني استازي ته ابلاغوي.

(۳) که چېرې څارنوال د قضيې تحقيـــق وځنډوي، پوليس د لا ندې تدبيرونو پـــه

## قرار تعويق تحقيق

**مادهٔ يکصد وشصت ودوم:**

(۱) څارنوال می تواند در حالات ذيل قرار تعويق تحقيق را صادر نمايد:

۱- در صورتی که متهم به مريضی ای مصاب باشد که مانع اجـــرای تحقيـــق گردد.

۲- در صورتی که متهم شناسائی يـــا گرفتـــار نگرديـــده و اجـــراآت در زمينه از طرف مراجع کشفی ادامه داشته باشد.

(۲) هرگاه به ارتباط جرم واحد چند نفر متهم تحت تحقيق قرار داشته ودلايـــل تعويق تحقيق در مورد بعضی آنها موجود باشد. څارنوال، تحقيق را در مورد آنها به تعويق انداخته ودر مورد ساير متهمين ادامه می دهد.

دراحوالی که څارنوال تحقيق را به تعويق اندازد، موضوع را به مجنی عليـــه يـــا نمايندهٔ قانونی وی ابلاغ می نمايد.

(۳) هرگاه څارنوال تحقيق قضيه را به تعويق اندازد، پـــوليس را بـــه اتخـــاذ

ketabton.com - The Digital Library



نيولو مکلفوي:

۱- د تورن لټول او نيول.

۲- د اثبات د دلايلو راټولول او کشفي لازم اجراآت.

(۴) د تحقيق د تعويق د دلايلو د لرې کېدو په صورت کې، څارنوال مکلف دی تحقيق بيا پيل کړي.

## يوولسم فصل

## د تحقيق پای

### د تحقيق د پايته رسېدو اعلان

يوسلو درې شپېتمه ماده:

(۱) که چېرې څارنوال دتحقيق له سرته رسولو څخه وروسته دې پايلې ته ورسېږي چې له تحقيق څخه لاسته راغلو پايلو په بشپړه توګه د قضيې اړخونه روښانه کړي او زياتې پلټنې (بررسی) ته اړتيا نه ليدل کېږي، دتحقيق دپايته رسېدو موضوع د تورن، مجني عليه، دحق العبد مدعي او د حق العبد مسئول خبرتياته رسوي او هغو ته موقع ورکوي څو کــه د تحقيـــق د نيمګړتيا په هکله څه ملاحظې ولـــري، د (۳) ورځو په ترخ کــې دې څرګنـــدې

تدابيرذيل مکلف می گرداند:

۱- جستجو وگرفتاری متهم.

۲- جمع آوری دلايل اثبات واجراآت کشفی لازم.

(۴) درصورت رفع دلايل تعويق تحقيق، څارنوال مکلف است تحقيق را مجدداً آغاز نمايد.

## فصل يازدهم

## ختم تحقيق

### اعلان ختم تحقيق

مادۀ يکصد وشصت وسوم:

(۱) هرگـــاه څـارنـــــوال بعـــد از انجام تحقيق به اين نتيجه برســـد کـــه نتـــايج حاصـــله ازتحقيـــق کـــاملاً جوانـــب قضـــيه را روشـــن نمـــوده و نيازی بـــه بررســـی بيشـــتر ديـــده نمی شود، موضوع ختم تحقيق را بـــه اطلاع متهم، مجنـــی عليـــه، مـــدعی حق العبـــد و مســـئول حـــق العبـــد می رساند وبه آنها موقع می دهد تا اگر راجع به نواقص تحقيق ملاحظاتی داشته باشـــند، درخـــــلال (۳) روز ابـــراز

ketabton.com - The Digital Library



کړي.

(۲) تورن، مجني علیه، د حق العبد مدعي او د حق العبد مسئول کولای شي، د تحقیق د پاڼو نقل چې د دوی د اړتیا وړ وي، په خپل لګښت له څارنوالۍ څخه وغواړي.

(۳)که چېرې څارنوال دتورن، مجنيعلیه، دحق العبد د مدعي او دحق العبد دمسئول لخوا د تحقیق د نیمګړتیاوو په برخه کې وارد شوي اعتراضونه پرځای او د قانون د حکمونو مطابق ومومي، پدې صورت‌کې تکمیلي تحقیقات سرته رسوي.

(۴) څارنوال تورن، مجني علیه، د حق العبد مدعي او د حق العبد مسئول ته وخت ورکوي څو د قضیې د وروستیو اجراآتو د سیر او د عدلي تعقیب د اجراآتو په اړه د خپلو مسئولیتونو په هکله له هغهٔ څخه معلومات وغواړي.

**د تحقیق د پایته رسېدو د محضر محتویات**

**یوسلو څلور شپېتمه ماده:**

څارنوال مکلف دی د تحقیق د پایته

نمایند.

(۲) متهم، مجنی علیه، مدعی حق العبد و مسئول حق العبد می توانند، نقل اوراق تحقیق را که مورد ضرورت شان باشد به مصرف خود از څارنوالی مطالبه نمایند.

(۳) هرگاه څارنوال اعتراضات وارده ازجانب متهم، مجنی علیه، مدعی حق العبد یا مسئول حق العبد را در خصوص نواقص تحقیق وارد ومطابق احکام قانون دریابد، در این صورت تحقیقات تکمیلی را انجام می دهد.

(۴) څارنوال به متهم، مجنی علیه، مدعی حق العبد ومسئول حق العبد فرصت می دهد تا راجع به سیر اجراآت بعدی قضیه و مسئولیت های خویش درقبال اجراآت تعقیب عدلی معلومات از او مطالبه نمایند.

**محتویات محضر ختم تحقیق**

**مادهٔ یکصدوشصت وچهارم:**

څارنوال مکلف است محضرختم تحقیق

ketabton.com - The Digital Library



رسېدو محضر چې د لاندې مطالبو لرونکی وي، ترتیب کړي:

۱- د دوسيې د محتوياتو لنډيز.

۲- د تحقيق د پايته رسېدو د ابلاغ يادونه او د قضيې د شاملينو د حقوقو څرګندونه.

۳- د قضيې شاملينو ته د دوسيې د وړاندې شوو پاڼو د شمېر يادونه.

۴- د دوسيې له محتوياتو سره د قضيې د شاملينو د آشنايي، موده، ځای او نېټه.

۵- د قضيې د شاملينو لخوا د وړاندې شوو غوښتنليكونو او عريضو لنډيز.

۶- د دوسيې له محتوياتو سره د اشنايي لپاره د اشخاصو د حضور او نه حضور د موضوع يادونه.

## د تورن ليک (اتهامنامې) ترتيب

### يوسلو پنځه شپېتمه ماده:

(۱) تورن ليک د دوسيې په پاڼو د مستندو دلايلو پر بنسټ ترتيب او له تشريحي او د پايلې (نتيجې) له برخو څخه جوړوي.

(۲) د تورن ليک تشريحي برخه د لاندې

را که حاوی مطالب ذیل می باشد، ترتیب نماید:

۱- خلاصهٔ محتویات دوسیه.

۲- تذکر ابلاغ ختم تحقیق و توضیح حقوق شاملین قضیه.

۳- ذکر تعداد اوراق ارایه شدهٔ دوسیه به شاملین قضیه.

۴- مدت، محل و تاریخ آشنائی شاملین قضیه به محتویات دوسیه.

۵- خلاصهٔ درخواستی ها و عرایض ارایه شده از طرف شاملین قضیه.

۶- ذکر موضوع حضور وعدم حضور اشخاص برای آشنائی با محتویات دوسیه.

## تر تیب اتهامنامه

### مادهٔ یکصد وشصت وپنجم:

(۱)اتهامنامه به اساس دلایل مستند به اوراق دوسیه ترتیب و متشکل از بخش های تشریحی ونتیجه می باشد.

(۲) بخش تشریحی اتهامنامه حاوی

ketabton.com - The Digital Library



مطالبو لرونکې وي:

۱- د څارنوال، تورن او مجني علیه شهرت.

۲- د تعقیب وړ جرم، د هغه د ارتکاب ځای او نېټه.

۳- د حق العبد مدعي غوښتنې.

۴- د جرم د ارتکاب څرنګوالی او د جرمي پایلې په احداث کې له شریکانو او مرستیالانو څخه د هر یوهٔ مسئولیت.

۵- د جرم د ارتکاب مخففه او مشدده اسباب او عوامل او انګېزه.

٦- د جرم د اثبات دلایل.

۷- د تورن د ذاتي شخصیت (ټولنیزو، اقتصادي، ښوونیزو او یا تحصیلي سوابقو) په هکله معلومات.

(۳) د پایلې برخه د لاندې مطالبو لرونکې وي:

۱- له تورنو څخه هر یوهٔ ته د منسوب تور ډولونه، د جرم په ارتکاب کې د هغوی د مسئولیت پر بنسټ.

۲- د هغهٔ قانون د مادې حکم چې د فعل ارتکاب یې جرم ګڼلی دی.

۳- د حق العبد مدعي غوښتنې.

مطالب ذیل می باشد:

۱- شهرت څارنوال، متهم و مجنی علیه.

۲- جرم مورد تعقیب، محل و تاریخ ارتکاب آن .

۳-مطالبات مدعی حق العبد.

۴- چگونگی ارتکاب جرم ومسئولیت هر یک از شرکا ومعاونین در احداث نتیجهٔ جرمی.

۵-اسباب و عوامل مخففه ومشدده و انگیزهٔ ارتکاب جرم .

٦- دلایل اثبات جرم .

۷- معلومات در بارهٔ شخصیت ذاتی (سوابق اجتماعی، اقتصادی، تعلیمی و یا تحصیلی) متهم .

(۳) بخش نتیجه حاوی مطالب ذیل می باشد:

۱-انواع اتهام منسوب به هریک از متهمین به اساس مسئولیت آنها در ارتکاب جرم.

۲-حکم مادهٔ قانونی که ارتکاب فعل را جرم شمرده است.

۳- مطالبات مدعی حق العبد.

ketabton.com - The Digital Library



۴- د جرم د مدارکو مصدقه سندونه.

۵- دنظارت (څارنې) او توقيف دمودې يادول.

**تورنو ته د تورنليک د نقل سپارل**

**يوسلو شپږشپېتمه ماده:**

تورنليک د تورنو د شمېر له په پام کې نيولو سره ترتيب او نقل يې له هغو څخه هر يوۀ ته سپارل کېږي.

**لاسليک او د تورنليک ارجاع**

**يوسلو اووه شپېتمه ماده:**

تورنليک له ترتيب او د تحقيق د څارنوال لخوا د هغه له لاسليک وروسته له دوسيې سره يوځای،بې له ځنډه د قضايي تعقيب څارنوال ته د دعويٰ د اقامې لپاره ارجاع کېږي.

۴- اسناد مصدقۀ مدارک جرم.

۵- ذکر مدت نظارت و توقيف.

**سپردن نقل اتهامنامه به متهمين**

**مادۀ يکصد وشصت وششم:**

اتهامنامه بادرنظر داشت تعداد متهمين ترتيب و نقل آن به هريک از آنها سپرده می شود.

**امضاء وارجاع اتهامنامه**

**مادۀ يکصد وشصت وهفتم:**

اتهامنامه بعد از ترتيب وامضای آن از طرف څارنوال تحقيق توأم با دوسيه، بلا فاصله به څارنوال تعقيب قضائی برای اقامۀ دعوی ارجاع می شود.

ketabton.com - The Digital Library



## دوولسم فصل

## د قضايي تعقيب د څارنوال اجراآت

### د دوسيې تدقيق

**يوسلو اته شپېتمه ماده:**

د قضايي تعقيب څارنوال د دوسيې له تدقيق او ارزونې وروسته د لزوم مطابق د لاندې اجراآتو په سرته رسولو مکلف دی:

۱-په جرم پورې د اړوندو سندونو،مدارکو او شيانو غوښتنه.

۲-د تورن شخص او د جرم د وصف د ټاکلو په نسبت د نيول شوو اقداماتو د بدلون يا الغاء په اړه په کشف او تحقيق پورې د اړوندو اجراآتو په باره کې د قرار صادرول.

۳-په دوسيه کې په درج شوو دلايلو مستند د تورنليک تأييد او د صورت دعوئ ترتيبول.

۴- د تحقيق د بشپړتيا او نيمګړتياوو د لرې کولو لپاره د دوسيې اعاده.

۵-د تورنليک لغو او د هغې د بيا ترتيب په اړه د قرار صادرول.

## فصل دوازدهم

## اجراآت څارنوال تعقيب قضائی

### تدقيق دوسيه

**مادۀ يکصد وشصت وهشتم:**

څارنوال تعقيب قضائی بعد از تدقيق و ارزيابی دوسيه حسب لزوم مکلف به اجراآت ذيل می باشد:

۱- مطالبۀ اسناد و مدارک و اشيای مربوط به جرم.

۲- صدور قرار در بارۀ اجراآت مربوط به کشف وتحقيق مبنی بر تغيير يا الغای اقدامات اتخاذ شده نسبت به شخص متهم و تعيين وصف جرم .

۳- تائيد اتهامنامه مستند به دلايل مندرج در دوسيه وترتيب صورت دعوی.

۴- اعادۀ دوسيه جهت تکميل تحقيق و رفع نواقص.

۵- لغو اتهامنامه وصدور قرار مبنی بر ترتيب مجددآن.

ketabton.com - The Digital Library



۶-د تورنليک لغو او ددې قانون د حکمونو مطابق، د دوسيې د حفظ په اړه د قرار صادرول.

**د جزايي دعوې د اقامې د نه لزوم قرار**

**يو سلو نهه شپېتمه ماده:**

(۱) که چېرې د تورن پرخلاف د اثبات دلايل موجود نه وي، څارنوال د جزايي دعوې د اقامې د نه لزوم قرار صادروي او په هغهٔ صورت کې چې تورن په بله قضيه کې تر توقيف لاندې نه وي، خوشې کېږي. په هغهٔ صورت کې چې د تورن توقيف د محکمې په تجويز صورت موندلی وي، موضوع اړوندې محکمې ته رپوټ ورکول کېږي.

(۲)که چېرې د دعوې د اقامې د نه لزوم په اړه قرار صادر شي، د هغې د اسبابو او دلايلو يادول حتمي دي. دغه موضوع مجني عليه، د حق العبد مدعي او د هغوی قانوني استازو ته ابلاغ او په هغهٔ صورت کې چې يو له هغو څخه وفات شوی وي، موضوع په ليکلي توګه د هغهٔ

۶- لغو اتهامنامه و صدور قرار مبنی برحفظ دوسيه مطابق احکام اين قانون.

**قرار عدم لزوم اقامه دعوای جزائی**

**مادهٔ يکصد وشصت ونهم:**

(۱) هرگاه دلايل اثبات عليه متهم موجود نبوده، څارنوال قرار عدم لزوم اقامهٔ دعوای جزائی را صادر و در صورتی که متهم در قضيهٔ ديگری تحت توقيف نباشد، رها می گردد. درصورتی که توقيف متهم به تجويز محکمه صورت گرفته باشد، موضوع به محکمهٔ مربوط گزارش داده می شود.

(۲) هرگاه قرار مبنی بر عدم لزوم اقامهٔ دعوی صادر گردد، ذکر اسباب ودلايل آن حتمی می باشد. اين موضوع به مجنی عليه، مدعی حق العبد و مسئول حق العبد ونمايندگان قانونی آنها ابلاغ و در صورتيکه يکی از آنها وفات نموده باشد، موضوع طور کتبی به ورثه اش

ketabton.com - The Digital Library



ورثې ته ابلاغېږي.

## د جزايي دعوې د اقامې د نه لزوم پر قرار باندې اعتراض

**يوسلو اويايمه ماده:**

(۱)د جزايي دعوې د اقامې د نه لزوم په اړه د څارنوال قرار د حق العبد د مدعي د غوښتنو د سقوط سبب نه کېږي.

(۲) مجني عليه او د حق العبد مدعي يا د هغوی قانوني استازي کولای شي د هغهٔ قرار پرخلاف چې د جزايي دعوې د اقامې د نه لزوم په هکله صادر شوی، خپل اعتراض مافوق څارنوال ته وړاندې کړي، که چېرې مافوق څارنوال د جزايي دعوې د اقامې د نه لزوم په اړه قرار تأييد کړي، مجني عليه، د حق العبد مدعي يا د هغوی قانوني استازي کولای شي، خپل اعتراض واکمنې محکمې ته وړاندې کړي.

(۳)ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوی اعتراض مجني عليه،د حق العبد مدعي يا د هغوی قانوني استازو ته د قرار د ابلاغ له نېټې څخه وروسته د (۳۰)

ابلاغ می شود.

## اعتراض برقرار عدم لزوم اقامهٔ دعوای جزائی

**مادهٔ يکصد وهفتادم:**

(۱) قرارڅارنوال مبنی بر عدم لزوم اقامهٔ دعوای جزائی سبب سقوط مطالبات مدعی حق العبد نمی شود.

(۲) مجنی عليه و مدعی حق العبد يا نمايندگان قانونی آنها می توانند عليه قراری که راجع به عدم لزوم اقامهٔ دعوای جزائی صادرگرديده، اعتراض خود را به څارنوال مافوق تقديم نمايند، هر گاه څارنوال مافوق قرار مبنی بر عدم لزوم اقامهٔ دعوای جزائی را تائيد نمايد، مجنی عليه، مدعی حق العبد يا نمايندگان قانونی آنها می توانند، اعتراض خود را به محکمهٔ ذيصلاح تقديم نمايند.

(۳) اعتراض عليه قرار مندرج فقرهٔ (۲) اين ماده به دفتر تحريرات محکمه درخلال مدت (۳۰) روز بعد از تاريخ ابلاغ قرار به مجنی عليه، مدعی

ketabton.com - The Digital Library



ورځو موده په ترخ کې د محکمې د تحريراتو دفتر ته وړاندې او په لنډ وخت کې تر څېړنې لاندې نيول کېږي.

**د جزايي دعوې د اقامې د نه لزوم د قرار د صادرېدو حالات**

**يوسلو يو اويايمه ماده:**

څارنوال په لاندې احوالو کې د جزايي دعوې د اقامې د نه لزوم قرار صادروي:

۱-د جرم د نه پېښېدو په صورت کې.

۲-په هغهٔ صورت کې چې د جزايي دعوې تحريک د مجني عليه په شکايت پورې تړلی وي او هغه له شکايت څخه تېر(منصرف) شوی وي.

۳-په هغهٔ صورت کې چې د فاعل قصور او د فعل پايله جزئي او عامه علاقه د هغې عدلي تعقيب ته کمه وي يا متصوره نه وي.

۴-ددې قانون د يوسلو نهه شپېتمې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو حالاتو کې.

۵-دجزايي دعوې دسقوط په حالاتو کې.

**د جزايي دعوې د اقامې د نه لزوم د**

حق العبد يانمايندگان قانونی آنها تقديم و به اسرع وقت تحت رسيدگی قرار می گيرد.

**حالات صدورقرارعدم لزوم اقامهٔ دعوای جزائی**

**مادهٔ يکصد وهفتاد ويکم:**

څارنوال در احوال آتی قرار مبنی بر عدم لزوم اقامهٔ دعوای جزائی را صادرمی نمايد:

۱-در صورت عدم وقوع جرم.

۲- در صورتی که تحريک دعوای جزائی منوط به شکايت مجنی عليه بوده و وی از شکايت منصرف شده باشد.

۳- درصورتی که قصور فاعل و نتيجهٔ فعل جزئی و علاقهٔ عامه به تعقيب عدلی آن کم يا متصور نباشد.

۴- درحالات مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ يکصد وشصت ونهم اين قانون.

۵- در حالات سقوط دعوی جزائی.

**محتوای قرار عدم لزوم اقامهٔ دعوای**

ketabton.com - The Digital Library



## قرار محتوي

**يوسلو دوه اويايمه ماده:**

(۱)د جزايي دعوي د اقامې د نه لزوم قرار د لاندې مطالبو لرونكى وي:

۱-ددې قانون د حكمونو مطابق، د قرار د صادرېدو دلايل او اسباب.

۲-د هغو اقداماتو الغاء چې د تورن د حقوقو د محدوديت سبب شوي دي.

۳-د قرار دصادرېدو وخت، نېټه او ځاى.

(۲)ددې مادې په (۱) فقره كې درج شوى قرار د څارنوال په واسطه لاسليک او مافوق څارنوال ته وړاندې كېږي.

## دشيانو د مصادرې په اړه د قرار صادرېدل

**يوسلو درې اويايمه ماده:**

كه چېرې جزايي دوسيه ددې قانون د حكمونو مطابق حفظ يا د جزايي دعوي د اقامې د نه لزوم د قرار د صادرېدو په اړه موضوع پايته ورسول شي، ضبط شوي مالونه ددې قانون د حكم مطابق مالک ته مستردېږي، خو دا چې نوموړي مالونه د مصادرې وړ مالونه وي يا د هغو د

## جزائی

**مادۀ يكصدو هفتاد ودوم:**

(۱) قرارعدم لزوم اقامۀ دعواى جزائى حاوى مطالب ذيل مى باشد:

۱- دلايل واسباب صدور قرارمطابق احكام اين قانون.

۲- الغاى اقداماتى كه سبب محدوديت حقوق متهم گرديده است.

۳- وقت، تاريخ و محل صدور قرار.

(۲) قرار مندرج فقرۀ(۱) اين ماده توسط څارنوال امضاء و به څارنوال مافوق ارايه مى گردد.

## صدور قرار مبنى بر مصادرۀ اشياء

**مادۀ يكصد وهفتاد وسوم:**

هرگاه دوسيۀ جزائى مطابق احكام اين قانون حفظ يا مبنى برصدور قرارعدم لزوم اقامۀ دعواى جزائى به موضوع خاتمه داده شود، اموال ضبط شده طبق حكم اين قانون به مالک مسترد مى گردد، مگراينكه اموال مذكور اموال قابل مصادره بوده يا راجع به مالكيت آن

ketabton.com - The Digital Library



مالکيت په هکله شخړه موجوده وي، د مصادرې په اړه ادعا د مدني محاکماتو د اصولو د قانون د حکمونو مطابق واکمنې محکمې ته اقامه کېږي.

## د پاڼو د حفظ امر

**يوسلو څلور اويايمه ماده:**

د جزايي دعوىٰ د اقامې د نه لزوم په اړه د څارنوال لخوا صادر شوي اوامر، د قضيې د عدلي تعقيب د اجراآتو، هغو ته د زمينې او اسبابو په برابرېدو سره د اعادې خنډ نه کېږي، خودا چې قضيه د مرور زمان يا نورو اسبابو پر بنسټ له سقوط سره مخامخ شوې وي.

نزاع وجود داشته باشد، ادعای مبنی بر مصادره مطابق احکام قانون اصول محاکمات مدنی به محکمۀ ذیصلاح اقامه می شود.

## امر حفظ اوراق

**مادۀ يکصد وهفتاد وچهارم:**

اوامر صادره از طرف څارنوال مبنی برعدم لزوم اقامۀ دعوای جزائی، مانع اعادۀ اجراآت تعقيب عدلی قضيه با فراهم شدن زمينۀ مساعد و اسباب آن نمی گردد، مگر اينکه قضيه بر اساس مرور زمان يا ساير اسباب به سقوط مواجه گرديده باشد.

ketabton.com - The Digital Library



## دیارلسم فصل

## د جزايي دعويٰ اقامه او محکمې ته د دوسيې احاله

### د جزايي دعويٰ اقامه

**يوسلو پنځه اويايمه ماده:**

(۱)څارنوال مکلف دی د تورنليک د تأييد په صورت کې، جزايي دعوي د تورنليک دمندرجاتو له په پام کې نيولو سره ترتيب او دتورن پرخلاف يې اقامه کړي.صورت دعوي دتورنو په شمېر ترتيب او له تورنو يا دهغوی له مدافع وکيلانو څخه هر يوهٔ ته د هغهٔ يو مصدقه نقل رسماً ورتسليمېږي او اړونده دوسيه په ټاکلې موده کې واکمنې محکمې ته وړاندې کېږي.

(۲)څارنوال مکلف دی دتحقيق ټولې پاڼې په يوهٔ فهرست کې له جزايي دعويٰ سره يوځای واکمنې محکمې ته احاله کړي.

(۳)څارنوال مکلف دی، تورن، مجني عليه، د حق العبد مدعي او د حق العبد مسئول، محکمې ته د قضيې له احالې څخه د احالې د ګڼې او نېټې او اړوندې

## فصل سیزدهم

## اقامهٔ دعوای جزائی و احالهٔ دوسیه به محکمه

### اقامهٔ دعوای جزائی

**مادهٔ يکصد وهفتاد وپنجم:**

(۱) څارنوال مکلف است در صورت تائيد اتهامنامه، دعوای جزائی را بارعايت مندرجات اتهامنامه ترتيب وعليه متهم اقامه نمايد. صورت دعوی به تعداد متهمين ترتيب وبرای هريک ازمتهمين يا وکيل مدافع آنها يک نقل مصدقهٔ آن رسماً تسليم ودوسيهٔ مربوطه در ميعاد معينه به محکمهٔ ذيصلاح ارايه می شود.

(۲)څارنوال مکلف است تمام اوراق تحقيق راطی فهرست منظم توأم بادعوای جزائی به محکمهٔ ذيصلاح احاله نمايد.

(۳) څارنوال مکلف است، متهم، مجنی عليه، مدعی حق العبد ومسئول حق العبد را ازاحالهٔ قضيه به محکمه بقيد نمبر و تاريخ احاله و محکمهٔ مربوطه اطلاع

ketabton.com - The Digital Library



محکمې په قيد سره خبر ورکوي.

## د محکمې له اجندا څخه خبر ورکول

**يوسلو شپږاويايمه ماده:**

څارنوال مکلف دی، محکمې ته د موضوع له احالې وروسته، د قضيې د مقدماتي څېړنې موده د محکمې د تحريراتو له دفتر سره هم غږې کړي او موضوع د هغو اشخاصو خبرتيا ته چې حضور يې اړين دی، رسماً ابلاغ کړي.

## تکميلي تحقيق

**يوسلو اووه اويايمه ماده:**

که چېرې د جزايي دعوىٰ له اقامې او محکمې ته د قضيې له احالې وروسته، د نوو دلايلو څرګندېدو ته په پام سره د تکميلي تحقيق اړتيا محسوسه شي يا محکمه هغه لازمه وګڼي، څارنوالي د دې قانون د حکمونو مطابق د هغۀ پر سرته رسولو مکلف دی.

می دهد.

## دادن اطلاع ازآجندای محکمه

**مادۀ يکصدو هفتاد وششم:**

څارنوال مکلف است بعد از احالۀ موضوع به محکمه، ميعاد بررسی مقدماتی قضيه را با دفتر تحريرات محکمه هم آهنگ نموده وموضوع را به اطلاع اشخاصی که حضور شان ضروری باشد، رسماً ابلاغ نمايد.

## تحقيق تکميلی

**مادۀ يکصد وهفتاد وهفتم:**

هرگاه بعداز اقامۀ دعوای جزائی واحالۀ قضيه به محکمه، نظر به بروز دلايل جديد، ضرورت تحقيق تکميلی محسوس گردد يا محکمه آنرا لازم داند، څارنوالی طبق احکام اين قانون مکلف به انجام آن می باشد.

ketabton.com - The Digital Library



## دریيم باب

## محاکمه

## لومړی فصل

## د جزايي قضيو په څېړنه کې د محکمو واک

### د څېړنې واک

**يوسلو اته اويايمه ماده:**

د ټولو جزايي دعواوو څېړنه يــوازې د واکمنو محکمو واک دی، خو دا چــې خاص (ځانګړي) قانون بل ډول حکــم کړی وي.

### حوزوي واک

**يوسلو نهه اويايمه ماده:**

(۱)د جزايي قضيې د څېړنــې واکمنــه محکمه، د جرم د ارتکاب د ځای محکمه يا د تورن د نيولو د ځای محکمه او يا د اوسېدنې د ځای محکمه ده.

(۲)په جرم باندې د پيل په حالت کــې، واکمنه محکمه هغه محکمه ده چې پــه جرم باندې د پيل د اعمالو له جملې څخه وروستی عمل د هغې په قضايي حوزه کې

## باب سوم

## محاکمه

## فصل اول

## صلاحیت محاکم در رسیدگی قضایای جزائی

### صلاحیت رسیدگی

**مادهٔ یکصد وهفتاد وهشتم:**

رسیدگی به تمام دعاوی جزائی تنها از صلاحیت محاکم ذیصلاح می باشــد، مگر اینکه قانون خاص طــور دیگــری حکم نموده باشد.

### صلاحیت حوزوی

**مادهٔ یکصد وهفتاد ونهم:**

(۱) محکمهٔ ذیصلاح رسیدگی به قضیهٔ جزائی، محکمهٔ محل ارتکاب جرم یــا محکمهٔ محل گرفتاری و یامحکمهٔ محل سکونت متهم می باشد.

(۲) در حالــت شــروع بــه جــرم، محکمهٔ ذیصلاح محکمهٔ است که آخرین عمل از جملهٔ اعمال شروع به جرم در حــوزهٔ قضــائی آن انجــام شــده

ketabton.com - The Digital Library



سرته رسېدلی وي.

(۳)د مستمرو جرمونو په هکله، هغه ځای چې جرم هلته پایته رسېدلی دی او د اعتیادي (د روږدي کېدو)جرمونو په هکله د هغهٔ عمل د سرته رسېدو ځای چې اعتیادي منځته راوړی دی، د جرم د پېښېدو ځای ګڼل کېږي.

(۴)ستره محکمه کولای شي په داسې احوالو کې چې امنیتي اوضاع يې ایجاب کړي یا نور داسې قانوني معاذیر مخې ته راشي چې د اړوندو اشخاصو یا لوی څارنوال لخوا سترې محکمې ته وړاندیز شي، د قضیې څېړنه له واکمنې محکمې څخه بلې محکمې ته وسپاري، په هغه صورت کې ټاکل شوې محکمه واکمنه محکمه پېژندل کېږي.

(۵)په هغه حالاتو کې چې قانون د قضیې څېړنه د خاصې محکمې په واسطه اټکل کړې وي، هغه ځای چې خاص قانون د محکمې مقر ټاکلی وي، واکمنه محکمه پېژندل کېږي.

باشد.

(۳) درمورد جرایم مستمر، محلی که جرم در آن خاتمه یافته و در مورد جرایم اعتیادی محل انجام عملی که اعتیادرا ببار آورده است، محل وقوع جرم شناخته می شود.

(۴) ستره محکمه می تواند دراحوالی که اوضاع امنیتی ایجاب نماید یا معاذیرقانونی دیگری پیش آیدکه ازطرف اشخاص ذیعلاقه یا لوی څارنوال به ستره محکمه پیشنهاد گردد، رسید گی قضیه را ازمحکمهٔ ذیصلاح به محکمهٔ دیگری تفویض نماید، درآنصورت محکمهٔ تعیین شده محکمهٔ ذیصلاح شناخته می شود.

(۵) در حالاتی که قانون، رسیدگی قضیه را توسط محکمهٔ خاص پیشبینی نموده باشد، محلی که قانون خاص، مقرمحکمه را تعیین نموده باشد، محکمهٔ ذیصلاح شناخته می شود.

ketabton.com - The Digital Library



**د هېواد له قلمرو څخه بهر د جرم ارتکاب**

**یوسلو اتیایمه ماده:**

**که چېرې جرم د هېواد له قلمرو څخه بهر ارتکاب شوی وي او د افغانستان د قوانینو حکمونه پدې هکله د تطبیق وړ وګڼل شي او تورن د افغانستان په دننه کې نیول شوی نه وي یا په افغانستان کې د اوسېدنې ټاکلی ځای ونلري،د کابل ولایت محکمه، واکمنه محکمه ده.**

**د جزایي دعوې توقف (درول)**

**یوسلو یو اتیایمه ماده:**

**(۱)که چېرې د جزایي دعوې څېړنه، له نورو جزایي قضیو څخه د یوې قضیې یا د شخصیه احوالو یا د جزایي محکمې له قضایي ساحې څخه بهر د مدني دعوې څېړنې ته موقوفه وي، محکمه، د نوموړې دعوې په هکله د قطعي حکم تر صادرېدو پورې، د جزایي دعوې څېړنه ځنډوي او موضوع د حل او فصل لپاره واکمنې محکمې ته ارجاع او له خپلو اجراآتو څخه تورن،**

**ارتکاب جرم درخارج از قلمرو کشور**

**مادهٔ یکصد وهشتادم:**

**هرگاه جرم در خارج قلمرو کشور ارتکاب گردیده باشد و احکام قوانین افغانستان در مورد قابل تطبیق دانسته شود و متهم در داخل افغانستان گرفتار نشده یا محل سکونت معین در افغانستان نداشته باشد، محکمهٔ ولایت کابل، محکمهٔ ذیصلاح می باشد.**

**توقف دعوای جزائی**

**مادهٔ یکصد وهشتاد ویکم:**

**(۱) هرگاه رسیدگی به دعوای جزائی موقوف به رسید گی قضیهٔ از قضایای جزائی دیگر یااحوال شخصیه و یا دعوای مدنی خارج ساحهٔ قضائی محکمهٔ جزائی باشد، محکمه، الی صدور حکم قطعی در مورد دعوای مذکور رسیدگی به دعوای جزائی را معطل قرار داده وموضوع را غرض حل وفصل به محکمهٔ ذیصلاح ارجاع و از اجراآت خود متهم، مدعی حق العبد،**

ketabton.com - The Digital Library



د حق العبد مـدعي، مجنـي عليـه، د حق العبد مسئول يا دهغوی قانوني استازي خبروي.

(۲)په هغهٔ صورت کې چـې د جزايـي دعويٰ څېړنه د عين محکمې د واک پـه حيطه کې د بلې جزايي دعويٰ، يا دمدني دعويٰ يا حق العبدي دعويٰ څېړنې تـه موکول وي، لومړی جزايي دعويٰ يـا د موکول اليه حق العبدي دعويٰ خلاصوي (پايته رسوي) او وروسته د مؤجبه اسبابو د موجوديت په صورت کې،د نظـر وړ جزايي دعويٰ څېړنه کوي.

مجنی علیه، مسئول حـق العبـد يـا نماينـدگان قـانونی آنهـا را مطلـع می سازد.

(۲) در صورتی که رسيدگی به دعوای جزائی موکول به رسيدگی دعوای جزائی ديگر يـا دعـوای مـدنی يـادعوای حق العبدی در حيطهٔ صـلاحيت عـين محکمه باشد، اولاً به دعوای جزائی يا دعوای حق العبدی موکول اليه پرداخته و سپس در صورت موجوديت اسـباب موجبه،دعوای جزائی مـورد نظـر را رسيدگی می کند.

ketabton.com - The Digital Library



## دوه يم فصل

## د واک (صلاحيت) تنازع

### د تنازع څرګندېدل

**يوسلو دوه اتيايمه ماده:**

د واک تنازع هغه وخت را څرګندېږي چې دوه محکمې د يوې جزايي قضيې د څېړنې د واک د لرلو يا نلرلو په اړه قرار صادر کړي.

### د نه واک د قرار صادرېدل

**يوسلو درې اتيايمه ماده:**

(۱)که چېرې د محکمې په وړاندې څرګنده شي چې د قضيې څېړنه د قانون د حکمونو مطابق، د هغې په واک کې شامله نده، خپل قرار د موضوع په څېړنه کې د نه واک او د واکمنې محکمې د تشخيص په اړه صادروي او دوسيه اړوندې څارنوالۍ ته اعاده کوي.

(۲)څارنوالي هر څومره ژر موضوع هغې محکمې ته چې واکمنه تشخيص شوېده، ارجاع کوي او په هغهٔ صورت کې چې دغه محکمه هم ځان د نه واک لرونکې تشخيص کړي، په هکله يې د نه واک

## فصل دوم

## تنازع صلاحيت

### ظهور تنازع

**مادهٔ يکصدوهشتاد ودوم:**

تنازع صلاحيت زمانی ظهور می نمايد که دو محکمه در رابطه به داشتن يا نداشتن صلاحيت رسيدگی يک قضيهٔ جزائی قرار صادر نمايند.

### صدور قرار عدم صلاحيت

**مادهٔ يکصد وهشتاد وسوم:**

(۱) هرگاه نزد محکمه واضح گردد که رسيد گی به قضيه طبق احکام قانون ، شامل صلاحيت آن نمی باشد، قرارخودرا مبنی بر عدم صلاحيت رسيدگی در موضوع و تشخيص محکمهٔ ذيصلاح صادر و دوسيه را به څارنوالی مربوط اعاده می نمايد.

(۲) څارنوالی هر چه زود تر موضوع را به محکمهٔ که ذيصلاح تشخيص شده، ارجاع ميدارد و درصورتی که اين محکمه نيز خود را فاقد صلاحيت تشخيص نمايد، قرار عدم صلاحيت را

ketabton.com - The Digital Library



قرار صـــادروي او موضـــوع اړونــــدې څارنوالۍ ته اعاده کوي.

**د واک د تنازع د حل او فصل مرجع**

**یوسلو څلور اتیایمه ماده:**

که چېرې ددې قانون پــه يوســـلو درې اتيايمه ماده کې درج شوي د نه واک د قرارونو صادروونکې محکمـــې د يـــوهٔ ولايت د استيناف د محکمې په قضـــايي حوزه کې واقع وي، د اړوند ولايـــت د استيناف محکمه،د تنازع د حل او فصل مرجع ده او په هغهٔ صورت کې چې تنازع د دوو ولايتونو د استيناف د محکمو په قضايي حوزه کې د واقع دوو محکمو تر منځ واقع شوې وي، ستره محکمه تنازع رفع کوي.

**د واکمنې محکمې غوښتنه**

**یوسلو پنځه اتیایمه ماده:**

(۱)څارنوال او د قضيې نـــور اړخونـــه کولای شي د واکمنې محکمې دټاکنې په هکله خپل نظر هغې مرجع ته چې د تنازع د لرې کولو واک لري، وړاندې کړي. غوښتنلیک د محکمې د تحريراتو دفتر ته

در زمینه صادر و موضوع را به څارنوالی مربوط اعاده می نماید.

**مرجع حل وفصل تنازع صلاحیت**

**مادهٔ یکصد وهشتاد وچهارم:**

هرگاه محاکم صادر کنندهٔ قرار هـــای عدم صلاحیت مندرج مـــادهٔ یکصـــدو هشتاد وسوم این قانون در حوزهٔ قضائی محکمهٔ استیناف یک ولایت قرار داشته باشند، محکمهٔ استیناف ولایت مربوط، مرجع حل وفصل تنازع می باشد و در صورتی که تنازع میان دو محکمـــه‌ای واقـــع در حـــوزهٔ قضـــائی محـــاکم استیناف دو ولایت واقع شده باشـــد، ســـتره محکمـــه بـــه رفـــع تنـــازع می پردازد.

**تقاضای محکمهٔ ذیصلاح**

**مادهٔ یکصدو هشتادوپنجم:**

(۱) څارنوال و سایر طرفین قضیه مـــی توانند نظر خویشرا راجع بـــه تعیـــین محکمهٔ ذیصلاح به مرجعی که صلاحیت رفع تنازع را دارد، ارایه نمایند. درخواست به دفتر تحریرات محکمـــه

ketabton.com - The Digital Library



سپارل کېږي، نومونړی دفتر مکلف دی موضوع اړوندو اشخاصو ته ابلاغ کړي.
په هغهٔ صورت کې چې اړخونه اعتراض ولري،کولای شي هغه د ابلاغ له نېټې څخه وروسته د (۱۰) ورځو مودې په ترڅ کې په ليکلې توګه د محکمې د تحريراتو دفتر ته وسپاري.

(۲)محکمه د اړخونو د غوښتنو د رسېدو له نېټې څخه وروسته د (۱۰) ورځو مودې په ترڅ کې يا د تنازع د لرې کولو په برخه کې د اعتراض د مودې په تېرېدو او د واکمنې محکمې په ټاکلو سره قرار صادروي، دغه قرار قطعي دی.

سپرده می شود، دفتر مذکورمکلف است موضوع را به اشخاص ذیربط ابلاغ نماید. در صورتی که طرفین اعتراض داشته باشند، می توانند آنرا در خلال مدت (۱۰) روز بعد از تاریخ ابلاغ طور کتبی به دفتر تحریرات محکمه بسپارند.

(۲) محکمه در خلال مدت (۱۰) روز بعد از تاریخ وصول مطالبات طرفین یا انقضای میعاد اعتراض در زمینه رفع تنازع و تعیین محکمهٔ ذیصلاح، قرار صادر می نماید، این قرار قطعی می باشد.

ketabton.com - The Digital Library



## دريم فصل

## د تزوير فرعي دعویٰ

### د تزوير دعویٰ

**يوسلو شپږاتيایمه ماده:**

(۱)د دعویٰ اړخونه کولای شي د کشف، تحقيق او د دعویٰ د اقامې له پړاوونو څخه په هر پړاو کې له وړاندې شوو پاڼو او سندونو څخه پر هره پاڼه د تزوير دعویٰ اقامه کړي.

(۲)د تزوير په دعویٰ کې د هغې پاڼې ټاکل چې پرخلاف يې دعویٰ صورت مومي او د هغې د دلايلو يادول حتمي دي.

### د اصل قضيې د څېړنې درول

**يوسلو اووه اتيايمه ماده:**

محکمه دتزوير د ادعا وړ پاڼه، د تحقيق د اجراء په منظور څارنوالۍ ته محولوي.

په هغهٔ صورت کې چې د تزوير د ادعا وړ پاڼه د قضايي څېړنې په پايلې او د حکم په صادرېدو باندې اغيزمنه وي، محکمه د قضيې څېړنه د تزوير د دعویٰ تر انفصاله پورې ځنډوي او د تزوير د اثبات په

## فصل سوم

## دعوای فرعی تزوير

### دعوای تزوير

**مادهٔ يکصد وهشتاد وششم:**

(۱) طرفين دعوی می توانند در هر مرحله از مراحل کشف، تحقيق و اقامهٔ دعوی بالای هر ورق از اوراق و اسناد ارايه شده، دعوای تزوير را اقامه نمايند.

(۲) در دعوای تزوير، تعيين ورقی که عليه آن دعوی صورت می گيرد و ذکر دلايل آن حتمی می باشد.

### توقف رسيدگی به اصل قضيه

**مادهٔ يکصد وهشتاد وهفتم:**

محکمه ورق مورد ادعای تزوير را به منظور اجرای تحقيق به څارنوالی محول می نمايد. در صورتی که ورق مورد ادعای تزوير به نتيجهٔ رسيدگی قضائی و صدور حکم مؤثر باشد، محکمه رسيدگی به قضيه را الی انفصال دعوای تزوير به تعويق می اندازد و در صورت

ketabton.com - The Digital Library



صورت کې، سربېره پردې چې مزوره پاڼه قانوني اعتبار له لاسه ورکوي، د تزوير فاعل هم تر عدلي تعقيب لاندې نيول کېږي. په هغهٔ صورت کې چې دعوي په اثبات ونه رسېږي، د تزوير مدعي د قانون د حکمونو مطابق تر عدلي تعقيب لاندې نيول کېږي.

## د اجراآتو په ابطال (باطلېدو) حکم

**يوسلو اته اتيايمه ماده:**

که چېرې محکمه له پاڼو څخه د ځينو په تزوير يا د تحقيق له اجراآتو څخه د يوې برخې په ابطال حکم صادر کړي، پداسې ډول چې مزورې پاڼې يا باطل شوي اجراآت د قضيو د څېړنو په پايلو او په قضيه کې د محکمې پر حکم اغېزمن وي، محکمه له احوالو سره سم، د تحقيق د اجراآتو د هماغې برخې په تصحيح يا بيا اجراء حکم صادروي او موضوع په محضر کې درجېږي.

اثبات تزوير، علاوه بر اينکه ورق مزور اعتبار قانونی را از دست ميدهد، فاعل تزويرنيزمورد تعقيب عدلی قرار می گيرد. درصورتی که دعوی به اثبات نرسد، مدعی تزوير مطابق احکام قانون مورد تعقيب عدلی قرار می گيرد.

## حکم به ابطال اجراآت

**مادهٔ يکصد وهشتاد وهشتم:**

هرگاه محکمه به تزوير برخی از اوراق يا ابطال برخی از اجراآت تحقيق حکم صادر نمايد، بنحوی که اوراق مزوريا اجراآت باطل شده در نتايج رسيدگی قضايا وحکم محکمه درقضيه مؤثرباشد، محکمه حسب احوال به تصحيح يا اجرای مجدد همان قسمت از اجراآت تحقيق امر صادر نموده و موضوع در محضر درج می گردد.

ketabton.com - The Digital Library



## څلورم فصل

## د حق العبد دعوې

### د حق العبد ادعا

**یوسلو نهه اتیایمه ماده:**

(۱)هغه شخص چې له جرم څخه زیانمن شوی دی، کولای شي حق العبدي او د زیان د جبران دعوې له جزایي دعـوې سره یوځای د هغې ابتدائیه محکمې پـه وړاندې چې د جزایي قضیې څېړنه کوي، اقامه کړي.

(۲)د قتل او جرحې په جرمونو کې چې موجب یې قصـاص یـا دیـت وي، د حق العبد مدعي ته د لومړیتـوب حـق ورکول کېږي. محکمه د څارنـــوال د دعوې له څېړنې دمخه،د حق العبد مدعي ته وخت (فرصت) ورکـوي، څوخپلـه حق العبدي دعوې اقامه یا د مصالحې او یا له نوموړې دعوې څخه د انصراف پر بنسټ حق العبدي دعوې پایته ورسوي.

(۳) د حق العبدي جزایي دعوې په اړوندو جزایي محکمو او د زیان جبران دعوې د څارنوال له دعوې سره یو ځای په عـین

## فصل چهارم

## دعوای حق العبد

### ادعای حق العبد

**مادۀ یکصد وهشتاد ونهم:**

(۱) شخصی که از جرم متضرر گردیده است، می تواند دعوای حق العبـدی و جبران خساره را توأم با دعوای جزائی در پیشگاه محکمۀ ابتدائیۀ که به قضیۀ جزائی رسـیدگی مـی کنـد، اقامـه نماید.

(۲) در جرایم قتل وجرح که موجـب آن قصاص یادیت باشـد، بـه مـدعی حق العبد حق اولیت داده مـی شـود. محکمه قبل از رسیدگی بـه دعـوای څارنوال، به مدعی حق العبد فرصت می دهد، تا دعوای حق العبدی خود را اقامه یا بر اساس مصالحه و یا انصـراف از دعوای مذکور به دعوای حق العبـدی پایان بخشد.

(۳) دعوای جزائی حـق العبـدی در محاکم جزائی مربوط و دعوای جبران خساره توأم با دعوای څارنوال درعین

ketabton.com - The Digital Library



جزايي محكمه کې دايرېږي.

(۴) د حق العبد مدعي نشي کولای د ابتدائيه محکمې لخواد جزايي حکم له صادرېدو وروسته، د زيان د جبران دعوىٰ په استينافي پړاوونو کې اقامه کړي، پدې صورت کې د حق العبد مدعي کولای شي پدې برخه کې د قطعي حکم له صادرېدو وروسته د زيان د جبران دعوىٰ په مدني محکمه کې، د اړوندو قواعدو مطابق اقامه کړي.

## د حق العبدي دعوىٰ په هکله د جزايي محکمې د واک محدوديت

يوسلو نوي يمه ماده:

جزايي محکمه له جرم څخه د را پيدا شوي زيان د حق العبدي دعوىٰ په څېړنه کې په هغهٔ صورت کې د واک لرونکې ده چې د محکمې له تر څېړنې لاندې جزايي دعوىٰ سره اړه ولري او په قضيه کې د جزايي حکم له صادرېدو دمخه د هغې په وړاندې اقامه شي.

محكمهٔ جزائی دائر می گردد.

(۴) مدعی حق العبد نمی تواند بعد از صدور حکم جزائی از طرف محکمهٔ ابتدائيه، دعوای جبران خساره را در مراحل استينافی اقامه نمايد، در اين صورت مدعی حق العبد می تواند بعد از صدور حکم قطعی در زمينه دعوای جبران خساره را در محکمهٔ مدنی، مطابق قواعد مربوط اقامه نمايد.

## محدوديت صلاحيت محکمهٔ جزائی در مورد دعوای حق العبدی

مادهٔ يکصد ونودم:

محکمهٔ جزائی در رسيدگی به دعوای حق العبدی جبران خسارهٔ ناشی از جرم در صورتی حايزصلاحيت می باشد که با دعوای جزائی تحت رسيدگی محکمه ربط داشته وقبل از صدورحکم جزائی در قضيه به پيشگاه آن اقامه شود.

ketabton.com - The Digital Library



## حق العبدي دعوىٰ

**یوسلو یو نوي یمه ماده:**

د زیان د جبران حق العبدي دعوىٰ د محکمې لخوا د جزايي دعوىٰ د څېړنې په منظور د قضايي غونډې له دايرېدو دمخه تورن ته ابلاغ او هغهٔ ته فرصت ورکول کېږي څو خپله دفاعيه د غونډې په ورځ چمتو کړي. که چېرې تورن د فاع ته حاضر نشي او د مهلت غوښتونکی شي، محکمه هغهٔ ته مهلت ورکوي او د حق العبدي دعوىٰ څېړنه ځنډوي.

## د احالې په امر کې د حق العبدي دعوىٰ شاملول

**یوسلو دوه نوي یمه ماده:**

که چېرې مدعي دمخه د تحقیق په بهیر کې ځان د حق العبد د مدعي په توګه معرفي کړی وي او خپله دعوىٰ يې څارنوالۍ ته وړاندې کړې وي، محکمې ته د جزايي دعوىٰ د احالې په قرار کې د قضيې د حق العبدي دعوىٰ د برخې اقامه هم شامله ګڼل کېږي.

## دعوای حق العبدی

**مادهٔ یکصد ونود ویکم:**

دعوای حق العبدی جبران خساره قبل از دایر شدن جلسهٔ قضائی به منظوررسیدگی به دعوای جزائی از طرف محکمه به متهم ابلاغ وبه اوفرصت داده می شود تا دفاعیهٔ خودرا بروزجلسه آماده نماید.هرگاه متهم حاضر به دفاع نگردیده وخواهان مهلت شود، محکمه به اومهلت داده و رسیدگی به دعوای حق العبدی رامعطل قرار می دهد.

## شمول دعوای حق العبدی در امر احاله

**مادهٔ یکصد ونود ودوم:**

هرگاه مدعی قبلاً در جریان تحقیق خودرا به صفت مدعی حق العبد معرفی و دعوای خود را به څارنوالی تقدیم نموده باشد، قرار احالهٔ دعوای جزائی به محکمه، شامل اقامهٔ قسمت دعوای حق العبدی قضیه نیز دانسته می شود.

ketabton.com - The Digital Library



## له حق العبدي دعوىٰ پرته د جزايي دعوىٰ څېړنه

**يوسلو درې نوي يمه ماده:**

كه چېرې په قضيه كې حق العبدي يا د زيان د جبران دعوىٰ د جزايي دعوىٰ د بهير د ځنډېدو باعث شي، محكمه كولاى شي د جزايي دعوىٰ څېړنې ته د حق العبدي دعوىٰ له عنصر پرته دوام وركړي او د حق العبد مدعي ته موقع وركړي څو د جزايي دعوىٰ په هكله د قطعي حكم له صادرېدو وروسته، خپله دعوىٰ په مدني محكمه كې اقامه كړي.

## د قانوني استازي ټاكنه

**يوسلو څلور نوي يمه ماده:**

كه چېرې مجني عليه يا زيانمن شوى(متضرر) د دعوىٰ د اقامې واک ونلري، د ولي لرونكى هم نه وي،پدې صورت كې هغه محكمه چې جزايي دعوىٰ يې تر څېړنې لاندې ده، مكلفه ده هغۀ ته د حق العبدي دعوىٰ د اقامې لپاره له احوالو سره سم وصي يا قيم وټاكي.

## رسيدگی به دعوای جزائی بدون ادعای حق العبدی

**مادۀ يكصد ونود وسوم:**

هرگاه اقامۀ دعوای حق العبدی يا جبران خساره در قضيه موجب تأخير جريان دعوای جزائی شود، محكمه می تواند رسيدگی به دعوای جزائی را بدون عنصر دعوای حق العبدی ادامه داده و به مدعی حق العبد موقع بدهد تا بعد از صدور حكم قطعی درمورد دعوای جزائی، دعوای خود را به محكمۀ مدنی اقامه نمايد.

## تعيين نمايندۀ قانونی

**مادۀ يكصد ونود وچهارم:**

هرگاه مجنی عليه يا متضرر صلاحيت اقامۀ دعوی را نداشته، فاقد ولی نيز باشد، در اين صورت محكمه ای كه دعوای جزائی تحت رسيدگی آن قرار دارد، مكلف است جهت اقامۀ دعوای حق العبدی برای وی حسب احوال وصی يا قيم تعيين نمايد.

ketabton.com - The Digital Library



## د تورن د بشپړ حقوقي اهليت لرل

**يوسلو پنځه نوي يمه ماده:**

د زيان د جبران دعويٰ د تورن پرخلاف د بشپړ اهليت د لرلو په صورت کې او په غير ددې د حق العبد د مسئول پرخلاف، اقامه کېږي.

## د حق العبد د مدعي له منلو سره مخالفت

**يوسلو شپږنوي يمه ماده:**

(۱)تورن يا د حق العبد مسئول يا ځارنوال کولای شي د دعويٰ په بهير کې د حق العبد د مدعي د لاسوهنې (مداخلې) پرخلاف اعتراض او مخالفت وکړي.

(۲)د دعويٰ د منلو يا د حق العبد مدعي د لاسوهنې په اړه ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو اشخاصو اعتراض او مخالفت د جزايي يا مدني محکمې په وړاندې د هغهٔ د دعويٰ خنډ نه کېږي.

## داشتن اهليت کامل حقوقی متهم

**مادهٔ يکصد ونود وپنجم:**

دعوای جبران خساره درصورت داشتن اهليت کامل عليه متهم ودرغيرآن عليه مسئول حق العبد، اقامه می گردد.

## مخالفت با قبول مدعی حق العبد

**مادهٔ يکصد ونود وششم:**

(۱) متهم يا مسئول حق العبد و ځارنوال می توانند عليه مداخلهٔ مدعی حق العبد در جريان دعوی اعتراض ومخالفت نمايند.

(۲) اعتراض و مخالفت اشخاص مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده مبنی بر قبول دعوی يا مداخلهٔ مدعی حق العبد مانع دعوای وی در پيشگاه محکمهٔ جزائی يا مدنی نمی گردد.

ketabton.com - The Digital Library



## د حق العبد د دعوىٰ سقوط او نــه سقوط

**يوسلو اووه نوي يمه ماده:**

(۱)د زيان د جبران حق العبدي دعوي يا نور مالي حقوق، د هغې مودې په تېرېدو سره چې د مدني دعوىٰ د سقوط لپاره په قانون کې اټکل شوېده، ساقطېږي.

(۲)که چېرې جزايي دعوىٰ لــه اقــامې وروسته له اسبابو څخه په يوۀ سبب ساقطه شي، حق العبدي دعوىٰ چې له هغې سره يو ځاى اقامه شوېده، نه ساقطېږي.

## د حق العبد دعوىٰ ترک کول

**يوسلو اته نوي يمه ماده:**

(۱)د حق العبد مدعي کولاى شي خپلــه دعوىٰ په هر پړاوو کې چې غوښتې يې دي، ترک کړي.

(۲)له حق العبدي دعوىٰ څخه انصراف پر جزايي دعوي باندې له مخففه حالــت پرته، اغېزه نلري، خودا چې قانون بــل ډول حکم کړى وي.

(۳)که چېرې په حضور په تکليف د ابلاغ باوجود،د حق العبد مدعي جزايي محکمې

## سقوط وعــدم ســقوط دعــواى حق العبد

**مادۀ يکصد ونود وهفتم:**

(۱) دعواى حق العبدى جبران خساره يا ساير حقوق مالى با سپرى شدن ميعادى که در قانون براى سقوط دعواى مدنى پيشبينى شده است، ساقط مى گردد.

(۲) هرگاه دعواى جزائى بعد از اقامه به سببى از اسباب ساقط گردد، دعواى حق العبدى که توأم با آن اقامه شده است ، ساقط نمى گردد.

## ترک دعواى حق العبد

**مادۀ يکصد ونود وهشتم:**

(۱) مدعى حق العبد مى تواند دعــواى خود را در هر مرحله اى که خواســته باشد، ترک نمايد.

(۲) انصراف از دعواى حــق العبــدى بالاى دعواى جزائى جزحالت مخففــه تاثيرى ندارد، مگر اينکه قانون طــورى ديگرى حکم نموده باشد.

(۳) هرگاه با وجود ابلاغ تکليف بــه حضور، مدعى حق العبد بــه محکمــۀ

ketabton.com - The Digital Library



ته حاضر نشي يا خپله دعویٰ په ليکلـــې توګه وړاندې نکړي او يا خپل قـــانوني استازی و نه استوي او خپل غيابت يـــا محکمې ته د دعویٰ نه وړانـــدې کـــول توجيه نکړي، د هغهٔ نه حضور، په جزايي محکمه کې د حق العبدي دعویٰ د ترک په حکم کې ګڼل کېږي.

(۴)که چېرې د حق العبد مدعي په جزايي محکمه کې دعویٰ ترک کړي، کـــولای شي د زيان د جبران خپله دعویٰ په مدني محکمه کې اقامه کړي، پدې شرط چې دمخه يې په جزايي محکمه کې د هغهٔ حق په ترک کولو چې د ترلاسه کولو لپاره يې په مدني محکمه کې دعویٰ دايره کـــړې تصريح نه وي کړې.

(۵)د حق العبد د مدعي لخوا د دعـــویٰ ترک، له دعویٰ څخه دحـــق العبـــد د مسئول د وتلو (خروج) سبب کېږي، پدې شرط چې دعویٰ ته د هغهٔ ور داخلېدل د حق العبد د مدعي د غوښتنې پر بنسټ، صورت موندلی وي.

جزائی حاضر نگرديده يا دعوای خودرا کتباً تقديم نکند ويا نمايندهٔ قانونی خود را نفرستد و دليل غيابت يا عدم تقديم دعوای خود را به محکمه توجيه نکند، عدم حضور او در حکم ترک دعـــوای حق العبدی در محکمهٔ جزائـــی تلقـــی می گردد.

(۴) هرگـــاه مـــدعی حـــق العبـــد در محکمهٔ جزائی ترک دعوی نمايد، مـــی تواند دعوای جبران خسارهٔ خود را در محکمهٔ مدنی اقامه نمايد، مشروط بـــر اينکه قبلاً در محکمهٔ جزائی به تـــرک حقی که برای حصول آن در محکمـــهٔ مدنی دعوی داير نموده، تصريح نکرده باشد.

(۵) ترک دعـــوی از جانـــب مـــدعی حق العبـــد، ســـبب خـــروج مســـئول حق العبد از دعـــوی می گردد، مشروط براينکه دخول وی در دعوی بر اساس مطالبهٔ مدعی حق العبد، صورت گرفته باشد.

ketabton.com - The Digital Library



## له مدني محکمې څخه جزايي محکمې ته د حق العبد د دعوىٰ لېږد

**يوسلو نهه نوي يمه ماده:**

(۱)که چېرې د حق العبد مدعي، د زيان د جبران دعوىٰ په مدني محکمه کې اقامه کړې وي اوله هغې وروسته جزايي دعوىٰ د جزايي محکمې په وړاندې دايره شي، کولای شي خپله دعوىٰ له جزايي دعوىٰ سره يو ځای اقامه کړي، پدې شرط چې تر اوسه مدني محکمې پدې برخه کې حکم صادر کړی نه وي.

(۲)که چېرې د حق العبدي دعوىٰ په مدني محکمه کې دايره شي، د هغې څېړنه د جزايي دعوىٰ د وروستنۍ پايلې ترلاسه کولو پورې چې دمخه يا د هغې په بهير کې په جزايي محکمه کې دايره شوې ده، معطلېږي، پدې شرط چې ادعا شوی حق، د جرم له اثبات سره ارتباط (اړه) ولري.

(۳)که چېرې د جزايي دعوىٰ څېړنه د جنون يا نورو قانوني معاذيرو له امله معطل شي، حق العبدي دعوىٰ تر څېړنې لاندې

## انتقال دعوای حق العبدی ازمحکمۀ مدنی به محکمۀ جزائی

**مادۀ يکصد ونود ونهم:**

(۱) هرگاه مدعی حق العبد، دعوای جبران خساره را در محکمۀ مدنی اقامه نموده باشد و بعد از آن دعوای جزائی در پيشگاه محکمۀ جزائی داير گردد، می تواند دعوای خود را توأم با دعوای جزائی اقامه نمايد، مشروط بر اينکه هنوز محکمۀ مدنی در زمينه حکم صادر نکرده باشد.

(۲) هرگاه دعوای حق العبدی در محکمۀ مدنی داير گردد، رسيدگی به آن الی حصول نتيجۀ نهائی دعوای جزائی که قبلاً يا در جريان آن به محکمۀ جزائی داير گرديده است، معطل می شود، مشروط بر اينکه حق ادعا شده به اثبات جرم ارتباط داشته باشد.

(۳) هرگاه رسيدگی دعوای جزائی به اثر جنون يا ساير معاذير قانونی معطل گردد، دعوای حق العبدی مورد رسيدگی قرار

ketabton.com - The Digital Library



نیول کېږي.

**ددې قانون دحکمونو په پام کې نیول**

**دوه سومه ماده:**

د حق العبدي دعوې په حل اوفصل کې چې د جزایي محکمې په وړاندې دایرېږي، د حقوقي دعواوو په څېړنې پورې د اړوند قانون حکمونه تطبیقېږي.

**د زیان د جبران پرغوښتنه د برائت د حکم اغېزه**

**دوه سوه یوه یمه ماده:**

(۱) په جزایي دعوې کې د تورن برائت د زیانمن شوي یا د حق العبد د مدعي د زیان دجبران د حق د غوښتنې، خنډ نه کېږي.

(۲) تورن کولای شي د حق العبد له مدعي څخه د هغهٔ زیان جبران چې د حق العبد د مدعي د ناحقې دعوې له امله هغهٔ ته رسېدلی دی، په جزایي محکمه کې د قانون د حکمونو مطابق، وغواړي.

می گیرد.

**رعایت احکام این قانون**

**مادهٔ دوصدم:**

درحل و فصل دعوای حق العبدی که در پیشگاه محکمهٔ جزائی دایر می شود، احکام قانون مربوط به رسیدگی دعاوی حقوقی تطبیق می گردد.

**اثرحکم برائت برمطالبهٔ جبران خساره**

**مادهٔ دوصد ویکم:**

(۱) برائت متهم در دعوای جزائی، مانع مطالبهٔ حق جبران خسارهٔ متضرر یا مدعی حق العبد، از وی نمی گردد.

(۲) متهم می تواند از مدعی حق العبد، جبران خساره ای را که به اثر دعوای نا حق مدعی حق العبد به وی وارد گردیده، در محکمهٔ جزائی مطابق احکام قانون مطالبه نماید.

ketabton.com - The Digital Library



## پنځم فصل

## مقدماتي اجراآت

### د رپوټ برابرول

**دوه سوه دوه یمه ماده:**

(۱)د ابتدائیه محکمې رئیس د جزایي دعوې د دوسیې له رسېدو وروسته، د مقدماتي څېړنې او د هغې د رپوټ د برابرولو لپاره د محکمې له قاضیانو څخه یو توظیفوي.

(۲)د قضیې د مقدماتي څېړنې په وخت کې، لاندې موضوعګانې تر کتنې (مطالعې) لاندې نیول کېږي:

۱-د محکمې موضوعي او حوزوي واک.

۲-د جرم د پېښېدو او تورن ته د هغهٔ د انتساب څرنګوالی.

۳-د جرم وصف.

۴-د تورن جزایي مسئولیت.

۵-د تورن ټولنیزه روغتیایي اوضاع او احوال او نور سوابق.

۶-د تحقیق او جزایي دعوې د اقامې په پړاو کې پدې قانون کې د درج شوو

## فصل پنجم

## اجراآت مقدماتی

### تهیهٔ گزارش

**مادهٔ دوصد ودوم:**

(۱) رئیس محکمهٔ ابتدائیه بعد از مواصلت دوسیهٔ جزائی، جهت بررسی مقدماتی و تهیهٔ گزارش آن، یکی از قضات محکمه را توظیف می نماید.

(۲) حین بررسی مقدماتی قضیه، موضوعات ذیل مورد مطالعه قرار می گیرد:

۱- صلاحیت موضوعی و حوزه وی محکمه.

۲- چگونگی وقوع جرم و انتساب آن به متهم.

۳- وصف جرم.

۴- مسئولیت جزائی متهم.

۵- اوضاع و احوال اجتماعی ، صحی و سایرسوابق متهم.

۶- رعایت اجراآت اساسی مندرج این قانون در مرحلهٔ تحقیق و اقامهٔ دعوای

ketabton.com - The Digital Library



بنستيزو اجراآتو په پام کې نيول.

۷-د تورن په هکله د اثبات دلايل.

(۳) مؤظف قاضي، ددې مادې پـــه (۲) فقره کې د درج شوو اجراآتو رپوټ، د تصميم د نيولو په غرض،د قضايي هيئت غونډې ته قرائت کوي.

(۴) قضايي هيئت د رپوټ له اورېدو او غور ورروسته، د لزوم له مخې يو له لاندې تصميمونو څخه نيسي:

۱-د قضيې د څېړنې د واک يا نه واک په اړه د قرار صادرول.

۲-د تحقيق د بشپړولو لپاره د دوسيې د اعادې په اړه د قرار صادرول.

۳-د جزايي دعوىٰ د اقامې د نه لزوم د قرار صادرول.

۴-د قضايي څېړنـــې پـــه اړه د قـــرار صادرول.

د دعوىٰ د اقامې د نه لزوم قرار

دوه سوه دريمه ماده:

(۱)که چېرې د واکمنې محکمـــې پـــه وړاندې ثابته شي چې ارتکاب شوی فعل، دقانون مطابق د مجازاتو وړندی يا د تورن

جزائی.

۷- دلایل اثبات در مورد متهم.

(۳) قاضـــی مؤظف، گزارش اجراآت مندرج فقرهٔ(۲) این ماده را غرض اتخاذ تصمیم به جلسهٔ هیئت قضائی، قرائـــت می نماید.

(۴) هیئت قضائی بعد از استماع وغور گزارش، حسب لزوم یکی از تصامیم ذیل را اتخاذ می نماید:

۱- صدور قرار مبنی برصلاحیت یاعدم صلاحیت رسیدگی قضیه.

۲- صدور قرار مبنی بر اعادهٔ دوســـیه جهت تکمیل تحقیق.

۳- صدور قرارعدم لزوم اقامهٔ دعوای جزائی.

۴- صدور قرار مبنی بـــر رســـیدگی قضائی.

قرارعدم لزوم اقامهٔ دعوی

مادهٔ دوصد وسوم:

(۱) هرگاه نزد محکمهٔ ذیصلاح ثابـــت گردد که فعل ارتکاب یافته، مطابق قانون قابل مجازات نبوده یا دلایل اثبات علیه

ketabton.com - The Digital Library



پر خلاف د اثبات دلايل وجود نلري او يا تور جزئي دی او د مجازاتو وړنــدی، د دعوۍ د اقامې په نه لزوم قرار صادروي او توقيف شوی تورن په هغۀ صورت کې چې د بلې پيښې له امله تر توقيف لاندې نه وي، خوشې کوي.

(۲)مجني عليه او د حق العبد مدعي يا د هغوی قانوني استازي او څارنوال کولای شي، د قرار د صادرېدو له نېټې څخــه د (۷) ورځو مودې په ترڅ کې، د جزايـــي دعوۍ د اقامې د نـــه لــزوم پـــه اړه د محکمې د قرار پر خلاف خپل اعتــراض مستقيماً يا د قرار د صادروونکې محکمې له لارې د استيناف اړوندې محکمې تـــه وړاندې کړي.

(۳)د استيناف محکمه اعتراض تـــر (۷) ورځو پورې تر څېړنې لاندې نيسي او د اعتراض د مؤجه والي په صورت کـــې د تورن د تعقيب قرار صادروي او د لزوم ديد له مخې، د تـــورن د توقيـــف امـــر تمديدوي.

متهم وجود ندارد و يا اتهام جزئی بوده و قابل مجازات نمی باشد، به عدم لـــزوم اقامۀ دعوی قرار صادر و متهم توقيـــف شده را در صورتی که به اثـــر واقعـــۀ ديگر تحـــت توقيـــف نباشـــد، رهـــا می نمايد.

(۲) مجنی عليه و مدعی حق العبد يـــا نمايندگان قانونی آنها و څارنوال مـــی توانند در خـــلال مـــدت (۷) روز از تاريخ صدور قرار، اعتراض خود را عليه قرار محکمه مبنـــی بـــر عـــدم لـــزوم اقامۀ دعـــوای جزائـــی مســـتقيماً يـــا از طريق محکمۀ صادر کنندۀ قرار بـــه محکمـــۀ اســـتيناف مربـــوط تقـــديم نمايند.

(۳) محکمۀ استيناف اعتراض را الـــی مدت (۷) روز تحت رســـيدگی قـــرار می دهد و درصـــورت مؤجـــه بـــودن اعتراض قرار تعقيب متهم را صـــادر و حسب لزوم ديد، امر توقيف مـــتهم را تمديد می نمايد.

ketabton.com - The Digital Library



## د محاكمې تعليق

**دوه سوه څلورمه ماده:**

(۱) د قباحت په قضيوكې د تورن محاكمه د (۱) كال مودې لپاره، په مشروطه توګه تعليق كېداى (ځنډېدلاى) شي، په هغهٔ صورت كې چې تورن د تعليق په دوره كې د جرم مرتكب نشي، جزايي دعويٰ ساقطېږي.

(۲) كه چېرې تورن د محاكمې د تعليق د مودې په بهير كې د جرم مرتكب شي، د دواړو جرمونو په علت تر محاكمې لاندې نيول كېږي.

## د حكم د تنفيذ تعليق

**دوه سوه پنځمه ماده:**

(۱) محكمه له لاندې شرايطو څخه د يوهٔ د موجوديت په صورت كې، د جنحې په قضيوكې د حكم د تنقيذ په تعليق حكم كوي:

۱- جرم د دندې په اجراء كې د سهل انګارۍ (ساده ګڼلو) او غفلت يا اهمال يا د قانون په فهم (پوهېدنې) كې له خطا (تېروتنې) څخه را پيدا شوى وي.

## تعليق محاكمه

**مادهٔ دوصد وچهارم:**

(۱) محاكمهٔ متهم درقضاياى قباحت براى مدت (۱) سال، به صورت مشروط تعليق شده می تواند، درصورتی كه متهم در دورهٔ تعليق مرتكب جرم نگردد، دعواى جزائی ساقط می گردد.

(۲) هرگاه متهم در خلال مدت تعليق محاكمه مرتكب جرم گردد، به علت هر دو جرم مورد محاكمه قرار می گيرد.

## تعليق تنفيذ حكم

**مادهٔ دوصد وپنجم:**

(۱) محكمه درصورت موجوديت يكی از شرايط آتی به تعليق تنفيذ حكم درقضاياى جنحه حكم می كند:

۱- جرم ناشی از سهل انگارى و غفلت يا اهمال در اجراى وظيفه يا خطا در فهم قانون باشد .

ketabton.com - The Digital Library



۲-د ترافيکي جرم تورن له مصدوم سره مرسته او ياري کړې وي او تښتېدلی نه وي.

۳-مرتکب دمخه په جزاء محکوم شوی نه وي.

۴-محکمه ومومي چې تورن جرمي سابقه (مخينه)نلري او پخپله يې اړوندو مراجعو ته خبر ورکړي يا يې ځان تسليم کړی دی او چلند يې په راتلونکې کې قانون تـه د هغهٔ د اطاعت ښکارندوی وي.

۵- حق العبد مدعي ابراء کړې وي يـا تورن په خپل رضايت سره اړول شـوی زيان جبران کړی وي.

(۲)د تعليق موده (۳) کاله وي او د حکم د صادرېدو له نېټې څخه محاسبه کېږي.

(۳)که چېرې حکم د تنفيذ پر تعليق صادر شي، محکمه له احوالو سره سم مرتکب له لاندې مواردو څخه د تنفيذ د تعليق په موده کې د يوهٔ يا زياتو په سرته رسـولو مکلفوي:

۱-د پوليسو له اجازې پرته، د اوسېدنې د ځای له ښار څخه بهر سفر ونکړي.

۲-په هره اوونۍ يا هره مياشت کـې د

۲- متهم جرم ترافيکـی مصـدوم را کمک وياری نموده و فـرار نکـرده باشد.

۳- مرتکب، قبلاً محکوم بـه جـزاء نشده باشد.

۴- محکمه دريابد که متهم سابقهٔ جرمی نداشته و خود به مراجع مربوط اطلاع يا خود را تسـليم نمـوده ورفتـار وی نمايانگر اطاعت او از قانون در آينـده باشد.

۵- مدعی حق العبد ابراء نموده يا متهم به رضايت خود خسارهٔ وارده را جبران نموده باشد.

(۲) مدت تعليق (۳) سال می باشد و از تاريخ صدور حکم محاسبه می گردد.

(۳) هرگاه حکم بر تعليق تنفيذ صـادر گردد، محکمه حسب احوال مرتکب را به انجام يـک يـا بيشـتر از مـوارد ذيل در مدت تعليـق تنفيـذ مکلـف می سازد:

۱- بدون اجازهٔ پوليس خارج از شـهر محل سکونت سفر نکند.

۲- در هر هفته يا هرماه به دفتر پوليس

ketabton.com - The Digital Library



پولیسو دفتر ته حاضري ورکړي.

۳-د ناریه او جارحه وسلې له ګرځولو څخه ډډه وکړي.

۴-له موټر چلونې (راننده‌ګی)څخه په هغه موده کې چې محکمه یې ټاکي، ډډه وکړي.

۵-د کورنیو، ټولنیزو او اخلاقي مسئولیتونو پابند وي.

۶-په هغو عملونو چې د زیانمن شوي د اذیت (ځورونې) موجب شي، لاس پورې نکړي.

۷-نور هغه موارد چې محکمه یې په پام کې نیول لازم وګڼي.

(۴)که چېرې ددې مادې په (۳) فقره کې درج شوی محکوم علیه له ټاکل شوو شرایطو څخه سرغړونه وکړي یا د تنفیذ د تعلیق په موده کې د جنحې یا جنایت د جرم مرتکب شي، د حکم د تنفیذ تعلیق لغو او مجازات پرې تنفیذېږي.

حاضری دهد.

۳- از حمل اسلحهٔ ناریه وجارحه خود داری نماید.

۴- از رانندگی طی مدتی که محکمه تعیین می کند، خود داری نماید.

۵- به مسئولیت های فامیلی، اجتماعی و اخلاقی پابند باشد.

۶- به اعمالی که موجب اذیت متضرر می گردد، مبادرت نورزد.

۷- سایرمواردی که محکمه رعایت آن را لازم می داند.

(۴) هرگاه محکوم علیه مندرج فقرهٔ (۳) این ماده از شرایط معینه تخلف نماید یا درمدت تعلیق تنفیذ،مرتکب جرم جنحه یا جنایت شود، تعلیق تنفیذ حکم لغو و مجازات بالای وی تنفیذ می گردد.

ketabton.com - The Digital Library



## شپږم فصل

## محكمې ته د حضور مكلفيت

### د حضور غوښتنه

**دوه سوه شپږمه ماده:**

محكمه، د تورن، د مجني عليه د مدافع وكيل، د حق العبد د مدعي، د حق العبد د مسئول او نورو هغو اشخاصو چې د هغوی حضور په قضايي غونډه كې اړين او ګټور وي، حضور غواړي.

### حضور ته د تكليف مهلت

**دوه سوه اوومه ماده:**

محكمه د دعوىٰ اړخونه د قضايي غونډې له جوړېدو څخه لږ تر لږه (۵) ورځې دمخه په هغې كې په حضور مكلفوي.

هغه موده چې د لارې د مسافې د وهلو لپاره لازمه وي، پدې موعد كې نه شاملېږي.

### خبرتيا

**دوه سوه اتمه ماده:**

خبرتياددې قانون په پنځه نوي يمه، شپږنوي يمه، اووه نوي يمه اواته نوي يمه

## فصل ششم

## مكلفيت حضور به محكمه

### مطالبهٔ حضور

**مادهٔ دوصد وششم:**

محكمه حضور متهم،وكيل مدافع مجنى عليه، مدعى حق العبد، مسئول حق العبد و ساير اشخاصى را كه حضور آنها در جلسهٔ قضائى ضرورى ومفيد باشد، مطالبه مى نمايد.

### مهلت تكليف به حضور

**مادهٔ دوصد وهفتم:**

محكمه طرفين دعوى را حد اقل (۵) روز قبل از انعقاد جلسهٔ قضائى به حضور درآن مكلف مى نمايد.

اين موعد شامل مدتى كه براى طى مسافت راه لازم باشد، نمى گردد.

### اطلاعيه

**مادهٔ دوصد وهشتم:**

اطلاعيه با رعايت احكام مندرج مواد نودوپنجم، نود وششم، نود وهفتم

ketabton.com - The Digital Library



ماده کې د درج شوو حکمونو له په پام کې نیولو سره صادره او تسلیمېږي.

## د څېړنې معطلول

**دوه سوه نهمه ماده:**

(۱)که چېرې تورن د قباحت په جرمونو کې د حضور د خبرتیا د ترلاسه کولو باوجود په ټاکلې نېټه قضایي غونډې ته حاضر نشي، محکمه کولای شي د هغهٔ په غیاب کې حکم صادر کړي.

(۲)که چېرې تورن د جنحې او جنایت په جرمونو کې د حضور د خبرتیا د ترلاسه کولو باوجود په ټاکلې نېټه قضایي غونډې ته حاضر نشي، محکمه د قضیې څېړنه ځنډوي او د هغهٔ د حاضرولو امر یا د نیولو امر صادروي. د نه حضور په صورت کې، دوه یم ځل موضوع د اعلان له لارې د هغهٔ خبرتیا ته رسول کېږي. په هغهٔ صورت کې چې د اعلان شوې مودې په ترڅ کې حاضر نشي، د هغهٔ لپاره حقوقي مساعد ټاکل کېږي او محکمه خپل حکم صادروي.

ونودوهشتم این قانون ، صادروتسلیم داده می شود.

## معطل نمودن رسیدگی

**مادهٔ دوصد ونهم:**

(۱) هرگاه متهم درجرایم قباحت با وجود دریافت اطلاعیهٔ حضور به تاریخ معینه در جلسهٔ قضائی حاضر نگردد ، محکمه می تواند در غیاب او حکم صادر نماید.

(۲) هرگاه متهم در جرایم جنحه و جنایت با وجود دریافت اطلاعیهٔ حضور به تاریخ معینه درجلسهٔ قضائی حاضر نه گردد، محکمه رسیدگی به دعوی را معطل و امر احضار یا امر گرفتاری وی را صادرمی نماید.درصورت عدم حضور بار دوم موضوع از طریق اعلان به آگاهی وی رسانیده می شود. در صورتی که طی مدت اعلان شده حاضر نه شود، برای وی مساعد حقوقی تعیین ومحکمه حکم خود راصادر می نماید.

ketabton.com - The Digital Library



## په بهر کې مېشت تورن ته د خبرتيا استول

**دوه سوه لسمه ماده:**

که چېرې تورن له هېواد څخه په بهر کې مېشت وي، خبرتيا د هغهٔ د اوسېدو ځای ته (په هغهٔ صورت کې چې معلوم وي)، لږترلږه(۳۰)ورځې له هغې مودې څخه چې د دعوي د څېړنې د غونډې لپاره ټاکل شوېده دمخه، استول کېږي. د تورن د نه حضور په صورت کې د هغهٔ قضيه په غيابي ډول څېړل کېږي او فيصله صادرېږي.

## د سندونو قرائت

**دوه سوه يوولسمه ماده:**

د غايب تورن د قضيې د څېړنې په وخت کې، د خبرتيا د استولو او په قضايي غونډه کې په احضار پورې اړوند سندونه، قرائت کېږي.

## ارسال اطلاعيه به متهم مقيم در خارج

**مادهٔ دوصد ودهم:**

هرگاه متهم خارج از کشور اقامت داشته باشد، اطلاعيه به محل سکونت وی (در صورتی که معلوم باشد)، حداقل (۳۰) روز قبل از ميعادی که برای جلسهٔ رسيد گی به دعوی تعيين گرديده، ارسال می شود. درصورت عدم حضور متهم، قضيهٔ وی به شکل غيابی رسيدگی وفيصله صادر می گردد.

## قرائت اسناد

**مادهٔ دوصد ويازدهم:**

حين رسيدگی قضيهٔ متهم غائب، اسناد مربوط به ارسال اطلاعيه و احضار در جلسهٔ قضائی، قرائت می گردد.

ketabton.com - The Digital Library



## اووم فصل

## د قضايي څېړنې ډول

### په قضايي غونډه کې د څارنـــوال او تورن حضور

**دوه سوه دوولسمه ماده:**

(۱)د جنحې يا جنايت په جزايي قضيو کې د څارنوال او تورن يا د هغـــۀ د مـــدافع وکيل حضور د قضايي غونډې د جوړېدو بنسټيز شرط ګڼل کېږي، خو دا چې پـــه دې قانون کې بل ډول اټکل شوي وي.

(۲)د مدافع وکيل په استثنى هېڅ شخص نشي کولای د محکمې په وړانـــدې لـــه غايب تورن څخه دفاع يا نيابت وکړي. د تورن خپلوان د قانون د حکمونو مطابق لدې حکم څخه مستثنى دي.

(۳)هغه تورن چې په توقيف خونه کـــې وي، د پـــوليس تر څارنې لاندې غونډې ته حاضر او د غونډې تر پايه پاتې کېږي.

(۴)تورن په قضايي غونډه کې پرته لـــه ولچک او زولانې وي، خو دا چې د هغۀ د تېښتې يا پر ځان يا پر نورو بانـــدې د تعرض (تېري) وېره موجوده وي.

## فصل هفتم

## طرز رسيدگی قضائی

### حضور څارنوال و متهم در جلســـۀ قضائی

**مادۀ دوصد ودوازدهم:**

(۱) حضور څارنوال ومتهم يا وكيـــل مدافع وی درقضاياى جزائی جنحه يـــا جنايت شرط اساسی تشـــكيل جلســـۀ قضائی دانسته می شود،مگر اينكه دراين قانون طور ديگری پيش بينی شده باشد .

(۲) به استثنای وكيل مدافع هيچ شخص نمی تواند به پيشگاه محكمه از مـــتهم غائب دفاع يا نيابت نمايد. اقارب متهم مطابق احكام قانون از اين حكم مستثنی اند.

(۳) متهمی كه در توقيف خانه باشـــد، تحت مراقبت پوليس به جلسه حاضر و الی اخير جلسه باقی می ماند.

(۴) متهم درجلسۀ قضائی بدون ولچک وزولانه می باشد، مگر اينكه خوف فرار يا تعرض او بر خود يا ديگران موجـــود باشد.

ketabton.com - The Digital Library



(۵)که چېرې د تورن مدافع وکیل په قضايي غونډه کې چې حضور يې حتمي دی، حضور ونه مومي يا تورن شخصاً په نورو مواردو کې حاضر نه وي، موضوع تورن ته ابلاغ او غونډه بل وخت ته موکولېږي.

د نه حضور د تکرار په صورت کې، داسې انګېرل کېږي چې تورن حکماً حضور لري.

(۶)که چېرې تورن د بیانونو له وړاندې کولو وروسته، د قضايي غونډې خونه ترک یا دا چې عمداً د قضايي غونډې له نېټې څخه د خبرتیا با وجود غونډې ته حاضر نشي او یا يې احضار نا ممکن (ناشونی) وي، محکمه کولای شي غونډې ته د هغهٔ په نه حضور کې دوام ورکړي.پدې صورت کې محاکمه حضوري ګڼل کېږي.

**د قضايي غونډې علنیت( څرګندتیا)**

**دوه سوه دیارلسمه ماده:**

قضايي غونډه علني وي، هر شخص کولای شي په هغې کې حضور و مومي،

(۵) هرگاه وکیل مدافع متهم درجلسهٔ قضائی که حضور او حتمی است، حضور نیابد یا متهم شخصاً در سایر موارد حاضر نباشد، موضوع به متهم ابلاغ وجلسه به وقت دیگر موکول می شود.

در صورت تکرار عدم حضور، چنین پنداشته می شود که متهم حکماً حضور دارد.

(۶) هرگاه متهم بعد از ارایه اظهارات، اتاق جلسهٔ قضائی را ترک یا آنکه عمداً با وجود اطلاع از تاریخ جلسهٔ قضائی در جلسه حاضر نگردد ویا احضار وی نا ممکن باشد، محکمه می تواند جلسهٔ قضائی را در عدم حضور وی ادامه دهد. در این صورت محاکمه حضوری پنداشته می شود.

**علنیت جلسهٔ قضائی**

**مادهٔ دوصد وسیزدهم:**

جلسهٔ قضائی علنی بوده، هر شخص می تواند در آن حضور یابد، مگر اینکه،

ketabton.com - The Digital Library



خو دا چې رئيس د غونډې يوه برخه يا هغه ټوله د اخلاقي، کورنيو اسرارو د ساتنې يا د نظم يا عامه امن د ساتنې په دلايلو، سري اعلان کړي.

## د کارت وېشل

### دوه سوه څوارلسمه ماده:

د قضايي غونډې رئيس کولای شي، د قضايي غونډې دسالون د ظرفيت له په پام کې نيولو سره، د اشخاصو را تلل (وارداېدل) محدود او هغې ته د ننوتلو په غرض مخصوص کارت ووېشي.

## قضايي غونډې ته د وارداېدو اجازه

### دوه سوه پنځلسمه ماده:

(۱)هغه شخص چې د بشپړ حقوقي اهليت لرونکی نه وي، قضايي غونډې ته د وارداېدو حق نلري. په دوسيه کې شامل تورن، مجني عليه او شاهدان لدې حکم څخه مستثني دي.

(۲)وسله وال شخص قضايي غونډې ته د وارداېدو حق نلري.

(۳)د محاکمې له بهير څخه د راديويي،

رئيس بخشی از جلسه يا تمام آنرا نظر به دلايل اخلاقی، حفظ اسرار خانوادگی يا حفظ نظم يا امن عامه، سری اعلان نمايد.

## توزيع کارت

### مادۀ دوصد وچهاردهم:

رئيس جلسۀ قضائی می تواند با درنظرداشت ظرفيت سالون جلسۀ قضائی، ورود اشخاص را محدود وغرض دخول به آن کارت مخصوص توزيع نمايد .

## اجازۀ ورود به جلسۀ قضائی

### مادۀ دوصد وپانزدهم:

(۱) شخصی که دارای اهليت کامل حقوقی نباشد، حق ورود در جلسۀ قضائی را ندارد. متهم، مجنی عليه و شهود شامل دوسيه از اين حکم مستثنی اند.

(۲) شخص مسلح حق ورود در جلسۀ قضائی را ندارد.

(۳) تهيۀ گزارشات راديوئی، تلويزيونی،

ketabton.com - The Digital Library



تلويزيوني،فلم اخيستنې او عكاسۍ د رپوټونو برابرول او خپرول يې يوازې د محكمې د رئيس په اجازه صورت مونداى شي.

**د قضايي غونډې نظم**

**دوه سوه شپاړسمه ماده:**

(۱)د محكمې رئيس يو له اړوندو كاركوونكو څخه مؤظفوي څو د قضايي هيئت له وارديدو دمخه د غونډې آداب، مراسم او د نظم په پام كې نيول، ګډون كوونكو ته بيان كړي. رئيس، قضايي غونډه اداره كوي او د غونډې نظم ساتي.

(۲)د قضايي غونډې ګډون كوونكي غونډې ته د قضايي هيئت له وارديدو څخه دمخه په خپلو ټاكلو ځايونو كې قرار مومي او مكلف دي، د قضايي هيئت د وارديدو او بهر كېدو په وخت كې په پښو ودريږي او د محكمې پوښتنو ته په پښو درېدلي ځواب وړاندې كړي.

(۳)ګډون كوونكي مكلف دي، دقضايي غونډې دنظم د په پام كې نيولو په خاطر دغونډې درئيس له اوامرو څخه اطاعت

فلم برداری و عکاسی از جریان محاکمه و نشر آن صرف به اجازۀ رئیس محکمه، صورت گرفته می تواند.

**نظم جلسۀ قضائی**

**مادۀ دوصد وشانزدهم:**

(۱) رئیس محکمه یکی ازکارکنان مربوط را توظیف می نماید تا قبل از ورود هیئت قضائی آداب،مراسم ورعایت نظم جلسه را به اشتراک کنندگان بیان کند. رئیس، جلسه قضائی را اداره و نظم جلسه را حفظ می نماید.

(۲) اشتراک کنند گان جلسۀ قضائی قبل از ورود هیئت قضائی به جلسه به جا های معین خویش قرار می گیرند و مکلف اند، حین ورود و خروج هیئت قضائی به پا برخیزند و به سوالات محکمه به پا ایستاده جواب ارایه نمایند.

(۳) اشتراک کنندگان مکلف اند، به خاطر رعایت نظم جلسۀ قضائی از اوامر رئیس جلسه اطاعت

ketabton.com - The Digital Library



وکړي.

**د قضايي غونډې پيل**

**دوه سوه اوولسمه ماده:**

(۱)رئيس، قضايي غونډه په لاندې الفاظو پيلوي:

((دغه قضايي غونډه د عادل او توانا خدای(جل جلاله) په نامه پيلوم)).

(۲)قضايي څېړنه د دعویٰ د اړخونو او شاهدانو په لوړ غږ د نومونو په اعلانولو سره پيلېږي. د تورن او د دوسيې د شاملينو، نوم، تخلص، سن، شغل او کسب، د زېږېدو ځای او استوګنه او د هويت د سند ګڼه په نوبت سره له هر يوهٔ څخه پوښتل کېږي او هغوی پخپله په لوړ غږ څرګندونه کوي. صورت دعویٰ د څارنوال په واسطه قرائت او مجني عليه، د حق العبد مدعي، د حق العبد مسئول يا د هغوی قانوني استازي خپلې غوښتنې وړاندې کوي، له تورن څخه د هغهٔ جرم د ارتکاب په اړه چې ورته منسوب شوی دی، پوښتنه کېږي.

(۳)که چېرې تورن په قضايي غونډه کې

نمايند.

**آغازجلسهٔ قضائی**

**مادهٔ دوصد وهفدهم:**

(۱) رئيس، جلسهٔ قضائی را به الفاظ ذيل آغازمی نمايد:

(( اين جلسهٔ قضائی رابنام خداوند عادل وتوانا(جل جلاله) آغاز می نمايم)).

(۲) رسيدگی قضائی با اعلان نام طرفين دعوی و شهود به آواز بلند آغاز می يابد. نام، تخلص، سن، شغل و پيشه، محل تولد و سكونت و شمارهٔ سند هويت متهم و شاملين دوسيه به نوبت هر يک پرسيده شده و خود آنها با آواز بلند توضيح می دهند. صورت دعوی توسط څارنوال قرائت ومجنی عليه، مدعی حق العبد، مسئول حق العبد يانمايندگان قانونی آنها مطالبات خود را تقديم نموده، از متهم در رابطه به ارتكاب جرمی كه به او منسوب شده است، پرسيده می شود.

(۳) هرگاه متهم درجلسهٔ قضائی

ketabton.com - The Digital Library



په خپله خوښه (رضا)او رغبت د جرم په ارتکاب اقرار وکړي، محکمه د افغانستان د اساسي قانون په دېرشمه ماده او نورو نافذه قوانينوکې د درج شوي حکم په حدودو کې خپله فيصله (پريکړه) صادروي.

**له شاهد څخه پوښتنه**

**دوه سوه اتلسمه ماده:**

شاهد لومړی د قاضي لخوا تر پوښتنې لاندې نيول کېږي او هغهٔ ته توصيه کېږي چې د سوګند په اداء کولو سره شهادت ورکړي (شاهدي ووايي) او له رښتيا او حقيقت څخه پرته بل څه و نه وايي او وروسته بالترتيب د څارنوال او مجنی عليه، د حق العبد د مدعي، تورن او د حق العبد د مسئول يا د هغوی د قانوني استازو لخوا تر پوښتنې لاندې نيول کېږي. هغوی کولای شي د دوه يم ځل لپاره هم له شاهدانو څخه د هغې پېښې په هکله چې په اړه يې شهادت اداء کړی دی، پوښتنه وکړي.

به رضا و رغبت خود به ارتکاب جرم اقرار نمايد، محکمه درحدود حکم مندرج مادهٔ سی ام قانون اساسی افغانستان و ساير قوانين نافذه فيصلهٔ خود را صادر می نمايد.

**پرسش از شاهد**

**مادهٔ دوصد وهجدهم:**

شاهد نخست از طرف قاضی مورد پرسش قرار گرفته وبه اوتوصيه می شود که با ادای سوګند به شهادت بپردازد و جز راست وحقيقت چيزی نګويد وبعداً بالترتيب از طرف څارنوال و مجنی عليه، مدعی حق العبد، متهم ومسئول حق العبد يانمايندګان قانونی آنها مورد پرسش قرار می ګيرند. آنها می توانند برای بار دوم نيز از شهود جهت توضيح واقعه ايکه راجع به آن ادای شهادت نموده اند، سوال نمايند.

ketabton.com - The Digital Library



## د شاهدانو د شهادت د اورېدو ترتيب

**دوه سوه نولسمه ماده:**

(۱) لومړی د اثبات د شاهدانو شاهدي او له هغې وروسته د نفې د شاهدانو شاهدي اورېدل کېږي.

(۲) د دعوىٰ له اړخونو څخه هر يو کولای شي د دوه يم ځل لپاره د شاهدانو شاهدي د هغې پېښې د څرګندولو لپاره چې په هکله يې شاهدي ورکړې، وغواړي يا پدې منظور د نورو شاهدانو اورېدل وغواړي.

## شاهدانو ته د پوښتنو توجيه

**دوه سوه شلمه ماده:**

(۱)محکمه کولای شي هره پوښتنه چې غوښتني يې وي، د حقيقت د روښانه کېدو لپاره شاهدانو ته متوجه کړي يا اړخونو ته اجازه ورکړي له شاهدانو څخه پوښتنه وکړي.

(۲)محکمه مکلفه ده، د هغو پوښتنو له توجيه څخه چې په موضوع پورې اړه نلري يا شاهدانو ته د هغو توجيه جايز ندي، مخنيوی وکړي.

## ترتيب استماع شهادت شهود

**مادۀ دوصد ونزدهم:**

(۱) نخست شهادت شهود اثبات و بعد از آن شهادت شهود نفی شنيده می شود.

(۲) هريک از طرفين دعوی می توانند استماع شهادت شهود را برای بار دوم جهت توضيح واقعۀ که راجع به آن شهادت داده اند،مطالبه يا به اين منظور استماع شهود ديگر را تقاضا نمايند.

## توجيه سوالات به شهود

**مادۀ دوصد وبيستم:**

(۱) محکمه می تواند هر سوالی را که خواسته باشد جهت روشن شدن حقيقت، به شهود متوجه سازد يا به طرفين اجازه دهد از شهود سوال نمايند.

(۲) محکمه مکلف است، از توجيه سوالاتی که به موضوع ربط نداشته يا توجيه آن به شهود جايز نباشد، جلوگيری نمايد.

ketabton.com - The Digital Library



(۳) محکمه مکلفه ده، له هر ډول صریح کلام، تلویح یا اشارې څخه چې د شاهد د افکارو د پریشانۍ یا وېرې (تخویف) موجب شي، منع کړي.

(۴)محکمه کولای شي د شاهدانو د شاهدۍ د اورېدو غوښتنه د هغو پېښو په هکله چې د محکمې په وړاندې په کافي اندازه روښانه شوې وي، په دلایلو سره رد کړي.

## په محکمه کې له تورن څخه استجواب

دوه سوه یوویشتمه ماده:

(۱)په قضايي غونډه کې په اجباري توګه د تورن استجواب جواز نلري.

(۲)که چېرې د دعوئ د څېړنې په وخت کې، داسې پېښې را منځته شي چې د هغو په هکله د تورن لخوا د څرګندونو وړاندې کول لازم ولیدل شي، قاضي هغهٔ ته اجازه ورکوي، خپلې څرګندونې وړاندې کړي.

(۳)که چېرې تورن پوښتنې ته د ځواب له ورکولو څخه ډډه وکړي یا په غونډه کې

(۳) محکمه مکلف است، هرگونه کلام صریح، تلویح یا اشاره را که موجب پریشانی افکار یا تخویف شاهد گردد، منع نماید.

(۴) محکمه می تواند مطالبهٔ استماع شهادت شهود را در مورد واقعاتی که نزد محکمه به اندازهٔ کافی روشن شده باشد، با دلایل رد نماید.

## استجواب از متهم در محکمه

مادهٔ دوصد وبیست ویکم:

(۱) استجواب متهم در جلسهٔ قضائی به صورت اجباری جواز ندارد.

(۲) هرگاه حین رسید گی به دعوی، وقایعی ظهور نماید که ارایه توضیحات راجع به آن از طرف متهم لازم دیده شود، قاضی به وی اجازه می دهد، توضیحات خود را ارایه نماید.

(۳) هرگاه متهم از جواب به سوال امتناع ورزد یا اظهارات وی در جلسه

ketabton.com - The Digital Library



د هغهٔ بيانونه د اثبات د دلايلو د راټولولو يا د تحقيق په وخت کې له بيانونو سره ټوپير ولري، محکمه کولای شي د دهٔ د لومړنيو بيانونو په قرائت امر وکړي.

## د اهل خبره توظيفول

**دوه سوه دوه ويشتمه ماده:**

محکمه کولای شي عنداللزوم يا د دعوي له اړخونو څخه د يوهٔ او يا د هغوی دواړو د غوښتنې پربنسټ اهل خبره مکلف کړي تر څو د هغو نظرياتو په هکله چې دمخه يې بيان کړي دي، محکمې ته لازمې څرګندونې وړاندې کړي.

با اظهارات وی در موقع جمع آوری دلایل اثبات یا حین تحقیق مغایرت داشته باشد، محکمه می تواند به قرائت اظهارات اولیهٔ وی امر نماید.

## توظیف اهل خبره

**مادهٔ دوصد وبیست ودوم:**

محکمه می تواند عنداللزوم یا به اساس مطالبهٔ یکی از طرفین دعوی ویا هردوی آنها اهل خبره را مکلف نماید تا توضیحات لازم را در مورد نظریاتی که قبلاً اظهار نموده اند، به محکمه ارایه نماید.

ketabton.com - The Digital Library



## اتم فصل

## د قضايي غونډې انتظام

### د تورن په واسطه د قضايي غونډې د نظم ګډوډول

**دوه سوه درویشتمه ماده:**

که چېرې تورن په قضايي غونډه کې د څېړنې په وخت کې، نظم ګډوډ کړي یا د غونډې د رئیس له اوامرو څخه اطاعت ونکړي، رئیس هغهٔ ته اخطار ورکوي. د تکرار په صورت کې، هغه د قضايي غونډې له خونې څخه و باسي او له بیا حضور وروسته له هغو اجراآتو څخه چې په غیاب کې یې صورت موندلی، هغه خبروي.

### د څارنوال یا مدافع وکیل په واسطه د غونډې د نظم ګډوډول

**دوه سوه څلېریشتمه ماده:**

که چېرې څارنوال یا مدافع وکیل د غونډې نظم ګډوډ کړي یا د قضايي غونډې د رئیس له قانوني اوامرو څخه اطاعت ونکړي، دلومړي ځل لپاره هغهٔ ته

## فصل هشتم

## انتظام جلسهٔ قضائی

### اخلال نظم جلسهٔ قضائی توسط متهم

**مادهٔ دوصد وبیست وسوم:**

هرگاه متهم حین رسیدگی در جلسهٔ قضائی، نظم را اخلال نماید یا از اوامر رئیس جلسه اطاعت نکند، رئیس به وی اخطار می دهد. در صورت تکرار، وی را از اتاق جلسهٔ قضائی اخراج وبعد از حضور مجدد از اجراآتی که در غیابش صورت گرفته، وی را مطلع می نماید.

### اخلال نظم جلسه توسط څارنوال یا وکیل مدافع

**مادهٔ دوصد وبیست وچهارم:**

هرگاه څارنوال یا وکیل مدافع نظم جلسه را اخلال نماید یا از اوامر قانونی رئیس جلسهٔ قضائی اطاعت نکند، بار اول برای وی اخطار و درصورت تکرار،

ketabton.com - The Digital Library



اخطار او د تکرار په صورت کې، دقضيې څېړل معطلېږي، ګډوډوونکی د تأديب په غرض اړوندې ادارې ته معرفي کېږي.

## د محکمې د کارکوونکو لخوا د غونډې ګډوډول

دوه سوه پنځه ويشتمه ماده:

(۱)که چېرې د قضايي غونډې ګډوډوونکي د محکمې د کارکوونکو له جملې څخه وي، د قضايي غونډې رئيس کولای شي د قانون د حکمونو مطابق هغهٔ تأديب کړي.

(۲)که چېرې په غونډه کې نور شامل اشخاص، د غونډې نظم ګډوډ کړي يا د قضايي غونډې د رئيس د اوامرو اطاعت ونکړي، رئيس کولای شي ګډوډوونکی له قضايي غونډې څخه وباسي او تر(۵۰۰۰) زرو افغانيو پورې په نغدي جريمه يې محکوم کړي.

## په قضايي غونډه کې د جرم ارتکاب

دوه سوه شپږويشتمه ماده:

(۱)هغه شخص چې په قضايي غونډه کې د قباحت مرتکب شي، محکمه کولای

بررسی قضيه معطل، اخلال کننده غرض تأديب به ادارهٔ مربوط معرفی می گردد.

## اخلال نظم جلسه توسط کارکنان محکمه

مادهٔ دوصد وبيست وپنجم:

(۱) هرگاه اخلال کنندهٔ نظم جلسهٔ قضائی از جملهٔ کارکنان محکمه باشد، رئيس جلسهٔ قضائی می تواند مطابق احکام قانون وی را تأديب نمايد.

(۲) هرگاه ساير اشخاص شامل جلسه، نظم جلسه را اخلال نموده يا اوامر رئيس جلسهٔ قضائی را اطاعت ننمايند ، رئيس می تواند اخلال کننده را از جلسهٔ قضائی اخراج و به جزای نقدی الی (۵۰۰۰) هزار افغانی محکوم نمايد.

## ارتکاب جرم درجلسهٔ قضائی

مادهٔ دوصد وبيست وششم:

(۱) شخصی که در جلسهٔ قضائی مرتکب قباحت شود، محکمه می تواند

ketabton.com - The Digital Library



شي، په هماغې غونډې کې څارنـــوال د تورن پرخلاف د دعوئ په اقامې مکلـــف کړي او د څارنوال او تورن د بيانونو له اورېدلو وروسته خپله فيصله صادره کړي.

(۲)هغه شخص چې په قضايي غونډه کې د جنحې يا جنايت مرتکب شي، محکمه موضوع په محضر کې درجوي،مرتکب له ترتيب شوي محضر سره يوځای د عدلي تعقيب لپاره، څارنوالۍ ته استوي.

(۳) محکمه په ټولو هغو حالاتو کې چې په محکمه کې د قضيې د څېړنې په وخت کې جرم پېښ شي، د پېښې محضر ترتيب او د لزوم په صورت کې د تورن د نيولو او توقيف امر صادروي.

در همان جلسه څارنوال را مکلف بـــه اقامۀ دعوی عليه متهم نموده وبعـــد از استماع اظهارات څارنـــوال و مـــتهم، فيصلۀ خود را صادر نمايد.

(۲) شخصی کـــه در جلســـۀ قضـــائی مرتکب جنحه يا جنايت گردد، محکمه موضوع را درج محضر نموده، مرتکب را با محضر مرتبه غرض تعقيب عدلی به څارنوالی اعزام می نمايد.

(۳) محکمه در تمام حالاتـــی که حين رسيدگی قضيه در محکمه جرم واقـــع شود، محضر واقعـــه را ترتيـــب و در صورت لزوم امر گرفتاری وتوقيف متهم را صادر می نمايد.

ketabton.com - The Digital Library



## نهم فصل

## قضايي غور او مباحثه

**قضايي مباحثه**

**دوه سوه اووه ويشتمه ماده:**

(۱)محکمه د څارنوال د دعوۍ ، د تورن د دفع او د هغوی د مدافعو له اورېدو، د شاهدانو او د اهل خبره د بيانونو له اورېدو وروسته، قضايي غور او مباحثه پيلوي.

(۲)په قضايي غور او مباحثه کې د څارنوال د دعوۍ، د تورن د دفعې محتويات، د اړخونو او د دعوۍ د نورو شاملينو مباحثې، راټول شوي دلايل او نور مندرجات او د تحقيق د پاڼو څېړل شامل دي.

**د قضيې د اړخونو خبرې**

**دوه سوه اته ويشتمه ماده:**

(۱) څارنوال، تورن او په دعوۍ کې نور شامل اشخاص کولای شي د اثبات او نفې د شاهدانو د بيانونو له اورېدو وروسته، خبرې وکړي.

(۲)د دعوۍ د څېړنې د پايته رسېدو په

## فصل نهم

## غور و مباحثه قضائی

**مباحثه قضائی**

**مادهٔ دوصد وبیست وهفتم:**

(۱) محکمه بعد از استماع دعوای څارنوال، دفع متهم و مدافعات آنها،استماع شهود واظهارات اهل خبره، غور و مباحثهٔ قضائی را آغاز می نماید.

(۲) غور ومباحثهٔ قضائی شامل بررسی محتویات دعوای څارنوال، دفع متهم، مباحثات طرفین وسایر شاملین دعوی، دلایل جمع آوری شده و سایر مندرجات و اوراق تحقیق می باشد.

**صحبت طرفین قضیه**

**مادهٔ دوصد وبیست وهشتم:**

(۱) څارنوال، متهم و سایر اشخاص شامل دعوی می توانند بعد از استماع اظهارات شهود اثبات و نفی، صحبت نمایند.

(۲) حین ختم رسید گی دعوی، رئیس

ketabton.com - The Digital Library



وخت کې دغونډې رئيس تورن ته د خبرو موقع ورکوي، پدې حالت کې له تورن څخه د پوښتنې طرح کول مجاز ندي.

که چېرې تورن يا يې قانوني استازی د خبرو په وخت کې له موضوع څخه ووځي، محکمه کولای شي، له موضوع څخه د دوی د بهر خبرو خنډ(مانع)شي.

## د غونډې د پېښليک ترتيبول

**دوه سوه نهه ويشتمه ماده:**

(۱)د قضايي غونډې پېښليک او بهير چې د لاندې مطالبو لرونکی وي،ټول د منشي په واسطه د قضايي غونډې د رئيس په لارښوونه ليکل او ترتيبيږي:

۱–د محکمې نوم او د قضايي هيئت شهرت.

۲– دتورن، مجني عليه، د حق العبد د مدعي، د حق العبد د مسئول، د هغوی د قانوني استازو، منشي، څارنوال او ترجمان(ژباړونکي) شهرت.

۳–د غونډې د جوړېدو ځای او نېټه.

۴–د غونډې د پيل وخت.

۵–د تفريح وخت او د غونډې پای.

جلسه به متهم موقع صحبت می دهد، دراین حالت از متهم طرح سوال مجاز نمی باشد.

هرگاه متهم یا نمایندهٔ قانونی وی حین صحبت از موضوع خارج شوند، محکمه می تواند مانع صحبت خارج موضوع آنها شود.

## ترتیب رویداد جلسه

**مادهٔ دوصد وبیست ونهم:**

(۱) رویداد وجریان جلسهٔ قضائی که حاوی مطالب ذیل می باشد،تماماً توسط منشی به رهنمائی رئیس جلسهٔ قضائی تحریر وترتیب می گردد:

۱– نام محکمه و شهرت هیئت قضائی.

۲– شهرت متهم، مجنی علیه، مدعی حق العبد، مسئول حق العبد، نماینده گان قانونی آنها، منشی، خارنوال و ترجمان.

۳– محل و تاریخ برگزاری جلسه.

۴– وقت آغاز جلسه.

۵– وقت تفریح و پایان جلسه.

ketabton.com - The Digital Library



۶- د ترڅېړنـــې لانـــدې دوســـېې ګڼه(شمېره).

۷-دتورن د شخصيت په هکله معلومات.

۸-د صورت دعوي وړاندې کول.

۹-د تورن د دفاعيې وړاندې کول.

۱۰-په قضيه کې د شاملو اشخاصـــو د حقوقو او مکلفيتونو تشريح.

۱۱-د غونډې د ګډوډېدو موارد.

۱۲-د غونډې د بهير بشپړه محتوي او د اړوندو اشخاصو مباحثې.

(۲)د قضايي غونډې پېښن ليک د قضايي هيئت او منشي لخوا لاسليک او ثبتېږي.

۶- شـــمارهٔ دوســـيهٔ مـــورد بررسی.

۷- معلومات در مورد شخصيت متهم.

۸- ارايه صورت دعوی.

۹- ارايه دفاعيهٔ متهم.

۱۰- تشريح حقوق و مکلفيت هـــای اشخاص شامل قضيه.

۱۱- موارد اخلال نظم جلسه.

۱۲- محتوای کامل جريان جلســـه و مباحثات اشخاص ذيعلاقه.

(۲) رويداد جلسهٔ قضائی از طرف هيئت قضائی و منشی امضاء وثبت می گردد.

ketabton.com - The Digital Library



## لسم فصل

## د حکم ترتیب او ابلاغول یې

### د قضایي غونډې د پایته رسېدو اعلان

**دوه سوه دېرشمه ماده:**

(۱)قضایي هیئت د تورن د وروستیو خبرو له اورېدو وروسته، د قضایي غونډې پایته رسېدل اعلانوي او د تصمیم د نیولو او د حکم د لیکلو لپاره د مشورې خونې تــه ځي.

(۲) حکم د قضایي هیئت د رأیو په اتفاق یا اکثریت په سري (پټه) توګه تصویب او لیکل کېږي.

(۳) د قضایي هیئت رئیس او غــړي، د رأیې ورکونې په وخت کې هــر یــو د مساوي(برابر) حق لرونکي دي.

(۴) رئیس د دعویٰ د شاملینو له وتلــو (بهرکېدو) دمخه، حکم ابلاغوي یا یې د ابلاغ وخت حاضرینو ته اعلاموي.

### مخالفه رأیه

**دوه سوه یودېرشمه ماده:**

(۱)که چېرې د قضایي هیئت له غړو څخه یو د نورو قاضیانو له نیول شوي تصمیم

## فصل دهم

## ترتیب حکم و ابلاغ آن

### اعلان ختم جلسهٔ قضائی

**مادهٔ دوصد وسی ام:**

(۱) هیئت قضائی بعد از استماع آخرین صحبت متهم، ختم جلســهٔ قضــائی را اعلان نموده و جهت اتخاذ تصــمیم و تحریــر حکــم، بــه اتــاق مشــوره می روند.

(۲) حکم به اتفاق یــا اکثریــت آرای هیئت قضائی، به طور سری تصویب و تحریر می گردد.

(۳) رئیس و اعضای هیئت قضائی، حین رأی دهی هر یک دارای حق مســاوی می باشند.

(۴) رئیس، قبــل از خــروج شــاملین دعوی، حکم را ابلاغ یا وقت ابلاغ آن را به حاضرین اعلام می نماید.

### رأی مخالف

**مادهٔ دوصد وسی ویکم:**

(۱) هرگاه یکی از اعضای هیئت قضائی به تصمیم اتخاذ شدهٔ سایر قضات رأی

ketabton.com - The Digital Library



سره موافقه رأيه ونلري، مکلف دی خپله رأيه په اقليت سره په فيصله کې د حکم د نص له ليکلو وروسته، په مستدله توګه درج کړي.

(۲)قاضي نشي کولای قضيې ته ممتنعه رأيه ورکړي.

د حکم صادرېدل

دوه سوه دوه دېرشمه ماده:

(۱)په محکمو کې د حکم صادرېدل د خدای(ج) په نوم صورت مومي.

(۲)په قضايي غونډه کې د حکم د ابلاغ په وخت کې، د تورن يا يې د قانوني استازې قناعت يا نه قناعت د حکم د ابلاغ په پاڼه کې اخيستل کېږي.

په مطرح شوي دليل د حکم استناد

دوه سوه دري دېرشمه ماده:

(۱)محکمه د هغهٔ قناعت پر بناء چې د طرح شوو دلايلو پر بنسټ د هغهٔ په وړاندې ورته ترلاسه کېږي، خپل حکم صادروي او نشي کولای خپل حکم په هغهٔ دليل چې محکمې ته وړاندې شوی نه وي او يا د خپلو شخصي معلوماتو پر

موافق نداشته باشد، مکلف است رأی خود را بعد از تحرير نص حکم در فيصله به اقليت، طور مستدل درج نمايد.

(۲) قاضی نمی تواند در قضيه رأی ممتنع بدهد.

اصدار حکم

مادهٔ دوصد وسی ودوم:

(۱) اصدار حکم در محاکم بنام خداوند (ج) صورت می گيرد.

(۲) حين ابلاغ حکم در جلسهٔ قضائی، قناعت يا عدم قناعت متهم يا نمايندهٔ قانونی وی در ورقهٔ ابلاغ حکم اخذ می گردد.

استناد حکم بدليل مطروحه

مادهٔ دوصد وسی وسوم:

(۱) محکمه بنابر قناعتی که براساس دلايل مطروحه به پيشگاه آن برايش حاصل می شود، حکم خودرا صادرمی نمايد و نمی تواند حکم خود را به دليلی که به پيشگاه محکمه تقديم نشده باشد و يا بنا بر معلومات شخصی خود بنا

ketabton.com - The Digital Library



بنسټ بناء کړي.

(۲)محکمه نشي کولای د خپل حکم په صادرېدو کې په هغو پاڼو او سندونو چې بنسټيز اجراآت د هغو په راټولولو کې، ددې قانون د حکمونو مطابق په پام کې نيول شوي نه وي، استناد وکړي.

## د حکم د ابلاغ علني توب (څرګندوالی)

**دوه سوه څلور دېرشمه ماده:**

(۱) حکم په هر حال په علني توګه ابلاغېږي، که څه هم چې ددعویٰ څېړنه په سري غونډه کې صورت موندلی وي.

(۲) محکمه کولای شي داسې تدبيرونه و نيسي چې تورن د حکم د قرائت په وخت کې په غونډه کې حاضر وي. د ايجاب په صورت کې، په تدبيرونو کې د تورن د نيولو او توقيف امر هم شاملېدای شي.

## د تورن برائت

**دوه سوه پنځه دېرشمه ماده:**

که چېرې محکمه دې پايلې ته ورسېږي چې اصلاًجرم پېښ شوی ندی يا راټول شوي دلايل د جرم د پېښېدو په ثبوت او

نماید.

(۲) محکمه نمی تواند در صدور حکم خود به اوراق و اسنادی که اجراآت اساسی در جمع آوری آن مطابق احکام این قانون رعایت نگردیده باشد، استناد نماید.

## علنی بودن ابلاغ حکم

**مادۀ دوصد وسی وچهارم:**

(۱) حکم در هر حال طور علنی ابلاغ می گردد، گرچه رسیدگی به دعوی در جلسۀ سری صورت گرفته باشد.

(۲) محکمه می تواند تدابیری را اتخاذ کند که متهم حین قرائت حکم در جلسه حاضر باشد. در صورت ایجاب، تدابیر شامل صدور امر گرفتاری و توقیف متهم نیز شده می تواند.

## برائت متهم

**مادۀ دوصدوسی وپنجم:**

هرگاه محکمه به این نتیجه برسد که اصلاً جرم واقع نگردیده است یا دلایل جمع آوری شده به ثبوت وقوع جرم ویا

ketabton.com - The Digital Library



يا د هغهٔ نسبت په حاضر تورن پورې اړه ونلري، خپل حکم د تورن په برائت صادروي او په هغهٔ صورت کې چې هغه د بل جرم په تور تر توقيف لاندې نه وي، د خوشې کېدو امر يې صادروي.

**ددعوې په مندرجاتو باندې د حکم مقيدوالي**

**دوه سوه شپږ دېرشمه ماده:**

د هغې پېښې له امله چې په صورت دعوي کې داخله نده د تورن په مجازاتو او دهغهٔ شخص چې دعوي يې پرخلاف اقامه شوې نه وي، د مجازاتو حکم جواز نلري.

**د تور د وصف بدلون**

**دوه سوه اووه دېرشمه ماده:**

(۱)محکمه کولای شي په خپل صادر کړي حکم کې تورن ته د منسوب جرم قانوني وصف ته بدلون (تغيير) ورکړي او هم کولای شي، د مجازاتو د تشديد يا تخفيف موجبات چې د تحقيق يا په غونډه کې د څېړنې په وخت کې تثبيتېږي، تعديل کړي، که څه هم چې په صورت دعوي کې درج شوي نه وي.

نسبت آن به متهم حاضرمربوط نه باشد، حکم خود را به برائت متهم صادر و درصورتی که وی به اتهام جرم ديگری تحت توقيف نباشد، امر رهائی او را صادر می نمايد.

**مقيد بودن حکم به مندرجات دعوی**

**مادهٔ دوصد وسی وششم:**

حکم به مجازات متهم به اثر واقعه ای که در صورت دعوی داخل نبوده و مجازات شخصی که دعوی عليه وی اقامه نگرديده باشد، جواز ندارد.

**تغيير وصف اتهام**

**مادهٔ دوصد وسی وهفتم:**

(۱) محکمه می تواند در حکم صادرهٔ خويش وصف قانونی جرم منسوب به متهم را تغييردهد و نيز می تواند، موجبات تشديد يا تخفيف مجازات را که در جريان تحقيق يا رسيدگی در جلسه تثبيت می گردد، تعديل نمايد، گرچه در صورت دعوی درج نشده باشد.

ketabton.com - The Digital Library



(۲)محکمه کولای شي د هرې عـــادي خطا په اصلاح او هرې هغې تېروتنې پـــه تصحیح چې په صـــورت دعـــوي کـــې موجوده وي، لاس پورې کړي.

(۳)محکمه مکلفه ده هغه تعدیلونـــه او اصلاحات چې په صـــورت دعـــوي یـــا تورنلیک کې يې وارد کړي، په لیکلـــې توگه د څارنوال او تـــورن خبرتیـــا تـــه ورسوي.

په هغهٔ صورت کې چې څارنوال یا تورن او یا د هغهٔ قانوني استـــازی، د مهلـــت غوښتنه وکړي، څو د جرم او د هغـــهٔ د ماهیت د وصف د بدلون یا د تور د تعدیل په وړاندې خپل اعتراض یا دفاعیه چمتو کړي، محکمه هغو ته مهلت ورکوي.

**د حق العبد د غوښتنو په اړه د تصمیم نیول**

**دوه سوه اته دېرشمه ماده:**

محکمه مکلفه ده په هغهٔ حکم کې چې د جزايي دعوي په هکله يې صادروي پدې قانون کې د درج شوو نورو حکمونو له په پام کې نیولو سره د حق العبد د مدعي د

(۲)محکمه می تواند به اصـــلاح هـــر خطای عادی و تصحیح هر اشتباه که در عبارات صورت دعوی موجود باشـــد، اقدام نماید.

(۳) محکمه مکلف است تعـــدیلات و اصلاحاتی را که در صـــورت دعـــوی یـــا اتهامنامـــه وارد نمـــوده، کتبـــاً بـــه اطـــلاع څارنـــوال و مـــتهم برساند.

در صورتی که څارنوال یا متهم و یـــا نمایندهٔ قانونی وی، تقاضای مهلت نمایند تا در مقابل تغییر وصف جرم و ماهیت آن یا تعدیل اتهام، اعتراض یا دفاعیه خود را آماده کنند، محکمه به آنها مهلـــت می دهد.

**اتخاذ تصمیم مبنی بـــر مطالبـــات حق العبد**

**مادهٔ دوصد وسی وهشتم:**

محکمه مکلف است در حکمی که راجع به دعوی جزائی صادر می کند بارعایت سایراحکام مندرج این قانون در مـــورد مطالبات مدعی حق العبد نیز تصـــمیم

ketabton.com - The Digital Library



غوښتنو په هکله هم تصميم ونيسي.

**د حکم د اسبابو يادول(ذکرول)**

**دوه سوه نهه دېرشمه ماده:**

(۱)د فيصلې په متن کې د حکم د اسبابو يادول حتمي دي.

(۲)په هغهٔ حکم کې چې دالزام په اړه صادرېږي، د مجازاتو مستوجب پېښې يادول، د هغې د څرنگوالي او د هغهٔ قانون د نص بيانول چې پربنسټ يې حکم صادر شوی، شامل دی.

**د وړاندې شوو مطالبو څېړنه**

**دوه سوه څلوېښتمه ماده:**

محکمه د هغو مطالبو په څېړنه چې د اړخونو لخوا د فرعي دعوي په توگه وړاندې شوې دي، د هغو د مؤجبه اسبابو په يادولو سره، مکلفه ده.

**د فيصلې د ليکلو، لاسليک او مهر وخت(موده)**

**دوه سوه يوڅلوېښتمه ماده:**

فيصله زيات نه زيات د حکم د ابلاغ له نېټې وروسته د (۱۰) ورځو مودې په ترڅ کې ليکل کېږي او د قضايي هيئت د

اتخاذ نمايد.

**ذکر اسباب حکم**

**مادۀ دوصد وسی ونهم:**

(۱) ذکر اسباب حکم در متن فيصله حتمی می باشد.

(۲) حکمی که مبنی بر الزام صادر می گردد، شامل ذکر واقعه مستوجب مجازات، بيان چگونگی آن ونص قانونی که به اساس آن حکم صادر گرديده، می باشد.

**رسيدگی به مطالب ارايه شده**

**مادۀ دوصد وچهلم:**

محکمه به رسيدگی مطالباتی که توسط طرفين بحيث دعوی فرعی تقديم شده است با بيان اسباب موجبهٔ آن، مکلف می باشد.

**ميعاد تحرير فيصله، امضاء ومهر آن**

**مادۀ دوصد وچهل ويکم:**

فيصله حداکثر درخلال مدت (۱۰) روز بعد از تاريخ ابلاغ حکم تحرير و از طرف رئيس و اعضای هيئت

ketabton.com - The Digital Library



رئيس او غړو لخوا لاسليک، مهر او صادرېږي.

**لاسليک او مهر ته د بل قاضي توظيفول**

**دوه سوه دوه څلوېښتمه ماده:**

که چېرې فيصله د ابتدائيه محکمې لخوا صادره او ابلاغ شوې وي او د نوموړې محکمې قاضي د حکم اسباب او نص په خپل ليک ليکي خو څه عذر ته په پام سره و نکړای شي د فيصلې نسخې لاسليک کړي، د استيناف د محکمې رئيس کولای شي، د قانون د حکمونو له په پام کې نيولو سره، بل قاضي د هغو د مهر او لاسليک په منظور مؤظف کړي او دا حکم په داسې حالت کې دی چې په محکمه کې له يوه تن قاضي څخه زيات موجود نه وي.

**د فيصلې محتوي**

**دوه سوه دري څلوېښتمه ماده:**

(۱) د محکمې فيصله د سريزې، تشريحي برخې، د حکم د اسبابو او نص لرونکې وي.

قضائی امضاء، مهر وصادر می گردد.

**توظيف قاضی ديگر به امضاء و مهر**

**مادۀ دوصد وچهل ودوم:**

هرگاه فيصله از طرف محکمۀ ابتدائيه صادر و ابلاغ شده باشد و قاضی محکمۀ مذکور اسباب و نص حکم را به خط خود تحرير ولی نظر به عذری نتواند، نسخه های فيصله را امضاء نمايد، رئيس محکمۀ استيناف می تواند با رعايت احکام قانون، قاضی ديگر را به منظور مهر و امضای آن مؤظف نمايد و اين حکم در حالتی است که در محکمه بيش از يک نفر قاضی موجود نباشد.

**محتوای فيصله**

**مادۀ دوصد وچهل وسوم:**

(۱) فيصلۀ محکمه حاوی مقدمه، بخش تشريحی، اسباب و نص حکم می باشد.

ketabton.com - The Digital Library



(۲) د فيصلې د سريزې برخه د لاندې مطالبو لرونکې وي:

۱- دغونډې د جوړېدو نېټه.

۲- دمحکمې نوم، د قاضيانو، څارنوال او مدافع وکيل نومونه.

۳- د تورن شهرت، دزېږېدو کال، مياشت، ورځ او ځاى، تابعيت، د تحصيل درجه، د اوسېدنې ځاى، د کارځاى، مدني حالت، روغتيايي حالت، جرمي سابقه او د اهميت وړ نور معلومات.

(۳)تشريحي برخه د لاندې مطالبو لرونکې وي:

۱-د جرمي پېښې څرګندونه او د هغې دلايل.

۲-د پېښې ځاى، د جرم د ارتکاب وخت او طريقه.

۳-دجرمي عمل دخفت او شدت حالات.

۴-د جرم پايله.

۵-د جرم د شريکانو بشپړ شهرت.

۶-د جرم له ارتکاب څخه دمخه د تورن سلوک.

۷-هغه دلايل چې د محکمې پايله اخيستنه (نتيجه ګيري) پر هغو ولاړه وي.

(۲) بخش مقدمۀ فيصله حاوى مطالب ذيل مى باشد:

۱- تاريخ انعقاد جلسه.

۲- اسم محکمه، اسماى قضات، څارنوال و وکيل مدافع.

۳- شهرت متهم، سال، ماه، روز و محل تولد، تابعيت، درجۀ تحصيل، محل سکونت، محل کار، حالت مدنى، حالت صحى، سابقۀ جرمى و ساير معلومات داراى اهميت.

(۳) بخش تشريحى حاوى مطالب ذيل مى باشد:

۱- توضيح واقعۀ جرمى و دلايل آن.

۲- محل واقعه، وقت و طريقۀ ارتکاب جرم.

۳- حالات خفت و شدت عمل جرمى.

۴- نتيجۀ جرم.

۵- شهرت مکمل شرکاى جرم.

۶- سلوک متهم قبل از ارتکاب جرم .

۷- دلايلى که نتيجه گيرى محکمه بر آن بنا يافته باشد.

ketabton.com - The Digital Library



۸-هغه دلايل چې محکمه د هغو په استناد د اثبات ځيني دلايل ردوي.

۹- د تور د تعديل په صورت کې د جرم د قانوني وصف د بدلون په باره کې د محکمې استدلال.

۱۰-د جرم د خفت او شدت له په پام کې نيولو سره د مجازاتو د اندازې ټاکل.

(۴)د حکم نص د لاندې مطالبو لرونکی وي:

۱-د تورن نوم.

۲-د قانون په موادو استناد.

۳-د اصلي او تکميلي مجازاتو ټاکل او د هغو کيفيت او د تنفيذ مراتب.

۴-په صادره مجازاتو کې د دمخه څارنې يا توقيف د مودې په پام کې نيول او محاسبه.

۵-د لزوم په صورت کې د په پام کې نيولو وړ امنيتي تدبيرونو څرګندول.

٦-د رد يا مصادرې وړ شتمنۍ او مالونو څرګندول او تثبيت او د ضبط شوو شيانو په هکله د تصميم نيول، د هغو د موجبه اسبابو د موجوديت په صورت کې.

۷-د حق العبدي دعوي په هکله تصميم.

۸- دلايلی که به استناد آن محکمه بعضی از دلايل اثبات را رد می کند.

۹- استدلال محکمه در بارهٔ تغييروصف قانونی جرم درصورت تعديل اتهام.

۱۰- تعيين اندازهٔ مجازات بادرنظرداشت خفت وشدت جرم.

(۴) نص حکم حاوی مطالب ذيل می باشد:

۱- نام متهم.

۲- استناد به مواد قانون.

۳- تعيين مجازات اصلی و تکميلی و کيفيت و مراتب تنفيذ آن .

۴- رعايت ومحاسبهٔ ميعاد نظارت يا توقيف قبلی در مجازات صادره.

۵- توضيح تدابير امنيتی قابل رعايت در صورت لزوم.

٦- توضيح و تثبيت دارائی و اموال قابل رد يا مصادره و اتخاذ تصميم در مورد اشيای ضبط شده در صورت موجوديت اسباب موجبهٔ آن.

۷- تصميم درمورد دعوای حق العبدی.

ketabton.com - The Digital Library



(۵)په هغهٔ صورت کې چې محکمــه د تورن د برائت حکم صادر کړي، مکلفه ده په هغهٔ کې د برائت او د څارنــوال د تور د رد دلایل یاد کړي.

**په مالونو کې له تصــرف څخــه د محکوم علیه منع**

**دوه سوه څلور څلوېښتمه ماده:**

(۱)هغه شخص چې د حکمــي حضُــور پربنسټ د جنایت د جرم په جزاء محکوم شي، په خپلو مالونو کې د تصــرف او د هغو له اداري او په خپل نوم د دعوي د اقامې له اهلیت څخه بالتبع منع کېږي. د هغهٔ هر ډول تصرف او التزام باطل ګڼل کېږي.

(۲)هغه محکمه چې د محکوم علیه مالونه د هغې په قضایي حوزه کې واقع دي، د څارنوالۍ د غوښتنلیک پر بنسټ، کولای شي یو شخص د محکوم علیه د مالونو د مراقب په توګه وټاکي او د ضمانت پــه وړاندې کولو یې مکلف کــړي. دغــه شخص د مالونو په مراقبت (څارنې) پورې په ټولو اړوندو چارو کې او د حساب په

(۵) درصورتیکه محکمه حکم برائــت متهم را صادر نماید، مکلف است در آن دلایل برائت و رد اتهام څارنوال را ذکر نماید.

**منع محکوم علیــه از تصــرف در اموال**

**مادهٔ دوصد وچهل وچهارم:**

(۱) شخصی که بــه اســاس حضــور حکمی به جزای جرم جنایت محکــوم شود، از تصرف در اموال خود و ادارهٔ آن و از اهلیت اقامهٔ دعــوی بــه نــام خود بالتبع منع می گردد. هــر نــوع تصرف و التــزام او باطــل شــمرده می شود.

(۲) محکمه ای که اموال محکوم علیه در حوزهٔ قضائی آن واقع مــی باشــد، بــر اســاس درخواســت څــارنوالی، مــی توانــد شخصــی را بــه حیــث مراقب اموال محکوم علیه تعیین و بــه تقدیم ضمانت مکلف نماید. این شخص در تمام امــور متعلــق بــه مراقبــت اموال و تقدیم حساب نــزد محکمــه

ketabton.com - The Digital Library



ورکولو کې د محکمې په وړاندې ځواب ورکوونکی دی. د محکوم علیه مالي وجایب له تر مراقبت لاندې مالونو څخه د قانون د حکمونو مطابق اداء کېږي.

## د محکمې په اجازه له مالونو څخه د محرومیت رفع (لرې کېدل)

دوه سوه پنځه څلوېښتمه ماده:

(۱)د اړتیا (ضرورت) په صورت کې د مالونو له ادارې اوتصرف څخه د محکوم علیه محرومیت، د محکمې په اجازه مؤقتاً رفع کېدی شي.

(۲) هر ډول ژمنه چې محکوم علیه یې د محکمې له اجازې پرته وکړي، د هغې صحت او نه صحت(سموالي او نه سموالي) د نومړې محکمې په اجازې پورې موقوفه ده.

جوابده می باشد. وجایب مالی محکوم علیه از اموال تحت مراقبت، مطابق به احکام قانون اداء می شود.

## رفع محرومیت از اموال به اجازۀ محکمه

مادۀ دوصد وچهل وپنجم:

(۱)محرومیت محکوم علیه از اداره و تصرف در اموال در حالت ضرورت به اجازۀ محکمه موقتاً مرفوع شده می تواند.

(۲) هر نوع تعهدی را که محکوم علیه بدون اجازۀ محکمه به عمل آورد، صحت و عدم صحت آن موقوف به اجازۀ محکمۀ مذکور شناخته می شود.

ketabton.com - The Digital Library



## يوولسم فصل
## د استيناف په محكمه كې د قضيې څېړنه

**د ابتدائيه محكمې د حكم پر خلاف اعتراض**

**دوه سوه شپږڅلوېښتمه ماده:**

(۱)تورن يا د هغهٔ قانوني استازى او څارنوال كولاى شي ددې قانون د حكمونو په حدودو كې په ټولو جرمونو كې د ابتدائيه محكمې په حكم د نه قناعت په صورت كې، خپل اعتراض مستقيماً يا د حاكمې محكمې له لارې د استيناف اړوندې محكمې ته وړاندې كړي.

(۲)په قباحت كې د ابتدائيه محكمې پر حكم اعتراض، په لاندې احوالو كې صورت موندلاى شي:

۱-اعتراض د محكوم عليه لخوا، په هغهٔ صورت كې چې حكم له نغدي مجازاتو بغير صادر شوى وي.

۲-اعتراض دڅارنوال لخوا، په هغهٔ

## فصل يازدهم
## رسيدگی قضيه درمحكمهٔ استيناف

**اعتراض عليه حكم محكمه ابتدائيه**

**مادهٔ دوصد وچهل وششم:**

(۱) متهم يا نمايندهٔ قانونی وی و څارنوال می توانند در صورت عدم قناعت به حكم محكمهٔ ابتدائيه درتمام جرايم در حدود احكام اين قانون، اعتراض خود رامستقيماً يا از طريق محكمهٔ حاكمه به محكمهٔ استيناف مربوط تقديم نمايند.

(۲) اعتراض بر حكم محكمهٔ ابتدائيه در قباحت در احوال ذيل صورت گرفته می تواند:

۱- اعتراض از طرف محكوم عليه در صورتی كه حكم برغير از مجازات نقدی صادر گرديده باشد.

۲- اعتراض از طرف څارنوال در

ketabton.com - The Digital Library



صورت کې چې حکم د تورن په برائت صادر شوی وي.

(۳) د جنحې په جرم کې دابتدائيه محکمې پرحکم اعتراض په لاندې حالاتو کې صورت موندلای شي:

۱-اعتراض د محکوم عليه لخوا، په هغهٔ صورت کې چې د قانون په حکم هغهٔ ته له حبس يا نغدي مجازاتو څخه يوه اټکل شوې وي او محکمې د حبس په جزاء حکم کړی وي.

۲-اعتراض د څارنوال لخوا، په هغهٔ صورت کې چې په قانون کې د حبس جزاء يا نغدي جزاء او يا دواړه اټکل شوې وي او محکمې يوازې په نغدي جزاء او يا د اټکل شوو مجازاتو د اکثر حد له نيمايي څخه په کمه (لږ) حکم کړی وي.

(۴)ددې مادې په (۲او۳) فقرو کې له درج شوو حالاتو څخه بغير(پرته)، تورن يا څارنوال نشي کولای د استيناف د حکم غوښتونکي شي، خو دا چې د اعتراض وړ حکم له قانون سره په مخالفت يا د هغهٔ په تطبيق يا تأويل کې پر خطا باندې بناء

صورتی که حکم به برائت متهم صادر گرديده باشد.

(۳) اعتراض بر حکم محکمهٔ ابتدائيه درجرم جنحه در احوال ذيل صورت گرفته می تواند:

۱- اعتراض از طرف محکوم عليه در صورتی که به حکم قانون برای وی يکی از مجازات حبس يا جزای نقدی پيش بينی گرديده و محکمه به جزای حبس حکم نموده باشد.

۲- اعتراض از طرف څارنوال درصورتی که در قانون جزای حبس يا جزای نقدی ويا هردو پيش بينی گرديده و محکمه تنها به جزای نقدی ويا به کمتر از نصف حد اکثر مجازات پيش بينی شده حکم نموده باشد.

(۴) درغير از حالات مندرج فقره های (۲ و۳) اين ماده، متهم يا څارنوال نمی تواند طالب حکم به استيناف گردد، مگر اينکه حکم مورد اعتراض در مخالفت با قانون يا خطاء در تطبيق يا تأويل آن بنا يافته يا

موندلې وي يا په حکم کې کوم بطلان صورت موندلی وي يا په اجراآتو کې بطلان پېښ شوی وي چې پر حکم يې اغېزه کړې وي.

**په تجزيه نه منونکو جرمونو کې اعتراض**

**دوه سوه اووه څلوېښتمه ماده:**

(۱)په هغو جرمونو کې چې يو له بل سره تجزيه نه منونکې اړيکې لري، پر صادر شوي حکم اعتراض صورت موندی شي، که څه هم چې معترض له دغو جرمونو څخه يوازې د ځينو په هکله د اعتراض حق ولري.

(۲)اعتراض د ځينو تورنو لخوا، يوازې د معترض په هکله د اعتبار وړ دی.

(۳)که چېرې په واحد جرم کې څوتنه تورن شامل وي او قضيه په شريکه توګه وڅېړل شي، هر يو له هغو څخه کولای شي يو د بل په اعتراض کې د غوښتنليک په وړاندې کولو سره شريک شي.

**د واک يا د هغهٔ د نه شتون په هکله**

درحکم بطلانی صورت گرفته يا در اجراآت بطلانی واقع گرديده که بر حکم تاثير نموده باشد.

**اعتراض در جرايم تجزيه ناپذير**

**مادهٔ دوصد وچهل وهفتم:**

(۱) اعتراض بر حکم صادر شده در جرايمی که با هم ارتباط تجزيه ناپذير دارند، صورت گرفته می تواند، گرچه معترض، صرف حق اعتراض در مورد بعضی از اين جرايم را داشته باشد.

(۲) اعتراض از طرف بعضی از متهمين، صرفاً در مورد معترض قابل اعتبار می باشد.

(۳) هرگاه در جرم واحد چند نفر متهم شامل و قضيه به صورت مشترک بررسی شود، هر يک از آنها می توانند در اعتراض يکديگر با تقديم درخواست شريک گردند.

**اعتراض درمورد صلاحيت ياعدم**

ketabton.com - The Digital Library



**اعتراض**

**دوه سوه اته څلویښتمه ماده:**

هغه حکمونه چې د محکمې لخوا د نه واک (صلاحیت) په هکله صادر شوي په ګډه قضیه کې له تورنو څخه د یوۀ یا له یوۀ څخه د زیاتو لخوا پر هغو اعتراض صورت موندلای شي، دغه ډول اعتراض دقضیې د ټولو تورنو په هکله په پام کې د نیولو وړ دی.

**پرلومړنیو (مقدماتي) حکمونو اعتراض**

**دوه سوه نهه څلویښتمه ماده:**

پر هغو حکمونو اعتراض چې په مقدماتي چارو کې صادر شوي وي، د دعوي د موضوع له حل او فصل څخه دمخه، جواز نلري. د فرعي دعواوو په هکله اعتراض چې د موضوع حل او فصل په هغۀ پورې تړلی وي، لدې حکم څخه مستثني دی. په اصل موضوع کې پر حکم باندې اعتراض پر مقدماتي حکم باندې په اعتراض کې هم شامل دی.

**له جزايي دعوي څخه په راپیدا شوې**

**آن**

**مادۀ دوصد وچهل وهشتم:**

احکامیکه از طرف محکمه در موردی که صلاحیت صدور حکم را نداشته، صادر شده باشد از طرف یک یا بیشتر از یک نفر از متهمین در قضیه واحد بر آن اعتراض صورت گرفته می تواند، چنین اعتراض در مورد همه متهمین قضیه قابل رعایت می باشد.

**اعتراض براحکام مقدماتی**

**مادۀ دوصدوچهل ونهم:**

اعتراض بر احکامی که در امور مقدماتی صادر شده باشد، قبل از حل و فصل موضوع دعوی جواز ندارد. اعتراض درمورد دعاوی فرعی که حل وفصل موضوع به آن مربوط می باشد، از این حکم مستثنی است. اعتراض برحکم دراصل موضوع شامل اعتراض برحکم مقدماتی نیز می باشد.

**اعتراض درموضوع حق العبدی**

ketabton.com - The Digital Library



## حق العبدي موضوع کې اعتراض

**دوه سوه پنځوسمه ماده:**

که چېرې د حق العبد مدعي، د حق العبد مسئول او زيانمن شوی يا د هغوی قانوني استازي، له جزايي دعوي څخه په را پيدا شوو حق العبدي موضوعګانو کې د ابتدائيه محکمې پر حکم قناعت ونلري، کولای شي خپل اعتراض مستقيماً يا د حکم د صادروونکې محکمې له لارې، د استيناف محکمې ته وړاندې کړي.

## د حق العبد په دعوي کې اعتراض

**دوه سوه يو پنځوسمه ماده:**

اعتراض پرهغو حکمونو چې د حق العبدي دعوي په جزايي قضيو کې له ابتدائيه محکمې څخه صادر شوي ، د حق العبد د مدعي او حق العبد د مسئول، تورن يا د هغوی د قانوني استازو لخوا په هغۀ شرط جواز لري چې د زيان غوښتل شوی جبران له هغۀ ټاکل شوي حد څخه چې په مدني موضوعګانو کې د ابتدائيه محکمې د حکمونو د نهايي والي لپاره ټاکل شوی، زيات وي.

## ناشی از دعوای جزائی

**مادۀ دوصدوپنجاهم:**

هرگاه مدعی حق العبد، مسئول حق العبد و متضرر یا نمایندگان قانونی آنها به حکم محکمۀ ابتدائیه در موضوعات حق العبدی ناشی از دعوای جزائی قناعت نداشته باشند، می توانند اعتراض خود را مستقیماً یا از طریق محکمۀ صادر کنندۀ حکم، به پیشگاه محکمۀ استیناف تقدیم نمایند.

## اعتراض در دعوای حق العبد

**مادۀ دوصد وپنجاه ویکم:**

اعتراض بر احکامی که در مورد دعوای حق العبدی از محکمۀ ابتدائیه در قضایای جزائی صادر گردیده، از طرف مدعی حق العبد و مسئول حق العبد، متهم یا نمایندگان قانونی آنها به شرطی جواز دارد که جبران خسارۀ درخواست شده از حد معینه ای که برای نهائی بودن احکام محکمۀ ابتدائیه در موضوعات مدنی تعیین گردیده بیشتر باشد .

ketabton.com - The Digital Library



**د اعتــراض د وړاندې کولو وخت (موعد)**

**دوه سوه دوه پنځوسمه ماده:**

**(۱)د ابتدائيه محکمې پر حکم اعتراض، په ليکلې يا شفاهي توګه صورت موندلای شي.**

**(۲)د جزايي دعوي شاملين چــې ددې قانون د حکمونو مطــابق، د اســتيناف غوښتنې حق لري، کولای شي خپل نــه قناعت او اعتراض په همــاغې قضــايي غونډې کې چې حکــم ابلاغــوي، پــه مستقيمه توګه څرګند کړي. د هغــوی اعتراض په محضر کې درجېږي.**

**(۳)د حکم د ابلاغ په پاڼه کې د محکوم عليه نه قناعت،پر حکم باندې د اعتراض حيثيت لري.**

**د اعتراض مطالب**

**دوه سوه دري پنځوسمه ماده:**

**(۱)پرحکم باندې اعتراض د لاندو مطالبو لرونکی وي:**

**۱–د هغې محکمې نوم چې حکم يــې د استيناف مورد ګرځي.**

**موعــــــــــد تقــــــــــديم اعتراض**

**مادۀ دوصد وپنجاه ودوم:**

**(۱) اعتراض بر حکم محکمۀ ابتدائيــه بشکل تحريری يا شفاهی صورت گرفته می تواند.**

**(۲) شاملين دعوای جزائی که مطــابق احکام اين قانون حق استيناف خواهی را دارند، می توانند عدم قناعت و اعتراض خود را درهمان جلسۀ قضائی که حکم را ابلاغ می نمايد، بصورت مستقيم ابراز نمايند. اعتراض آنها در محضــر درج می گردد.**

**(۳) عدم قناعت محکوم عليه در ورقۀ ابلاغ حکم، حيثيت اعتراض برحکم را دارا می باشد.**

**مطالب اعتراض**

**مادۀ دوصد وپنجاه وسوم:**

**(۱)اعتراض بر حکم حاوی مطالب ذيل می باشد:**

**۱– نام محکمه ای که حکم آن مــورد استيناف قرار می گيرد.**

ketabton.com - The Digital Library



۲-د اعتراض د وړاندې کوونکي بشپړ شهرت.

۳- د فيصلې يا د حکم د ابلاغ د پاڼې ګڼه.

۴-د قانون د حکمونو مطابق، په څرګنده او روښانه توګه د اعتراض دلايل.

(۲) د تورن، د حق العبد د مدعي، د حق العبد د مسئول يا د هغوی د قانوني استازو او څارنوال لخوا پر حکم باندې اعتراض، د استيناف د محکمې د تحريراتو دفتر ته، د حکم د ابلاغ له نېټې څخه د (۲۰) ورځو مودې په ترڅ کې صورت مومي او د استيناف د محکمې دتحريراتو لخوا د رسېدو د تصديق لرونکی رسيد ورکول کېږي.

(۳) پداسې احوالو کې چې ددې قانون د حکمونو مطابق په جزايي موضوعګانو کې د ابتدائيه محکمې دصادره حکم په وړاندې استيناف غوښتنه جواز ولري، د استيناف د څارنوالۍ رئيس کولای شي د ابتدائيه څارنوال دتصميم پرخلاف دجنحې او جنايت په جرمونو کې د څارنوالۍ د تحريراتو دفتر ته د حکم د رسېدو له نېټې

۲- شهرت مکمل تقديم کنندهٔ اعتراض.

۳- شمارهٔ فيصله يا ورقهٔ ابلاغ حکم.

۴- دلايل اعتراض به صورت واضح و روشن مطابق احکام قانون.

(۲) اعتراض برحکم از طرف متهم، مدعی حق العبد، مسئول حق العبد يا نمايندگان قانونی آنها و څارنوال به دفتر تحريرات محکمهٔ استيناف، در خلال مدت (۲۰) روز از تاريخ ابلاغ حکم صورت می گيرد واز طرف تحريرات محکمهٔ استيناف رسيد حاوی تصديق وصول، اعطاء می شود.

(۳) در احوالی که مطابق احکام اين قانون استيناف خواهی څارنوال در برابر حکم صادرهٔ محکمهٔ ابتدائيه در موضوعات جزائی جواز داشته باشد، رئيس څارنوالی استيناف می تواند به خلاف تصميم څارنوال ابتدائيه در جرايم جنحه وجنايت در خلال مدت (۱۰) روز از تاريخ وصول حکم

ketabton.com - The Digital Library



 څخه د (۱۰)ورځو مودې په ترڅ کې او د جنايت په جرمونو کې، لوی څارنوال د استيناف د څارنوالۍ د رئيس پرخلاف د نوموړي د تحريراتو دفتر ته د پاڼو د رسېدو له نېټې څخه د (۲۰) ورځو مودې په ترڅ کې د ابتدائيه محکمې د صادره حکم پرخلاف استيناف غوښتنه وکړي. د اعتراض د دلايلو وړاندې کول هم د همدې مودې تابع دي.

(۴)هغه حکمونه چې د تورن پرخلاف د جنحې او جنايت په جرمونو کې د حکمي حضُور پر بنسټ صادر شوي وي، د هغو د استيناف غوښتنې موعد له هغې نېټې څخه حسابېږي چې حکم رسماً هغهٔ ته ددې قانون د حکمونو مطابق، ابلاغ شوی وي.

## د اعتراض د مودې غځېدل(تمديد)

**دوه سوه څلور پنځوسمه ماده:**

که چېرې د دعوي له اړخونو څخه يو ددې قانون د دوه سوه دري پنځوسمې مادې په (۲او۳)فقرو کې درج د ټاکل شوې مودې د پای د رسمي ورځې په آخر

به دفتر تحريرات څارنوالی و در جرايم جنايت، لوی څارنوال به خلاف تصميم رئيس څارنوالی استيناف در خلال (۲۰) روز از تاريخ وصول اوراق به دفتر تحريرات مذکور عليه حکم صادرهٔ محکمهٔ ابتدائيه استيناف طلبی نمايد. تقديم دلايل اعتراض نيز تابع همين موعد می باشد.

(۴) احکامی که در جنحه يا جنايت عليه متهم بر اساس حضور حکمی صادر شده باشد، موعد استيناف خواهی آن از تاريخی حساب می شود که حکم به وی رسماً مطابق احکام اين قانون ابلاغ شده باشد.

## تمديد ميعاد اعتراض

**مادهٔ دوصد وپنجاه وچهارم:**

هرگاه يکی از طرفين دعوی در ساعت اخير روز رسمی ختم ميعاد معينه مندرج فقره های (۲ و۳) مادهٔ دوصد وپنجاه وسوم اين قانون بر

ketabton.com - The Digital Library



ساعت کې پر حکم باندې اعتراض وکړي، د مقابل اړخ د اعتراض موده، د دلایلو د وړاندې کولو او د هغه د رد په منظور د اولنۍ مودې له انتهایي نېټې څخه د (۵) ورځو لپاره، تمدیدېږي.

## د ځېړنې د غونډې د نېټې ټاکل

دوه سوه پنځه پنځوسمه ماده:

که چېرې اعتراض د استیناف محکمې په وړاندې تقدیم شي، د تحریراتو اړوند دفتر مکلف دی،د اعتراض د وړاندې کولو نېټه ثبت او ددې قانون د دوه سوه دري پنځوسمې مادې د (۲او۳)فقرو د حکمونو له په پام کې نیولو سره، د اعتراض د ځېړنې د غونډې نېټه و ټاکي.

## د اړخونو حضور

دوه سوه شپږپنځوسمه ماده:

د ابتدائیه محکمې په قضایي غونډو کې د اړخونو په حضُور پورې اړوند حکمونه، د استیناف په محکمه کې د هغوی د حضُور په هکله هم تطبیقېږي.

حکم اعتراض نماید، موعد اعتراض طرف مقابل به منظور تقدیم دلایل و رد آن، برای مدت (۵) روز از تاریخ انتهای مدت اولی، تمدید می گردد.

## تعیین تاریخ جلسهٔ رسیدگی

مادهٔ دوصد وپنجاه وپنجم:

هرگاه اعتراض به پیشگاه محکمهٔ استیناف تقدیم گردد، دفتر تحریرات مربوط مکلف است، تاریخ تقدیم اعتراض راثبت وبا رعایت احکام فقره های (۲و۳) مادهٔ دوصد وپنجاه وسوم این قانون، تاریخ جلسهٔ رسیدگی به اعتراض را تعیین نماید.

## حضور طرفین

مادهٔ دوصدوپنجاه وششم:

احکام مربوط به حضور طرفین در جلسات قضائی محکمهٔ ابتدائیه در مورد حضور آنها به محکمهٔ استیناف نیز تطبیق می شود.

ketabton.com - The Digital Library



## د اعتراض د رد حالات

**دوه سوه اووه پنځوسمه ماده:**

محکمه د معترض اعتراض په لاندې حالاتو کې ردوي:

۱-په هغهٔ صورت کې چې د اعتراض وړاندې کوونکی، ددې قانون د حکمونو په حدودو کې د استيناف غوښتنې حق ونلري.

۲-په هغهٔ صورت کې چې اعتراض په نظر وړ صادره فيصله کې درج شوې موضوع ته، متوجه نه وي.

۳-په هغهٔ صورت کې چې اعتراض د قانوني ټاکلې مودې له تېرېدو څخه وروسته، وړاندې شوی وي.

## له استيناف غوښتنې څخه انصراف

**دوه سوه اته پنځوسمه ماده:**

(۱)معترض کولای شي، د قضايي غونډې تر پايته رسېدو پورې د استيناف اړوندې محکمې ته د غوښتنليک په وړاندې کولو سره، د استيناف غوښتنې له خپل حق څخه منصرف شي.

(۲)د تورن قانوني استازی نشي کولای، د

## حالات رد اعتراض

**مادهٔ دوصد وپنجاه وهفتم:**

محکمه اعتراض معترض را در احوال ذيل رد می نمايد:

۱- درصورتی که تقديم کنندهٔ اعتراض در حدود احکام اين قانون حق استيناف خواهی را نداشته باشد.

۲- درصورتی که اعتراض متوجه به موضوع مندرج فيصلهٔ صادرهٔ مورد نظر نباشد.

۳- درصورتی که اعتراض بعد از گذشت موعد معينهٔ قانونی تقديم شده باشد.

## انصراف از استيناف خواهی

**مادهٔ دوصد وپنجاه وهشتم:**

(۱) معترض می تواند الی ختم جلسهٔ قضائی باتقديم درخواست به محکمهٔ استيناف مربوط، از حق استيناف خواهی خود منصرف گردد.

(۲) نمايندهٔ قانونی متهم نمی تواند،

ketabton.com - The Digital Library



هغهٔ له موافقې پرته د حکم پرخلاف لــه اعتراض څخه منصرف شي.

د لومړني رپوټ ترتيبول

دوه سوه نهه پنځوسمه ماده:

په هغهٔ صورت کــې چــې اعتــراض د استيناف د محکمې د منلو وړ وګرځي، د اړوند ديوان له قاضيانوڅخه يو مؤظفوي څو د لاندې مطالبو لرونکی رپوټ ترتيب او وړاندې کړي:

۱-په دعوي کې د درج شوو پيښنو لنډيز.

۲-د حاکمه محکمې د اجراآتو او څېړنو لنډيز.

۳-د حکم دلايل او اسباب.

۴-نورې هغهٔ مسئلې چې د تحقيق پــه اجراآتو او قضايي څېړنه کې درج وي او د حکم په صادرېدو کې اغيزمنې تشخيص شي.

د څارنوال يا د قضيې د اړخونو لخوا داستيناف د غوښتنليک وړاندې کول

دوه سوه شپېتمه ماده:

که چېــرې د اســتيناف غوښــتنليک د څارنوال يا څارنوال او تورن لخوا وړاندې

بدون موافقهٔ وی از اعتراض عليه حکم منصرف شود.

ترتيب گزارش مقدماتی

مادهٔ دوصد وپنجاه ونهم:

در صورتی که اعتراض مــورد قبــول محکمهٔ استيناف قرار گيرد، يکــی از قضات ديوان مربوط را مؤظــف مــی گرداند تا گزارش حاوی مطالب ذيل را ترتيب وارايه نمايد:

۱- خلص وقايع مندرج دعوی.

۲- خلص اجــراآت وبررســی هــای محکمهٔ حاکمه.

۳- دلايل واسباب حکم.

۴- ساير مســايلی کــه در اجــراآت تحقيق ورسيدگی قضــائی درج بــوده و در صـــدورحکم مــؤثر تشـــخيص گردد.

ارايه درخواست استيناف از طرف څارنوال يا طرفين قضيه

مادهٔ دوصد وشصتم:

هرگاه درخواست اســتيناف از طــرف څارنوال يا څارنوال ومتهم تقديم شـــده

ketabton.com - The Digital Library



شوی وي، محکمه کولای شي صـــادره حکم تأیید یا نقض کړي یا یې په الغا یا تعدیل او یا د مجازاتو په تخفیف یا تشدید حکم صادر کړي.

د برائت د حکم الغاء د قضایي هیئت د رأیو په اتفاق صورت مومي.

## د تورن لخوا د استیناف غوښتنلیک

**دوه سوه یو شپېتمه ماده:**

که چېرې د استیناف غوښتنې غوښتنلیک یوازې د تورن لخوا وړاندې شوی وي، محکمه کولای شي د تأیید، تخفیف یـــا برائت په اړه خپل حکم صادر کـــړي او نشي کولای د محکوم بها جـــزاء پـــه سختولو (تشدید) حکم صادر کړي.

## د څارنوال نه قناعت او له نوبت پرته څېړنه

**دوه سوه دوه شپېتمه ماده:**

(۱) که چېرې تورن په توقیف کې وي او ابتدائیه محکمه د هغهٔ په برائت حکـــم صادر یا حکم د هغه حبس په مجـــازاتو صادر کړي چې تورن دمخه هغه په توقیف خونه کې تېر کړی وي او یـــا د دمخـــه

باشد، محکمه می تواند حکم صادره را تائید یا نقض نموده یا به الغاء یا تعدیل آن ویا به تخفیف یا تشـــدید مجـــازات حکم صادر نماید.

الغای حکم برائت به اتفاق آرای هیئت قضائی صورت می گیرد.

## درخواست استیناف از طرف متهم

**مادهٔ دوصد وشصت ویکم:**

هرگاه درخواست استیناف خواهی صرف از طرف متهم تقدیم شده باشد، محکمه می تواند حکم خود را مبنی بر تائیـــد، تخفیف یا برائت صادر نماید و نمی تواند به تشدید جزای محکوم بها حکم صادر کند.

## عدم قناعت خارنـــوال ورســـیدگی بدون نوبت

**مادهٔ دوصد وشصت ودوم:**

(۱) هرگاه مـــتهم در توقیـــف قـــرار داشته و محکمهٔ ابتدائیـــه حکـــم بـــه برائت او صادر یا حکم بـــه مجـــازات حبسی صادر نماید کـــه مـــتهم قـــبلاً آنرا در توقیف خانه سپری نموده باشد

ketabton.com - The Digital Library



توقيف موده د تورن په حال کافي پېژندل شوې وي او څارنوال د صادره حکـــم پرخلاف، اســـتيناف غوښـــتنه وکـــړي، څارنوال مکلف دی، د خپلې اســـتيناف غوښتنې غوښتنليک په بيړنـــۍ توګـــه د استيناف محکمې ته وړاندې او د تورن د لېږدولو امر هغې توقيف خونې يا محبس ته صادر کړي چې د استيناف د محکمې په حوزه کې واقع وي.

(۲)د استيناف محکمـــه مکلفـــه ده، د څارنوال د استيناف غوښتنې غوښتنليک په بيړنۍ توګه او د نوبت له په پام کې نيولو پرته تر څېړنې لاندې ونيسي.

(۳)که چېرې محکمه د څارنوال دلايـــل مؤجه تشخيص کړي، د اصل قضيې لـــه څېړنې څخه دمخه، دتـــورن دتوقيـــف د تمديد په هکله او پرته لدې له توقيـــف څخه د هغهٔ په خوشې کېدو امر صادروي.

## استينافي څېړنه

### دوه سوه دري شپېتمه ماده:

(۱)په هغهٔ صورت کې چې د اســـتيناف محکمه د دمخه بشپړ شوي اجـــراآت د

ويا مدت توقيف قبلی به حال متهم کافی شناخته شده باشد وڅارنوال عليه حکم صادره، استيناف طلب گردد، څارنوال مکلف است درخواست استيناف خواهی خود را به صورت عاجل بـــه محکمـــهٔ استيناف تقديم و امر انتـــقال مـــتهم را به توقيف خانه يا محبسی صادر نمايـــد که در حوزهٔ محکمهٔ اســـتيناف قـــرار دارد.

(۲) محکمهٔ استيناف مکـــلف است ، درخواست استيناف خواهی څارنوال را بصورت عاجل و بدون رعايت نوبـــت تحت رسيد گی قرار دهد.

(۳) هرگاه محکمه دلايل څارنـــــوال را مؤجـــه تشـــخيص دهـــد، قبـــل از رسيدگی به اصل قضيهٔ راجع به تمديد توقيف متهم و در غير آن به رهائی وی از توقيف امر صادر می نمايد.

## رسيدگی استينافی

### مادهٔ دوصد وشصت وسوم:

(۱) درصورتی که محکمـــهٔ اســـتيناف اجراآت تکميـــل شـــدهٔ قبلـــی را بـــه

ketabton.com - The Digital Library



استينافي فيصلې د کولو په منظور کافي تشخيص کړي، کولای شي د شاهدانو د شاهدۍ او د اهل خبره د نظريو له بيا اورېدو پرته، پدې برخه کې خپل حکم صادر کړي.

(۲) په هغهٔ صورت کې چې مستانف د قانوني وخت د ورکولو باوجود، خپل اعتراض د ټاکلې مودې په دننه کې وړاندې نکړي، محکمه کولای شي د استيناف د غوښتنليک پرموجب د موضوع څېړنه وکړي.

(۳) که چېرې مستانف د تنفيذي حبس په مجازاتو محکوم، خو حکم تنفيذ شوی نه وي، محکمه هغه وخت کولای شي استينافي څېړنه وکړي چې محکوم عليه د قضايي غونډې له جوړېدو دمخه ځان د حکم د تنفيذ په غرض اړوندو مراجعو ته تسليم کړی وي، پرته لدې دهغهٔ د استيناف غوښتنې حق ساقطېږي، خو داچې محکوم عليه د ضمانت په قيد سره خوشې شوی وي.

منظور اتخاذ فيصلهٔ استينافی کافی تشخيص دهد، می تواند بدون استماع مجدد شهادت شهود ونظريات اهل خبره،حکم خويش را در زمينه صادر نمايد.

(۲) در صورتی که مستانف با وجود اعطای فرصت قانونی، اعتراض خود را بداخل ميعاد معينه تقديم نه نمايد، محکمه می تواند به موجب درخواست استيناف به موضوع رسيدگی نمايد.

(۳) هرگاه مستانف به مجازات حبس تنفيذی محکوم، ولی حکم تنفيذ نشده باشد، محکمه زمانی می تواند به رسيدگی استينافی بپردازد که محکوم عليه قبل از تدوير جلسهٔ قضائی خود را غرض تنفيذ حکم به مراجع مربوط تسليم نموده باشد، درغير آن حق استيناف خواهی وی ساقط می گردد، مگر اينکه محکوم عليه به قيد ضمانت رها گرديده باشد.

ketabton.com - The Digital Library



## د قضيې د څېړنې په وخت کې د استيناف د محکمې اجراآت

**دوه سوه څلورشپېتمه ماده:**

(۱)د استيناف محکمه په استينافي پړاو کې د قضيې د څېړنې په وخت کې د ټولو هغو واکونو لرونکې ده چې ابتدائيه محکمه د څېړنې په وخت کې د هغو لرونکې وه.

(۲)د استيناف محکمه په لاندې ترتيب سره د قضيې په څېړنه لاس پورې کوي:

۱-د هغۀ لومړني(مقدماتي) رپوټ اورېدل چې د اړوند ديوان د قضايي غړي په واسطه ترتيب شوی دی.

۲- د مستانف د بيانونو (څرګندونې) او دلايلو اورېدل.

۳-د اصل تور په اړه د څارنوال بيانونه او د اعتراض دلايل، په هغۀ صورت کې چې معترض محکوم عليه وي.

۴-د تورن او د قضيې د نورو شاملينو د بيانونو اورېدل.

۵-د شاهدانو د شاهدۍ اورېدل او د هغې په اړه د قضيې د شاملينو بيانونه او

## اجراآت محکمۀ استيناف حين رسيدگی به قضيه

**مادۀ دوصد وشصت وچهارم:**

(۱) محکمۀ استيناف حين رسيدگی قضيه در مرحلۀ استينافی دارای تمام صلاحيت هائی می باشد که محکمۀ ابتدائيه حين رسيدگی دارا بوده است.

(۲) محکمۀ استيناف به ترتيب ذيل به رسيدگی قضيه می پردازد:

۱- استماع گزارش مقدماتی که توسط عضو قضائی ديوان مربوط ترتيب گرديده است.

۲- استماع اظهارات و دلايل مستانف.

۳- اظهارات څارنوال در رابطه به اصل اتهام ودلايل اعتراض در صورتی که معترض محکوم عليه باشد.

۴- استماع اظهارات متهم وساير شاملين قضيه.

۵- استماع شهادت شهود و اظهارات شاملين قضيه پيرامون آن وپرسش های

لازمې پوښتنې.

۶-د وروستني ويونكي په توګه د تورن د بيانونو اورېدل.

۷-د محكمې لخوا د قضيې څېړل او د حكم صادرول.

۸-د اهل خبره د بيانونو اورېدل.

## په حكم يا قرار كې د قانون د موادو تصريح

دوه سوه پنځه شپېتمه ماده:

كه چېرې د استيناف محكمه د ابتدائيه محكمې فيصله تأييد، نقض، تعديل، تصحيح يا باطله كړي، مكلفه ده د هغه دلايل د هغهٔ قانون له موادو سره چې پر هغو يې استناد كړى دى، په خپل حكم يا قرار كې تصريح كړي.

## د تېروتنې (خطاء) تصحيح او د اصل دعوي څېړنه

دوه سوه شپږشپېتمه ماده:

(۱)كه چېرې ابتدائيه محكمې په اصل موضوع كې فيصله صادره كړې وي او د استيناف محكمه تشخيص كړي چې په حكم كې خطاء صورت موندلى، فيصله

لازم.

۶- استماع بيانات متهم به عنوان آخرين گوينده.

۷- رسيدگى قضيه از طرف محكمه واصدار حكم.

۸- استماع اظهارات اهل خبره.

## تصريح مواد قانون در حكم يا قرار

مادهٔ دوصد وشصت وپنجم:

هرگاه محكمهٔ استيناف فيصلهٔ محكمهٔ ابتدائيه را تائيد، نقض، تعديل، تصحيح يا باطل نمايد، مكلف است دلايل آنرا با مواد قانونى كه به آن استناد نموده است، در حكم يا قرار خود تصريح نمايد.

## تصحيح خطاء ورسيدگى به اصل دعوى

مادهٔ دوصد وشصت وششم:

(۱) هرگاه محكمهٔ ابتدائيه در اصل موضوع فيصله صادر و محكمهٔ استيناف تشخيص دهد كه در حكم خطاء صورت گرفته، فيصله را نقض و

ketabton.com - The Digital Library



نقضوي او اصل دعوي څېړي او حکم صادروي.

(۲)که چېرې خطاء په اجراآتو کې صورت موندلى وي، محکمه خطاء تصحيح کوي او حکم تأييدوي، پدې شرط چې خطاء د اجراآتو د بطلان باعث نشي او په حکم کې اغېزمنه نه وي.

**د تصميم نيول**

**دوه سوه اووه شپېتمه ماده:**

د استيناف محکمه د قضيې د څېړنې په پاى کې، يو له لاندې تصميمونو څخه نيسي:

۱-د ابتدائيه محکمې د فيصلې د تأييد په اړه د حکم صادرول.

۲-د ابتدائيه محکمې د فيصلې نقض او د نوي حکم صادرول.

۳-د ابتدائيه محکمې د فيصلې تعديل.

۴-د ابتدائيه محکمې د فيصلې تصحيح په هغۀ صورت کې چې غلطي د فيصلې په املاء يا اعدادو او ارقامو کې وي او په حکم او د حکم په مؤجبه پايله او اسبابو کې اغېزمنه نه وي.

به اصل دعوى رسيدگى و حکم صادر مى نمايد.

(۲) هرگاه خطاء در اجراآت صورت گرفته باشد، محکمه خطاء را تصحيح و حکم را تائيد مى کند، مشروط بر اينکه خطاء باعث بطلان اجراآت نگرديده و در حکم مؤثر نباشد.

**اتخاذ تصميم**

**مادۀ دوصد وشصت وهفتم:**

محکمۀ استيناف درختم رسيدگى به قضيه، يکى از تصاميم ذيل را اتخاذ مى نمايد:

۱- صدور حکم مبنى بر تائيد فيصلۀ محکمۀ ابتدائيه.

۲- نقض فيصلۀ محکمۀ ابتدائيه وصدور حکم جديد.

۳- تعديل فيصلۀ محکمۀ ابتدائيه.

۴- تصحيح فيصلۀ محکمۀ ابتدائيه در صورتى که غلطى در املاء يا اعداد وارقام فيصله بوده و در حکم و نتيجه و اسباب مؤجبۀ حکم مؤثر نباشد.

ketabton.com - The Digital Library



**۵-د ابتدائيه محکمې د فيصلې بطلان او حاکمه محکمې يا واکمنې محکمې ته د بطلان مواردو ته په اشارې سره د نوي حکم د صادرېدو په غرض، دهغې ارجاع.**

**۶-دزياتو تحقيقاتو په اړه دقرار صادرول، په داسې حال کې چې په تحقيق او سندونو کې، داسې نيمګړتياوې او تشې وي چې پر حکم باندې اغېزه وکړي.**

## داستيناف د محکمې د فيصلې مندرجات

**دوه سوه اته شپېتمه ماده:**

**د استيناف د محکمې فيصله دلاندې مطالبو لرونکې وي:**

**۱-د محکمې نوم او ترکيب.**

**۲-د حکم د صادرېدو زمان او مکان.**

**۳-د ګډون کوونکي څارنوال نوم.**

**۴-د تورن او د هغهٔ د قانوني استازي شهرت.**

**۵-د ابتدائيه محکمې د فيصلې د محتوي لنډيز.**

**۶-د اعتراض محتوي.**

**۷-د شاهدانو، تورن، څارنوال او نورو**

**۵- بطلان فيصلهٔ محکمهٔ ابتدائيه وارجاع آن به محکمهٔ حاکمه يا محکمهٔ ذيصلاح غرض صدور حکم جديد با اشاره به موارد بطلان.**

**۶- صدور قرار مبنی بر تحقيقات مزيد در حاليکه در تحقيق و اسناد، نواقص و خلاهای باشد که بر حکم اثر بگذارد.**

## مندرجات فيصله محکمهٔ استيناف

**مادهٔ دوصد وشصت وهشتم:**

**فيصلهٔ محکمهٔ استيناف حاوی مطالب ذيل می باشد:**

**۱- نام و ترکيب محکمه.**

**۲- زمان و مکان صدور حکم.**

**۳- نام څارنوال اشتراک کننده.**

**۴- شهرت متهم ونمايندهٔ قانونی وی.**

**۵- خلاصهٔ محتوای فيصلهٔ محکمهٔ ابتدائيه.**

**۶- محتوای اعتراض.**

**۷- خلاصهٔ توضيحات واظهارات**

ketabton.com - The Digital Library



ګډون کوونکو د څرګندونو او بيـــانونو لنډيز او د هغو ارزونه.

۸-پايله اخيستنه او د قانون د حکمونو په رڼا کې، د اړوندو ارزونو تحليل.

۹-د حکم نص.

**د بيا څېړنې په غرض د قضيې ارجاع**

**دوه سوه نهه شپيتمه ماده:**

که چېرې ابتدائيه محکمې په نه واک يا د داډول فرعي دفع قبلولو حکم صادر کړی وي چې د دعوي د دوران خنډ وګرځي، د استيناف محکمه حکم نقض او قضيه په اصل موضوع کې دپريکړې لپاره واکمنې محکمې ته سپاري.

شـــهود،متهم،څارنوال وسايراشـــتراک کننده گان وارزيابی آن.

۸- نتيجه گيری وتحليل ارزيابی هـــای مربوط در پرتو احکام قانون.

۹- نص حکم .

**ارجاع قضيه غرض رسيدگی مجدد**

**مادهٔ دوصدوشصت ونهم:**

هرگاه محکمهٔ ابتدائيه به عدم صلاحيت يا قبول چنان دفع فرعی حکم صـــادر نموده باشد که مانع سير دعوی گردد، محکمهٔ استيناف حکم را نقض و قضيه را جهت فيصله در اصل موضـــوع بـــه محکمهٔ ذيصلاح ارجاع می نمايد.

ketabton.com - The Digital Library



## دوولسم فصل

## فرجام غوښتنه

**فرجام غوښتنه**

**دوه سوه اویایمه ماده:**

(۱)ستره محکمه د جنایت یا جنحې په قضیو کې د استیناف د محکمې صادره حکمونه، د څارنوال، محکوم علیه، د حق العبد د مدعي یا د حق العبد د مسئول د فرجام غوښتنې پر بنسټ په لاندو احوالو کې ترغور او مداقې لاندې نیسي:

۱-پداسې حال کې چې د فرجام غوښتنې وړ حکم، له قانون سره په مخالفت یا د هغهٔ په تطبیق یا تأویل کې پرخطاء باندې ولاړ (بنا موندلې) وي.

۲-پداسې حال کې چې په حکم کې بطلان پېښ شوی وي.

۳-پداسې حال کې چې په اجراآتو کې داسې بطلان منځته راغلی وي چې پر حکم باندې اغېزمن وي.

۴-پداسې حال کې چې حکم د شخص په مرګ صادر شوی وي، څارنوال پدې حالت کې د قانون په حکم موضوع

## فصل دوازدهم

## فرجام خواهی

**فرجام خواهی**

**مادهٔ دوصد وهفتادم:**

(۱) ستره محکمه احکام صادرهٔ محاکم استیناف را در قضایای جنایت یا جنحه به اساس فرجام خواهی څارنوال، محکوم علیه، مدعی حق العبد یا مسئول حق العبد در احوال آتی تحت غور ومداقه قرار می دهد:

۱- در حالی که حکم مورد فرجام خواهی در مخالفت با قانون یا خطاء در تطبیق یا تأویل آن بنا یافته باشد.

۲- در حالی که درحکم بطلان رخ داده باشد.

۳- در حالی که در اجراآت چنان بطلان به عمل آمده باشد که بر حکم مؤثر باشد.

۴- درحالی که حکم به مرگ شخص صادر شده باشد، څارنوال درین حالت به حکم قانون موضوع را به ستره

ketabton.com - The Digital Library



ستري محکمې ته وړاندې کوي، که څه هم چې حکم ددې فقرې په (۱، ۲ او۳) اجزاوو کې له درج شوو احوالو څخه د هېڅ يوهٔ تابع شوی نه وي.

(۲)د حق العبد مدعي او د حق العبد مسئول کولای شي، په جزايي قضيه کې يوازې په ځان پورې په اړوندو حق العبدي موضوعګانو کې، د ستري محکمې په وړاندې اعتراض وکړي.

(۳)ستره محکمه دغه حالت چې د اړوندو اجراآتو له قانون سره په مطابقت کې صورت موندلی دی، د اصلي حالت په توګه ګڼي.

## په غيابي حکمونو کې فرجام غوښتنه

دوه سوه يو اويايمه ماده:

څارنوال، د حق العبد مدعي او د حق العبد مسئول کولای شي د جنايت په قضيو کې چې حکم د تورن په غياب کې صادر شوی وي، هر يو په خپله اړونده ساحه کې پر صادرې شوې فيصلې د ستري محکمې په وړاندې اعتراض وکړي.

محکمه تقديم می دارد، هر چند حکم تابع يکی از احوال مندرج اجزای (۱، ۲ و۳) اين فقره قرار نگرفته باشد.

(۲) مدعی حق العبد ومسئول حق العبد، می توانند، صرف در موضوعات حق العبدی مربوط به خود در قضيهٔ جزائی به پيشگاه ستره محکمه اعتراض نمايند.

(۳) ستره محکمه اين حالت را که اجراآت مربوط در مطابقت با قوانين صورت گرفته است،بحيث حالت اصلی قرار می دهد.

## فرجام خواهی در احکام غيابی

مادهٔ دوصد وهفتادويکم:

څارنوال، مدعی حق العبد و مسئول حق العبد می توانند درقضايای جنايت که حکم در غياب متهم صادر شده باشد، هريک در ساحهٔ مربوط خود بر فيصلهٔ صادره در پيشگاه ستره محکمه اعتراض نمايند.

ketabton.com - The Digital Library



## په فرعي مسئلو کې فرجام غوښتنه

**دوه سوه دوه اويايمه ماده:**

هغه قرار او حکمونه چې د موضوع له حل اوفصل څخه دمخه صادرېږي، د سترې محکمې په وړاندې د فرجام غوښتنې وړګرځېدی نشي، خودا چې د هغې له امله د دعوي بهير وځنډول شي.

## د فرجام غوښتنې د وړاندې کولو ډول (صورت)

**دوه سوه درې اويايمه ماده:**

(۱)د استيناف د محکمې پر حکم يا قرار د فرجام غوښتنې، غوښتنليک چې د حکم صادروونکې محکمې د تحريراتو دفتر يا مستقيماً سترې محکمې ته وړاندې کېږي، بايد د غوښتونکي لخوا لاسليک او د ګوتې نښه اېښودل شوې وي.

(۲)د فرجام غوښتنې غوښتنليک محکوم عليه ته د حضوري حکم د ابلاغ له نېټې يا محکوم عليه ته دغيابي حکم د ابلاغ له نېټې څخه د (۳۰) ورځو مودې په ترڅ کې صورت مومي.

## فرجام خواهی در مسائل فرعی

**مادۀ دوصد وهفتادودوم:**

قرار و احکامی که قبل از حل و فصل موضوع صادر می گردد، در پیشگاه ستره محکمه مورد فرجام خواهی قرار گرفته نمی تواند، مگر اینکه به اثرآن جریان دعوی معطل قرار داده شود.

## صورت تقديم فرجام خواهی

**مادۀ دوصد وهفتاد وسوم:**

(۱) درخواست فرجام خواهی بر حکم یا قرار محکمۀ استیناف که به دفتر تحریرات محکمۀ صادر کنندۀ حکم یا مستقیماً به ستره محکمه تقدیم می گردد، باید از طرف درخواست کننده امضاءو نشان انگشت گذاشته شده باشد.

(۲) درخواست فرجام خواهی در خلال مدت (۳۰) روز از تاریخ ابلاغ حکم حضوری به محکوم علیه یا از تاریخ ابلاغ حکم غیابی به محکوم علیه صورت می گیرد.

ketabton.com - The Digital Library



(۳)هغه دلايل چې پر بنسټ يې فرجـــام غوښتنه صورت مومي هم بايد د نوموړې مودې په دننه کې وړاندې شي.

## د څارنوال لخوا فرجام غوښتنه

**دوه سوه څلور اويايمه ماده:**

که چېرې فرجام غوښتنه د استيناف د هغه څارنوال لخوا چې په قضايي غونډه کــې ګډون لري، صورت موندلی وي، پــدې صورت کې بايد نوموړی غوښتنليک او د هغهٔ دلايل د سترې محکمې د څارنوال د تأييد وړګرځېدلي وي.

## د حکم نقض

**دوه سوه پنځه اويايمه ماده:**

که چېرې ستره محکمه د فرجام غوښتنې دلايل مؤجه تشخيص کړي او حکم نقض کړي، موضوع د دلايلو په يادولو سره د بيا حکم د صادرېدو په غــرض حاکمــه محکمې ته راجع کوي.

حاکمه محکمه قضيه د هغو غړو په ګډون سره چې په دمخه فيصله کې يې ګډون نه وي کړی ، بيا څېړي او فيصله صادروي، په هغهٔ صورت کې چې نوې فيصــله د

(۳)دلايلی که بر اساس آن فرجام خواهی صورت می گيرد نيز بايد در داخل ميعاد مذکورتقديم گردد.

## فرجام خواهی از طرف څارنوال

**مادهٔ دوصد وهفتاد وچهارم:**

هرگاه فرجام خواهی توسط څارنـــوال استيناف که درجلسهٔ قضائی اشـــتراک داشته، به عمل آمده باشد،درينصـــورت بايد درخواست مذکور ودلايل آن مورد تائيد څارنوال ستره محکمه واقع گرديده باشد.

## نقض حکم

**مادهٔ دوصد وهفتاد وپنجم:**

هرگاه ستره محکمه دلايل فرجام خواهی را مؤجه تشخيص داده و حکم را نقض نمايد، موضوع را با ذکر دلايل غـــرض صدور حکم مجدد به محکمهٔ حاکمـــه راجع می سازد.

محکمهٔ حاکمه قضيه را بـــه اشـــتراک اعضای که در فيصلهٔ قبلی شرکت نکرده باشند، مجدداً بررسی و فيصله صـــادر می کند، در صورتی که فيصلهٔ جديد بار

ketabton.com - The Digital Library



قانون د حکمونو مطابق بل ځل نقض شي، ستره محکمه هغه د بیا څېړنې په غرض، مماثلې محکمې ته ارجاع کوي.

## کُلي یا قسمي نقض

**دوه سوه شپږاویایمه ماده:**

ستره محکمه، یوازې د حکم هغه برخه نقضوي چې د فرجام غوښتنې د استناد وړ دلایل هغې ته متوجه وي،خو دا چې حکم د تجزیې وړ نه وي.

که چېرې د فرجام غوښتنې د غوښتنلیک د څارنوال لخوا صورت نه وي موندلی، فیصله یوازې د هغهٔ تورن په هکله نقضېږي چې د فرجام غوښتنې غوښتنلیک یې کړې وي، خوداچې د استناد وړ دلایل د نورو تورنو د حال شامل هم وګرځي.

## په ټاکلي موعد کې په وړاندو شوو دلایلو استناد

**دوه سوه اووه اویایمه ماده:**

ستره محکمه دفیصلې په نقض کې پر هغو دلایلو استناد کوي چې د فرجام غوښتونکي لخوا پدې قانون کې درج د

دیگر مطابق احکام قانون نقض گردد، ستره محکمه آنرا غرض رسیدگی مجدد به محکمهٔ مماثل ارجاع می نماید.

## نقض کلی یا قسمی

**مادهٔ دوصد وهفتادوششم:**

ستره محکمه، صرف آن قسمت از حکم را نقض می نماید که دلایل مورد استناد فرجام خواهی متوجه آن باشد، مگر اینکه حکم قابل تجزیه نه باشد.

هرگاه درخواست فرجام خواهی ازطرف څارنوال صورت نگرفته باشد، فیصله تنها درمورد متهمی نقض می گردد که درخواست فرجام خواهی نموده باشد، مگر اینکه دلایل مورد استناد شامل حال سایر متهمین نیز گردد.

## استناد به دلایل ارایه شده در موعد معینه

**مادهٔ دوصد وهفتاد وهفتم:**

ستره محکمه درنقض فیصله به دلایلی استناد می کند که از طرف فرجام خواه در موعد معینهٔ

ketabton.com - The Digital Library



فرجام غوښتنې په ټاکلي موعد کې وړاندې شوي وي. هغه غوښتنليکونه او دلايل چې له هغۀ وروسته وړاندې شي، اعتبار نلري.

**بياغوښتنليک**

**دوه سوه اته اويايمه ماده:**

که چېرې اعتراض د موضوع له نظره د سترې محکمې لخوا رد شي يا د استيناف د محکمې فيصله د سترې محکمې د تأييد وړ وګرځي، بل ځل په عين حکم اعتراض په هردليل چې وي، نه منل کېږي. د نوې کتنې حالات لدې حکم څخه مستثني دي.

**د فيصلې نقض**

**دوه سوه نهه اويايمه ماده:**

که چېرې ستره محکمه تشخيص کړي چې د استيناف د محکمې حکم له قانون سره په مخالفت کې يا د هغۀ په تطبيق يا تأويل کې په خطاء سره صادر شوی او يا دا چې د حکم صادروونکې محکمه د قانون د حکمونو مطابق نده تشکيل شوې يابې د جزايي دعوي د څېړنې واک ندی

فرجام خواهی مندرج این قانون تقديم شده باشد. درخواست ها و دلایلی که بعد از آن تقديم گردد، اعتبار ندارد.

**درخواست مجدد**

**مادۀ دوصد وهفتاد وهشتم:**

هرگاه اعتراض از نگاه موضوع از طرف ستره محکمه رد گردد یا فیصلۀ محکمۀ استیناف مورد تائید ستره محکمه قرار گیرد، بار دیگر اعتراض برعین حکم بنا به هر دلیلی که باشد، پذیرفته نمی شود. حالات تجدید نظر ازاین حکم مستثنی می باشد.

**نقض فیصله**

**مادۀ دوصد وهفتاد ونهم:**

هرگاه ستره محکمه تشخیص دهد که حکم محکمۀ استیناف در مخالفت با قانون یا خطاء در تطبیق یا تأویل آن صادر گردیده ویا اینکه محکمۀ صادر کنندۀ حکم، مطابق احکام قانون تشکیل نه گردیده یا صلاحیت رسیدگی دعوای جزائی را

ketabton.com - The Digital Library



لرلی او یا دا چې د حکم له صــادرېدو وروسته، پدې هکله بل قانون د تورن په ګټه نافذ شوی وي، فیصله نقضــوي او هغه د بیا حکم د صادرېدو لپاره لاندېنۍ (تحتاني) محکمې ته ارجاع کوي، که څه هم چــې نومــوړي دلایــل د فرجــام غوښتونکي لخوا وړاندې شوي نه وي.

## پر حکم باندې د معترض نه اعتراض

**دوه سوه اتیایمه ماده:**

ستره محکمه د فرجــام غوښــتونکي د اعتراض په هکله خپل حکم د هغهٔ قناعت له ترلاسه کولو وروسته صادروي چې له اعتراض وړ صادره حکم سره منطبــق د قضایي مستشارانو د رپوټ د قرائت لــه پایلې څخه برابر شوی وي.

## د فرجام غوښتنې رد

**دوه سوه یواتیایمه ماده:**

ستره محکمه په لاندې حــالاتو کــې د فرجام غوښتنې غوښتنلیک ردوي:

۱-په هغهٔ صورت کې چې د قانون پــه حکم د استیناف د محکمې فیصله قطعي یا فرجام غوښتنه په هغې کې جواز و نــه

نداشته ویا اینکه بعد از صدور حکــم قانون دیگری درمورد به نفع متهم نافذ گردیده باشد، فیصله را نقــض وآنــرا جهت صدور حکم مجدد به محکمــهٔ تحتانی ارجاع می نماید، گرچه دلایــل مذکور از طرف فرجام خواه ارایه نشده باشد.

## عدم اعتراض معترض به حکم

**مادهٔ دوصد وهشتادم:**

ستره محکمه حکم خود را در مــورد اعتراض فرجام خواه بعــد از حصــول قناعتی صادر می نماید کــه از نتیجــهٔ قرائت گزارش مستشاران قضائی منطبق به حکم صادره مورد اعتراض فراهم شده باشد.

## رد فرجام خواهی

**مادهٔ دوصد وهشتاد ویکم:**

ستره محکمه در حالات ذیل درخواست فرجام خواهی را ردمی نماید:

۱-درصــورتی کــه بحکــم قــانون فیصلهٔ محکمهٔ اســتیناف قطعــی یــا فرجام خواهی در آن جــواز نداشــته

ketabton.com - The Digital Library



لري.

۲-په هغهٔ صورت کې چې د فرجام غوښتنليک يا اړوند دلايل له قانوني ټاکلي موعد څخه وروسته وړاندې شوي وي.

۳-په هغهٔ صورت کې چې د حبس د مجازاتو په اړه تنفيذي حکم صادر شوی وي او محکوم عليه د حکم دتنفيذ په منظور، اړوندو مراجعو ته حاضر شوی نه وي، خودا چې محکوم عليه دضمانت په قيد سره خوشې شوی وي.

باشد.

۲-درصورتی که درخواست فرجام يا دلايل مربوط بعد ازموعد معينهٔ قانونی تقديم شده باشد.

۳- در صورتی که حکم تنفيذی مبنی بر مجازات حبس صادر گرديده و محکوم عليه به منظور تنفيذ حکم به مراجع مربوط حاضر نگرديده باشد، مگر اينکه محکوم عليه به قيد ضمانت رها گرديده باشد.

ketabton.com - The Digital Library



## دیارلسم فصل
## د محکمو پر قطعي فیصلو باندې د نوې کتنې غوښتنلیک

**د نوې کتنې غوښتنلیک**

**دوه سوه دوه اتیایمه ماده:**

د جنحې او جنایت په قضیو کې د محکمو پر قطعي فیصلو باندې د نوې کتنې غوښتنلیک په لاندې احوالو کې صورت موندلای شي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د قتل په جرم کې تورن، محکوم علیه ګڼل شوی وي او وروسته هغه شخص چې قتل یې ادعا شوېده ژوندی پیدا شي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د یوهٔ جرم د ارتکاب په تور یو شخص محکوم شوی وي او له هغې وروسته بل شخص د عین جرم په ارتکاب محکوم شي او د دواړو حکمونو تر منځ داسې تناقض موجود وي چې په هغهٔ کې له دوو محکوم علیه وو څخه د یوهٔ برائت ثابت شي.

۳-په هغهٔ صورت کې چې شاهدان یا اهل خبره د زور (دروغې)شاهدۍ یا رپوټ په

## فصل سیزدهم
## تجدید نظر بر فیصله های قطعی محاکم

**درخواست تجدید نظر**

**مادهٔ دوصد وهشتاد ودوم:**

درخواست تجدید نظر برفیصله های قطعی محاکم در قضایای جنحه و جنایت در احوال ذیل صورت گرفته می تواند:

۱- درصورتی که متهم در جرم قتل، محکوم علیه قرار گرفته وبعداً شخصی که قتل او ادعا شده، زنده پیدا شود.

۲- در صورتی که به اتهام ارتکاب یک جرم یک شخص محکوم گردیده وبعد از آن شخص دیگر به اتهام ارتکاب عین جرم محکوم گرددودر بین هردو حکم چنان تناقض موجود باشد که از آن برائت یکی از دو محکوم علیه ثابت گردد.

۳- درصورتی که شهود یا اهل خبره به اتهام شهادت یا گزارش

ketabton.com - The Digital Library



تور د قانون د حکمونو مطابق په جزاء، محکوم شي او يا د هغهٔ سند په تزوير چې د دعوي د څېړنې په وخت کې وړاندې شوی، فيصله صادره شوې وي او يـا د حدودو په جرمونو کې شاهد په بشـپړ رضائيت سره له خپلې شـاهدۍ څخـه عدول وکړي، پدې شرط چې نومـوړې مزوره شاهدي يا رپوټ، د حکـم پـه صادرېدوکې اغېزمن وي.

۴-په هغهٔ صورت کې چـې د جزايـي محکمې فيصله د مـدني محکمـې پـر صادرې شوې فيصله بناء شوې او د مدني محکمې فيصلې باطله شوې وي.

۵-په هغهٔ صورت کې چې لـه قطعـي فيصلې وروسته داسې پېښې را منځته يـا څرګندې شي يا داسې دلايل وړاندې شي چې د محاکمې په وخت کې معلوم نه وو او يا محکمې ته نه وي وړاندې شوي او دغه پېښې او دلايل د محکوم عليه پـه برائت تمام شي.

۶-پداسې حال کې چې د قضايي غونډې په پای کې صادره حکم ددې قـانون د حکمونو مطابق محکوم عليه ته ابـلاغ

زور (دروغ) مطـابق احکـام قـانون به جزاء محکوم گردد ويا بـه تزويـر سندی که حين رسيدگی به دعوی تقديم شده، فيصله صادر شده باشـد و يـا در جرايم حـدود شـاهد بارضـايت کامل از شهادت خويش عدول نمايـد، مشروط بر اينکه شهادت يـا گـزارش مزور مـذکور درصـدورحکم مـؤثر باشد.

۴- درصورتی که فيصلهٔ محکمهٔ جزائی به فيصله صادرهٔ محکمـهٔ مـدنی بنـا يافته و فيصلهٔ محکمهٔ مدنی باطل گرديده باشد.

۵- در صورتی کـه بعـد از فيصـلهٔ قطعی وقايعی حادث يا ظاهر شـود يـا دلايلی تقديم گـردد کـه در وقـت محاکمه معلوم نبوده و يا بـه محکمـه ارايه نشده باشد واين وقايع و دلايل به برائـت محکـوم عليـه منجرشـده بتواند.

۶- در حالی کـه در خـتم جلسـهٔ قضائی حکم صادره مطابق احکام ايـن قانون به محکوم عليه ابلاغ نه گرديده

ketabton.com - The Digital Library



شوی نه وي.

۷-په هغهٔ صورت کې چې د محاکمې په بهير کې محکوم عليه ته په محکمه کې د حضُور حق او د دفاع حق ورکړ شوی نه وي.

## د نوې کتنې غوښتونکي

دوه سوه درې اتيايمه ماده:

(۱)ددې قانون په دوه سوه دوه اتيايمه ماده کې په درج شوو حالاتو کې، لوی څارنوال او محکوم عليه يا د هغهٔ قانوني استازی او د اهليت د نقض يا مړينې په صورت کې، د محکوم عليه خپلوان کولای شي، نوې کتنه وغواړي.

(۲)په هغهٔ صورت کې چې ددې مادې په (۱) فقره کې درج د نوې کتنې غوښتونکی پرته له څارنوال څخه وي، غوښتنليک لوی څارنوال ته وړاندې کېږي. پدې غوښتنليک کې هغه فيصله چې نوې کتنه پرې غوښتل شوې او د نوې کتنې دلايل ذکر کېږي.

(۳)لوی څارنوال خپل نظر د نوې کتنې له غوښتنليک سره يوځای دا چې د ځان يا د

باشد.

۷- در صورتی که در جريان محاکمه به محکوم عليه حق حضور به محکمه وحق دفاع داده نه شده باشد.

## درخواست کنندگان تجديد نظر

مادهٔ دوصد وهشتاد وسوم:

(۱) دراحوال مندرج مادهٔ دوصدو هشتاد ودوم اين قانون، لوی څارنوال و محکوم عليه يا نمايندهٔ قانونی او ودر صورت نقص اهليت يا وفات، اقارب محکوم عليه می توانند، تجديد نظر را درخواست نمايند.

(۲) درصورتی که درخواست کنندهٔ تجديد نظر مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده غير از څارنوال باشد ، درخواست به لوی څارنوال تقديم می شود . در اين درخواست، فيصلهٔ که تجديد نظر بر آن مطالبه شده و دلايل تجديد نظر ذکر می گردد.

(۳) لوی څارنوال نظر خود را توأم با درخواست تجديد نظر اعم از اينکه از

ketabton.com - The Digital Library



بل شخص لخوا څخه وي او هغه دلايل چې د نوې کتنې غوښتنه پر هغو استناد شوې، سترې محکمې ته وړاندې کوي.

(۴)لوی څارنوال د نوې کتنې غوښتنليک، د رسېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو مودې په ترځ کې، سترې محکمې ته وړاندې کوي.

(۵) د نوې کتنې غوښتنليک د اعتراض وړ فيصلې د تنفيذ خنډ نه ګرځي.

د اعدام د مجازاتو تنفيذ لدې حکم څخه مستثني دی.

## د نوې کتنې اجراآت

دوه سوه څلور اتيايمه ماده:

(۱)د نوې کتنې غوښتنليک د سترې محکمې لخوا، د قانون د حکمونو مطابق تر څېړنې لاندې نيول کېږي.

(۲)په هغهٔ صورت کې چې د نوې کتنې غوښتنليک رد شي، محکوم عليه نشي کولای بيا د دمخه عين دلايلو پربنسټ د نوې کتنې غوښتنه وکړي.

(۳)په هغهٔ صورت کې چې د نوې کتنې

طرف خودش يا شخص ديگری باشد و دلايلی که مطالبهٔ تجديد نظر به آن استناد گرديده، به ستره محکمه تقديم می نمايد.

(۴) لوی څارنوال درخواست تجديد نظر را درخلال مدت (۳۰) روز از تاريخ مواصلت آن به ستره محکمه تقديم می نمايد.

(۵) درخواست تجديد نظر مانع تنفيذ فيصلهٔ مورد اعتراض نمی گردد.

تنفيذ مجازات اعدام از اين حکم مستثنی است.

## اجراآت تجديد نظر

مادهٔ دوصد وهشتاد وچهارم:

(۱) درخواست تجديد نظراز طرف ستره محکمه مطابق احکام قانون، مورد رسيدگی قرار می گيرد.

(۲) در صورتی که درخواست تجديد نظر رد گردد، محکوم عليه نمی تواند مجدداً به اساس عين دلايل قبلی تقاضای تجديد نظررا نمايد.

(۳) در صورتی که درخواست تجديد

ketabton.com - The Digital Library



غوښتنليک ومنل شي، ستره محکمــه د قضيې د څېړنې نېټه ټاکي او د غونډې له پيل څخه لږ تر لږه (۱۰) ورځې دمخــه هغه محکوم عليه يا يې قانوني استازي او څارنوالۍ ادارې ته ابلاغوي.

لوی څارنوال او محکوم عليه يا يې قانوني استازی حق لري، د نوې کتنې د څېړنې په غونډه کې حضُور ولــري او خپلــې نظريې څرګندې کړي.

(۴)په هغهٔ صورت کې چې ستره محکمه، د معترض اعتراض تأييد او وړاندې شوي دلايل په حکم کې اغېزمن وګڼي، فيصله نقض او حکم صادروي.

(۵)په هغهٔ صورت کې چــې د ســترې محکمې په وړاندې ثابته شي چې وړاندې شوي دلايل زياته څېړنه ايجابوي، کولای شي قضيه له لازمو لارښوونو سره يوځای لاندينۍ حاکمې محکمې ته، ارجاع کړي.

(٦)په هغهٔ صورت کې چې محکوم عليه د نوي حکم پر بنسټ برائت ترلاسه کړي، حکم د هغهٔ شي په اعادې، هم صادرېږي چې محکوم عليه د هغهٔ په ورکړه مکلف شوی وي.

نظر پذيرفته شود، ستره محکمه تــاريخ رسيدگی قضيه را تعيين و حداقل (۱۰) روز قبل از شروع جلسه، آنرا به محکوم عليه يا نماينــدهٔ قــانونی وی و ادارهٔ څارنوالی ابلاغ می نمايد.

لوی څارنوال و محکوم عليه يا نمايندهٔ قانونی وی حق دارند در جلسهٔ رسيدگی تجديد نظر حضور يافته و نظريات شانرا ابراز نمايند.

(۴) در صورتی که ســتره محکمــه، اعتراض معترض را تائيد و دلايل ارايــه شده را در حکم مؤثر بداند ،فيصله را نقض وحکم را صادر می نمايد.

(۵) در صورتی که نزد ستره محکمــه ثابت گردد که دلايل ارايه شده ايجاب بررسی بيشتر را می کند، می تواند قضيه را توام با هدايت لازم به محکمهٔ حاکمهٔ تحتانی، ارجاع نمايد.

(٦) در صورتی که محکوم عليــه بــه اساس حکم جديد برائت حاصل نمايد، حکم به اعادهٔ آنچه که محکوم عليــه مکلف به پرداخت آن گرديده بود، نيز صادر می شود.

ketabton.com - The Digital Library



پدې حالت کې که چېرې محکوم علیــه وفات شوی وي، د اعادې وړ وجه، د هغهٔ په ورثې پورې اړه مومي.

## د متوفي محکوم علیه پر قضیې نوې کتنه

**دوه سوه پنځه اتیایمه ماده:**

که چېرې د نوې کتنـــې غوښـــتنلیک د محکوم علیه له مړینې وروسته، د هغهٔ د خپلوانو لخوا وړاندې شوی وي، ســتره محکمه موضوع تر څېړنې لاندې نیسي او د برائت د اثبات په صورت کې، دمتوفي محکوم علیه د حیثیت په اعادې حکــم صادروي.

## دبرائت د حکم خپرول

**دوه سوه شپږاتیایمه ماده:**

که چېرې د تورن د محکومیت حکم په ټولیزو رسنیو کې دمخه خپور شوی وي او د نوې کتنې په پایله کې د هغــهٔ پــه برائت حکم صادر شي، څارنوالي مکلفه ده، د هغهٔ د برائت حکم د دولــت پــه لګښت په هماغو ټولیزو رسنیو کې خپور کړي.

در این حالت هرگاه محکوم علیه وفات نموده باشد، وجه قابل اعاده به ورثهٔ او تعلق می گیرد.

## تجدید نظر به قضیهٔ محکوم علیــه متوفی

**مادهٔ دوصد وهشتاد وپنجم:**

هرگاه درخواست تجدید نظر بعــد از وفات محکوم علیه از طرف اقارب وی تقدیم گردیده باشد، ســتره محکمــه موضوع را تحت رسیدگی قرار داده و درصورت اثبات برائت به اعادهٔ حیثیت محکوم علیه متوفی حکم صــادر مــی نماید.

## نشر حکم برائت

**مادهٔ دوصد وهشتاد وششم:**

هرگاه حکم محکومیت متهم در رسانه های همگانی قبلاً نشر شده باشد و در نتیجهٔ تجدید نظر به برائت وی حکــم صادر شود، څارنوالی مکلــف اســت حکم برائت وی را به مصرف دولت در همان رســانه هــای همگــانی نشــر نماید.

ketabton.com - The Digital Library



## په لاسخته(شدیدتره) جزانه محکومیت

**دوه سوه اووه اتیایمه ماده:**

که چېرې د نوې کتنې غوښتنلیک د محکوم علیه په ګټه صورت موندلی وي، هغه له هغې جزاء څخه چې پرې محکوم شوی دی، په لاسخته جزاء نشي محکومېدای.

## د مدني محاکماتو د اصولو د قانون د حکمونو په پام کې نیول

**دوه سوه اته اتیایمه ماده:**

د نوې کتنې په مواردو او له جرم څخه په راپیدا شوو حق العبدي مالي موضوعګانو کې، د صادرو شوو حکمونو د اجراآتو ډول، د مدني محاکماتو د اصولو د قانون د حکمونو تابع دي.

## عدم محکومیت به جزای شدیدتر

**مادۀ دوصد وهشتاد وهفتم:**

هرگاه درخواست تجدید نظر به نفع محکوم علیه صورت گرفته باشد، وی به جزای شدید تر از جزائی که به آن محکوم گردیده، محکوم شده نمی تواند.

## رعایت احکام قانون اصول محاکمات مدنی

**مادۀ دوصد وهشتاد وهشتم:**

موارد تجدید نظر وطرز اجراآت به احکام صادره در موضوعات مالی حق العبدی ناشی از جرم تابع احکام قانون اصول محاکمات مدنی می باشد.

ketabton.com - The Digital Library



## څلورم باب

## د اجراآتو بطلان او د فيصلو تعميل

## لومړی فصل

## د اجراآتو بطلان

**په بنستيزو اجراآتو کې د قانون د نه په پام کې نيولو عواقب**

**دوه سوه نهه اتيايمه ماده:**

(۱) د بنسټيزو اجراآتو له مواردو څخه په يوۀ کې د قانون د حکمونو نه پام نيول، د هغۀ د بطلان موجب کېږي.

(۲) په بنسټيزو اجراآتو کې، د محکمې د تشکيل، د هغې د موضوعي يا حـوزوي واک نيولو، تلاشي، تحقيق، د اهل خبره په واسطه دکتنو او د مدافع وکيل د ټاکلو د حق په هکله د قانون د حکمونو په پام کې لرل (رعايتول)، شامل دي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې له درج شوو مواردو څخه په يوۀ کې د قانون د حکمونو د نه په پام کې لرلو په صورت کې، محکمه مکلفه ده خپـل حکـم د

## باب چهارم

## بطلان اجراآت و تعميل فيصله ها

## فصل اول

## بطلان اجراآت

**عواقب عـدم رعايـت قـانون در اجراآت اساسی**

**مادۀ دوصد وهشتاد ونهم:**

(۱) عدم مراعات احکام قانون در يکی از موارد اجراآت اساسی، موجب بطلان آن می گردد.

(۲) اجراآت اساسی شامل رعايت احکام قانون در مـورد تشـکيل محکمـه، صلاحيت موضوعی يا حـوزه وی آن، گرفتاری، تلاشی، تحقيق، معاينات توسط اهل خبره وحق تعيين وکيل مدافع مـی باشد.

(۳) درصورت عدم رعايـت احکـام قانون در يکی از موارد مندرج فقرۀ (۲) اين مـاده، محکمـه مکلـف اسـت حکم خود را بـه بطـلان اجـراآت

ketabton.com - The Digital Library



اجراآتو په بطلان او دفیصلې پــه نقــض باندې صادرکړي، که څه هم چــې پــه موضوع کې غوښتنه هم شوې نــه وي، پدې صورت کې اجراآت باطل او د قانون دحکمونو مطابق بیا اجــراآت صــورت مومي.

## د بطلان په اړه د تورن د دفاع د حق سقوط

دوه سوه نوي یمه ماده:

که چېرې ددې قانون د دوه سوه نهه اتیا یمې مادې په (۲) فقره کې له درج شوو احوالو پرته، د اجراآتو مختص د دلایلو په راټولولو یا د تورن یا یې د مدافع وکیل په حضور کې د جنحــې او جنایــت د جرمونو تحقیق صورت مونــدلی وي، او هغهٔ په هماغهٔ موقع پر هغو اعتراض نه وي کړی، د نوموړو اجراآتو د بطلان په اړه د هغهٔ د دفاع حق ساقطېږي.

## د احضارلیک تصحیح

دوه سوه یونوي یمه ماده:

که چېرې تورن شخصاً یایې مدافع وکیل غونډې ته حاضر شي، د احضارلیک پــه

و نقــض فیصــله صــادر نمایــد، گرچـــه در موضـــوع تقاضـــای هم نشــده باشــد، در ایــن صــورت اجـــــراآت باطـــــل و مجـــــدداً مطابق احکام قانون اجراآت صــورت می گیرد.

## سقوط حق دفاع متهم مبنـــی بـــر بطلان

مادهٔ دوصد ونودم:

هرگاه در غیر از احوال مندرج فقرهٔ (۲) مادهٔ دوصد وهشتاد ونهم این قــانون، اجراآت مختص به جمع آوری دلایل یا تحقیق جرایم جنحه وجنایت درحضور متهم یاوکیل مدافع وی صورت گرفته و اودر همان موقــع بــر آن اعتــراض نکرده باشد، حق دفاع او مبنــی بــر بطــلان اجــراآت مــذکور ســاقط می گردد.

## تصحیح احضار نامه

مادهٔ دوصد ونود ویکم:

هرگاه متهم شخصاً یا وکیل مدافع وی در جلسه حاضر شود، به بطلان احضار

ketabton.com - The Digital Library



بطلان تمسک نشي کولای. پدې صورت کې کولای شي د احضارليک تصحيح وغواړي يا د قضيې د څېړنې له پيل څخه دمخه، د دفاع لپاره د چمتو والي په غرض، وخت وغواړي، پدې صورت کې محکمه مکلفه ده، دغسې غوښتنه ومني.

## د اجراآتو او د هغو د آثارو دېوې برخې بطلان

دوه سوه دوه نوي يمه ماده:

(۱) محکمه کولاي شي د هغو اجراآتو دهرې برخې په تصحيح چې په هغو کې د قانون حکمونه، نه وی رعايت شوي، د شاکي د غوښتنې يا د خپل صوابديد پر بنسټ لاس پورې کړي، پدې شرط چې نوموړي اجراآت له بطلان سره مخامخ نه وي.

(۲) که چېرې د اجراآتو د يوې برخې بطلان تثبيت شي، ټول هغه آثار چې مستقيماً پر هغو مرتب شوي، هم باطل پېژندل کېږي.

نامه تمسک کرده نمی تواند. در این صورت می تواند تصحيح احضار نامه را مطالبه يا قبل از شروع رسيدگی قضيه، جهت آماده گی برای دفاع وقت بخواهد، در اين صورت محکمه مکلف است چنين مطالبه را بپذيرد.

## بطلان يک قسمت اجراآت و آثار آن

مادۀ دوصد ونود ودوم:

(۱) محکمه می تواند به تصحيح هر قسمت از اجراآتی که در آن احکام قانون رعايت نگرديده باشد، به اساس تقاضای شاکی يا به صوابديد خود بپردازد، مشروط بر اينکه اجراآت مذکور مواجه به بطلان نباشد.

(۲) هرگاه بطلان يک قسمت از اجراآت تثبيت گردد، تمام آثاری که مستقيماً برآن مرتب شده، نيز باطل شناخته می شود.

ketabton.com - The Digital Library



## د حکم د صادروونکې محکمې په واسطه د مادي خطاء تصحيح

**دوه سوه درې نوي يمه ماده:**

که چېرې په هغهٔ فيصله يا قرار کې چې د محکمې په واسطه صادر شوی دی، داسې خطاء رامنځته شوې وي چې په بطلان تمامه نشي، محکمه کولای شي په خپل صوابديد يا د دعوی له اړخونو څخه د يوهٔ په غوښتنه د هغوی له احضار او د اقوالو له اورېدو وروسته فيصله تصحيح کړي، دغه ډول تصحيح د صادر شوې فيصلې يا قرار په حاشيه کې درجېږي. د تورن د شهرت تصحيح هم د همدې حکم تابع ده.

## تصحيح خطاء مادى توسط محکمهٔ صادرکنندهٔ حکم

**مادهٔ دوصد ونود وسوم:**

هرگاه در فيصله يا قرارى که توسط محکمه صادر شده است، خطاء رخ داده باشد که منجر به بطلان نگردد، محکمه مى تواند به صوابديد خود يا بر اساس مطالبهٔ يکى از طرفين دعوى بعد از احضار و استماع اقوال آنها فيصله را تصحيح نمايد، چنين تصحيح در حاشيه فيصله يا قرار صادر شده درج مى شود. تصحيح شهرت متهم نيز تابع همين حکم مى باشد.

ketabton.com - The Digital Library



## دوه یم فصل

## د محکمو د قطعي فیصلو ارزښت

**پر قطعي حکم باندې د اعتراض نــه جواز**

**دوه سوه څلور نوي یمه ماده:**

که چېرې د یوې جزایي دعویٰ په باره کې قطعي حکم صادر شي، په هغــهٔ بانــدې اعتراض له نوې کتنې پرته پداســې ډول چې پدې قانون کې ټاکل شویدي، جواز نلري.

**د محاکمې د تکرار نه جواز**

**دوه سوه پنځه نوي یمه ماده:**

د یوې جزایي دعویٰ په هکله د قطعــي حکم له صادرېدو وروسته، محکوم علیه نشي کېدای بل ځل د نــوو دلایلــو د ښکارندېدو په دلیل یا د هماغهٔ جــرم د قانوني وصف د بدلون پر بنسټ محاکمه، کړو.

## فصل دوم

## ارزش فیصله های قطعی محاکم

**عدم جواز اعتــراض بــر حکــم قطعی**

**مادهٔ دوصد ونود وچهارم:**

هرگاه در بارهٔ یک دعوای جزائی حکم قطعی صادر شود، اعتراض برآن جز از طریق تجدید نظر بنحوی کــه درایــن قانون تعیین گردیــده اســت، جــواز ندارد.

**عدم جواز تکرار محاکمه**

**ماد هٔ دوصد ونود وپنجم:**

بعد از صدور حکم قطعــی در مــورد یک دعوای جزائی محکــوم علیــه را نمی توان بار دیگر به اســاس ظهــور دلایل جدیــد یــا بــه اســاس تغییــر وصف قانونی همــان جــرم محاکمــه نمود.

ketabton.com - The Digital Library



## پر حق العبدي دعوىٰ د جزايي دعوىٰ د حکم نه اغېزه

**دوه سوه شپږ نوي يمه ماده:**

که چېرې حق العبدي دعوىٰ له جزايي دعوىٰ سره يو ځای د جزايي محکمې په وړاندې دايره شوې وي، په هغهٔ صورت کې چې تورن له جزايي محکمې څخه برائت واخلي ياېې په نه الزام حکم صادر شي، دغه حکم د نوموړې د حق العبدي دعوىٰ په هکله چې تراوسه په نهايي توګه حل اوفصل شوې نده، اغېزه نه لري.

## د جزايي محکمې لخوا د مدني دعوىٰ په توګه د حق العبدي دعوىٰ تشخيص

**دوه سوه اووه نوي يمه ماده:**

که چېرې جزايي محکمه، د حق العبد د مدعي لخوا اقامه شوې دعوىٰ، مدني دعوىٰ تشخيص کړي، مدني محکمه دعوىٰ په خپلواکه توګه او له جزايي دعوىٰ څخه جلا ترڅېړنې لاندې نيسي او د مدني محاکماتو د اصولو د قانون د حکمونو مطابق پدې هکله اجراآت کوي.

## عدم تاثير حکم دعوای جزائی بردعوای حق العبدی

**مادهٔ دوصدونودوششم:**

هرگاه دعوای حق العبدی توأم با دعوای جزائی در پيشگاه محکمهٔ جزائی داير گرديده باشد، درصورتی که متهم از محکمهٔ جزائی برائت حاصل نمايد يا به عدم الزام وی حکم صادرگردد،اين حکم درمورد دعوای حق العبدی مذکورکه هنوز به صورت نهائی حل وفصل نگرديده است، تاثيری ندارد.

## تشخيص دعوای حق العبدی به حيث دعوای مدنی از طرف محکمهٔ جزائی

**مادهٔ دوصد ونود وهفتم:**

هرگاه محکمهٔ جزائی، دعوای اقامه شده از طرف مدعی حق العبد را دعوای مدنی تشخيص دهد، محکمهٔ مدنی دعوی را طور مستقل وجدا از دعوای جزائی مورد رسيدگی قرارداده وطبق احکام قانون اصول محاکمات مدنی درمورد اجراآت می نمايد.

ketabton.com - The Digital Library



## د مدني محكمې په وړاندې د جزايي حكم ارزښت

**دوه سوه اته نوي يمه ماده:**

هغه حكم چې په يوه جزايي دعوىٰ كې د تورن په برائت يا الزام صادرېږي، د مدني محكمې په وړاندې، په هغې دعوىٰ كې چې په مخكې يې دايره ده، د جرم د پېښېدو، د جرم د قانوني وصف او مرتكب ته يې د هغهٔ د نسبت په هكله د محكوم بها، ارزښت لرونكې ده، د برائت حكم اعم لدې څخه چې د تور د نفې يا د اثبات د دلايلو د نه كفايت پربنسټ صادر شوى وي، كه چېرې دغه حكم، د تور وړ فعل د جزا مستوجب ونه ګڼي، نوموړى حكم د محكوم بها شي د ارزښت لرونكى ندى.

## د جزايي محكمې په وړاندې د مدني حكم ارزښت

**دوه سوه نهه نوي يمه ماده:**

هغه حكم چې له مدني محكمې څخه د مالي معاملو په قضيو كې صادر شوى وي، د جزايي محكمو په وړاندې د جرم د

## ارزش حكم جزائی در پيشگاه محكمهٔ مدنی

**مادهٔ دوصد ونود وهشتم:**

حكمی كه دريک دعوای جزائی به برائت يا الزام متهم صادر می گردد، در پيشگاه محكمهٔ مدنی در دعوای كه نزد آن داير می باشد، راجع به وقوع جرم، وصف قانونی جرم و نسبت آن به مرتكبش، دارای ارزش محكوم بها می باشد، حكم برائت اعم از آنست كه به اساس نفی اتهام صادر شده باشد يا عدم كفايت دلايل اثبات، هرگاه اين حكم، فعل مورد اتهام را مستوجب جزا ندانـد، حكم مذكور ارزش شی محكوم بها را دارا نمی باشد.

## ارزش حكم مدنی در پيشگاه محكمهٔ جزائی

**مادهٔ دوصد ونود ونهم:**

حكمی كه از محكمهٔ مدنی در قضاياى معاملات مالی صادر گرديده در پيشگاه محاكم جزائی در زمينهٔ

ketabton.com - The Digital Library



پېښېدو او مرتکب ته يې د هغهٔ د نسبت په برخه کې، د محکـــوم بهـــا، شـــي د ارزښت لرونکی ندی.

**د شخصي احوالو په ساحه کـــې د حکم ارزښت**

**درېـ سومه ماده:**

هغه حکم چې په شخصيه احوالو کې له محکمې څخه د محکمې لخـــوا صـــادر شوی وي، د جزايي محکمې په وړاندې په هغو قضيو کې چې د جزايي دعوىٰ حل اوفصل په هغو پورې اړوند (مربوط) دی، دمحکوم بها، شي د ارزښت لرونکی دی.

وقوع جرم و نسبت آن بـــه مـــرتکبش ارزش شـــی محکـــوم بهـــا را دارا نمی باشد.

**ارزش حکم در ســاحهٔ احـــوال شخصی**

**مادهٔ سه صدم:**

حکمی که از محکمه در احوال شخصيه از طرف محکمه صـــادر گرديـــده، در پيشگاه محکمهٔ جزائی در قضايای کـــه حل وفصل دعوای جزائی به آن مربوط است، ارزش شی محکوم بها را دارا می باشد.

ketabton.com - The Digital Library



## دریيم فصل

## واجب التعميل فيصلې

### د فيصلو تعميلول

درې سوه يوه يمه ماده:

(۱) د محكمو قطعي فيصلې واجب التعميل دي، د شخص په مرگ د حكم په استثنیٰ چې د جمهور رئيس له منظورى وروسته تعميلېږي.

(۲) د شخص په مرگ د حكم په صادرېدو كې، د سترې محكمې د قضايي هيئت د رأيو اتفاق، حتمي دى د رأيو د نه اتفاق په صورت كې تورن د دوام حبس په اكثر حد محكومېږي.

### د مجازاتو تطبيق

درې سوه دوه يمه ماده:

(۱) هغه مجازات چې په قانون كې اټكل شويدي، په هېڅ شخص نشي تطبيقېداى، خو د هغۀ حكم پر موجب چې د واكمنې محكمې لخوا صادر شوى وي.

(۲) ټول ډول ډول مجازات او امنيتي تدبيرونه په انساني توگه (شيوه) او انساني

## فصل سوم

## فيصله هاى واجب التعميل

### تعميل فيصله ها

مادۀ سه صدويكم:

(۱)فيصله هاى قطعى محاكم واجب التعميل است، به استثناى حكم به مرگ شخص كه بعد از منظورى رئيس جمهور تعميل مى گردد.

(۲) در صدور حكم به مرگ شخص، اتفاق آراء هيئت قضائى ستره محكمه حتمى مى باشد ودر صورت عدم اتفاق آراء متهم به حد اكثر حبس دوام محكوم پنداشته مى شود.

### تطبيق مجازات

مادۀ سه صدودوم:

(۱) مجازاتى كه در قانون پيشبينى گرديده است بالاى هيچ شخص تطبيق شده نمى تواند، مگر به موجب حكمى كه از طرف محكمۀ باصلاحيت صادر گرديده باشد.

(۲) تمام انواع مجازات و تدابير امنيتى به شيوۀ انسانى وبا احترام به كرامت

ketabton.com - The Digital Library



کرامت ته په درۀ ناوي سره پر محکوم علیه باندې عملي کېږي. شکنجه یا غیر انساني او سپک (تحقیر آمیز) چلند، له محکوم علیه سره جواز نه لري.

(۳) د محکوم علیه مدني حقوق او آزادۍ سلب او محدودېدای نشي، خو د واکمنې محکمې د صادره تنفیذي حکم په حدودو کې.

## د محکمو د صادره فیصلو تنفیذ

درې سوه درېیمه ماده:

(۱) څارنوال او پولیس مکلف دي، د محکمو جزایي فیصلې ددې قانون د حکمونو مطابق تعمیل کړي.

(۲) پولیس مکلف دی د محکمو فیصلو په ارتباط د څارنوال صادره قرارونه او اوامر تعمیل کړي.

## د حق العبد دعوې په هکله د صادره فیصلو تعمیلول

درې سوه څلورمه ماده:

د حق العبدي دعوې په اړه د جزایي محکمو د فیصلو تعمیلول د حق العبد د مدعي، مجني علیه یا د هغوی د قانوني

انسانی بالای محکوم علیه،عملی می گردد. شکنجه یا رفتار غیر انسانی یا تحقیرآمیز بالای محکوم علیه جواز ندارد.

(۳) حقوق مدنی وآزادی های محکوم علیه سلب یا محدود شده نمی تواند، مگر در حدود حکم تنفیذی صادرۀ محکمۀ با صلاحیت.

## تنفیذ فیصله های صادرۀ محاکم

مادۀ سه صد وسوم:

(۱) څارنوال و پولیس مکلف اند ، فیصله های جزائی محاکم را مطابق احکام این قانون تعمیل نمایند.

(۲) پولیس مکلف است قرارها و اوامر صادرۀ څارنوال را در ارتباط به فیصله های محاکم تعمیل نماید.

## تعمیل فیصله های صادره در مورد دعوای حق العبد

مادۀ سه صد وچهارم:

تعمیل فیصله های محاکم جزائی به ارتباط دعوای حق العبدی بر اساس مطالبۀ مدعی حق العبد، مجنی علیه

ketabton.com - The Digital Library



استازو د غوښتنې پر بنسټ، د مدني محاكماتو د اصولو د قانون د حكمونو مطابق صورت مومي.

**د فيصلې بې له ځنډه تعميلول**

**درې سوه پنځمه ماده:**

(۱) د متكرر مجرم او هغهٔ محكوم شخص چې په افغانستان كې د اوسېدنې ټاكلى ځاى ونلري، د نغدي جزاء د وركړې او د زيان د جبران، له پنځو كلونو څخه د زيات حبس په هكله د محكمو صادره فيصلې، له ځنډ پرته تعميلېږي، كه څه هم چې د پورتنۍ محكمې په وړاندې، اعتراض صورت موندلى وي.

(۲) په نورو احوالو كې د حبس د مجازاتو په اړه د محكمې فيصله هم له ځنډ پرته تعميلېږي، خو دا چې تورن بالمال كفالت يا د احضار معتبر ضمانت وركړي چې په احضار د امر په صورت كې له صادره حكم څخه سرغړونه نه كوي. معتبر ضمانت هغه دى چې ضامن ژمنه وكړي، د مكفول عنه د نه احضار په

يانمايندگان قانونى آنها، مطابق احكام قانون اصول محاكمات مدنى صورت مى گيرد.

**تعميل بدون تأخير فيصله**

**مادهٔ سه صد وپنجم:**

(۱) فيصله هاى صادرهٔ محاكم درمورد تاديهٔ جزاى نقدى وجبران خساره، مجازات حبس بيش از پنج سال، مجرم متكرر و شخص محكومى كه در افغانستان محل سكونت معين نداشته باشد، بدون تأخير تعميل مى گردد، گرچه در پيشگاه محكمهٔ فوقانى اعتراض صورت گرفته باشد.

(۲) فيصلهٔ محكمه مبنى بر مجازات حبس در ساير احوال نيز بدون تأخير تعميل مى شود، مگر اينكه متهم كفالت بالمال ياضمانت احضارمعتبر بدهد كه در صورت امر به احضار از حكم صادره تخلف نمى ورزد.ضمانت معتبر آنست كه ضامن تعهد نمايد در صورت

ketabton.com - The Digital Library



صورت کې، د پام وړ ضمانت وجهې معادل ورکوي.

(۳) که چېرې تورن په توقیف کې وي، محکمه کولای شي د تورن د توقیف د تمدید یا خوشې کېدو قرار، د حکم له صادرېدو څخه د مخه ددې قانون له حکمونو سره سم صادر کړي.

**د دولت د عوایدو حساب ته د بالمال کفالت د وجهې لېږدېدل**

**درې سوه شپږمه ماده:**

(۱)که چېرې تورن دمحکمې دقطعي حکم په پایله کې، دمال په ردولو، د زیان په جبران یا نغدي جزاء محکوم شي، د بالمال کفالت وجه بالترتیب دمال د ردولو، دزیان د جبرانولو پدې کې دلګښتونو او نغدي جزاء په بدل کې د لګښتونو د وضع کولو وروسته محاسبه کېږي.

(۲) په هغه صورت کې چې تورن برائت ترلاسه کړي یا په مالي ورکړه یا نغدي جزاء محکوم نشي، د بالمال کفالت وجه له لګښتونو او په دې قانون کې درج د

عدم احضار مکفول عنه معادل وجه ضمانت مورد نظر را می پردازد.

(۳) هرگاه متهم تحت توقیف قرار داشته باشد، محکمه می تواند قرار تمدید توقیف یا رهائی متهم را قبل از صدورحکم مطابق احکام این قانون صادر نماید.

**انتقال وجه کفالت بالمال به حساب عواید دولت**

**مادهٔ سه صدوششم:**

(۱) هرگاه متهم در نتیجهٔ حکم قطعی محکمه، محکوم به رد مال، جبران خساره یا جزای نقدی گردد، وجه کفالت بالمال بالترتیب بعد از وضع مصارف در بدل رد مال، جبران خساره و جزای نقدی محاسبه می شود.

(۲) در صورتی که متهم برائت حاصل نماید یا به پرداخت مالی یا جزای نقدی محکوم نگردد، وجه کفالت بالمال بعد از وضع مصارف وعواقب

ketabton.com - The Digital Library



احضار له حکمونو څخه د سرغړونو د عواقبو له وضع کولو وروسته، تورن يا ضامن ته، هر يوهٔ چې نوموړې وجه ورکړې وي، اعاده کېږي.

## د تکميلي جزاء تنفيذ

**درې سوه اوومه ماده:**

که چېرې د حبس مجازات، پدې قانون کې د درج شوي حکم مطابق تعميل شي، تکميلي جزاګانې او امنيتي تدبيرونه چې د حبس له جزاء سره يو ځای د محکمې په فيصله کې شامل شوي وي، هم تعميلېږي.

## د تورن بې له ځنده خوشې کېدل

**درې سوه اتمه ماده:**

که چېرې تورن ترتوقيف لاندې وي او د هغهٔ د برائت يا هغو مجازاتو په اړه چې تطبيق يې حبس نه ايجابوي، د محکمې فيصله صادره شي يا په صادره شوې فيصله کې د تنفيذ په تعليق امر صورت موندلی وي يا تورن د محکوم بها موده په توقيف کې بشپړه کړې وي، که څه هم چې پر فيصلې اعتراض شوی وی، بې له ځنده خوشې کېږي، خو دا چې پورتنۍ

تخطی از احکام احضار مندرج این قانون، به متهم یا ضامن، هریکی که وجه مذکور را پرداخته باشد، اعاده می گردد.

## تنفيذ جزای تکميلی

**مادهٔ سه صد وهفتم:**

هرگاه مجازات حبس، طبق حکم مندرج این قانون تعمیل گردد، جزاهای تکمیلی و تدابیر امنیتی که توأم با جزای حبس، مشمول فیصلهٔ محکمه قرار گرفته باشد، نیز تعمیل می شود.

## رهائی بدون تأخیرمتهم

**مادهٔ سه صد وهشتم:**

هرگاه متهم تحت توقیف بوده و فیصلهٔ محکمه مبنی بر برائت وی و یا مجازاتی صادر شود که تطبیق آن حبس را ایجاب نه می نماید یا در فیصلهٔ صادره امر به تعلیق تنفیذ صورت گرفته باشد یا متهم مدت محکوم بها را در توقیف تکمیل کرده باشد،گرچه بر فیصله اعتراض صورت گرفته باشد، بدون تأخیر رها می گردد، مگر اینکه محکمهٔ

ketabton.com - The Digital Library



محکمې د څارنوال لخــوا د توقيــف د تمديد يا د تنفيذ د تعليق د لغو د غوښتنې له امله امر وکړي.

**د حق العبدي له مالي محکوم بهــا څخه د ټولو يا ځينو مؤقت تنفيذ**

**درې سوه نهمه ماده:**

که چېــرې محکمــه د حــق العبــد د مدعي يا مجني عليه لپاره د مالي تضمينونو په اړه خپل حکم صادر کړي، کــولای شي د کفالــت پــه ورکــړې ســره د محکوم بها د ټولو يا ځينو مبالغو په مؤقت تنفيذ امر وکړي، که څــه هــم چــې نوموړی حکم د اعتراض وړګرځېــدلی وي، محکمه کولای شي محکوم لــه د کفالت له ورکړې څخه معاف کړي.

فوقانی بنابر تقاضای تمديد توقيف يا لغو تعليق تنفيذ از طرف څارنــــوال امــر نمايد.

**تنفيذ مؤقت تمــام يــا بعضــی از محکوم بهای مالی حق العبدی**

**مادۀ سه صد ونهم:**

هرگاه محکمه حکم خود را مبنی بــر تضمينات مالی برای مدعی حق العبــد، يا مجنی عليه صادر نمايد، می تواند به تنفيذ مؤقت تمام يا بعضی مبالغ محکوم بها با پرداخت کفالــت امــر نمايــد، گرچه حکم مذکور مورد اعتراض قرار گرفته باشد. محکمه می تواند محکوم له را از پرداخــــت کفالــــت معــــاف نمايد.

ketabton.com - The Digital Library



## څلورم فصل

## د اعدام د جزاء تعميلېدل

**د اعدام د حکم منظوري**

**درې سوه لسمه ماده:**

که چېرې د شخص په مرګ حکم ددې قانون د حکمونو مطابق قطعي شي، ستره محکمه د قضيې پاڼې له اړوندې فيصلې سره د هغې د صادرېدو له نېټې څخه د (۱۴) ورځو مودې په ترڅ کې، جمهور رئيس ته وړاندې کوي. په هغهٔ صورت کې چې جمهور رئيس هغه منظور کړي، تنفيذېږي.

**په اعدام د محکوم شوي ساتنه**

**درې سوه يوولسمه ماده:**

په اعدام محکوم شخص د حکم تر تنفيذه، تر ځانګړو شرايطو لاندې په محبس کې ساتل کېږي.

**د محکوم عليه خپلوانو ته خبرتيا**

**درې سوه دوولسمه ماده:**

(۱) د محبس اداره مکلفه ده، د اعدام د حکم د تنفيذ نېټه، د محکوم عليه د

## فصل چهارم

## تعميل جزای اعدام

**منظوری حکم اعدام**

**مادهٔ سه صد ودهم:**

هرگاه حکم به مرگ شخص مطابق احکام این قانون قطعی گردد، ستره محکمه اوراق قضيه را با فيصلهٔ مربوط در خلال مدت (۱۴) روز از تاريخ صدور آن به رئيس جمهور تقديم می نمايد. در صورتی که رئيس جمهورآن را منظور نمايد، تنفيذ می گردد.

**نگهداری محکوم به اعدام**

**مادهٔ سه صد ويازدهم:**

شخص محکوم به اعدام الی تنفيذ حکم، تحت شرايط خاص در محبس نگهداری می شود.

**اطلاع به اقارب محکوم عليه**

**مادهٔ سه صد ودوازدهم:**

(۱) ادارهٔ محبس مکلف است، تاريخ تنفيذ حکم اعدام را به اطلاع اقارب

ketabton.com - The Digital Library



خپلوانو او د هغهٔ د مدافع وکيل خبرتيا ته ورسوي.

(۲) دمحکوم عليه شخص خپلوان کولای شي، د اعدام د حکم له تنفيذ څخه يوه ورځ دمخه له هغهٔ سره وګوري. دمحکوم عليه خپلوانو ته د حکم د تنفيذ په وخت، دحضور اجازه نه ورکول کيږي.

د ديني مراسمو د اسانتيا وو برابرول

درېيم سوه ديارلسمه ماده:

که چېرې په اعدام د محکوم شخص دين يا مذهب، د ځانګړو مراسمو سرته رسول ايجاب کړي، د محبس د ادارې مؤظفين مکلف دي، هغهٔ ته لازمې اسانتياوې برابرې کړي.

د اعدام د مجازاتو ځای

درېيم سوه څوارلسمه ماده:

د اعدام مجازات د محبس په دننه کې په پټ (مستور) ځای کې ددې قانون د حکمونو مطابق تنفيذيږي، خو پرته له هغو حالاتو څخه چې د عامه عبرت په غرض د ښکاره اعدام غوښتنه وکړي.

محکوم عليه و وکيل مدافع وی برساند.

(۲) اقارب شخص محکوم عليه می توانند يک روز قبل از تنفيذ حکم اعدام با وی ملاقات نمايند. به اقارب محکوم عليه هنگام تنفيذ حکم اجازهٔ حضور داده نمی شود.

فراهم آوری تسهيلات مراسم دينی

مادهٔ سه صدوسيزدهم:

هرگاه دين يا مذهب شخص محکوم به اعدام، انجام مراسم خاص را ايجاب نمايد، مؤظفين ادارهٔ محبس مکلف اند، تسهيلات لازم را برای او فراهم نمايند.

محل مجازات اعدام

مادهٔ سه صدوچهاردهم:

مجازات اعدام در داخل محبس در محل مستور طبق احکام اين قانون تنفيذ می گردد، مگر در حالاتی که غرض عبرت عامه ايجاب اعدام علنی را نمايد.

ketabton.com - The Digital Library



## د اعدام د تنفیذ په وخت کې د اشخاصو حضور

**درې سوه پنځلسمه ماده:**

(۱) د اعدام مجازات د څارنوال، د محبس د آمر، ديني عالم او يوهٔ تن طبیب په حضور کې چې د اړوندو ادارو لخوا ټاکل کېږي، د مؤظف خبير شخص په واسطه، تنفیذېږي.

(۲) د اعدام د حکم د تنفیذ په وخت کې د شاهدانو، د محکوم د مدافع وکيل او د حق العبد د مدعي حضور اړين دی، خو دا چې د خبرتيا باوجود حاضر نشي.

## د اعدام د حکم قرائت

**درې سوه شپاړسمه ماده:**

(۱) د اعدام د حکم د تنفیذ په وخت کې، د حکم نص او هغه تور چې ددغه حکم د صادرېدو موجب ګرځېدلی دی، د تنفیذ په ځای کې له اجراء څخه د مخه د څارنوال لخوا قرائت کېږي.

(۲) که چېرې محکوم عليه غوښتې وي څه بيانونه وکړي، مؤظف هيئت مکلف دی، د هغهٔ بيانونه په محضر کې درج

## حضور اشخاص حين تنفيذ اعدام

**مادهٔ سه صد وپانزدهم:**

(۱) مجازات اعدام با حضور داشت څارنوال، آمر محبس، عالم دينی ويکنفر طبيب که از طرف ادارات ذيربط تعيين می گردند، توسط شخص خبير مؤظف تنفيذ می شود.

(۲) حين تنفيذ حکم اعدام، حضور شهود، وکيل مدافع محکوم و مدعی حق العبد ضروری می باشد، مگر اينکه با وجود اطلاع حاضر نگردند.

## قرائت حکم اعدام

**مادهٔ سه صد وشانزدهم:**

(۱)حين تنفيذ مجازات اعدام، نص حکم و اتهامی که موجب صدور اين حکم گرديده است در محل تنفيذ قبل از اجراء از طرف څارنوال قرائت می گردد.

(۲) هرگاه محکوم عليه خواسته باشد اظهاراتی نمايد، هيئت مؤظف مکلف است، اظهارات وی را درج محضر

ketabton.com - The Digital Library



کړي.

(۳) مؤظف هيئت مکلف دی، د اعدام د مجازاتو له تنفيذ وروسته، د محکوم عليه د مرګ په هکله د طبيب تصديق واخلي او د پيښېدو وخت يې په محضر کې درج او لاسليک کړي.

**د رخصتۍ يا اخترونو په ورځو کې د اعدام نه تنفيذ**

**درې سوه اوولسمه ماده:**

د عمومي رخصتيو او د محکوم عليه د ديني يا ملي اخترونو (اعيادو) په ورځو کې د اعدام د مجازاتو تنفيذ جواز نلري.

**د اعدام د مجازاتو تنفيذ**

**درې سوه اتلسمه ماده:**

(۱) د اعدام مجازات، د جمهور رئيس لخوا د حکم له منظورۍ (۱۰) ورځې وروسته، تنفيذېږي.

(۲) که په اعدام محکوم شخص اميدواره (حامله) ښځه وي، د حکم تنفيذ د حمل د زېږېدو له نېټې څخه تر دوو کلونو وروسته پورې ځنډول کېږي. پدې صورت کې محکوم عليها د اعدام د

نمايد.

(۳)هيئت مؤظف مکلف است ، بعد از تنفيذ مجازات اعدام، تصديق طبيب را مبنی بر مرگ محکوم عليه اخذ وزمان وقوع آنرا در محضر درج وامضاء نمايد.

**عدم تنفيذ اعدام در روز های رخصتی يا اعياد**

**مادۀ سه صد وهفدهم:**

تنفيذ مجازات اعدام در روزهای رخصتی عمومی واعياد دينی يا ملی محکوم عليه جواز ندارد.

**تنفيذ مجازات اعدام**

**مادۀ سه صد وهجدهم:**

(۱) مجازات اعدام (۱۰) روز بعد از منظوری حکم از طرف رئيس جمهور، تنفيذ می گردد.

(۲) هرگاه شخص محکوم به اعدام زن حامله باشد، تنفيذ حکم تا دو سال بعد از تاريخ وضع حمل معطل قرار داده می شود. در اين صورت محکوم عليها الی تطبيق مجازات

ketabton.com - The Digital Library



مجازاتو تر تطبيق پورې په محبس کې ساتل کېږي.

## د اعدام د اجراء ډول

**درې سوه نولسمه ماده:**

د اعدام جزاء په هغه وسيله چې محکوم عليه ډېرلږ درد احساس کړي، صورت مومي.

## خپلوانو ته د جسد سپارل

**درې سوه شلمه ماده:**

(۱) د اعدام شوي شخص جسد، د حکم له تنفيذ وروسته خپلوانو ته يې سپارل کېږي.

(۲) که چېرې اعدام شوی شخص خپلوان ونلري يا يې خپلوان د جسد له تسليمولو څخه ډډه وکړي، د هغهٔ جسد د دولت په لګښت د اسلام د شريعت د حکمونو مطابق ښخېږي.

د جسد ښخول (تدفين) له احتفال پرته صورت مومي.

اعدام درمحبس نگهداری می شود.

## طرز اجرای اعدام

**مادۀ سه صد ونزدهم:**

جزای اعدام بوسيلۀ که محکوم عليه کمترين درد را احساس کند، صورت می گيرد.

## سپردن جسد به اقارب

**مادۀ سه صد وبيستم:**

(۱) جسد شخص اعدام شده بعد از تنفيذ حکم به اقاربش سپرده می شود.

(۲) هرگاه شخص اعدام شده اقارب نداشته باشد يا اقاربش از تسليم شدن جسد او امتناع ورزد، جسد وی به مصرف دولت مطابق به احکام شريعت اسلام دفن می گردد.

تدفين جسد بدون احتفال صورت می گيرد.

ketabton.com - The Digital Library



## پنځم فصل

## د حبس د مجازاتو تنفيذ

**د حبس د مجازاتو د تنفيذ مرجع**

**درې سوه يوويشتمه ماده:**

د حبس په مجازاتو د شخص د محکوميت په اړه د محکمو قطعي فيصلې، د څارنوالۍ تر څارنې لاندې په محبسونو کې تنفيذېږي.

**د تنفيذ د ورځې محاسبه**

**درې سوه دوه ويشتمه ماده:**

هغه ورځ چې تنفيذ پکې پيل کېږي، د محکوم بها د حبس په مجازاتو کې محاسبه او محکوم عليه د مجازاتو د مودې له پايته رسېدو څخه په راوروسته ورځ، له حبس څخه خوشې کېږي.

که چېرې د خوشې کېدو ورځ د تعطيل (رخصتۍ) له ورځې سره مصادفه وي، د هغهٔ خوشې کېدل له هغې څخه دمخه په وروستۍ ورځ صورت مومي.

## فصل پنجم

## تنفيذ مجازات حبس

**مرجع تنفيذ مجازات حبس**

**مادهٔ سه صد وبيست ويکم:**

فيصله های قطعی محاکم مبنی بر محکوميت شخص به مجازات حبس، تحت نظارت څارنوالی در محابس تنفيذ می گردد.

**محاسبه روز تنفيذ**

**مادهٔ سه صد وبيست ودوم:**

روزی که در آن تنفيذ آغاز می گردد، درمجازات حبس محکوم بها محاسبه و محکوم عليه بروز ما بعد ختم مدت مجازات از حبس رها می گردد.

هرگاه روز رهائی مصادف به روز تعطيل باشد، رهائی او در آخرين روز قبل از آن صورت می گيرد.

ketabton.com - The Digital Library



**د حبس په موده کې د نظارت او توقیف د ورځو محاسبه**

**درې سوه درویشتمه ماده:**

**(۱) د نظارت او توقیف ورځې د نیونې د ورځې په شمول د محکوم بها حبس د مجازاتو په مدت کې محاسبه کېږي.**

**(۲) که چېرې شخص د تحقیق په بهیر کې د دلایلو د فقدان (نه شتون) په نسبت د څارنوالۍ په قرار یا دا چې د محکمې لخوا برائت ترلاسه او یا د دعویٰ د اقامې په نه لزوم حکم صادر شوی وي، هغه موده چې تر نظارت او توقیف لاندې ؤ، د هرې ورځې په وړاندې له ورځني عاید او د بېکاره شخص لپاره د هرې ورځې په بدل کې له ټاکلي مبلغ سره متناسب چې اندازه یې واکمنه محکمه ټاکي، د دولت لخوا جبرانېږي.**

**له متعددو جرمونو څخه د راپیدا شوي حبس محاسبه**

**درې سوه څلېریشتمه ماده:**

**که چېرې د محکوم بها حبس د مجازاتو مجموع، په جلا حکمونو کې له درج**

**محاسبهٔ ایام نظارت وتوقیف در مدت حبس**

**مادهٔ سه صدوبیست وسوم:**

**(۱)ایام نظارت وتوقیف به شمول روز گرفتاری در مدت مجازات حبس محکوم بها محاسبه می گردد.**

**(۲) هرگاه شخص در جریان تحقیق نسبت فقدان دلایل به قرار څارنوالی یا اینکه از طرف محکمه برائت حاصل و یا به عدم لزوم اقامه دعوی حکم صادر شده باشد، مدتی را که تحت نظارت و توقیف قرار داشته، در برابر هرروز متناسب به عاید روزانه و مبلغ معین برای شخص بیکار در بدل هر روز که اندازهٔ آن را محکمهٔ ذیصلاح تعیین می نماید، از طرف دولت جبران می گردد.**

**محاسبهٔ حبس ناشی از جرایم متعدد**

**مادهٔ سه صد وبیست وچهارم:**

**هرگاه مجموع مجازات حبس محکوم بها، ناشی از جرایم متعدد مندرج**

ketabton.com - The Digital Library



شوو متعددو جرمونو څخه راپیدا شـوي وي، د حبس موده بالترتیب له لږو (کمو) مجازاتو څخه، مجرا ورکول کېږي.

## شپږم فصل

## د حبس بدیل

**د حبس د بدیل غوښتنه**

**درې سوه پنځه ویشتمه ماده:**

(۱) هغه شخص چې د محکوم بها حبس موده یې تر دریو کلونو پورې وي، کولای شي د حبس د مجازاتو د تنفیذ په عوض کې د عدلیې وزیر څخه وغواړي چې له محبس څخه بهر په ټـولنیزو خـدمتونو وګمارل شي.

(۲) د حبس بدیل د لاندې محکومینو په اړه تطبیقېږي:

۱- په حبس محکوم زده کـوونکی یـا محصل یا ښوونکی او یا استاد وي او یا د داسې طفل یا شیخ فاني یا ښځې متکفل وي چې له کور څخه بهـر څـه شـغل ونلري.

۲- په حبس د محکوم سلوک په تېره کې ښه وي او د اعتبار وړ یوهٔ شخص لخوا

احکـــام جداگانـــه باشـــد، مدت حبس بالترتیب از مجازات کمتر، مجرا داده می شود.

## فصل ششم

## بدیل حبس

**تقاضای بدیل حبس**

**مادۀ سه صد وبیست وپنجم:**

(۱) شخصی که مدت حبس محکـوم بهای وی الی سه سال باشد، می تواند به عوض تنفیذ مجازات حبس از وزیـر عدلیه تقاضا نماید که درخارج محبس به انجام خدمات اجتمـاعی گماشـته شود.

(۲) بدیل حبس در رابطه به محکومین ذیل تطبیق می گردد:

۱- محکوم بـه حـبس، مـتعلم یـا محصل یا معلم ویا استاد بـوده ویـا متکفل طفل یاشیخ فانی یا زنی باشـد که شغلی در بیـرون منـزل نداشـته باشد.

۲- سلوک محکوم به حبس درگذشته خوب بوده و از طرف یک شخص بـا

ketabton.com - The Digital Library



تصديق شي.

(۳) د حبس د بديل د منظورۍ په صورت کې، محکوم عليه د ټولنيزو خدمتونو د سرته رسولو لپاره، د ټولنيزو خدمتونو وړاندې کوونکې يوې مؤسسې ته ورپېژندل کېږي.

(۴) محکوم عليه مکلف دی، په کار د بوختېدو په وخت کې د خدمت د استحصالوونکې مرجع د قوانينو او مقرراتو حکمونه په پام کې ونيسي.

## د خدمت د سرته رسولو ډول

درې سوه شپږويشتمه ماده:

(۱) محکوم ژمنه وکړي چې سپارل شوی کار د هغهٔ په ټاکلي وخت په سمه توګه د اړوند مزد د اصل د (۳۰) سلنې په ترلاسه کولو سرته ورسوي او ددې قانون د درې سوه پنځه ويشتمې مادې په (۴) فقره کې درج شوي شرايط په پام کې ونيسي.

(۲) که چېرې د خدمت د سرته رسولو مرجع، خصوصي مؤسسې يا تشبثات وي، مکلف دي، د محکوم د ورځني مزد پاتې

اعتبار تصديق گردد.

(۳) درصورت منظوری بديل حبس، محکوم عليه جهت انجام خدمات اجتماعی به يکی از مؤسسات ارايه کنندهٔ خدمات اجتماعی معرفی می گردد.

(۴) محکوم عليه مکلف است در زمان اشتغال به کار احکام قوانين ومقررات مرجع استحصال کنندهٔ خدمت را رعايت نمايد.

## نحوهٔ اجرای خدمت

مادهٔ سه صد وبيست وششم:

(۱) محکوم تعهد نمايد که کار سپرده شده را در وقت معين آن به حسن صورت با دريافت (۳۰) فيصد اصل مزد مربوط انجام دهد و شرايط مندرج فقرهٔ (۴) مادهٔ سه صد وبيست وپنجم اين قانون را رعايت می نمايد.

(۲) هرگاه مرجع انجام خدمت، مؤسسات ياتشبثات خصوصی باشد، مکلف است (۷۰) فيصد باقيماندهٔ مزد

ketabton.com - The Digital Library



(۷۰) سلنه د دولت حساب ته ولېږدوي.

(۳) د ټولنيزو خدمتونو په سرته رسولو پورې نورې اړوندې چارې په جلا مقرره کې تنظيمېږي.

## د حبس د بديل الغا

### درې سوه اووه ويشتمه ماده:

که چېرې محکوم عليه، ددې قانون د درې سوه پنځه ويشتمې مادې د (۴) فقرې يا اړونده مقرره کې له درج شوو محدوديتونو څخه سرغړونه وکړي يا غير حاضري وکړي يا يې کار بې کيفيته وي، د خدمت استحصالوونکې مرجع مکلفه ده، موضوع اړوند وزارت ته رپوټ ورکړي. پدې صورت کې د اړوند وزارت د حبس بديل لغو او څارنوالي، محکوم عليه د محکوم بها حبس د پاتې مودې د تېرولو لپاره بېرته محبس ته ورګرځوي.

له محبس څخه بهر د خدمت موده د هغهٔ د محکوم بها حبس په موده کې محاسبه کېږي.

روزمرهٔ محکوم را بحساب دولت انتقال دهد.

(۳) ساير امورمربوط به انجام خدمات اجتماعی در مقررهٔ جداگانه تنظيم می گردد.

## الغای بديل حبس

### مادهٔ سه صد وبيست وهفتم:

هرگاه محکوم عليه از محدوديت های مندرج فقرهٔ (۴) مادهٔ سه صدو بيست وپنجم اين قانون يا مقررهٔ مربوط تخلف نموده ياغيرحاضری نمايد ياکاروی بی کيفيت باشد،مرجع استحصال کنندهٔ خدمت مکلف است موضوع را به وزارت مربوط گزارش دهد. دراين صورت وزارت مربوط بديل حبس را لغووڅارنوالی، محکوم عليه را جهت سپری نمودن ميعاد باقی ماندهٔ حبس محکوم بها به محبس باز می گرداند.

مدت خدمت خارج از محبس درمدت حبس محکوم بهای وی محاسبه می گردد.

ketabton.com - The Digital Library



## په کار باندې د حبس د مجازاتو تعویض

درې سوه اته ويشتمه ماده:

(۱) په مرکز کې په دولتي ادارو کې کارته د دولتي کارکوونکو د حبس د مجازاتو تعويض (بدلول)، د اړوند وزير په وړانديز او په ولايتونو کې د والي په وړانديز د عدليې وزير له منظورۍ وروسته صورت مومي، د اداري فساد د جرمونو محکومين له دې حکم څخه مستثني دي.

(۲) د نورو اشخاصو په هکله په کار باندې د حبس د مجازاتو تعويض، د څارنوال په وړانديز او د اړوند ولايت د والي په تأييد او د عدليې وزير په منظورۍ صورت مومي.

(۳) هغهٔ محکوم عليه ته د کار د ډول ټاکل چې حبس يې په کار تعويض شوی دی، د اړوندو اداري مراجعو لخوا او د عدليې وزير په منظورۍ صورت مومي.

## تعويض مجازات حبس به کار

مادهٔ سه صد وبيست وهشتم:

(۱) تعويض مجازات حبس کارکنان دولتی به کاردر ادارات دولتی درمرکز به پيشنهاد وزير مربوط و در ولايات به پيشنهاد والی بعد از منظوری وزيرعدليه صورت می گيرد، محکومين جرايم فساد اداری از اين حکم مستثنی اند.

(۲) تعويض مجازات حبس به کار در مورد ساير اشخاص به پيشنهاد څارنوال و تائيد والی ولايت مربوط و منظوری وزير عدليه صورت می گيرد.

(۳) تعيين نوع کار برای محکوم عليه که حبس وی به کار تعويض گرديده است،از طرف مراجع اداری مربوط و منظوری وزير عدليه صورت می گيرد.

ketabton.com - The Digital Library



**د مجازاتو په موده کې د محبوس د کار محاسبه**

**درې سوه نهه ويشتمه ماده:**

**له محبس څخه په بهر کې د محبـــوس د بالفعل خدمت د سرته رســـولو مـــوده د محکوم بها حبس د مجازاتو په موده کې مجرا کېږي. د غيابت ورځې په هغې کې شاملې ندي.**

**محاسبهٔ کـــار محبـــوس درمـــدت مجازات**

**مادهٔ سه صد وبيست ونهم:**

**مدت انجام خدمت بالفعـــل محبـــوس درخارج محبس در مـــدت مجـــازات حبس محکوم بهـــا مجرامـــی گـــردد. ايـــــام غيابـــــت شـــــامل آن نمی باشد.**

ketabton.com - The Digital Library



## اووم فصل

## د حکم د تنفيذ تأجيل

### د اميدوارې ښځې د حکم د تنفيذ تأجيل

**درې سوه دېرشمه ماده:**

هغه ښځه چې د (٦) مياشتني يا له هغې څخه د زيات حمل لرونکې وي او تر (۵) کلونو پورې د حبس په مجازاتو محکومه شوې وي، څارنوال د حبس د حکم د تنفيذ تأجيل د حمل له وضع وروسته تر (۳) مياشتو مودې پورې، د حکم صادروونکې محکمې ته وړانديز کوي.

### د طفل لرونکو والدينو د حکم د تنفيذ تأجيل

**درې سوه يو دېرشمه ماده:**

که چېرې هغه ښځه او مېړۀ چې له (۱۵) کلونو څخه د لږ طفل سرپرستي په غاړه ولري، په يوه وخت دواړه تر (۵) کلونو پورې په حبس محکوم شي، څارنوال، دهغو د يوۀ د حبس د حکم د تنفيذ تأجيل، د حکم صادروونکې ابتدائيه

## فصل هفتم

## تأجيل تنفيذ حکم

### تأجيل تنفيذ حکم زن حامله

**مادۀ سه صدوسی ام:**

زنی که دارای حمل (٦) ماهه يا بيشتر از آن بوده وبه مجازات حبس الی (۵) سال محکوم گرديده باشد، څارنوال تأجيل تنفيذ حکم حبس را الی مدت (۳) ماه بعد از وضع حمل به محکمه صادر کنندۀ حکم پيشنهاد می نمايد.

### تأجيل تنفيذ حکم والدين دارندۀ طفل

**مادۀ سه صد وسی ويکم:**

هرگاه زن وشوهری که سرپرستی طفل کمتر از (۱۵) سال را بعهده داشته باشند، همزمان هردو به حبس الی (۵) سال محکوم گردند، څارنوال تأجيل تنفيذ حکم حبس يکی از آنها را به محکمۀ

ketabton.com - The Digital Library



محكمې ته وړاندیز کوي، پدې شرط چې خوشې کېدونکی متکرر مجرم نه وي. د والدینو د جرم د تکرار په صورت کې له ۱۵ کلونو څخه د کم عمر لرونکي ماشوم د ساتنې په هکله د مدني قانون د (۲۴۲) مادې سره سمې کړنې ترسره کېږي.

## دمرض په سبب دحبس د تنفيذ تأجيل

**درې سوه دوه دېرشمه ماده:**

(۱) که چېرې محبوس په داسې مرض اخته شي چې په خپل ذات یا د مجازاتو د تنفيذ له امله يې ژوند له خطر سره مخامخ کړي، د هغهٔ د حبس د تنفيذ تأجيل، د ناروغۍ د خطر تر لرې کېدو پورې جواز لري.

(۲) که چېرې محبوس په رواني ناروغۍ اخته شي، د حبس د مجازاتو تنفيذ، د هغهٔ د روغتیا تر راګرځېدو پورې ځنډول کېږي او څارنوال کولای شي د رواني روغتیا له مرکزونو څخه یوهٔ ته د هغهٔ د لېږدونې امر صادر کړي. پداسې حالت کې د کتنې او درملنې موده، د محکوم

ابتدائیهٔ صادر کنندهٔ حکم پیشنهاد می نماید، مشروط براینکه رها شونده مجرم متکرر نباشد.در صورت تکرار جرم والدین حضانت طفل زیر سن ۱۵ سال، مطابق مادهٔ (۲۴۲) قانون مدنی اجراآت می گردد.

## تأجيل تنفيذ حبس به سبب مرض

**مادهٔ سه صد وسی ودوم:**

(۱) هرگاه محبوس به مرضی مصاب گردد که به ذات خود یا در اثر تنفيذ مجازات، حیات او را به خطر مواجه سازد، تأجيل تنفيذ حبس او الی رفع خطر مریضی جواز دارد.

(۲) هرگاه محبوس به مرض روانی مبتلا گردد، تنفيذ مجازات حبس الی اعادهٔ صحت وی معطل می گردد و څارنوال می تواند امر انتقال وی را به یکی از مراکز صحت روانی صادر نماید. درچنین حالت مدت معاینه ومعالجه از مدت

ketabton.com - The Digital Library



بها حبس د مجازاتو له مودې څخه کمېږي.

(۳) پداسې احوالو کې د خطرناکو ناروغيو يا رواني ناروغيو تثبيتول، د اهل خبره په واسطه صورت مومي.

## بالمال کفالت

**درې سوه دري دېرشمه ماده:**

پداسې احوالو کې چې ددې قانون د حکمونو مطابق د حکم د تنفيذ تأجيل، مجاز اټکل شوی وي، څارنوال کولای شي د بالمال کفالت د اندازې ټاکل له محکمې څخه وغواړي همدارنگه څارنوال کولای شي، د لزوم په صورت کې د معذرت له لرې کېدو وروسته، د محکوم له تېښتې (فرار) څخه د مخنيوي لپاره نور احتياطي تدبيرونه هم، محکمې ته وړانديز کړي.

مجازات حبس محکوم بها کاسته می شود .

(۳) تثبيت امراض خطرناک يا امراض روانی در چنين احوال توسط اهل خبره صورت می گيرد.

## کفالت بالمال

**مادۀ سه صد وسی وسوم:**

در احوالی که طبق احکام اين قانون تأجيل تنفيذ حکم، مجاز پيش بينی شده باشد، څارنوال می تواند تعيين اندازۀ کفالت بالمال را از محکمه تقاضا نمايد همچنان څارنوال می تواند در صورت لزوم، اتخاذ تدابير احتياطی ديگری را نيز جهت جلوگيری از فرار محکوم بعد از رفع معذرت به محکمه پيشنهاد نمايد.

ketabton.com - The Digital Library



## اتم فصل

## مشروط خوشې کېدل

### د مشروط خوشې کېدو غوښتنه

**درې سوه څلور دېرشمه ماده:**

مشروط خوشې کېدنه د محکوم عليه په غوښتنه پدې فصل کې د درج شوو حکمونو مطابق صورت مومي.

### د مشروط خوشې کېدو وړانديز

**درې سوه پنځه دېرشمه ماده:**

(۱) که چېرې هغه شخص چې د محکمې په قطعي حکم په حبس محکوم شوی دی، د خپلې محکوم بها مجازاتو د مجموع درې څلورمه (۳ پر۴) په محبس کې تېره کړي او په محبس کې د اوسېدو په وخت کې يې سلوک، د هغهٔ د نفس د اصلاح ډاډ ورکړي، د هغه مشروط خوشې کېدنه جواز لري.

(۲) د مشروطې خوشې کېدنې تصميم، د محبس د آمر د وړانديز او د محبسونو او توقيف خونو د عمومي رئيس د تأييد پر بنسټ د څارنوالۍ له لارې د هغې محکمې په واسطه چې محکوم عليه يې په

## فصل هشتم

## رهائی مشروط

### تقاضای رهائی مشروط

**مادهٔ سه صد وسی وچهارم:**

رهائی مشروط به تقاضای محکوم عليه مطابق احکام مندرج اين فصل صورت می گيرد.

### پيشنهاد رهائی مشروط

**مادهٔ سه صد وسی وپنجم:**

(۱) هرگاه شخصی که به حکم قطعی محکمه به حبس محکوم گرديده است، سه ربع (۳بر۴) مجموع مجازات محکوم بهای خود را در محبس سپری نمايد و سلوک وی حين اقامت در محبس، اطمينان اصلاح نفس او را بدهد، رهائی مشروط او جواز دارد.

(۲) تصميم به رهائی مشروط براساس پيشنهاد آمر محبس و تائيد رئيس عمومی محابس و توقيف خانه ها از طريق څارنوالی توسط محکمهٔ که محکوم عليه در حوزهٔ

ketabton.com - The Digital Library



قضايي حوزه کې محبوس دی، نیول کېږي.

(۳) محکمه هغهٔ سلوک، تگلاره (روش) او شرایط چې ښايي محکوم علیه يې له خوشې کېدو وروسته په پام کې ونيسي، د مشروطي خوشې کېدنې په حکم کې يادوي، دغه شرایط عبارت دي له:

- په ټاکلي ځای کې اوسېدل.
- د پولیسو دفتر ته په ټاکلو وختونو کې حاضري ورکول.
- له مراقبتي دستبند څخه استفاده.
- د ښه سلوک تضمين.

(۴) ځايي پولیس مکلف دی د مشروط خوشې شوي تگلاره او سلوک وڅاري، وخت پروخت اړوندې څارنوالۍ ته رپوټ ورکړي.

<u>د تخفیف د مودې محاسبه</u>

درې سوه شپږ دېرشمه ماده:

هغه محکوم چې د مجازاتو د تخفيف له فرمان څخه برخمن کېږي، د تخفیف د مودې له وضع کولو وروسته میعاد، دهغهٔ د محکوم بها د مودې مجموع گڼل

قضائی آن محبوس است، اتخاذ می گردد.

(۳) محکمه، سلوک، روش و شرایطی را که باید محکوم علیه بعد از رهائی رعایت کند، در حکم رهائی مشروط ذکر می نماید. این شرایط عبارتنداز:

- سکونت درمحل معین.
- دادن حاضری در اوقات معین به دفتر پولیس.
- استفاده از دستبند مراقبتی.
- تضمین حسن سلوک.

(۴) پولیس محل مکلف است روش و سلوک رها شدهٔ مشروط را مراقبت نموده، وقتاً فوقتاً به څارنوالی مربوط گزارش دهد.

<u>محاسبهٔ میعاد تخفیف</u>

مادهٔ سه صد وسی وششم:

محکومی که از فرمان تخفیف مجازات مستفید می گردد، میعاد بعد از وضع مدت تخفیف، مجموع مدت محکوم بهای وی محسوب

ketabton.com - The Digital Library



کېږي.

**په متعددو جرمونو کې مشروط خوشې کېدل**

**درې سوه اووه دېرشمه ماده:**

(۱) که چېرې د محکوم بها حبس مجازات له هغو متعددو جرمونو څخه راپیدا شوي وي چې محبس ته د شخص له داخلېدو دمخه ارتکاب شوي وي، مشروط خوشې کېدنه، د محکوم بها د مودې له مجموع څخه صورت مومي.

(۲) که چېرې محکوم علیه په محبس کې د جرم مرتکب شي او د هغهٔ له امله هم د حبس په مجازاتو محکوم شوی وي، مشروط خوشې کېدنه، د دمخه پاتو مجازاتو د مودې او د هغو مجازاتو د مودې له مجموع څخه چې په محبس کې د ننه د جرم د ارتکاب له امله په هغو محکوم شوی دی، محاسبه کېږي.

**د محبس ادارې ته د مشروط خوشې کېدو د حکم تسلیمول**

**درې سوه اته دېرشمه ماده:**

د محبوس د مشروطې خوشې کېدنې

می گردد.

**رهائی مشروط در جرایم متعدد**

**مادهٔ سه صد وسی وهفتم:**

(۱) هرگاه مجازات حبس محکوم بها ناشی از جرایم متعدد باشد که قبل از دخول شخص به محبس ارتکاب یافته باشد، رهائی مشروط از مجموع مدت محکوم بها صورت می گیرد.

(۲) هرگاه محکوم علیه در محبس مرتکب جرم گردیده و در اثر آن نیز به مجازات حبس محکوم گردیده باشد، رهائی مشروط از مجموع مدت باقی ماندهٔ مجازات قبلی و مدت مجازاتی که به اثر ارتکاب جرم در داخل محبس به آن محکوم گردیده، محاسبه می گردد.

**تسلیمی حکم رهائی مشروط به ادارهٔ محبس**

**مادهٔ سه صد وسی وهشتم:**

حکم رهائی مشروط محبوس

ketabton.com - The Digital Library



حکم د اړوند محبس ادارې ته ورتسليمېږي، څو د نوموړي حکم په تنفيذ او د هغهٔ تصديق ليک په ورکولو چې د محکوم بها مجازاتو، ډول د مشروطې خوشې کېدنې موده او د انفاذ نېټه په هغهٔ کې ثبت شوي دي، لاس پورې کړي. هغه شرايط چې ښايي خوشې کېدونکی يې په پام کې ونيسي او هغه مکلفيتونه چې په غاړه يې اېښودل شوي، هم په تصديق ليک کې درجېږي او په هغو کې خوشې کېدونکي ته اخطار ورکول کېږي چې که له نوموړو شرايطو او مکلفيتونو څخه سرغړونه وکړي يا د داسې عمل مرتکب شي چې د هغه په ناوړه سلوک دلالت وکړي، د مشروطې خوشې کېدنې حکم لغو کېږي.

**د مشروط خوشې کېدو د مودې محاسبه او د لغو په صورت کې له هغې څخه بيا ګټه اخيستنه**

**درې سوه نهه دېرشمه ماده:**

د مشروطې خوشې کېدنې د حکم د لغو په صورت کې، د مشروطې خوشې کېدنې

به ادارهٔ محبس مربوط تسليم داده می شود تا به تنفيذ حکم مذکور و اعطای تصديق نامهٔ که نوع مجازات محکوم بها، مدت و تاريخ انفاذ رهائی مشروط در آن ثبت گرديده، اقدام نمايد. شرايطی که بايد رها شوندهٔ مشروط آنرا رعايت نمايد و مکلفيت هائی که به ذمه اش گذاشته شده، نيز درج تصديق نامه می گردد و در آن به رها شوندهٔ مشروط اخطار داده می شود که اگر از شرايط و مکلفيت های مذکور تخلف ورزد يا مرتکب عملی گردد که دلالت به سوء سلوک وی نمايد،حکم رهائی مشروط لغو می گردد.

**محاسبهٔ مدت رهائی مشروط واستفادهٔ مجدد از آن در صورت لغو**

**مادهٔ سه صد وسی ونهم:**

درصورت لغو حکم رهائی مشروط، نصف مدت سپری شدهٔ رهائی مشروط

ketabton.com - The Digital Library



د تېرې شوې مودې نيمايي د محکوم بها حبس په موده کې محاسبه کېږي. کــه چېرې دخوشې کېدنې شرايط د هغو لــه لغو څخه ورروسته بيا موجود شي، محبوس کولای شي له مشروطې خوشې کېـدنې څخه ګټه واخلي، پدې صورت کې پاتې موده، د محکوميت ټوله موده ګڼل کېږي.

## د مشروط خوشې کېدو جواز

درې سوه څلوېښتمه ماده:

مشروط خوشې کېدنه هغه وخت جــواز لري چې محکوم عليه ټول مالي التزامونه چې د جرم د ارتکاب له امله پــه هغــو محکوم شوی دی، ورکړي وي، خو دا چې له محکوم عليه څخه د مالي التزامونو تحصيل د قانون د حکمونو مطابق ممکن نه وي.

## د مشروط خوشې کېدو د دوام يا لغو په هکله د محکمې تصميم

درې سوه يو څلوېښتمه ماده:

که چېرې خوشــې شــوی شــخص د مشروطې خوشې کېدنې له ټاکل شــوو شرايطو څخه له يوۀ څخــه ســرغړونه

در مدت حبس محکوم بهــا محاســبه می شود. هرگاه شرايط رهائی بعد از لغو آن بار ديگر موجود گــردد، محبــوس می تواند از رهائی مشروط استفاده بــه عمل آرد، در ايــن صــورت مــدت باقيمانده، تمــام مــدت محکوميــت محسوب می گردد.

## جواز رهائی مشروط

مادۀ سه صد وچهلم:

رهائی مشروط وقتی جــواز دارد کــه محکوم عليه تمام التزامــات مــالی را که از اثر ارتکاب جرم به آن محکــوم شده است، پرداخته باشد، مگر اينکــه تحصيل التزامات مالی از نزد محکــوم عليه مطــابق احکــام قــانون ممکــن نباشد.

## تصميم محکمه درمورد ادامه يا لغو رهائی مشروط

مادۀ سه صدوچهل ويکم:

هرگاه شخص رها شــده از يکــی از شرايط تعيين شــدۀ رهــائی مشــروط تخلف ورزد، محکمۀ ابتدائيــه ايکــه

ketabton.com - The Digital Library



وکړي، هغه ابتدائيه محکمه چې محبس د هغې په قضايي حوزه کې واقــع دی، د اړوند څارنوال په وړانديز د څارنوال او مشروط خوشې شوي د بيانونو له اورېدلو وروسته، د مشروطې خوشې کېـــدنې د دوام يا الغاء په هکله تصميم نيسي. دغه ډول تصميم د اعتراض وړ ندی.

د مشروطې خوشې کېدنې د حکم د الغاء په صورت کې خوشې شـــوی شـــخص محبس ته ورګرځول کېږي.

## د مشروط خوشې کېدو قطعيت

درې سوه دوه څلوېښتمه ماده:

که چېرې په مشروطه خوشې کېدنې حکم د محکوم بها مجازاتو د ميعاد تـر پايــه (انتها) پورې لغو نشي، قطعيــت مــومي (کسبوي).

مشروطه خوشې کېدنه پرتکميلي جزاګانو باندې اغېزه نلري.

په دوام حبس کې مشروطه خوشې کېدنه، د خوشې کېدو د امر له نېټې څخه د (۳) کلونو له تېرېدو څخه وروسته، قطعيــت کسبوي.

محبس در حوزهٔ قضائی آن قراردارد به پيشنهاد څارنـــــوال مربـــوط بعـــد از اســـتماع اظهـــارات څارنـــــوال و رها شدهٔ مشروط در مورد ادامه يا الغای رهائی مشروط تصـــميم مـــی گيـــرد. چنـــين تصـــميم قابـــل اعتـــراض نمی باشد.

در صورت الغای حکم رهائی مشروط شخص رها شده به محبس برگردانيـــده می شود.

## قطعيت رهائی مشروط

مادهٔ سه صدوچهل ودوم:

هرگاه حکـــم بـــه رهـــائی مشـــروط الـــی انتهـــای ميعـــاد مجـــازات محکوم بها لغو نگردد، کسب قطعيـــت می کند.

رهائی مشروط بر جزا های تکميلی تأثير ندارد.

رهائی مشـــروط درحـــبس دوام بعـــد از مـــــرور (۳) ســــال از تـــاريخ امـــر رهـــائی، کســـب قطعيـــت می نمايد.

ketabton.com - The Digital Library



## نهم فصل

## د مالي ورکړو د حکمونو تنفيذ

### د مالي محکوم بها تنفيذ

**درې سوه درې څلوېښتمه ماده:**

د مال د اعادې، نغدي جزاء، د لګښتونو د ورکړې او د زيان د جبران په اړه د محکمو د قطعي حکمونو تنفيذ د څارنوالۍ په دستور، د مدني محاکماتو د اصولو د قانون او نورو اړوندو تقنيني سندونو د حکمونو مطابق صورت مومي، دولت ته د ورکړې وړ مبالغ، د مالياتو او دولتي ديونو د تحصيل د اداري قواعدو مطابق صورت مومي.

### د مالي محکوم بها د ورکړې ډول

**درې سوه څلور څلوېښتمه ماده:**

که چېرې حکم په نغدي جزاء، د لګښتونو په ورکړه ، د هغه څه چې اعاده يې لازمه ده او د زيان په جبران يو ځای صادر شوی وي او د محکوم عليه مالونه د هغو ټولو لپاره کافي نه وي، لومړی هغه څه چې اعاده يې لازمه ده، ورکول کېږي، له ترلاسه شوو پاتو وجوهو څخه

## فصل نهم

## تنفيذ احکام تأديات مالی

### تنفيذ محکوم بهای مالی

**مادۀ سه صدوچهل وسوم:**

تنفيذ احکام قطعی محاکم مبنی بر اعادۀ مال، جزای نقدی، پرداخت مصارف و جبران خساره به دستور څارنوالی مطابق احکام قانون اصول محاکمات مدنی و ساير اسناد تقنينی مربوط صورت می گيرد، مبالغ قابل تاديۀ به دولت مطابق قواعد اداری تحصيل ماليات و ديون دولتی صورت می گيرد.

### طرز تأديۀ محکوم بهای مالی

**مادۀ سه صد وچهل وچهارم:**

هرگاه حکم به جزای نقدی، پرداخت مصارف، آنچه اعاده اش لازم است و جبران خساره يکجا صادرشده باشد و اموال محکوم عليه برای ايفای تمامی آن کافی نباشد، نخست آنچه اعاده اش لازم است، تأديه گرديده، از متباقی وجوه حاصله بالترتيب مصارف و

ketabton.com - The Digital Library



بالترتيب لګښتونه او د زيان جبران او وروسته نغدي جزاء ورکول کېږي.

**د محکوم عليه له مايملک څخه تحصيلول**

**درې سوه پنځه څلوېښتمه ماده:**

که چېرې حکم د متعددو جرمونو د ارتکاب له امله په مالي ورکړو صادر شوى وي، له ترلاسه شوو وجوهو يا د محکوم عليه د مايملک له جبري خرڅلاو څخه بالترتيب د جنايت، وروسته د جنحې او وروسته د قباحت د محکوم بها جزاء ورکول کېږي.

**د توقيف په وړاندې د نغدي جزاء مجرايي**

**درې سوه شپږ څلوېښتمه ماده:**

(۱) که چېرې شخص توقيف شي او د محاکمې په پايله کې يوازې په نغدي ورکړو محکوم شي، د هرې ورځې توقيف په وړاندې له توقيف څخه د مخه د محکوم د ورځني عايد معادل د محکوم بها د نغدي جزاء له مبلغ څخه سنجش او هغهٔ ته مجرايي ورکول کېږي. دغه حکم

جبران خساره و اخيراً جزاى نقدى پرداخته مى شود.

**تحصيل از مايملک محکوم عليه**

**مادهٔ سه صد وچهل وپنجم:**

هرگاه حکم به تأديات مالى از اثر ارتکاب جرايم متعدد صادر شده باشد، از وجوه نقدى حاصله يا ازفروش جبرى مايملک محکوم عليه بالترتيب جزاى محکوم بهاى جنايت، بعداً جنحه وسپس قباحت تأديه مى گردد.

**مجرائى جزاى نقدى در برابر توقيف**

**مادهٔ سه صد وچهل وششم:**

(۱) هرگاه شخص توقيف شود و در نتيجهٔ محاکمه صرف به تأديات نقدى محکوم گردد، در برابر هر روز توقيف معادل عايد روزانه محکوم قبل از توقيف از مبلغ جزاى نقدى محکوم بها سنجش و براى وى مجرا داده مى شود. اين حکم در مورد ساير وجائب

ketabton.com - The Digital Library



د محکوم بها د نورو مالي وجايبو په هکله د تطبيق وړ ندی.

(۲) که چېرې حکم په حبس او نغــدي جزاء کې شامل وي او د توقيف موده د محکوم بها حبس له مودې څخه زياتــه وي، پدې صورت کې هغه مـــوده چــې محکوم عليه د محکوم بها له مودې څخه زياته په توقيف کې تېره کــړې ده، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي حکم مطابق د مجرايي وړ ده.

## د محکوم بها په ورکړه کې د مهلت ورکول يا د قسط ټاکل

درې سوه اووه څلوېښتمه ماده:

(۱) د حکم صادروونکې محکمــه پــه استثنايي احوالو کې کولای شي د محکوم عليه په غوښتنه او د څارنوال په موافقه د هغو مبالغو د ورکړې لپاره چې محکـــوم عليه دولت ته د هغو په ورکړې بانـــدې مکلف دی، مهلت يا قسطونه وټاکي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې مطالبې د منلو يا ردولو پـــه اړه د قرار صادرېدل، د اعتراض وړ ندی.

مـــالی محکـــوم بهـــا قابـــل تطبيـــق نمی باشد.

(۲) هرگاه حکم شامل حبس و جـــزای نقدی بوده و مدت توقيف بيشتر از مدت حبس محکوم بها باشد، دراين صورت مدتی کـــه محکـــوم عليـــه بيشـــتر از مدت محکوم بها را در توقيف ســـپری نموده اســـت طبـــق حکـــم منـــدرج فقرهٔ (۱) اين ماده قابل مجرائـــی مـــی باشد.

## دادن مهلت يا تعيين قسط در تأديهٔ محکوم بها

مادهٔ سه صدوچهل وهفتم:

(۱) محکمهٔ صادر کننـــدهٔ حکـــم در احوال استثنائی می تواند به اساس مطالبهٔ محکوم عليه و موافقهٔ څارنوال بـــرای پرداخت مبالغی که محکوم عليه مکلف به تأديهٔ آن به دولت می باشد، مهلت يا اقساط تعيين نمايد.

(۲) صدور قرار مبنی بر قبـــول يـــا رد مطالبهٔ مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده قابـــل اعتراض نمی باشد.

ketabton.com - The Digital Library



(۳) که چېرې محکــوم علیــه د دوو قسطونو یا له هغو څخــه د زیــاتو پــه تحویلولو کې له مؤجه عذر پرتــه ځنــډ وکړي، محکمه کولای شي، د څارنوال په غوښتنه د قسطونو په لغو او د حکم د تنفیذ پر تعجیل، قرار صادر کړي.

## لسم فصل

## د مجازاتو تخفیف او عفو

**خصوصي عفو**

**درې سوه اته څلوېښتمه ماده:**

(۱) خصوصي عفو د جمهور رئــیس د فرمان په واسطه صورت مومي او د هغهٔ پر بنسټ د قطعي محکوم بها له اصــلي جزاګانو څخه ټولې یا ځینې ساقطې او یا په لږې خفیفې جزاء چې په قانون کــې اټکل شوې ده، تعویض کېږي.

(۲) خصوصي عفــو تکمیلــي، تبعــي جزاګانې او امنیتي تدبیرونه او پر هغــو باندې جزایي مرتب شوي آثار نه ساقطوي او پر دمخه تطبیق شوو جزاګانو اغېزه نلري، خو دا چې د عفو فرمان د هغــو پرخلاف حکم کړی وي.

(۳) هرگاه محکوم علیــه در تحویــل دوقسط یــا بــیش تــر از آن بــدون عذر مؤجه تــأخیر نمایــد، محکمــه می تواند به درخواست څارنوال به الغای اقساط و تعجیل تنفیذ حکم، قرار صادر نماید.

## فصل دهم

## تخفیف و عفو مجازات

**عفوخصوصی**

**مادهٔ سه صد وچهل وهشتم:**

(۱) عفو خصوصی توسط فرمان رئیس جمهور صورت می گیرد وبه اساس آن تمام یا بعضی ازجزاهای اصلی محکوم بهای قطعی ساقط ویا به جزای خفیــف تری که درقانون پیشبینی شده، تعویض می گردد.

(۲) عفو خصوصی، جزاهای تکمیلــی، تبعی و تدابیر امنیتی و آثار جزائی مرتب بر آنرا ساقط نمی ســازد وبرجزاهــای تطبیق شدهٔ قبلی تاثیرندارد، مگراینکــه فرمان عفوبه خلاف آن حکــم نمــوده باشد.

ketabton.com - The Digital Library



**د اشخاصو د حقوقو نه ګډوډېدل (نه اخلال)**

**درې سوه نهه څلوېښتمه ماده:**

خصوصي عفو په هېڅ وجه د اشخاصو مالي حقوق نه اخلالوي.

**د تخفيف او عفو خنډونه (موانع)**

**درې سوه پنځوسمه ماده:**

(۱) د لاندې جرمونو د محکومينو مجازات په تخفيف او عفو کې نه شاملېږي:

۱- د حدودو جرمونه.

۲- قصاص.

۳- ديت، خو دا چې مقتول وارث ونلري.

(۲) د لاندې محکومينو د حبس مجازات عفو کېدی نشي:

۱- عمد قتل.

۲- د مال يا منفعت د لاسته راوړلو په مقصد، اختطاف.

۳- يرغمل نيول.

۴- اداري فساد.

۵- د مخدرو موادو قاچاق.

**عدم اخلال حقوق اشخاص**

**مادهٔ سه صد وچهل ونهم:**

عفوخصوصی به هيچ وجه حقوق مالی اشخاص را اخلال نمی کند.

**موانع تخفيف وعفو**

**مادهٔ سه صد وپنجاهم:**

(۱) مجازات محکومين جرايم ذيل شامل تخفيف و عفو نمی گردد:

۱- جرايم حدود.

۲- قصاص.

۳- ديت، مگر اينکه مقتول وارث نداشته باشد.

(۲) مجازات حبس محکومين جرايم ذيل عفو شده نمی تواند:

۱- قتل عمد.

۲- اختطاف به مقصد بدست آوردن مال يا منفعت.

۳- گروگان گيری.

۴- فساد اداری.

۵- قاچاق مواد مخدر.

ketabton.com - The Digital Library



٦- متكرر مجرمين.

۷- د جمهور رئيس په تشخيص نور جرمونه.

(۳) ددې مادې د (۲) فقرې په ( ۱ و ۲) اجزاووكې د درج شوو جرمونو د محكومينو د حبس مجازات، په هغهٔ صورت كې تخفيف كېداى شي، چې د قتل (وژلې) په جرم كې د مقتول ورثې ابراء كړې وي او د اختطاف په جرم كې لاسته راغلى مال يا منفعت يې مجني عليه ته رد كړى وي.

(۴) په (۲) فقره كې د درج شوو جرمونو د محكومينو د مجازاتو تخفيف، ددې مادې د (۳) فقرې له په پام كې نيولو سره له (۳ پر ۴) برخې څخه زيات جواز نلري.

## د تعليقي مجازاتو د عفوې او تخفيف منع

درې سوه يو پنځوسمه ماده:

د هغو مجازاتو تحفيف او عفو چې محكمې يې د تفنيذ په تعليق حكم كړى وي، جواز نلري.

٦- مجرمين متكرر.

۷- ساير جرايم به تشخيص رئيس جمهور.

(۳) مجازات حبس محكومين جرايم مندرج اجزاى (۱و۲) فقرهٔ (۲) اين ماده در صورتى تخفيف شده مى تواند كه در جرم قتل ورثهٔ مقتول ابراء و در جرم اختطاف، مال يا منفعت بدست آمده را به مجنى عليه رد نموده باشد.

(۴) تخفيف مجازات محكومين جرايم مندرج فقرهٔ (۲) با رعايت حكم فقرهٔ (۳) اين ماده بيشتر از (۳ بر۴) حصهٔ آن جواز ندارد.

## منع عفو و تخفيف مجازات تعليقى

مادهٔ سه صد وپنجاه ويكم:

تخفيف و عفو مجازاتى كه محكمه به تعليق تنفيذآن حكم نموده باشد،جواز ندارد.

ketabton.com - The Digital Library



**په دوام حبس بانــدې د اعــدام د مجازاتو تعدیل**

**درې سوه دوه پنځوسمه ماده:**

(۱) که چېرې شخص د محکمې د قطعي حکم پر بنسټ په اعدام محکوم شوی وي او جمهور رئیس د محکمې حکم منظور نکړي، د اعدام مجازات د دوام حبس د مجازاتو په اکثر حد تعدیلیږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي محکوم مجازات په هغهٔ صورت کې تخفیف کېدای شي چې د مقتول ورثــې ابراء کړې وي یا یې د هغهٔ بشپړ دیــت ورکړی وي.

**د استراداد په صورت کې د مجازاتو تعدیل او عفو او تخفیف**

**درې سوه درې پنځوسمه ماده:**

د افغانستان هغه تبعه چې د بهرني دولت د محکمې په حکم له (۲۰) کلونو څخه د زیات حبس په مجازاتو محکوم شوی وي، د استرداد په صورت کــې، د هغــهٔ د محکوم بها په مجازاتو کې د هېــواد د نافذه قانون د حکمونو مطابق تخفیــف

**تعدیل مجازات اعدام بــه حــبس دوام**

**مادهٔ سه صد وپنجاه ودوم:**

(۱)هرگاه شخص به اساس حکم قطعی محکمه به اعدام محکوم گردیده باشد و رئیس جمهور حکم محکمه را منظــور ننماید، مجازات اعدام به مجازات حد اکثر حبس دوام تعدیل می گردد.

(۲) مجـــازات محکـــوم منـــدرج فقــرهٔ (۱) ایــن مــاده درصـــورتی تخفیف شده می تواند که ورثهٔ مقتــول ابراء نموده یا دیت کامل آنرا پرداخته باشد.

**تعدیل مجازات درصورت استرداد وعفو وتخفیف**

**مادهٔ سه صدوپنجاه وسوم:**

تبعهٔ افغانستان که به حکــم محکمــهٔ دولت خارجی بــه مجــازات حــبس بیشتر از (۲۰) سال محکوم گردیــده باشد درصورت اســترداد درمجــازات محکوم بهای وی طبق احکــام قــانون نافــذه کشــور تخفیــف بــه عمــل

ketabton.com - The Digital Library



راځي.

**د عفو او تخفيف مناسبتونه**

**درې سوه څلور پنځوسمه ماده:**

تخفيف او عفو په لاندې مناسبتونو صورت مومي:

۱- د اسلام د پيامبر حضرت محمد (ص) مبارک ميلاد.

۲- د فطر (کمکي) مبارک اختر.

۳- د اضحي (لوی) مبارک اختر.

۴- دغويي اتمه، د افغانستان د خلکو د جهاد د بريالیتوب ورځ.

۵- د زمري اته ويشتمه، د هېواد د استقلال (آزادۍ) د استرداد ورځ.

۶- په نورو احوالو کې چې جمهور رئيس يې اراده وکړي.

می آيد.

**مناسبت های عفو وتخفيف**

**مادۀ سه صدوپنجاه وچهارم:**

تخفيف وعفو مجازات به مناسبت های ذيل صورت می گيرد:

۱- ميلاد مسعود پيامبر اسلام حضرت محمد (ص).

۲- عيد سعيد فطر.

۳- عيد سعيد اضحی .

۴- هشتم ثور روز پيروزی جهاد مردم افغانستان.

۵- بيست وهشتم اسد،روز استرداد استقلال کشور.

۶- در ساير احوالی که رئيس جمهور اراده نمايد.

ketabton.com - The Digital Library



## يوولسم فصل

## په تنفيذ کې ستونزې

### په تنفيذ کې ستونزو ته د رسيدګۍ مرجع

**درې سوه پنځه پنځوسمه ماده:**

هر ډول ستونزې چې د مالي ور کړو د حکم د تنفيذ په ترڅ کې رامنځته شي، قضيه هغې ابتدائيه محکمې ته چې د حکم د تنفيذ ځای د هغې د قضايي حوزې په دننه کې قرار لري، وړاندې کېږي.

### د اړوندو اشخاصو حضور

**درې سوه شپږ پنځوسمه ماده:**

(۱) د څارنوالۍ لخوا په تنفيذ کې ستونزې ، بې له ځنډه محکمې ته ارجاع او اړوند اشخاص مکلفېږي څو هغې غونډې ته چې د هغو د حل او فصل لپاره ټاکل کېږي، حاضر شي.

(۲) محکمه د څارنوال، محکوم عليه يا يې د قانوني استازي او د موضوع د حل او فصل د اړوندو اشخاصو د بيانونو له اورېدو وروسته اقدام کوي او قرار

## فصل يازدهم

## اشکال در تنفيذ

### مرجع رسيدگی به اشکال در تنفيذ

**مادۀ سه صد وپنجاه وپنجم:**

هرنوع اشکال که در حين تنفيذ احکام تأديات مالی بروز نمايد، قضيه به محکمۀ ابتدائيه که محل تنفيذ حکم در داخل حوزۀ قضائی آن قرار دارد، تقديم می گردد.

### حضور اشخاص ذيعلاقه

**مادۀ سه صد وپنجاه وششم:**

(۱) اشکال در تنفيذ ازطرف څارنوالی بدون تأخير به محکمه ارجاع و اشخاص ذيعلاقه مکلف می شوند تا در جلسه ايکه برای حل و فصل آن تعيين می گردد، حاضر شوند.

(۲) محکمه بعد از استماع اظهارات څارنوال، محکوم عليه يا نمايندۀ قانونی وی و اشخاص ذيعلاقه به حل وفصل موضوع اقدام و قرار صادر می نمايد.

ketabton.com - The Digital Library



صادروي. پدې هکله د محکمې قرار وروستنی (نهايي) دی.

**د تنفيذ تعطيل**

**درې سوه اووه پنځوسمه ماده:**

محکمه کولای شي په تنفيذ کې د ستونزو د لرې کولو په منظور د زياتو معلوماتو د اړتيا په صورت کې، د حکم د تنفيذ د تعطيل امر صادر کړي.

**د ثالثو اشخاصو ادعاء**

**درې سوه اته پنځوسمه ماده:**

که چېرې د محکوم عليه پر مالونو د حکم د تنفيذ په وخت کې، د ثالث شخص لخوا د مالکيت دعويٰ صورت ومومي، موضوع د قانون د حکمونو مطابق د واکمنې مدني محکمې لخوا حل اوفصل کېږي.

قرار محکمه در اين مورد نهائی می باشد.

**تعطيل تنفيذ**

**مادۀ سه صد وپنجاه وهفتم:**

محکمه می تواند در صورت ضرورت به معلومات بيشتر به منظور رفع اشکال در تنفيذ، امر تعطيل تنفيذ حکم را صادر نمايد.

**ادعای اشخاص ثالث**

**مادۀ سه صد وپنجاه وهشتم:**

هرگاه حين تنفيذ حکم بر اموال محکوم عليه، از طرف شخص ثالث ادعای مالکيت صورت گيرد، موضوع مطابق احکام قانون از طريق محکمۀ مدنی ذيصلاح حل و فصل می گردد.

ketabton.com - The Digital Library



## دوولسم فصل

## د جزايي حکم د تطبيق سقوط

### د حکم سقوط

**درې سوه نهه پنځوسمه ماده:**

که چېرې محکوم عليه د حکم له قطعيت وروسته وفات شي، د جزايي حکم تنفيذ ساقطېږي.

### پر مالي واجباتو د حکم د سقوط نه اغېزه

**درې سوه شپېتمه ماده:**

د محکوم عليه د وفات له امله د جزايي حکم سقوط، پر مالي واجباتو د حکم د تنفيذ خنډ (مانع) نه کېږي.

### د متوفيٰ د مالي واجباتو تحصيلول

**درې سوه يو شپېتمه ماده:**

د متوفيٰ محکوم عليه مالي واجبات د هغهٔ پر غاړه (په ذمت) د دين (پور) په صفت د هغهٔ له متروکې څخه تحصيلېږي.

## فصل دوازدهم

## سقوط تطبيق حکم جزائی

### سقوط حکم

**مادهٔ سه صد وپنجاه ونهم:**

هرگاه محکوم عليه بعد از قطعيت حکم وفات نمايد، تنفيذ حکم جزائی ساقط می گردد.

### عدم تاثير سقوط حکم بر واجبات مالی

**مادهٔ سه صد وشصتم:**

سقوط حکم جزائی به اثر وفات محکوم عليه مانع تنفيذ حکم بر واجبات مالی نمی گردد.

### تحصيل واجبات مالی متوفی

**مادهٔ سه صد وشصت ويکم:**

واجبات مالی محکوم عليه متوفی به صفت دين ذمت وی از متروکهٔ او تحصيل می گردد.

ketabton.com - The Digital Library



## ديارلسم فصل

## د حيثيت اعاده

### د حيثيت د اعادې جواز

**درې سوه دوه شپېتمه ماده:**

هغه شخص چې د جنايت يا جنحې د جرم په جزاء محکوم شوی وي، د محکوم بها د مجازاتو له بشپړ تنفيذ يا د مجازاتو له عفو وروسته يې حيثيت اعاده کېدای شي.

د زيانمن شوي د زيان جبران چې محکمې پر هغهٔ حکم کړی هم د حکم په بشپړ تنفيذ کې شامل دی.

### د حيثيت د اعادې غوښتنه

**درې سوه درې شپېتمه ماده:**

محکوم عليه او د وفات په صورت کې، د هغهٔ ورثه کولای شي، له هغې محکمې څخه چې ابتداءً يې د هغهٔ پرخلاف حکم صادر کړی وي، ددې قانون د حکمونو له په پام کې نيولو سره، د حيثيت د اعادې غوښتنه وکړي.

## فصل سيزدهم

## اعادهٔ حيثيت

### جواز اعادهٔ حيثيت

**مادهٔ سه صد وشصت ودوم:**

شخصی که به جزای جرم جنايت يا جنحه محکوم شده باشد، بعد از تنفيذ کامل مجازات محکوم بها يا عفو مجازات، اعادهٔ حيثيت شده می تواند.

تنفيذکامل حکم شامل جبران خسارهٔ متضررکه محکمه به آن حکم نموده نيزمی باشد.

### مطالبهٔ اعادهٔ حيثيت

**مادهٔ سه صد وشصت وسوم:**

محکوم عليه و در صورت وفات، ورثهٔ وی می تواند از محکمه ای که ابتداءً عليه او حکم صادر نموده باشد با رعايت احکام اين قانون تقاضای اعادهٔ حيثيت نمايد.

ketabton.com - The Digital Library



**د حيثيت د اعادې د غوښتنې وخت (زمان)**

**درې سوه څلور شپېتمه ماده:**

د حيثيت د اعادې غوښتنه د جرم د ډول له په پام کې نيولو سره په لاندې مواعيدو (وختونو) کې صورت مومي:

۱- د جنايت په جرم کې د حکم د تنفيذ د پايته رسېدو يا د مجازاتو د عفوې لـــه نېټې څخه د(٦) کلونو له تېرېدو وروسته.

۲- د جنحې په جرم کې د حکم د تنفيذ د پايته رسېدو يا د مجازاتو د عفوې لـــه نېټې څخه، د(۳)کلونو له تېرېدو وروسته.

۳- متکرر مجرمين، ددې مادې په ( ۱ او ۲) اجزاوو کې د درج شوو مواعيـــدو د دوه چنده له تېرېدو وروسته.

**د مشروط خوشې شوي د حيثيت د اعادې وخت**

**درې سوه پنځه شپېتمه ماده:**

که چېرې محکوم عليه په مشروطه توګه خوشې شوی وي، د حيثيت د اعـــادې مرورزمان (د وخت تېرېدل) له هغې نېټې څخه محاسبه کېږي چــې د مشـــروط

**زمـــــان درخواســــــت اعــــادهٔ حيثيت**

**مادهٔ سه صد وشصت وچهارم:**

تقاضای اعادهٔ حيثيت بادرنظرداشت نوع جـــرم در مواعيــــد ذيــــل صـــورت می گيرد:

۱- در جرم جنايت از تاريخ ختم تنفيذ حکم ياعفو مجازات بعد از مـــرور (٦) سال.

۲- در جـــــرم جنحـــــه از تـــــاريخ ختم تنفيذ حکم ياعفو مجازات، بعد از مرور (۳) سال.

۳- مجرمين متکرر بعد از مرور دو چند مواعيد مندرج اجـــزای (۱و۲) ايـــن ماده.

**زمان اعادهٔ حيثيـــت رهـــا شـــدهٔ مشروط**

**مادهٔ سه صدوشصت وپنجم:**

هرگاه محکوم عليه به صورت مشروط رها گرديده باشد، مرور زمـــان اعـــادهٔ حيثيت از تاريخی محاسبه می گردد که حکم رهائی مشروط کســـب قطعيـــت

ketabton.com - The Digital Library



خوشې کېدنې حکم قطعيت موندلی وي.

**د جزايي حکمونو د تعدد په حال کې د حيثيت د اعادې حکم**

**درې سوه شپږ شپېتمه ماده:**

که چېرې د حيثيت د اعادې متقاضي، په جزايي متعددو حکمونو پداسې ډول محکوم شوی وي چې محکوم بها مجازات هم يو په بل پسې د تنفيذ وړ وي، مرور زمان د وروستني حکم د تنفيذ د پايته رسېدو له نېټې څخه محاسبه کېږي.

**د حيثيت د اعادې د غوښتنليک محتوي**

**درې سوه اووه شپېتمه ماده:**

د حيثيت د اعادې غوښتنه د لاندو مطالبو لرونکې وي:

۱- د غوښتنليک ورکوونکي هويت او د اوسېدو ځای.

۲- د مجازاتو د وروستني (نهايي) حکم د صادروونکې محکمې نوم، د هغهٔ حکم د صادرېدو نېټه او نص چې پدې برخه کې صادر شوی وي.

نموده باشد.

**حکم اعادهٔ حيثيت درحال تعدد احکام جزائی**

**مادهٔ سه صدو شصت وششم:**

هرگاه متقاضی اعادهٔ حيثيت به احکام متعدد جزائی به نحوی محکوم گرديده باشد که مجازات محکوم بها هم يکی بعد از ديگری قابل تنفيذ باشد، مرور زمان از تاريخ ختم تنفيذ آخرين حکم محاسبه می شود.

**محتوای درخواست اعادهٔ حيثيت**

**مادهٔ سه صدو شصت وهفتم:**

تقاضای اعادهٔ حيثيت حاوی مطالب ذيل می باشد:

۱- هويت و محل سکونت درخواست دهنده .

۲- نام محکمهٔ صادر کنندهٔ حکم نهائی مجازات، تاريخ صدور و نص حکمی که در زمينه صادر شده باشد.

ketabton.com - The Digital Library



۳- د تور وړ جرم او د هغهٔ قانون ماده چې هغهٔ ته منسوب عمل يې جرم ګڼلی او محکمې پر هغې استناد کړی وي.

۴- د صادره حکم د تنفيذ د پايته رسېدو يا د مشروطې خوشې کېدنې د قطعيت موندنې موده.

## د غوښتنليک د محتوياتو څېړنه

درې سوه اته شپېتمه ماده:

د حيثيت د اعادې غوښتنليک اړونـدې څارنوالۍ ته وړاندې کېږي، څارنوال پدې برخه کې لازمه څېړنه کوي او خپل نظر د موجبه اسبابو په يادولو سره ديوې مياشتې مودې په ترڅ کې د لاندو پاڼو په ضميمه اړوندې محکمې ته وړاندې کوي:

۱- د محکمې د حکم نقل.

۲- د محکوم عليه مخينه (سوابق).

۳- د غوښتنليک د محتوياتو د څېړنـې رپوټ.

۳- جرم مورد اتهام ومادهٔ قانونی کـه عمل منسوب به وی را جرم شـناخته و محکمه به آن استناد کرده باشد.

۴- مدت ختم تنفيذ حکم صادره يـا کسـب قطعيـت حکـم رهـائی مشروط.

## بررسی محتويات درخواست

مادهٔ سه صدوشصت وهشتم:

درخواست اعادهٔ حيثيت به څـارنوالی مربوط تقديم می گردد، څارنـوال در زمينه بررسی لازم را به عمل آورده ونظر خود را با ذکر اسباب موجبه درخـلال مدت يکماه ضم اوراق آتی به محکمـهٔ مربوط تقديم می نمايد:

۱- نقل حکم محکمه.

۲- سوابق محکوم عليه.

۳- گـزارش بررسـی محتويـات درخواست.

ketabton.com - The Digital Library



**د حيثيت د اعادې د غوښتنليک بيا وړاندې کول**

**درې سوه نهه شپېتمه ماده:**

که چېرې د حيثيت د اعادې غوښتنليک، د قانوني شرايطو د نه بشپړتيا له لحاظه رد شي، بل ځل د (۱) کال له تېرېدو وروسته وړاندې کېدای شي.

**د غوښتنليک څېړنه**

**درې سوه اويايمه ماده:**

(۱) څارنوال مکلف دی، د لارې دواټن له په پام کې نيولو سره، د محکمې د غونډې له جوړېدو څخه لږ ترلږه (۷) ورځې دمخه، غوښتنليک ورکوونکي ته خبر ورکړي.

(۲) محکمه د حيثيت د اعادې د غوښتنليک د څېړنې په وخت کې، د غوښتنليک ورکوونکي او څارنوال بيانونه اوري.

**د حيثيت په اعادې د حکم صادرول**

**درې سوه يو اويايمه ماده:**

(۱) که چېرې د محکمې په وړاندې څرګنده شي چې غوښتنليک

**تقديم مجدد درخواست اعادۀ حيثيت**

**مادۀ سه صد وشصت ونهم:**

هرگاه درخواست اعادۀ حيثيت از لحاظ عدم تکميل شرايط قانونی رد گردد ،بار ديگر بعد از مرور (۱) سال تقديم شده می تواند.

**رسيدگی به درخواست**

**مادۀ سه صد وهفتادم:**

(۱) څارنوال مکلف است با در نظرداشت فاصلۀ راه، حد اقل (۷) روز قبل از انعقاد جلسۀ محکمه به درخواست دهنده اطلاع بدهد.

(۲)محکمه حين رسيدگی به درخواست اعادۀ حيثيت، اظهارات درخواست دهنده و څارنوال را استماع می نمايد.

**صدور حکم به اعادۀ حيثيت**

**مادۀ سه صد وهفتادويکم:**

(۱) هرگاه نزد محکمه واضح شود که درخواست دهنده، شرايط مندرج اين

ketabton.com - The Digital Library



وركوونكى، پدې فصل كې د درج شوو شرايطولرونكى دى، خپل قرار د هغــهٔ د حيثيت په اعادې صادروي او د نوموړي قرار په صادرېدو داسې ګڼل کېږي چــې شخص اصلاً د جرم مرتکب شوى ندى.

(۲) د حيثيت د اعادې قرار د څارنوالۍ او پوليسو په دفترونوکې ثبتېږي.

## د حيثيت د اعادې د حکم لغو کېدل

**درې سوه دوه اويايمه ماده:**

(۱) که چېرې ثابته شي، د محکوم عليه پرخلاف بله فيصله صادره شــوې چــې محکمې د حيثيت د اعادې د غوښتنليک د څېړنې په وخت کې په هغې علم نــه درلود يا محکوم عليه د حيثيت د اعادې د حکم له صادرېدو وروسته د هغهٔ جرم د ارتکاب له امله چې د نوموړي حکم لــه صادرېدو څخه د مخه واقع شوى دى، په جزاء محکوم شي، محکمه کولاى شي د حيثيت د اعادې حکم لغو کړي.

(۲) د حيثيت د اعادې د حکم الغــاء د څارنوال د غوښتنې پر بنسټ د محکمې لخوا صورت مومي.

فصل را دارا مى باشد، قرارخود را بــه اعادهٔ حيثيت او صادر مى نمايـــد وبـــا صدور قرار مذکور چنان پنداشته مـــى شود که شخص اصلاً مرتکـــب جـــرم نگرديده است.

(۲) قرار اعـــادهٔ حيثيـــت در دفـــاتر څارنوالى و پوليس ثبت مى گردد.

## لغوحکم اعادهٔ حيثيت

**مادهٔ سه صدوهفتادودوم:**

(۱) هرگـــاه ثابـــت شـــود فيصـــلهٔ ديگرى عليه محکـــوم عليـــه صـــادر گرديده که محکمه حين رسيدگى بـــه درخواست اعادهٔ حيثيت بـــه آن علـــم نداشت يـــا محکـــوم عليـــه بعـــد از صدور حکم اعادهٔ حيثيت از اثر ارتکاب جرمى که قبل از صدور حکم مـــذکور واقع شده، به جزا محکوم شود، محکمه مى تواند حکم اعادهٔ حيثيـــت را لغـــو نمايد.

(۲) الغاى حکم اعادهٔ حيثيت به اساس مطالبهٔ څارنوال از طرف محکمه صورت مى گيرد.

ketabton.com - The Digital Library



## د قانون په حکم د حيثيت اعاده کېدل

**درې سوه درې اويايمه ماده:**

که چېرې محکوم عليه په لاندو مواعېدو (وختونو) کې د جنايت يا جنحې د ارتکاب له امله محکوم نشي، حيثيت يې د قانون په حکم اعاده کېږي:

۱- د جنايت په جرم کې د حکم د تنفيذ د پايته رسېدو يا د مجازاتو د عفوې له نېټې څخه د (۱۰) کلونو د تېرېدو په صورت کې.

۲- د جنحې په جرم کې د حکم تنفيذ د پايته رسېدو يا د مجازاتو د عفوې له نېټې څخه د (۵) کلونو د تېرېدو په صورت کې.

## د حيثيت د اعادې پرحکم نه اعتراض

**درې سوه څلور اويايمه ماده:**

هغه حکم چې د حيثيت د اعادې په هکله د ابتدائيه محکمې لخوا صادرېږي، قطعي دی، د اعتراض يا استيناف وړ گرځېدای نشي.

## اعادهٔ حيثيت به حکم قانون

**مادهٔ سه صد وهفتادوسوم:**

هرگاه محکوم عليه در خلال مواعيد ذيل به اثرارتکاب جنايت يا جنحه محکوم نگردد، حيثيت وی به حکم قانون اعاده می شود:

۱- درصورت مرور (۱۰) سال از ختم تنفيذ حکم يا صدور عفو مجازات در جرم جنايت.

۲- در صورت مرور (۵) سال از ختم تنفيذ حکم يا عفو مجازات در جرم جنحه.

## عدم اعتراض بر حکم اعادهٔ حيثيت

**مادهٔ سه صد وهفتاد وچهارم:**

حکمی که در مورد اعادهٔ حيثيت از طرف محکمهٔ ابتدائيه صادر می گردد، قطعی بوده، مورد اعتراض يا استيناف قرار گرفته نمی تواند.

ketabton.com - The Digital Library



## څوارلسم فصل

## د پاڼو او احکامو په فقدان (نه شتون) پورې اړوند اجراآت

**د تحقيق د پاڼو ورکېدل**

**درې سوه پنځه اويايمه ماده:**

که چېرې د تحقيق پاڼې د جزايي دعوي له اقامې څخه دمخه يا اصل حکم د هغهٔ له تنفيذ څخه دمخه کلاً (بشپړ) يا بعضاً (ځينې) ورک شي، په لاندې توګه اجراآت کېږي:

۱- د تحقيق د پاڼو يا حکم مثنې، د اصل قايم مقام پېژندل کېږي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د پاڼو يا حکم مثنې د شخص يا يوهٔ مقام په تصرف کې وي، څارنوال له هغې محکمې څخه چې نوموړي شخص يا مقام ته يې د هغو په ورتسليمولو حکم کړی دی، د بلې مثنې ليکلی امر ترلاسه کوي او هغه شخص چې مخکې ورڅخه حکم اخيستل شوی، د بيې له ورکړې پرته د هغې د يوهٔ نقل مستحق دی.

## فصل چهاردهم

## اجراآت مربوط به فقدان اوراق واحکام

**مفقودی اوراق تحقيق**

**مادۀ سه صد وهفتاد وپنجم:**

هرگاه اوراق تحقيق قبل از اقامهٔ دعوای جزائی يا اصل حکم قبل از تنفيذ آن کلاً يا بعضاً مفقود گردد، طور ذيل اجراآت می گردد:

۱- مثنای اوراق تحقيق يا حکم، قايم مقام اصل شناخته می شود.

۲- درصورتی که مثنای اوراق يا حکم در تصرف شخص يا يک مقام باشد، څارنوال از محکمهٔ که به تسليم آن به شخص يا مقام مذکور حکم نموده، امر تحرير مثنای ديگر را حاصل می کند و شخصی که قبلاً حکم از نزد وی اخذ شده، مستحق يک نقل آن بدون پرداخت قيمت می باشد.

ketabton.com - The Digital Library



## د محاكمې نه اعاده كېدل

**درې سوه شپږ اويايمه ماده:**

د حكم د اصلي نسخې فقدان (وركېدل) د محاكمې د اعادې موجب كېدای نشي. د قضايي پړاوونو تېرېدل د قطعي حكم تر صادرېدو پورې لدې امر څخه مستثنیٰ دي.

## د محاكمې اعاده كېدل

**درې سوه اووه اويايمه ماده:**

كه چېرې قضيه د سترې محكمې تر څېړنې لاندې وي او د حكم د مثنیٰ لاسته راوړل ممكن نه وي، په هغه صورت كې چې پر حكم باندې د اعتراض ټول پړاوونه تېر شوي وي، اړوند ديوان د محاكمې په اعاده كېدو امر كوي.

## د دوسيې له حفظ كېدو د مخه د تحقيق د پاڼو وركېدل

**درې سوه اته اويايمه ماده:**

كه چېرې د تحقق پاڼې د جزايي دعویٰ له اقامې يا د دوسيې له حفظ كېدو څخه دمخه ټولې يا څينې وركې شي، د تحقيق هغه برخه نوې كېږي چې پاڼې له هغې

## عدم اعادهٔ محاكمه

**مادهٔ سه صد وهفتاد وششم:**

فقدان نسخهٔ اصلی حكم موجب اعادهٔ محاكمه شده نمی تواند. طی مراحل قضائی الی صدور حكم قطعی از اين امر مستثنی می باشد.

## اعادهٔ محاكمه

**مادهٔ سه صد وهفتاد وهفتم:**

هرگاه قضيه تحت رسيدگی ستره محكمه قرار داشته و بدست آوردن مثنای حكم ممكن نباشد، درصورتی كه تمام مراحل اعتراض بر حكم سپری شده باشد، ديوان مربوط به اعادهٔ محاكمه امر می نمايد.

## مفقودی اوراق تحقيق قبل از حفظ دوسيه

**مادهٔ سه صد وهفتاد وهشتم:**

هرگاه اوراق تحقيق قبل از اقامهٔ دعوای جزائی ياحفظ دوسيه كلاً يا بعضاً مفقود گردد، آن قسمت تحقيق تجديد می شود كه اوراق به آن ارتباط

ketabton.com - The Digital Library



سره اړه لري.

**د حکم له صادرېدو دمخه د تحقیق د پاڼو ورکېدل**

**درې سوه نهه اویایمه ماده:**

که چېرې د تحقیق پـــاڼې د محکمـــې د حکم له صادرېدو دمخه ورکـــې شـــي، محکمه د تحقیق په نوي کولـــو قـــرار صادروي.

**د حکم له صادرېدو وروسته د پـــاڼو ورکېدل**

**درې سوه اتیایمه ماده:**

که چېرې د تحقیق پاڼې ټولې یا ځینـــې ورکې شي او د محکمې حکم پدې هکله موجود وي، قضیه د سترې محکمې پـــه اړوندو دیوانونو کې تر څېړنې لاندې وي، د اجراآتو هېڅ برخه نه اعاده کېږي، خو دا چې د سترې محکمې اړوند دیوان هغه لازم وبولي.

دارد.

**مفقودی اوراق تحقیق قبل از اصدار حکم**

**مادۀ سه صد وهفتاد ونهم:**

هرگاه اوراق تحقیق قبـــل از اصـــدار حکم محکمه مفقود گـــردد، محکمـــه بـــه تجدیـــد تحقیـــق قـــرار صـــادر می نماید.

**مفقـــودی اوراق بعـــد از اصـــدار حکم**

**مادۀ سه صد وهشتادم:**

هرگاه اوراق تحقیق کلاً یا بعضاً مفقود گردد و حکم محکمه در مورد موجود بوده، قضیه در دیوان های مربوط ستره محکمه تحت رسیدگی قرار داشته باشد، هیچ قسمت اجراآت اعاده نمی شـــود، مگر اینکه دیوان مربوط ستره محکمـــه آنرا لازم بداند.

ketabton.com - The Digital Library



## پنځلسم فصل

## وروستني حکمونه

**د تقويم پر بنسټ د مواعيدو سنجول**

**درې سوه يو اتيايمه ماده:**

پدې قانون کې د درج شوو ټولو مواعيدو سنجونه د هجري لمريز تقويم پر بنسټ صورت مومي. ورځ ددې قانون په مفهوم له رسمي (کاري) ورځې څخه عبارت ده.

**د نافذېدو نېټه**

**درې سوه دوه اتيايمه ماده:**

(۱) دغه قانون په رسمي جريده کې له خپرېدو يوه مياشت وروسته نافذېږي.

(۲) ددې قانون په نافذېدو سره د ۵/ ۳/ ۱۳۴۴ نېټې په (۲٦) گڼه رسمي جريده کې خپور شوي د جزايي اجراآتو قانون د ۱٦/ ۱۱/ ۱۳۴۴ نېټې په (۴۵) گڼه، د ۱۸/ ۷/ ۱۳۴٦ نېټې په (۹۰) گڼه، د ۱۵/ ۱/ ۱۳۵۳ نېټې په (۲٦۸) گڼه، د ۱۵/ ۱۰/ ۱۳٦۲ نېټې په (۵۴۷) گڼه، د ۲۲/ ۱۰/ ۱۳٦٦ په (٦۵۷) گڼه او د ۱۷/ ۱۲/ ۱۳۷۰ نېټې په (۷٦۳) گڼه رسمي جريده کې د هغهٔ له

## فصل پانزدهم

## احکام نهائی

**سنجش مواعيد به اساس تقويم**

**مادهٔ سه صد وهشتاد ويکم:**

سنجش تمام مواعيد مندرج اين قانون به اساس تقويم هجری شمسی صورت می گيرد. روز به مفهوم اين قانون عبارت از روز رسمی (کاری) می باشد.

**تاريخ انفاذ**

**مادهٔ سه صد وهشتاد ودوم:**

(۱) اين قانون يکماه بعد از نشر در جريدهٔ رسمی نافذ می گردد.

(۲) با انفاذ اين قانون، قانون اجراآت جزائی منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۲٦) مؤرخ ۱۳۴۴/۳/۵با تعديلات آن منتشرهٔ جرايد رسمی شماره (۴۵) مؤرخ ۱۳۴۴/۱۱/۱٦ ،شماره (۹۰) مؤرخ ۱۳۴٦/۷/۱۸ شماره، (۲٦۸)مؤرخ ۱۳۵۳/۱/۱۵، شماره (۵۴۷) مؤرخ ۱۳٦۲/۱۰/۱۵، شماره (٦۵۷) مؤرخ ۱۳٦٦/۱۰/۲۲ و شماره (۷٦۳)مؤرخ ۱۳۷۰/۱۲/۱۷،

ketabton.com - The Digital Library



خپـــرو شـــوو تعـــديلونو ســـره، د ۱۵ / ۱/ ۱۳۵۸ نېټې په (۴۲۴) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د جرمونو د کشف او تحقيق او د هغهٔ د تطبيق پـر قانونيت باندې د څارنوالۍ د څارنې قانون او د ۱/ ۱۰/ ۱۳۶۰ نېټې پــه (۴۹۸) ګڼه، د ۱۵/ ۱/ ۱۳۶۸ نېټې په (۶۸۸) ګڼــه، د ۳۰/ ۱۲/ ۱۳۶۹ نېټــې پــه (۷۳۷) ګڼه رسمي جريده کې د هغهٔ له خپـــرو شـــوو تعـــديلونو ســـره، د ۶/ ۱۲/ ۱۳۸۲ نېټې په (۸۲۰) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د محاکمو لپاره د جزايي اجراآتو مؤقـــت قـــانون اود۱۳۸۸/۱۲/۲۰ نېټې پـــه (۱۰۱۳) ګڼه رسمي جريده کې خپـــور شـــوي د محاکمو لپاره دجزايي اجراآتو د مؤقت قانون د (۸۳) مادې د(۳) فقرې له تعديل سره او د ۱۳۵۵ کال په (۳۴۷) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوي د جزاء د قانون له (۱۶۱ څخه تر۱۷۱) پورې مادو کې درج شوي حکمونه لغو ګڼل کېږي.

قـــانون کشـــف و تحقيـــق جـــرايم ونظـــارت څـــارنوالی بـــر قانونيـــت تطبيق آن منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شـــماره (۴۲۴) مـــــــؤرخ ۱۳۵۸/۱/۱۵ بـــا تعـــديلات آن منتشـــرهٔ جرايـــد رســـمی شـــماره (۴۹۸) مـــؤرخ ۱۳۶۰/۱۰/۱، شماره (۶۸۸) مؤرخ ۱۳۶۸/۱/۱۵ و شماره (۷۳۷) مؤرخ ۱۳۶۹/۱۲/۳۰، قـــانون اجـــراآت جزائی مؤقت برای محـــاکم منتشـــرهٔ جريـــدهٔ رســـمی شـــماره (۸۲۰) مـــؤرخ ۱۳۸۲/۱۲/۶ و تعـــديل فقـــرهٔ (۳) مـــادهٔ (۸۳) قـــانون اجـــراآت جزائـــی مؤقـــت بـــرای محـــاکم منتشـــرهٔ جريـــدهٔ رســـمی شـــماره (۱۰۱۳) مـــؤرخ ۱۳۸۸/۱۲/۲۰ و احکـــــــــام مندرج مواد (۱۶۱ الی ۱۷۱) قـــانون جـــزاء منتشـــرهٔ جريـــدهٔ رســـمی شماره (۳۴۷) ســـال ۱۳۵۵ ملغـــی شمرده می شود .

ketabton.com - The Digital Library



## د جزايي اجراآتو د قانون د شپږويشتمې مادې د تعديل په هکله، دافغانستان د اسلامي جمهوريت درئيس فرمان

ګڼه: (۱۳۸)

نېټه: ۱۳۹۲/۱۲/۴

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون په (۷۹) ماده کې د درج شوي حکم له مخې، د جزايي اجراآتو دقانون د شپږويشتمې مادې تعديل چې د وزيرانو د شوري د ۱۳۹۲/۱۱/۲۸نېټې (۴۴) ګڼې مصوبې پر بنسټ تصويب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

د عدليې وزير او په پارلماني چارو کې د دولت وزير مؤظف دي، دغه فرمان د ملي شوري د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰ ) ورځو په ترڅ کې هغې شوري ته وړاندې کړي.

**دريمه ماده:**

دغه فرمان د نوموړي قانون د نافذېدو له

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان دربارۀ تعديل مادۀ بيست و ششم قانون اجراآت جزائی

شماره:(۱۳۸)

تاريخ:۴ /۱۳۹۲/۱۲

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم مندرج مادۀ (۷۹) قانون اساسی افغانستان، تعديل مادۀ بيست وششم قانون اجراآت جزائی را که به اساس مصوبۀ شماره(۴۴) مؤرخ ۱۱/۲۸/ ۱۳۹۲ شورای وزيران تصويب گرديده است، توشيح می دارم.

**مادۀ دوم:**

وزير عدليه و وزير دولت در امور پارلمانی مؤظف اند، اين فرمان را درخلال (۳۰) روز ازتاريخ انعقاد نخستين جلسۀ شورای ملی به آن شوری تقديم نمايند.

**مادۀ سوم:**

اين فرمان ازتاريخ انفاذ قانون

ketabton.com - The Digital Library



نېټې څخه نافذ او له مصوبې او تعديل سره يوځای دې، په رسمي جريده کې خپور شي

حامد کرزی

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

مذکور نافذ وهمراه بامصوبه و تعديل، درجريدۀ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

ketabton.com - The Digital Library



## د جزايي اجراآتو د قانون د شپږويشتمې مادې د تعديل په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د وزيرانو شوري مصوبه

ګڼه: (۴۴)

نېټه : ۲۸/ ۱۱/ ۱۳۹۲

د جزايي اجراآتو د قانون د شپږويشتمې مادې تعديل چې د وزيرانو شوري د ۲۸/ ۱۱/ ۱۳۹۲ نېټې په غونډه کې تصويب شوی دی، منظوروم.

حامد کرزی

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

## مصوبۀ شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان در مورد تعديل مادۀ بيست وششم قانون اجراآت جزائی

شماره: (۴۴)

تاريخ: ۱۳۹۲/۱۱/۲۸

تعديل مادۀ بيست وششم قانون اجراآت جزائی را که در جلسۀ مؤرخ ۲۸ /۱۱/ ۱۳۹۲ شورای وزيران تصويب گرديده است، منظور می دارم.

حامد کرزی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

ketabton.com - The Digital Library



## د جزايي اجراآتو د قانون د شپږويشتمې مادې تعديل

**لومړۍ ماده:**

د جزايي اجراآتو د قانون شپږويشتمه ماده چې د ملي شورې د ګډ هيئت د ۳۰/ ۱۰/ ۱۳۹۲ نېټې (۱۱۰) ګڼې پرېکړې پر بنسټ فيصله شوې او د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس د ۳/ ۱۲/ ۱۳۹۲ نېټې (۱۳۷) ګڼې فرمان په ذريعه توشېح شوې ده، په لاندې متن دې تعديل شي:

**د شهادت له ورکولو څخه ډډه کول او د هغه نه اورېدل**

**شپږويشتمه ماده:**

(۱) لاندې اشخاص کولای شي د شهادت له ورکولو څخه ډډه وکړي:

۱ –هغه شخص چې د شهادت په ورکولو سره په نافذه قوانينو کې د درج شوو اسرارو د نه فاش کولو په اړه د هغه قانوني مسئوليت نقض شي، لکه حقوقي مشاور، معالج ډاکتر، اهل خبره، د رواني صحت ډاکتر او د هغو په شان .

## تعديل مادۀ بيست وششم قانون اجراآت جزائی

**مادۀ اول:**

مادۀ بيست وششم قانون اجراآت جزائی که به اساس فيصلۀ شماره (۱۱۰) مؤرخ ۱۳۹۲/۱۰/۳۰ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی فيصله گرديده و ذريعۀ فرمان شماره (۱۳۷ ) مؤرخ ۳/ ۱۲/۱۳۹۲ رئيس جمهوری اسلامی افغانستان توشيح شده است، به متن ذيل تعديل گردد:

**امتناع از ادای شهادت و عدم استماع آن**

**مادۀ بيست وششم:**

(۱) اشخاص ذيل می توانند از ادای شهادت امتناع ورزند:

۱– شخصی که با ادای شهادت مسئوليت قانونی وی مبنی برعدم فاش ساختن اسرار مندرج قوانين نافذه نقض گردد، مانند مشاور حقوقی، داکتر معالج، اهل خبره، داکتر صحت روانی و امثال آن.

ketabton.com - The Digital Library



۲ –د تورن اصول او فروع تر دوو درجو پورې او زوج او زوجه که څه هم چې د هغوی تر منځ د زوجيت اړيکه پرې شوې وي.

هغه خپل چې د جرم د ارتکاب له ا مله زيانمن شوی او يا پخپله شاکي يا د پېښې د حدوث اطلاع ورکوونکی وي له دې حکم څخه مستثني دی.

(۲) د قضايي ضبط مامور، څارنوالي او محکمه مکلف دي، ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اشخاص د شهادت له ورکولو څخه د ډډې کولو د حق له لرلو څخه خبر کړي.

(۳)که چېرې محکمه تشخيص کړي چې ددې مادې د (۱) فقرې په (۱) جزء کې د درج شوو اشخاصو شهادت د جرم يا د مظنون يا تورن شخص د بې ګناهۍ په تثبيت کې اهميت لري او يا يې ټولنيزه ګټه د محرميت دساتنې په نسبت زياته وي، کولای شي د يادو شوو اشخاصو د اسرارو د ساتنې مسئوليت لېرې کړي، په دې حالت کې محکمه کولای شي د شاهد شهادت په ځانګړې خونه کې او د

۲– اصول وفروع متهم تا دو درجه وزوج وزوجه گرچه رابطۀ زوجيت بين آنها قطع گرديده باشد.

قريبى كه از اثرار تكاب جرم متضرر گرديده ويا خود شاكى يا اطلاع دهندۀ حدوث واقعه باشد ازاين حكم مستثنى مى باشد.

(۲) مامورضبط قضائى، څارنوالى و محكمه مكلف اند اشخاص مندرج فقرۀ (۱) اين ماده را ازداشتن حق امتناع ازاداى شهادت مطلع سازند.

(۳) هرگاه محكمه تشخيص نمايد كه شهادت اشخاص مندرج جز(۱) فقرۀ (۱) اين ماده در تثبيت جرم يا بى گناهى شخص مظنون يا متهم اهميت داشته ويا منفعت اجتماعى آن نسبت به حفظ محرميت بيشتر باشد، مى تواند مسئوليت حفظ اسرار اشخاص مذكور را مرفوع نمايد، در اين حالت محكمه مى تواند شهادت شاهد را در اتاق مخصوص و در صورت

ketabton.com - The Digital Library



اړتيا په صورت کې، د اړخونو له حضور پرته واوري.

(۴) د لاندې اشخاصو شهادت د اورېدو وړ نه دی:

۱-مدافع وکيل په هغه قضيه کې چې له خپل مؤکل څخه دفاع کوي.

۲-هغه شخص چې د جرم د شريک په توګه پېژندل شوی او د هغه شهادت له خپل ځان څخه د تور د دفع متضمن وي.

۳ -هغه شخص چې د شهادت د ورکولو حقوقي اهليت ونه لري.

دوه يمه ماده:

دغه تعديل د ياد قانون د نافذېدو له نېټې څخه، نافذ او په رسمي جريده کې دې، خپور شي.

ضرورت، بدون حضور طرفين استماع نمايد.

(۴) شهادت اشخاص ذيل قابل سمع نمی باشد:

۱- وکيل مدافع درقضيه که ازمؤکلش دفاع می نمايد.

۲- شخصی که به حيث شريک جرم شناخته شده و شهادت وی متضمن دفع اتهام از خود باشد.

۳- شخصی که اهليت حقوقی ادای شهادت را نداشته باشد.

مادۀ دوم:

اين تعديل از تاريخ انفاذ قانون مذکور، نافذ ودر جريدۀ رسمی نشر گردد.

ketabton.com - The Digital Library

# اشتراک سالانه:

در مرکـــــز و ولایـــــات : (۹۰۰) افغـــــانی

بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف

برای متعلمین و محصلین با ارائـــه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت

برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد

خـــارج از کشـــور: (۲۰۰) دالـــر امریکـــائی

ketabton.com - The Digital Library

ISLAMIC REPUBLIC
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

- Criminal Procedure Code .
- Amendment of Article ٢٦ of Criminal Procedure Code

Date: ٥th *MAY.* ٢٠١٤
ISSUE NO :(١١٣٢)

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*